# نیل الامانی

پښتو

# شرح زنجانی

تالیف


شیخ الحدیث حضرت مولانا مفتی

محمد زاهد (عزیزخیل)


زیر اهتمام

مولوی محمد ابراهیم (عزیزخیل)



Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat .com

تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

| | | |
|---|---|---|
| تفاسیر | خطبات | منطق |
| احادیث | سیرت | معانی |
| فقہ | تاریخ | تصوف |
| سوانح حیات | صرف | تقابل ادیان |
| درس نظامی | نحو | تجوید |
| لغت | فلسفہ | نعت |
| فتاوی | حکمت | تراجم |
| اصلاحی | بلاغت | تبلیغ ودعوت |

تمام فنون

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

مَنْ يُرِدِ اللهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِى الدِّينِ (بخاری)

# نيل الاماني

شرح

# زنجاني

تالیف


شيخ الحديث حضرت مولانامفتی

محمدزاهد ((عزیزخیل))


ناشر


مکتبه زاهدیه محله جنگی پشاور

زيراهتمام : مولوی محمدابراهيم عزیزخیل :

موبائل ۰۳۰۵-۵۴۵۳۵۴۴ ۰۳۲۱-۵۴۸۷۲۷۳

مکتبه زاهدیه



Maktaba Tul Ishaat.com

جميع الحقوق محفوظة

## کتاب پېژندنه :

دکتاب نوم : نيل الاماني شرح زنجاني

دمؤلف نوم : شيخ الحديث حضرت مولانامفتی
محمدزاهد ((عزيزخيل))

کپموز : مولوی محمد بشير ((طيب خيل))
المظهري موبائل> ۰۳۰۷-۷۱۸۷۵۷۱

ناشر : مکتبه زاهديه محله جنگي پشاور
زيراهتمام : مولوی محمد ابراهيم عزيزخيل :

موبائل> ۰۳۰۵-۵۴۵۳۵۴۴ ۰۳۴۱-۵۴۸۷۴۷۳

مکتبه زاهديه

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله رب العلمين والصلوٰة والسلام على سيدالانبياء والمرسلين وعلى آله الطيبين وعلى اصحابه اجمعين .

**امابعد:**

## لغوي معنیٰ دصرف

صرف په لغت کښې تغيير او اړولو ته وايي لکه ويلى شي صرفه معنیٰ ده غيره وبدله .

## اصطلاحي معنیٰ دصرف

هوعلم باصول يعرف به صيغ الكلمات العربية وابنيتها وصورها الاصلية والمتغيرة وكيفية تغييراتها وتكوينها .

**ترجمه:** علم صرف عبارت دی له علم نه په يوڅو قواعدو باندې چې دهغوئ په واسطې سره پېژندل کېږي صيغې دعربي کلماتو اوپه هغوئ سره پيژندل کېږي وزنونه دکلماتو اوپه هغوئ سره پېژندل کېږي اصلي صورتونه دکلماتو اومتغيرصورتونه دکلماتو اوپه هغوئ سره پېژندل کېږي کيفية دتغيير په کلماتو کښې اوپه هغوئ سره پېژندل کېږي طريقه دجوړولو دکلماتو .

Maktaba Tul Ishaat.com

## موضوع دعلم صرف

الكلمات العربية من حيث الصيغة والاصل والبناء .

**ترجمه**: يعني موضوع دعلم صرف عربي كلمات دي خوليكن په اعتبار دصيغې اوداصل اودوزن سره يعني په علم صرف کښې بحث کولی شي داحوالو اوعوارضو ذاتيه دكلماتوعربيه چې داعوارض ذاتيه اواحوال به ورته عارض شوي وي په اعتبار دصيغې اوداصل اود وزن سره .

## غرض دعلم صرف

تعلم صحة التلفظ باالكلمات العربية وصيانة الذهن عن الخطاء فى الصيغة والبناء.

**ترجمه**: غرض دعلم صرف زدكول دصحيح تلفظ دي په عربي كلماتو باندې اوساتنه دذهن ده په دې عربي كلماتوكښې له هغه خطاء نه چې كومه خطاء راځي په اعتبار دصيغې او دوزن سره .

يعني دعلم صرف غرض فقط هم دغه دوه شيان دي چې اول شی زدكول دصحيح تلفظ دي په عربي كلماتوباندې چې انسان زده كړي چې په عربي كلماتو باندې به داانسان څنګه تلفظ كوي اودويم شی دادي چې پرې حفاظت وكړی شي دذهن دهغې خطائي نه چې كومه خطائي واقع كېږي په صيغه او وزن كښې .

## دعلم صرف واضع

علم صرف په اوله زمانه كښې يوه شعبه وه دعلم نحوې اومستقل اوجداعلم نه وه بلكه په علم نحوكښې داخل وه اوبيا وروسته زمانه كښې له دې علم صرف نه مستقل اوجداعلم جوړ كړی شو اوپه كښې جداكتابونه وليكل شو نوله دې وجهې نه چې

څوك د علم نحو واضع دی نو هغه کس د علم صرف واضع هم دی او د دې علم نحو د واضع په باره کښې درې اقوال دي .

۱ - قول دا دی چې د دې علم نحو واضع حضرت علی بن ابی طالب رضی الله عنه دی ځکه چې حضرت علی یو څه قواعد ابو الاسود الدئلی ته وښودل او هغه دا قواعد جمعه کړه او د دې قواعدو په رڼائي کښې ورسره نور قواعد هم ابو الاسود الدئلي راویستل او له دې نه علم نحو جوړه شوه او هغه چې حضرت علی بن ابی طالب بیان کړي وه ابو الاسود الدئلي ته داوه چې:

(کل فاعل مرفوع وکل مفعول منصوب وکل مضاف الیه مجرور)

نو دا هغه اول کلي اولوی قواعد دي چې د دوئ اخراج حضرت علی بن ابی طالب کړی دی نو ځکه حضرت علی بن ابي طالب واضع د علم نحوې بللی شي .

۲ - قول دا دی چې اول واضع د علم نحو د حضرت علی بن ابی طالب شاګرد دی چې هغه ابو الاسو د الدئلي دی نو دې ابو الاسود الدئلي د دې علم نحو وضعه کړې ده .

۳ - قول دا دی چې اول واضع د علم نحو د ابو الاسود الدئلي شاګرد دی چې د هغه نوم دی معاذ بن مسلم نو دا معاذ بن مسلم علم نحو زده کړې ده د ابو الاسود الدئلي نه او د هغه شاګرد دی او ده د دې علم نحو وضعه او تدوین یې کړی دی .

او راجح قول په دې دریو اقوالو کښې اول قول دی چې هغه دا دی چې واضع او مدون د علم نحو حضرت علی بن ابی طالب دی .

چونکه علم صرف په قدیمه زمانه کښې شعبه وه د علم نحوې او جدا او مستقل علم نه وه نو څوك چې واضع دی د علم نحو هم دغه کس واضع دی د علم صرف هم دی نو بناء په اول قول باندې واضع د علم صرف حضرت علی بن ابی طالب رضی الله عنه دی او بناء په دویم قول باندې واضع د علم صرف ابو الاسود الدئلي دی او بناء په دریم قول باندې واضع د علم صرف حضرت معاذ بن مسلم دی خو لیکن راجح به دا بللی شي چې واضع د علم صرف حضرت امیر المؤمنین علی بن ابی طالب دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

## علم صرف مستقل فن جوړېدل

مونږ مخکې داخبره وکړه چې علم صرف په قدیمه زمانه کښې جدا اومستقل علم نه وه اوبیاوروسته داعلم صرف دعلم نحوې نه جداکړی شو اوله دې علم صرف نه جدا اومستقل علم جوړکړی شو اوپه باره دهغه کس کښې چې هغه داعلم صرف مستقل اوجدافن ګرزولی دی،دوه قولونه دي .

١ - قول دادی چې ددې چې علم صرف نه چې جدا اومستقل علم چا جوړکړی دی نوهغه حضرت امام ابوحنیفة رحمه الله دی چې له ده نه وړاندې داعلم صرف داخل وو په علم نحوې کښې اودعلم نحوې یوه شعبه اوفن وو او بیاوروسته ورنه امام ابوحنیفة مستقل اوجدا علم جوړکړو اوپه دې علم صرف کښې یې مستقله اوجدایوه رساله ولیکله چې دهغې رسالې نوم دی المقصود نوپه دې رساله کښې امام ابوحنیفة رحمه ددې علم صرف مسائل بیان کړي دي اودعلم نحوې مسائل ورسره نشته نوددې امام ابوحنیفة رحمه دزمانې نه داعلم صرف دعلم نحوې نه جدا اومستقل علم جوړشو اوعلماؤ په کښې جدا اومستقل کتابونه تصنیف کړه اودعلم نحوپه کتابونوکښې دعلم صرف مسائل ذکرکول پرېښودل اودعلم نحوې جداکتابونه شوه اودعلم صرف جداکتابونه شوه .

٢ - قول دادی چې ددې علم صرف جداعلم ګرزونکی ابوعثمان بکربن حبیب المازني دی چې داتیرشوی دی دامام ابوحنیفة نه یوه صدی بعدنودې ابوعثمان مازني علم صرف جداکړی دی دعلم نحوې نه اوله ده نه وړاندې داعلم صرف یوفن اوشعبه وه دعلم نحوې اوابوعثمان مازني ورنه مستقل فن اوعلم جوړکړو اوده دزمانې نه بعد په علم صرف کښې مستقل اوجداکتابونه تصنیف کړی شو اومشهور دادویم قول دی .

## دعلم صرف مرتبه

دعلم صرف زده كول فرض كفائي دي يعني ددئ زده كول فرض دي په تولو مسلمانانو باندې خوليكن چې بعضې مسلمانان داعلم حاصل كړي نوددې تولو مسلمانانو ذمه فاغېږي اوكه چيرته دمسلمانانو بعضې خلك هم داعلم راحاصل نه كړي نوبيادوئ تول گنهكارجوړېږي اووجه دفرضيت يې داده چې دعلم تفسيراوعلم حديث زده كړه فرض كفائي ده اوشك نشته چې داعلم تفسيراوعلم حديث دواړه ورموقوف دي په دې علم صرف باندې چې ترڅوپورې يوانسان علم صرف زده نه كړي نودهغه لپاره نه ده ممكنه چې علم تفسيراوعلم حديث زده كړي نوهركله چې داعلم صرف موقوف عليه شو لپاره ددې علم تفسيراوعلم حديث نوداعلم صرف هم فرض كفائي شو ځكه چې مقدمه اوموقوف عليه دشي په حكم دهغه شي كېښې وي .

داوړاندې چې كوم امورمونږ ذكركړه چې تعريف اوموضوع اوغرض اوواضع دعلم صرف وه نوددوئ پېژندل ضروري اوواجب دي اووجه دضرورت اووجوب يې داده چې كه چيرته تعريف دعلم صرف ونه پېژندل شي نوبياداعلم صرف مجهول پاتې كېږي نولازمېږي طلب دمجهول مطلق اودموضوع پېژندل ځكه ضروري دي چې ددې مطلوب علم امتيازاوفرق راشي دهغه علم نه چې هغه دده مطلوب نه وي ځكه چې ديوعلم فرق اوامتيازدبل علم نه په اعتبار دموضوع سره وي اوغرض دعلم پېژندل ځكه ضروري دي ځكه كه چيرته ديوعلم غرض اوفائده نشي معلومه نوبياددې علم طلب اوزده كړه عبث جوړېږي اودعلم مرتبه اودواضع پېژندل ځكه ضروري دي ځكه چې كله طالب خبردارشي ددې علم دمرتبې نه اودواضع دمرتبې نه نوبيادطالب شوق زياتېږي طرف ددې علم ته اوددې شوق دوجهې نه هغه زيات كوشش كوي په حاصلولوددې علم كښې .

Maktaba Tul Ishaat.com

## دحمد نه ذکرکول

**اعتراض**: معترض وايي چې مصنف په خپل کتاب کښې دتسميې نه بعد حمد نه دی راوړی نولازم شوی ترك العمل په هغه حديث باندې چې کوم حديث راغلی دی په حق دحمد کښې چې هغه داقول دپيغمبرعليه السلام دی .

**كُلُ امرٍ ذِی بالٍ لم يُبدء فِيه بِحمدِاللّٰهِ سُبحانَه فَهُوَ اَجزَمُ وفى رواية ابترُ.الحديث .**

**ترجمه**: هرهغه کارچې هغه خاوند دشان اومرتبې وي اوپه هغې کښې شروع ونه کړی شي دالله پاك په حمد اوثناء سره نوهغه کار اجزم اوپه يوروايت کښې راغلي دي چې ابتر دی چې ددې دواړو معنیٰ داده چې په کښې برکت نه دی موجود په طريقې دکمال سره .

١ - **جواب**: مونږ ورته وايوچې په دې حديث کښې امر دمطلق شروع شوی دی برابره خبره ده که په طريقې دکتابت اوليکلوسره وي اوکه په طريقې دقول اووينا سره وي نومصنف اګرچې په حمد باندې شروع نه ده کړې په طريقې دکتابت سره نوجائز دي چې مصنف حمدراوړی وي په طريقې دقول اووينا سره په دې شان چې دخپل کتاب په سرکښې يې وروسته دبسم الله ليکلونه حمد ويلی وي نونه لازميږي ترك العمل په حديث باندې .

٢ - **جواب**: مونږ ورته وايوچې مصنف داحمدنه دی ذکرکړی له دې وجهې نه چې ده داخيال کړی دی چې دده داکتاب يوامرذی بال نه دی يعنې داسې يوامرنه دی چې خاونددااوچت شان اومرتبې وي اوپه حديث کښې خوحکم شوی دی چې دهغه شي په سرکښې به شروع په حمدسره کولی شي چې هغه خاونددااوچت شان اومرتبې وي اودا مصنف عاجزي اوانکساري دنفس کړې ده اوپه حقيقت کښې دده داکتاب خاوند دااوچت شان دی .

۳- **جواب**: مونږ ورته وایو چې مصنف د احمد چې نه دی راوړی په سرد خپل کتاب کښې نود الپاره د موافقت د کتاب الله سره یعني لپاره د موافقت د قرآن شریف سره په دې شان چې اول سورة په اعتبار د نزول سره سورة علق دی چې ورته سورة اقرء هم ویل کیږي او شك نشته چې د دې سورة په اول کښې حمد نه دی ذکر شوی .

۴- **جواب**: مونږ ورته وایو چې مقصود د مصنف په دې کتاب کښې اختصار دی نو مصنف په اول د کتاب کښې حمد ذکر نه کړو لپاره د دې چې په اول وخت کښې یې تنبیه ورکړې ده په دې خبره باندې چې د مصنف مقصود اختصار دی .

۵- **جواب**: مونږ ورته وایو چې نه منو چې مصنف عمل نه دی کړی په حدیث باندې چې هغه راغلی دی په باره د حمد کښې بلکه مصنف په دې حدیث باندې عمل کړی دی ځکه چې چې مقصود له حمد نه اظهار د صفات کمالیه دی او شك نشته چې په دې تسمیې کښې هم اظهار د صفات کمالیه راغلی دی نو په راوړود تسمیې سره حمد هم اداء شو .

۶- **جواب**: مونږ ورته وایو چې مصنف د احمد نه دی راوړی په دې خپل کتاب کښې لپاره د دې چې مصنف اقتداء کړې ده په پیغمبر علیه السلام پسې په اظهار د عجز کښې په حمد راوړلو کښې په دې شان چې پیغمبر علیه السلام د خپل عاجزتوب اظهار کړی دی په راوړو د حمد کښې په دې قول خپل کښې .

لاأُحصِي ثَنَاءً عَلَيكَ أَنتَ كَمَاأثنيتَ على نفسِكَ الحديث .

**ترجمه**: زه طاقت نه لرم د ثناء ویلو په تا باندې ای الله پاك ته ثابت یې په هغه طریقې سره لکه څنګه چې تا خپل ځان باندې ثناء ویلې ده .

۷- **جواب**: مونږ ورته وایو چې دانه راوړل د حمد عین حمد دی ځکه چې حمد په اصطلاح کښې عبارت دی له فعل ینبئ عن تعظیم المنعم نه او شك نشته چې د اترك الحمد په دې مقام کښې هم یو فعل دی چې د اخبرداری ورکوي د تعظیم د منعم نه چې خدای پاك دی ځکه چې د احمد نه راوړل لپاره د دې دي چې اظهار د عجزیې کړی له حمد نه په دې مقام د حمد کښې او شك نشته چې د اخبرداری ورکوي له تعظیم د الله پاك نه .

Maktaba Tul Ishaat.com

**اعتراض**: معتراض وايي چې مصنف ته پکاروه چې ده حمد په طريقې دکتابت سره راوړی وای په سرد کتاب خپل کښې لپاره دموافقت دکتابونو دسلفوسره ځکه چې له مصنف نه وړاندې چې کوم علماء تيرشوي دي نوهغوئ حمدراوړی دی په خپلو کتابونو کښې په طريقې دکتابت سره .

۱ - **جواب**: مونږ ورته وايوچې مصنف په وقت دتصنيف ددې کتاب خپل کښې داتصورکړی دی چې دده داکتاب په دې حيثيت چې دده تصنيف دی دانه دی په شان دکتابونودسلفو اګرچې په حيثيت داشتمال ددې کتاب په مسائلوباندې په شان دکتابونو دسلفودی نوددې تصوراوخيال له وجهې نه چې ددې مصنف کتاب په شان دکتابونودسلفونه دی نوځکه مصنف په سرددې خپل کتاب کښې دحمد ذکرونه کړو.

۲ - **جواب**: مونږ ورته وايوچې نه منو داخبره چې مصنف موافقت نه دی کړی دسلفوسره بلکه مصنف ورسره موافقت کړی دی په دې شان چې دسلفودوه طريقې دي اوله طريقه دسلفوداده چې هغوئ دخپلو کتابونوپه سرکښې تسميه اوحمد اوصلوٰة درې واړه راوړي دي اودويمه طريقه داده چې هغوئ دخپلوکتابوپه سرکښې فقط تسميه راوړې ده نومصنف په دې خپل کښې دويمه طريقه دسلفوغوره کړې ده نو موافقت مصنف کړی دی دسلفوسره اوپه نه ذکر دحمدسره نه دی لازم شوی مخالفت دسلفونه .

**اعتراض**: معترض وايي چې دکتاب الله په سرکښې له تسميې نه بعد حمد موجوددی نوبايد مصنف هم په اول دکتاب خپل کښې وروسته له تسميې نه حمد راوړی ړای لپاره ددې چې موافقت راغلی وای دکتاب الله سره نوهرکله چې مصنف حمد رانه وړو نولازم شومخالفت دکتاب الله سره .

**جواب**: مونږ ورته وايوچې دقرآن شريف يوترتيب دجمعې اودکتابت دی اوبل ترتيب دنزول دی په دې ترتيب دجمعې اودکتابت کښې اګرچې په سردکتاب الله کښې وروسته له تسميې نه حمد موجود دی خوليکن په ترتيب دنزول کښې وروسته له تسميې نه حمدنه دی ذکر نودمصنف کتاب موافق دی دترتيب نزولي سره نونه دی

لازم شوی مخالفت دکتاب الله سره په نه راوړو دحمد سره اوپه دې ترتيب دنزول کښې اول سورة علق نازل شوی دی اوپه هغې کښې حمد نه دی ذکرشوی .

اعلم ان التصريف فی اللغة التغيير ا لخ .

**ترجمه**: پوه شه چې تصريف په لغت کښې تغييرته وايي .

**تشريح**: لفظ دتصريف نوم دی لپاره داعلم اودې علم ته لکه څنګه چې علم صرف وايي نوهمدارنګه دې علم ته علم التصريف هم وايي اودې علم ته ځکه علم تصريف وايي چې دتصريف لغوي معنیٰ ده تغيير اوپه دې علم کښې هم بحث کولی شي دتغييرنه مثال لکه تغييردمصدرماضي ته اومضارع ته .

**اعتراض**: معترض وايي چې مصنف په دې مقام کښې په صدد اوقصد داختصار کښې دی نوبايدچې مصنف ويلي وای چې التصريف فی اللغة الی آخره بغيرله راوړو داعلم نه لپاره ددې چې اختصارحاصل شوی وای .

**جواب**: مونږ ورته وايومقصود دمصنف په دې مقام کښې دادی چې خطاب کوي په طريقې دعموم سره اوخطاب په طريقې دعموم سره حاصلېږي په راوړلودلفظ داعلم سره نوځکه مصنف لفظ داعلم راوړو .

**اعتراض**: معترض وايي چې خطاب په طريقې دعموم سره لکه څنګه چې حاصلېږي په راوړو دلفظ داعلم سره نوهمدارنګه حاصلېږي په راوړو دلفظ دافهم سره نوڅه وجه ده چې مصنف لفظ دافهم ذکر نه کړو اولفظ داعلم يې ذکرکړو په دې مقام کښې .

**جواب**: مونږ ورته وايوچې اعلم مستعملېږي په طلب دعلم اوفهم کښې په راتلونکي کلام باندې اوافهم مستعملېږي په علم اوفهم کښې په هغه کلام کښې چې تيرشوی وي اومقصود په دې مقام کښې طلب دعلم اوفهم دی په راتلونکي کلام باندې نه په تيرشوي کلام باندې ځکه چې له دې نه وړاندې څه کلام اوخبره نه ده تيره شوې له طرف دمصنف نه .

Maktaba Tul Ishaat.com

**اعتراض**: معترض وايي چې لکه څنګه چې اعلم مستعملېږي په طلب دعلم اوفهم کښې په هغه کلام باندې چې راتلونکی وي نو همدارنګه اعرف هم مستعملېږي په فهم اوعلم دهغه کلام کښې چې هغه راتلونکی وي نو څه وجه ده چې مصنف اعلم لفظ ذکرکړو اوددې په ځای یې اعرف لفظ نه کړو ذکر .

**جواب**: مونږ ورته وایوچې اعلم مستعملېږي په امورکليه ؤ کښې اواعرف مستعملېږي په امورجزيه ؤکښې اوپه دې مقام کښې بيان دامورو کليه ؤکولی شي نه دامورو جزئيه نوځکه مصنف په دې مقام کښې ذکرداعلم وکړو اوذکرداعرف يې ونه کړو په ځای داعلم باندې .

**اعتراض**: معترض وايي چې دې علم ته لکه څنګه چې علم التصريف وايي نو همدارنګه ورته علم الصرف هم وايي نوبايد چې مصنف لفظ دالصرف ذکرکړی وای په ځای دلفظ دالتصريف باندې له دريووجهونه اوله وجه داده چې لفظ دصرف مختصر دی له لفظ دالتصريف نه اودويمه وجه داده چې لفظ دالصرف مشهور دی دلفظ دالتصريف نه اودريمه وجه داده چې لفظ دالصرف مشهور دی له لفظ دالتصريف نه نوپه ذکرددې لفظ دالصرف کښې رعايت کېږي دمبتدی په خلاف دلفظ دالتصريف چې په هغه کښې رعايت نه کېږي دمبتدی ځکه چې مشهورلفظ مبتدی ته معلوم وي اوغيرمشهورلفظ ورته نه وي معلوم اودريمه وجه داده چې لفظ دالصرف اصل دی ځکه چې دامجرد دی اولفظ دالتصريف فرع ده ځکه چې دامزيد فيه دی او اصل حقداروي دذکرپه نسبت سره فرع ته .

**جواب**: مونږ ورته وايوچې مصنف ديوې نکتې دوجهې نه ذکر دالتصريف وکړو اوذکردالصرف يې ونه کړو اوهغه نکته داده چې داالتصريف په زيات تغييرباندې دلالت کوي اولفظ دالصرف په نفس تغييرباندې دلالت کوي ځکه چې په التصريف کښې حروف زيات دي په نسبت سره صرف ته اوزيادت دحروفودلالت کوي په زيادت دمعنی باندې اوپه دې علم صرف کښې هم بحث دنفس تغييرنه نه کېږي بلکه دزيات تغييرنه په کښې بحث کېږي ځکه چې په دې الفاظو کښې زيات تغييرواقع دی .

**اعتراض**: معترض وايي چې مقصود داهل ددې علم چې صرفيان دي بيان داصطلاحي معنى ګانود الفاظودى نه بيان دلغوي معنى ګانو دالفاظونوبايدچې مصنف په دې ځاى كښې لغوي معنىٰ دعلم صرف نه واى ذكركړې فقط اصطلاحي معنىٰ يې ورته ذكركړې واى .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې بيان دمعاني اصطلاحيه اګرچې مقصود دصرفيانو نه ده خولېكن مصنف لغوي معنىٰ ذكركړې ده لپاره داشعار اوخبرداري په وجود دمناسبت باندې په مابين دلغوي معنىٰ كښې اود اصطلاحي معنىٰ كښې چې ددوئ دواړوپه مابين كښې مناسبت موجوددى په دې شان چې لغوي معنىٰ دتصريف مطلق تغييردى او اصطلاحي معنىٰ تغييرمخصوص دى اوكه چيرته مصنف دالغوي معنىٰ ورته نه واى ذكركړې نو اشعار اوخبرداري نه راتلوپه وجوددمناسبت باندې .

وفى الصاعة تحويل الاصل الواحد الى امثلة مختلفة لمعان مقصودة لاتحصل الابها الخ .

**ترجمه**: اوتصريف په اصطلاح كښې عبارت دى له اړولو ديواصل نه مختلفو صيغوته لپاره دراحاصلولودمقصود معنىٰ ګانو چې دامعنىٰ ګانې به نه راحاصلېږي مګرپه دې صيغوسره .

**تشريح**: مرادله اصل واحد نه مصدردى اومراد له امثله مختلفه نه مختلفې صيغې دي لكه ماضي اومضارع اواسم فاعل اواسم مفعول اواسم ظرف اواسم تفضيل اوامر اونهى اومراد له معانى مقصوده نه هغه معنىٰ ګانې دي چې داصيغې ورباندې دلالت كوي ځكه چې ددې هرې صيغې جداجدامعنىٰ ده اودغه معنىٰ ګانې نه حاصلېږي په مصدرسره بلكه په دې صيغوسره حاصلېږي نوله همدې وجهې نه له دې مصدرنه داصيغې جوړېږي اومشتق كېږي .

**اعتراض**: معترض وايي چې دصناعت معنىٰ ده اصطلاح اومصنف داخبره نه ده صحيح چې تصريف په صناعت او اصطلاح كښې تحويل داصل واحدته وايي ځكه

Maktaba Tul Ishaat.com

د علماء د علم منطق صناعت هم یو صناعت او اصطلاح ده او حال دا دی چې د دوئ په صناعت او اصطلاح کښې خو تصریف تحویل د اصل واحد ته نه وایي ځکه چې د الفظ د تصریف له الفاظو مصطلحه ددې علماؤ د علم منطق نه نه دی .

۱ - **جواب**: مونږ ورته وایو چې مراد له صناعت نه چې په عبارت د مصنف کښې ذکر دی مطلق صناعت او اصطلاح نه ده بلکه مراد ورنه معهوده اصطلاح ده چې هغه اصطلاح د علماؤ د علم صرف ده په دې شان چې په لفظ د الصناعت کښې الف لام لپاره د عهد دی او معهود وربانديې صناعت او اصطلاح د علماء د علم صرف ده او شك نشته چې په اصطلاح د علماء د علم صرف کښې تصریف عبارت دی له تحویل د اصل واحد نه .

۲ - **جواب**: مونږ ورته وایو چې د امذکوراعتراض به په هغه وخت کښې وارد وه که چیرته مراد له صناعت نه چې ذکر دی په عبارت د مصنف کښې عام صناعت وای او داسې نه دی بلکه مراد ورنه خاص صناعت او اصطلاح ده چې هغه صناعت او اصطلاح د علماؤ د علم صرف ده او شك نشته په اصطلاح د علم صرف کښې تعریف عبارت دی د تحویل د اصل واحد نه او دا خاص صناعت او اصطلاح مراد کول په دې طریقې سره دي چې دا الف لام په لفظ د الصناعت کښې عوض دی د مضاف الیه نه په اصل کښې صناعة اهل الصرف وه او بیا وروسته دا مضاف الیه چې اهل الصرف دی حذف کړی شو او ددې په عوض کښې الف لام راوړی شو.

**اعتراض**: معترض وایي چې د صناعت معنیٰ ده اصطلاح او لفظ د اصطلاح مشهور دی په نسبت سره لفظ د صناعت ته نو باید چې مصنف لفظ د اصطلاح په دې مقام کښې ذکر کړی وای په ځای د لفظ د الصناعت باندې ځکه چې دا لائق دی د حال د مبتدی طالب سره ځکه چې طالب مشهور پیژني او غیر مشهور نه پیژني .

**جواب**: مونږ ورته وایو چې لفظ د صناعت اګرچې مشهور دی په نسبت سره لفظ د اصطلاح ته خو لیکن دا لفظ د صناعت جدید لفظ دی په حق د متبدي طالب کښې او کل جدید لذیذ یعني هر نوی شی خوږ وي .

**اعتراض:** معترض وايي چې اضافت دتحويل اصل ته نه دی صحيح ځکه چې دتحويل معنىٰ ده انتقال اومراد له اصل نه مصدر دی اومصدر لفظ دی اوعرض دی اوانتقال په اعراضو کښې نه راځي ځکه چې عرض نه نقل کېږي له ځپل محل نه .

**جواب:** مونږ ورته وايوچې دااعتراض به په هغه وخت کښې وارد وه که چېرته مراد له تحويل نه دتحويل خپله معنىٰ وای چې انتقال دی اوحال دادی چې له تحويل نه ددې تحويل داخپله معنىٰ نه ده مراد بلکه مراد ورنه اشتقاق دی اوشك نشته چې په مصدر کښې خو اشتقاق متصور دی .

**اعتراض:** معترض وايي چې مراد له اصل نه خو مصدر دی په دې مقام کښې نوڅه وجه ده چې مصنف لفظ داصل ذکرکړو اولفظ دمصدريې ذکرنه کړو په ځای داصل باندې .

**جواب:** مونږ ورته وايو چې په مابين دبصريانو اوپه مابين دکوفيانو کښې اختلاف واقع دی په دې خبره کښې چې اصل په اشتقاق کښې مصدر دی اوکه اصل په اشتقاق کښې فعل دی نو دبصريانو په مذهب باندې اصل په اشتقاق کښې مصدر دی او دکوفيانو په مذهب باندې اصل په اشتقاق کښې فعل دی نوکه چېرته يې مصدر ذکر کړی وای نودابه دتصريف تعريف وه په مذهب دبصريانو باندې فقط ځکه چې دکوفيانو په اصطلاح کښې تصريف عبارت دی له تحويل دفعل نه اوچې کله يې اصل لفظ ذکرکړونو داتعريف شو هم په مذهب دبصريانو باندې اوهم په مذهب دکوفيانو باندې خو ليکن مصداق داصل په مذهب دبصريانو مصدر دی اومصداق داصل په مذهب دکوفيانو باندې فعل دی .

**اعتراض:** معترض وايي چې مراد له امثله نه ماضي اومضارع اونهي اوامر اواسماء مشتقه دي اومصنف په دوئ باندې اطلاق دامثله کړی دی اودااطلاق نه دی صحيح ځکه چې داامور مذکوره خو امثله نه دي لپاره دمصدر ځکه چې مثال دشي عبارت دی له فرد اوجزئي ددې شي نه اوداامورمذکوره خو افراد اوجزئيات نه دي ددې مصدر بلکه ورنه جدا اومباين دي .

Maktaba Tul Ishaat.com

**جواب**: مونږ ورته وايو چې دااعتراض به په هغه وخت کښې وارد وه که چيرته مرادله امثله نه افراد اوجزئيات وه حال دادی چې مراد ورنه دامعنیٰ نه ده بلکه مراد له امثله نه صيغې دي اوشك نشته چې اطلاق دامثله په معنیٰ دصيغوسره صحيح ده په دې امورو مذکوره ۆباندې څکه چې داهريوله دې امورونه صيغه ده.

**ثم الفعل اماثلاثي وامارباعي وكل واحد منهما امامجرد اومزيد فيه وكل واحد منها اماسالم اوغيرسالم .**

**ترجمه**: اوبيادافعل به ياثلاثي وي اويابه رباعي وي اوهر واحد له دې ثلاثي اورباعي نه يابه مجردوي اويابه مزيدفيه وي اوهرواحد له دې ثلاثي مجردواوثلاثي مزيدو اورباعي مجردو اورباعي مزيدو يابه سالم وي اويابه غيرسالم وي .

**تشريح**: په دې وړاندې عبارت کښې مصنف فعل تقسيم کړی دی په دريو تقسيمونوسره چې په دې دريوتقسيمونوکښې دااول تقسيم باالذات دی لپاره دفعل اودويم تقسيم دفعل لپاره باالواسطه تقسيم دی خولیکن په دې تقسیم کښې يوه واسطه موجودده اودريم تقسيم دفعل هم باالواسطه تقسيم دی دوه واسطې په کښې موجود دي نواول تقسيم دفعل ثلاثي اورباعي ته دی چې ثلاثي ديته وايي چې په هغې کښې درې حروف اصليه موجود وي اورباعي هغې ته وايي چې په کښې څلورحروف اصليه موجودي بيابرابره خبره ده که په دې ثلاثي کښې ددې دريوحروفو اصليه ۆسره حروف زائده وي اوکه نه وي اوهمدارنګه په دې رباعي کښې برابره خبره ده که ددې څلورحروفواصليه ۆ سره حروف زائده وي اوکه نه وي نوپه دې تقسيم کښې څه واسطه نشته بلکه فعل باالذات تقسيمږي دې دوه قسمونوته اودويم تقسيم دفعل مجرد اومزيدفيه ته دی خوليکن دې دوه قسمونوته فعل ورتقسيمږي په يوې واسطې سره چې هغه واسطه ثلاثي اورباعي ده نودې مجردو اومزيدفيه ته باالذات ثلاثي اورباعي ورتقسيمږي اوبيادوئ په واسطې سره فعل هم دوئ دواړوته ورتقسيمږي نوثلاثي مجرد دېته وايي چې له دريوحروفواصليه نه زائد حروف په کښې نه وي اوثلاثي مزيد دېته وايي چې له دريوحروفواصليه نه زائد حروف په کښې موجود وي

اورباعي مجرد دېته وايي چې په دريو حروفو اصليه باندې زائد حروف نه وي موجود اورباعي مزيد دېته وايي چې په دريو حروفو اصليه باندې زائد حروف موجود وي اوپه دريم تقسيم سره فعل تقسيمېږي سالم اوغيرسالم ته چې ددې سالم اوغيرسالم تعريفونه وروسته مصنف کړي دي خوليکن فعل دې دوه اقساموته تقسيمېږي په دوه واسطوسره چې اوله واسطه ثلاثي اورباعي ده اودويمه واسطه مجرد اومزيدفيه دي په دې شان چې دامجرد که ثلاثي وي اوکه رباعي وي تقسيمېږي سالم اوغيرسالم ته اوهمدارنګه دامزيدفيه تقسيمېږي سالم اوغير سالم ته برابره خبره که دامزيدفيه ثلاثي وي اوکه رباعي وي .

**اعتراض**: معترض وايي چې څه وجه ده چې مصنف تعرض وکړو تقسيم دفعل ته نه داسم اوحرف ته حال دادی چې دادرې واړه اقسام دکلمې دي .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې وجه لپاره دتعرض تقسيم دفعل ته نه داسم اوحرف ته داده چې دافعل مقصود باالبحث دی په دې علم کښې په خلاف داسم اوحرف څکه چې بحث په دې علم کښې کولی شي دتغيير نه اوشك نشته چې محتاج تغييرته فعل دی نه اسم اوحرف څکه چې په فعل کښې ثقل موجود دی څکه، چې په معنیٰ کښې يې تعدد دی په دې شان چې دافعل دلالت کوي په حدث اونسبت اوزمانه باندې په خلاف داسم اوحرف چې په دوئ کښې تعدد نشته په اعتبارد معنیٰ نوپه دوئ کښې ثقل نشته نودوئ دواړه نه دي مقصود په بحث سره .

**اعتراض**: معترض وايي چې څه وجه ده چې اسم تقسيمېږي دريواقساموته چې ثلاثي اورباعي اوخماسي دي اوفعل تقسيمېږي فقط دوه قسمونوته چې ثلاثي اورباعي دي .

۱ - **جواب**: مونږ ورته وايو چې اسم اصل دی اوفعل فرع ده اوفرع لاندې وي په مرتبه اودرجه کښې داصل نه نولپاره دحصول ددې انحطاط خماسي په اسم کښې موجودېږي اوپه فعل کښې نه موجودېږي .

Maktaba Tul Ishaat.com

۲ - **جواب**: مونږ ورته وايو چې په فعل کښې ثقل موجود دی په اعتبار دمعنیٰ سره ځکه چې فعل دلالت کوي په حدث اوزمانه اونسبت باندې فاعل ته نوکه چیرته خماسي په کښې راشي نولازم به شي وجود دثقل په لفظ کښې هم نود حد داعتدال نه به خارج شي په خلاف داسم چې په دې کښې ثقل نه دی موجود په اعتبار دمعنیٰ سره ځکه چې اسم یاپه ذات دلالت کوي فقط لکه رجل اویاپه وصف باندې دلالت کوي فقط لکه قیام اویاپه ذات اووصف دلالت کوي لکه قائم نوکه په دې اسم کښې خماسي راشي اوثقل په کښې پیداشي په اعتبار دلفظ سره نوپه دې سره دحد داعتدال نه نه خارجیږي .

**ونعنی باالسالم ماسلمت حروفه الاصلیه التی تقابل باالفاء والعین واللام من حروف العلة والهمزة والتضعیف الخ .**

**ترجمه**: اومونږ قصد کوو په سالم سره هغه فعل چې دهغه حروف اصلیه چې هغوئ عبارت دي له هغو حروفونه چې په مقابله دفاء اوعین اولام کښې وي دحروف علتونه اودهمزې نه اودتضعیف نه .

**تشریح**: مصنف په دې مقام کښې تعریف دسالم کړی دی چې داسالم عبارت دی دهغه فعل نه چې دهغه حروف اصلیه برابره خبره ده که درې وي لکه په فعل ثلاثي ؤکښې اوکه څلوروي لکه په فعل رباعي کښې سالم اومحفوظ پاتې شوې وي له حروفوعلتونه اوله همزې نه اوله تضعیف نه اوداحروف اصلیه عبارت دي له هغوحروفونه چې هغوئ په مقابله دفاء اوعین اولام کښې وي نوپه سالم کښې داضروري اوواجب دي چې په مقابله ددې فاء اوعین اولام کښې به حروف علت هم نه وي اوهمزه به هم نه وي اوتضعیف به هم نه وي یعنې له دې حروفواصلیه نه به دوه حرفونه دیوجنس نه نه وي بیابرابره خبره ده که حروف زائده په کښې وي لکه مزیدفیه کښې اوکه په کښې نه وي لکه مجردوکښې اوبیاچې داحروف زائده په کښې وي عام دي که په دوئ کښې کومه همزه اوحروف علت وي اوکه نه وي اومصنف ددې غیرسالم تعریف نه دی کړی ځکه چې غیرسالم ضد دی دسالم نوچې کله دسالم تعریف وکړی شو

نو ددې نه د غيرسالم تعريف را معلوم شو چې غيرسالم دېته وايي چې په حروف اصليه ؤ کښې حرف علت او يا همزه او يا تضعيف يعنې دوه حروف ديو جنس نه وي او په دې تعريف د سالم کښې اشاره ده وجه د تسميې د سالم ته په اسم د سالم سره په دې شان چې سالم ته ځکه سالم وايي ځکه چې سالم د سلامتيانه دی او په سالم کښې هم سلامتيا موجوده وي له حروفو علتو او همزې او تضعيف نه او غيرسالم ته له دې وجهې غيرسالم وايي چې په ده کښې سلامتيا نه وي موجوده له حروفو علتو او همزې او تضعيف نه .

## فرق په مابين د سالم او صحيح کښې

په دې ځای کښې دوه مذهبه دي اول مذهب د صرفيانو دی نو هغوئ سالم دېته وايي چې د هغه حروف اصليه سالم وي له حروفو علتونه او له همزې نه او له تضعيف نه او صحيح دېته وايي چې د هغه حروف اصليه خالي وي له حروفو علتونه يعنې په مقابله د فاء او عين او لام کښې يې حرف علت نه وي برابره خبره ده که همزه او تضعيف په کښې وي او که په کښې نه وي نو صحيح په نزد د صرفيانو باندې عام دې د سالم نه نو نصر صحيح هم دی او سالم هم دی او فر په تشديد د راء سره چې په اصل کښې فررو په دوه راء ګانو سره او أخذ صحيح دی ځکه چې د دوئ حروف اصليه خالي دي له حروفو علتونه او سالم نه دی ځکه چې په فر کښې تضعيف موجود دی او په أخذ کښې همزه موجوده ده او دويم مذهب د نحاتو دی نو د هغوئ په نزد باندې څه فرق نشته په مابين د صحيح او د سالم کښې په دې شان چې صحيح او سالم دواړه عبارت دي له هغه فعل نه چې په مقابله د لام کلمې کښې يې حرف علت نه وي برابره خبره ده که په مقابله د فاء کلمې کښې او عين کلمې کښې يې حرف علت وي او که نه وي او همدارنګه برابره خبره ده که په کښې همزه او تضعيف وي او که نه وي نو په مذهب د نحاتو باندې مساوات دی په مابين د صحيح او د سالم کښې .

**اعتراض**: د مصنف په دې عبارت کښې چې التی تقابل بالفاء والعين واللام دی اشاره ده تعريف د حروف اصليه ؤ ته چې حروف اصليه عبارت دي د هغو حروفو نه چې هغوئ په مقابله د فاء او عين او لام کلمې کښې وي نو معترض وايي چې دا تعريف

Maktaba Tul Ishaat.com

دحروف اصلیه ؤ مانع نه دی له دخول دغیرنه په دې کښې بعض حروف زائده داخلیږي مثال لکه دویمه باء په جلبب کښې نودادویمه باء په جلبب کښې حرف زائده دی راوړل شوی دی لپاره دالحاق اولکه راء په کرم کښې په تشدید دراء سره نوپه دې کرم کښې دوه راءګانې موجودې دي چې بیادایوه راء مدغه شوې ده په دویمه راء کښې اودایوه راء په کښې زائده ده اوپه دې باء اوراء دواړوباندې تعریف دحروف اصلیه ؤ صادقیږي ځکه چې دادویمه باء په مقابله ذلام کښې ده اودارا ء په مقابله دعین کښې ده نودا باء ثانیه اوراء حروف اصلیه نه دي بلکه حروف زائده دي اوتعریف دحروف اصلیه ؤ ورباندې صاقیږي .

**جواب:** مونږ ورته وایو چې په دې تعریف دحروف اصلیه ؤ کښې یوقید معتبردی چې هغه قید دادی چې داحروف به نه وي زیات کړی شوي لپاره دالحاق اویالپاره دتضعیف اوپه دې قیدسره دادویمه باء اودا راء خارجیږي له تعریف دحروف اصلیه ؤنه نوتعریف دحزوف اصلیه ؤمانع شولوله دخول دغیرنه چې دویمه باء ده په جلبب کښې اوراء ده په کرم کښې.

**اعتراض:** معترض وایي چې هرکله په دې تعریف دحروف اصلیه ؤکښې دامذکورقیدمراد اومعتبردی نوولې مصنف دامذکورقیدنه کړو ذکر .

**جواب:** مونږ ورته وایوچې مصنف دامذکورقیدنه کړو ذکر له وجهې داعتماد نه په فهم دمتعلم باندې په دې شان چې متعلم دامذکورقیدپه دې مقام کښې فهم کوي په قرینې دمقام سره ځکه چې دامقام مقام دبحث دی دحروف اصلیه ؤنه اوهرچې هغه حروف دي چې هغوئ زیات کړی شوي وي لپاره دالحاق اویازیات کړی شوي وي لپاره دتضعیف داله قبیلې دحروف زائده نه دي نه له قبیلې دحروفو اصلیه ؤنه .

اعتراض : معترض وایي چې له دې تعریف دحروف اصلیه ؤ نه دارامعلومیږي چې فاء اوعین اولام لپاره دوزن دي اوپه دوئ سره افعال وزن کېږي په دې شان چې ددوئ په واسطې سره معلومیږي چې دافلانکی فعل مجرددی اودافلانکی فعل مزیدفیه دی اوهمدارنګه په دوئ سره معلومیږي چې دافلانکی فعل سالم دی اودا

فلانکی فعل غیرسالم دی نومعترض وایي چې څه وجه ده چې دادرې حروف دوزن لپاره غوره کړی شو اوله دوئ نه غیرنور حروف دوزن لپاره غوره نه کړی شو په ځای ددې دريو حروفو .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې دادرې حروف ځکه دوزن لپاره غوره کړی شو ځکه چې هغه فعل چې هغه له دوئ نه حاصلېږي هغه عام دي موجود ہږي په ټولو افعالو کښې چې هغه «فعل» دی نوچې کله وویل شي چې اکل زید نومعنیٰ ده فعل زید فعل الاکل اوچې وویل شي قتل زید نومعنیٰ ده فعل زید فعل القتل اوچې وویل شي ضرب زید نومعنیٰ ده فعل زید فعل الضرب نوله دې وجهې نه چې دافعل چې حاصل شي له دې دريو حروفونه عام دی نوځکه دادرې حروف دوزن لپاره غوره کړی شوو .

**قوله اما الثلاثي المجرد فان کان ماضيه علی وزن فعل مفتوح العين فمضارعه يفعل اويفعل بضم العين اوکسرها نحو نصر ينصر وضرب يضرب .**

ترجمه : هرچې ثلاثي مجرد دي نوکه چيرته ددوئ ماضي په وزن دفعل سره وه په فتحې دعين سره نوددې مضارع به يفعل اويا يفعل راځي چې دااول په ضمې دعين سره دی اوداوديم په کسرې دعين سره دی مثال داول لکه نصر ينصر اومثال ددويم لکه ضرب يضرب .

**تشريح**: کوم تقسيم دفعل چې مصنف مخکې ذکرکړو هغه اجمال وه اوداوروسته چې کوم عبارت دی داتفصيل دی ددې مخکې اجمال لپاره چې هغه مخکې تقسيم عبارت دی له تقسيم دفعل نه ثلاثي اورباعي ته اوبيا تقسيم ددې ثلاثي اورباعي دی مجرد اومزيذوته اوبيا تقسيم دثلاثي مجردو اومزيدو اورباعي مجردو اومزيدو دی سالم اوغيرسالم ته نودا اما الثلاثي المجرد تفصيل دی ددې وړاندې اجمال لپاره نومصنف په دې ځای کښې اول شپږ بابونه دثلاثي مجردوذکرکړي نوثلاثي مجرد په شپږو بابونوکښې منحصردي چې اول باب ته دنصر ينصر باب وايي اومراد له باب دنصر ينصرنه دادی چې ماضي په کښې مفتوح العين وي اومضارع په کښې مضموم العين وي بيا برابره خبره ده چې دانصر ينصر وي اوکه قتل يقتل وي اوکه له دوئ نه

Maktaba Tul Ishaat.com

غيروي نو دانصرينصرددي اول باب يومثال دى نودې ټول باب ته دنصر ينصرباب ويل
تسميه دكلي ده په اسم ديوې جزئي سره اودويم باب دضرب يضرب دى اومراد له باب
دضرب يضرب نه دادى چې ماضي په كښې مفتوح العين وي اومضارع په كښې
مكسورالعين وي بيابرابره خبره ده كه ضرب يضرب وي اوكه بل مثال وي نو داضرب
يضرب ددې باب لپاره يومثال دى نودې باب ته باب دضرب يضرب ويل هم تسميه
دكلي ده په اسم دجزئي سره اودريم باب دفتح يفتح دى اومراد له دې باب دفتح يفتح
نه دادى چې ماضي په كښې هم مفتوح العين وي اومضارع په كښې هم مفتوح العين
وي بيابرابره خبره ده كه دافتح يفتح وي اوكه بل كوم مثال نوداهم تسميه دكلي ده په
اسم ديوجزئي اومثال سره اوڅلورم باب دعلم يعلم باب دى مراد له باب دعلم يعلم نه
هغه باب دى چې ماضي په كښې مكسورالعين وي اومضارع په كښې مفتوح العين
وي بيابرابره خبره ده كه داعلم يعلم وي اوكه بل كوم مثال وي اودې باب ته هم دعلم
يعلم باب ويل تسميه دكلي ده په اسم ديوې جزئي اومثال سره اوپنځم باب دحسب
يحسب دى اومراد له باب دحسب يحسب نه دادى چې ماضي هم په كښې مكسور
العين وي اومضارع هم په كښې مسكورالعين وي بيابرابره خبره ده كه حسب يحسب
وي اوكه بل كوم مثال وي اودې باب ته دحسب يحسب باب ويل هم تسميه دكلي ده
په اسم دجزئي اومثال سره اوشپږم باب دكرم يكرم باب دى اومراد له دې باب دكرم
يكرم نه دادى چې ماضي هم په كښې مضموم العين وي اومضارع هم په كښې مضموم
العين وي بيابرابره خبره ده كه كرم يكرم وي اوكه بل مثال وي نودې باب ته دكرم يكرم
باب ويل هم تسميه دكلي ده په اسم ديوجزئي اومثال سره اودې باب دعلم يعلم ته باب
دسمع يسمع هم وايي اودې باب دكرم يكرم ته باب دشرف يشرف هم وايي نوددې
ثلاثي مجردولپاره فقط هم دغه شپږ بابونه دي نوپه عربي ژبه كښې چې څومره افعال
له قبيلې دثلاثي مجردونه وي نوهغه له دې بابونونه په وزن ديوباب باندې وي
اوداسې فعل نشته چې هغه له قبيلې دثلاثي مجردو نه وي اونه وي داخل په يوباب
كښې له دې شپږوبابونونه .

اوددې شپږوبابونوپه راپیدا کېدو کښې معتبرحرکت دعین کلمې دفعل ماضي ده په دې شان چې په دې عین دماضي کښې په اعتباردحرکت سره درې حالته دي اول حالت دادی چې داعین کلمه دماضي مفتوحه وي نوپه دې کښې درې بابونه دي چې نصرینصر اوضرب یضرب اوفتح یفتح دي اودویم حالت دادی چې داعین کلمه مکسوره وي نوپه دې کښې دوه بابونه دي یوباب دعلم یعلم دی اوبل باب دحسب یحسب دی اودریم حالت دادی چې داعین کلمه مضمومه وي نوپه دې کښې یوباب دی چې هغه باب دکرم یکرم دی .

**اعتراض**: معترض وایي چې څه وجه ده چې مصنف ثلاثي مقدم کړه په رباعي ؤباندې اومجردیې مقدم کړه په مزیدفیه ؤباندې .

۱- **جواب**: مونږ ورته وایوچې ثلاثي یې ځکه مقدم کړه په رباعي ؤباندې اومجردیې ځکه مقدم کړه په مزیدفیه ؤباندې لپاره ددې چې مطابقت راشي په مابین داجمال اوتفصیل کښې ځکه چې په وړاندې اجمال کښې ثلاثي مقدم کړی شوي دي په رباعي ؤباندې اومجردمقدم کړی شوي دي په مزیدفیه ؤباندې نوپه دې تفصیل کښې هم ثلاثي مقدم کړی شوپه رباعي ؤباندې اومجرد مقدم کړی شوپه مزیدفیه ؤباندې .

۲- **جواب**: مونږ ورته وایوچې داثلاثي ځکه مقدم کړی شو په مزیدفیه ؤباندې ځکه چې ثلاثي طبعاًمقدم دي په رباعي ؤباندې اومجرد طبعاًمقدم دي په مزیدفیه ؤباندې نوپه دې ذکراووضعه کښې مقدم کړی شولپاره ددې چې داذکراووضعه مطابقه شي دطبعې سره .

**اعتراض**: معترض وایي چې څه وجه ده چې په دې شپږوبابونو کښې اعتبارحرکت دعین کلمې ته ورکړی شوی دی اوحرکت دفاء ته اوحرکت دلام ته اعتبارنه دی ورکړی شوی .

**جواب**: مونږ ورته وایوچې ځکه اعتبارحرکت دعین کلمې ته ورکړی شو اوحرکت دلام کلمې اوفاء کلمې ته ورنه کړی شوځکه چې فاء کلمه اولام کلمه دواړه په یوه

Maktaba Tul Ishaat.com

حرکت باندې دي چې هغه فتحه ده نو که چیرته دفاء حرکت ته اویادلام حرکت ته اعتبارورکړی شي نودامتعددبابونه په دې ثلاثي مجردو کښې نه راحاصلېږي .

**اعتراض**: معترض وایي چې څه وجه ده چې عین کلمه په ماضي دمجردوکښې متحرکه کړی شوه اوساکنه نه کړی شوه .

**جواب**: مونږ ورته وایوچې داعین کلمه ځکه ساکنه نه کړی شوه ځکه که چیرته عین کلمه ساکنه کړی شي نولازمېږي التقاء الساکنین په مثل دضربت اوضربن کښې په دې شان چې په دوئ دواړو کښې لام کلمه ساکنه ده نو که چیرته عین کلمه په کښې هم ساکنه کړی شي نولازم به شي التقاء دساکنینو په مابین دعین کلمې کښې اودلام کلمې کښې نوله دې وجهې نه داضروري اوواجب ده چې داعین کلمه به په ماضي ددې ثلاثي مجردوکښې متحرکه وي اوساکنه به نه وي .

**اعتراض**: معترض وایي چې نه منم داخبره چې عین کلمه به په فعل ماضي کښې متحرکه وي بلکه داخبره ستاسومنقوضه ده په نعم اوبئس باندې چې دااول فعل المدح دی اودادویم فعل الذم دی اوحال دادی چې عین کلمه په کښې ساکنه ده اومتحرکه نه ده .

**جواب**: مونږ ورته وایوچې مراد له کیدلودعین کلمې نه متحرکه عامه ده که فی الحال متحرکه وي اوکه په اصل کښې متحرکه وي اوپه دې نعم اوبئس کښې اګرچې داعین کلمه فی الحال نه ده متحرکه بلکه ساکنه ده خولیکن په اصل کښې متحرکه وه په حرکت دکسرې سره اوبیاوروسته ساکنه کړی شوه لپاره دحصول دیوې نوعې خفت .

**اعتراض**: معترض وایي چې څه وجه ده چې مصنف په بیان ددې شپږو بابونو دثلاثي مجردو کښې مفتوح العین مقدم کړوچې باب دنصر ینصراودضرب یضرب دی په مسکورالعین باندې چې باب دعلم یعلم اوحسب یحسب دی اوپه مضموم العین باندې چې باب دکرم یکرم دی .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې وجه لپاره ددې تقديم داده چې مفتوح العين مشتمل دی په حرکت خفيفه باندې چې هغه حرکت خفيفه فتحه ده په خلاف دمکسورالعين او مضموم العين چې هغوئ دواړه مشتمل دي په حرکت ثقيله باندې چې ضمه اوکسره دي .

**وقديجئ على يفعل مفتوح العين اذا كان عين فعله اولامه احد حروف الحلق وهى الهمزة والهاء والعين والحاء والغين والخاء نحو سأل يسأل ومنع يمنع .**

**ترجمه**: چې ماضي مفتوح العين وي نومضارع ددې کله کله هم مفتوح العين راځي خوليکن په دې شرط چې عين دفعل اويالام دفعل يوحرف وي له حروف حلقونه چې دا حروف حلق همزه اوهاء اوعين اوحاء اوغين اوخاء دي مثال لکه سأل يسأل اولکه منع يمنع.

**تشريح**: دابيان دباب دفتح يفتح دی نومصنف وايي چې يوفعل به دباب دفتح يفتح نه په هغه وخت کښې راځي چې کله ددې فعل عين کلمه اويالام کلمه دحروفو حلقونه وي اوحروف حلق غونډشپږ دي چې دامصنف ذکرکړي دي .

**شعر**

حرف حلق شش بود ای نور عين

همزه ها ء حاء خاء عين وغين

**ترجمه**: حروف حلق شپږ (٦) حرفونه دي ای دسترګونوره همزه ده اوهاء ده اوحاء ده اوخاء ده اوعين دی اوغين دی .

**اعتراض**: معترض وايي چې نه منم حصردحروف حلقيه ؤ په دې شپږوحرفونو کښې چې کوم مصنف ذکرکړي دي ځکه چې الف هم له حروف حلقيه ؤنه دی باالاتفاق نوحروف حلقيه شپږنه دي بلکه حروف حلقيه اوه (٧) دي .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې مراد له حروف حلقيه ؤنه په دې مقام کښې مطلق حروف حلقيه نه دي برابره خبره ده که هغوئ لره دخله وي په فتحې دعين کلمې کښې

Maktaba Tul Ishaat.com

او که نه وي بلکه مرادله حروف حلقیه ؤنه خاص حروف حلقیه دي چې هغوئ عبارت دي له هغو حروف حلقیه ؤنه چې هغوئ لره دخله وي په فتحې دعین کلمې کښې اوشك نشته چې هغه حروف حلقیه چې هغوئ لره دخله وي په فتحې دعین کلمې کښې هغوئ همدغه شپږ دي چې مصنف ذکرکړي دي اوهرچې الف دی نوهغه لره هیڅ دخله نشته په فتحې دعین کلمې کښې ځکه چې داالف په فعل کښې راشي په ځای دعین کلمې باندې اویاپه ځای دلام کلمې باندې نوکه چیرته راغلی وي په ځای دعین کلمې باندې نوبیاخوښکاره خبره ده چې ده لره څه دخله نشته په فتحې دعین کلمې کښې ځکه چې داعین کلمه په خپله داالف دی اوالف ساکن وضعي دی نوداعین کلمه به ساکنه وي چې داالف دی اوکه چیرته داالف راغلی وي په ځای دلام کلمې باندې نوداالف به ضرورپه اصل کښې یا واو وي اویابه یاء وي ځکه چې الف په کلمه کښې اصل نه وي بلکه یابدل راغلی وي دواو نه اویاداالف نه نوداالف چې بدل راغلی وي په دې لام کلمه کښې له واو اویاء نه نودابه له دې وجهې نه وي چې له دې واو اویاء نه ماقبل په عین کلمه باندې به فتحه وي اودهغې فتحې دوجهې نه به دا واو اویاء بدل شوي وي په الف سره نومعلومه شوه چې دې الف لره دخله نشته په فتحې دعین کښې ځکه چې فتحه دعین دالف نه مخکې موجود ده په عین کلمې باندې .

اوددې باب لپاره مصنف داشرط ذکرکړی دی چې داعین کلمه دفعل اویالام کلمه دفعل به حرف حلق وي اووجه لپاره ددې شرط داده چې داحروف حلق ثقیل دي نوکه چیرته عین کلمه اویالام کلمه دحروفوحلقونه وي اوبیاهم په ماضي اومضارع کښې عین کلمې ته فتحه ورنه کړی شي بلکه کسره اویاضمه ورکړی شي نولازم به شي ثقل په سرد ثقل باندې نولپاره ددې چې اعتدال حاصل شي عین کلمې ته په ماضي کښې هم اوپه مضارع کښې هم فتحه ورکړی شوه .

**اعتراض**: معترض وایي چې داشرط چې وجود دحرف حلق دی په مقابله دعین کلمه کښې اویاپه مقابله دلام کلمه کښې منقوض دی په قلی یقلی سره چې معنیٰ ده دښمني کول اوپه بقی یبقی سره اوپه رکن یرکن سره چې معنیٰ ده میلان کول نودا درې

واړه افعال د باب دفتح یفتح نه دي او حال دا دی چې په دوئ کښې عین کلمه او یا لام کلمه د حروفو حلقو نه دي .

**جواب:** مونږ ورته وايو چې دا قلی یقلی لغة غیرفصیحه دی د بنی عامر قبیلې لغت دی او د ابقی یبقی هم لغت غیرفصیحه دی دا لغت د بنی طی قبیلې دی او فصیح په دوئ دواړو کښې دا دی چې عین کلمه به په مضارع کښې مسکوره وي او دوئ دواړه به د باب دضرب یضرب نه وي او لغت غیرفصیح ته څه اعتبار نشته او هرچې رکن یرکن دی نو دا د باب د تداخل نه دی په دې شان چې دا رکن یرکن له دوه بابونه راغلی دی هم د باب د نصر ینصر نه راغلی دی او هم له باب د علم یعلم نه راغلی دی نو دا ماضي یې د باب د نصر ینصر نه را واخستله او دا مضارع یې د باب د علم یعلم نه را واخستله نو په رکن یرکن باندې دا مذکور اعتراض نه دی وارد ځکه چې دا رکن یرکن د باب دفتح یفتح نه نه دی راغلی بلکه دا راحي له باب د نصرینصر نه او یا له باب د علم یعلم نه .

**اعتراض:** معترض وايي چې زه به تاسو ته وښايم چې دا شرط به موجود وي په یو فعل کښې او بیا به هم دا فعل د باب دفتح یفتح نه نه وي راغلی مثال لکه دخل یدخل او نحت ینحت معنیٰ ده یو شی تراشل او لکه جاء یجیئ نو په دې اول او دویم کښې عین کلمه حرف حلق دی او په دریم کښې لام کلمه حرف حلق دی نو دا شرط د باب دفتح یفتح په کښې موجود دی او حال دا دی چې دوئ درې واړه د باب دفتح یفتح نه نه دي بلکه دا اول او دویم د باب د نصر ینصر نه دي او دا دریم د باب دضرب یضرب نه دي .

**جواب:** مونږ ورته وايو چې دا اعتراض به په هغه وخت کښې وارد وه که د دې شرط مطلب دا وای چې په کوم فعل کښې دا شرط موجو وي نو هغه فعل به د باب دفتح یفتح نه وي خو لیکن دا ورته مراد نه دی بلکه مراد ورنه دا دی چې کوم فعل د باب دفتح یفتح نه وي نو په هغې کښې به دا مذکور شرط موجود وي نو دا باب دفتح یفتح نه موجود برېږي بغیرله دې مذکور شرط نه او دا مذکور شرط موجود برېږي بغیر د باب دفتح یفتح نه .

Maktaba Tul Ishaat.com

وابى يأبى شاذ .

داعبارت دمصنف جواب دى داعتراض نه معترض وايي چې نه منم چې دباب دفتح يفتح لپاره داشرط دى چې عين كلمه اويالام كلمه به په كښې له حروف حلقونه وي ځكه چې ابى يأبى له باب دفتح يفتح نه دى اوحال دادى چې په دې كښې نه عين كلمه حرف حلق دى اونه لام كلمه په كښې حرف حلق دى نومصنف ورته جواب وركړو چې داشاذ دى اوپه شاذسره قاعده اوقانون نه ماتېږي .

**اعتراض:** معترض وايي چې شاذ خومردود وي اوكوم شى چې مردود وي هغه نه وي واقع په قرآن شريف كښې اوداأبى يأبى خو واقع شوي دي په قرآن شريف كښې لكه داقول دخداى پاك دى :

أَبَىٰ وَٱسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٣٤﴾ الآية [1]

اولكه داقول دخداى پاك دى .

وَيَأْبَى ٱللَّهُ إِلَّآ أَن يُتِمَّ نُورَهُۥ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴿٣٢﴾ الآية [2]

نوهركله چې داابى يأبى واقع شوپه قرآن شريف كښې نو معلومېږي چې دانه دى شاذ .

**جواب:** مونږ ورته وايو چې شاذپه درې قسمه دى اول قسم هغه شاذ دى چې موافق الاستعمال وي اومخالف القياس وي لكه مسجد په كسرې دعين كلمې سره نودا موافق الاستعمال دى ځكه عرب ددې استعمال په كسرې دعين سره كوي اومخالف القياس دى ځكه چې دااسم ظرف دى دباب دنصر ينصر نه اواسم ظرف دنصر ينصرپه فتحې دعين كلمې سره وي اودويم قسم هغه شاذ دى چه مخالف الاستعمال وي اوموافق القياس وي لكه مسجد په فتحې دعين سره اودريم قسم هغه شاذ دى چې مخالف القياس هم وي اومخالف الاستعمال هم وي لكه مسجد په ضمې دعين كلمې

---

[1] - سورة البقره آيت ٣٤.

[2] - سورة التوبة آيت ٣٢.

سره اومردود دادریم قسم شاذ دی نه اول اودویم قسم بلکه دااول اودویم قسم مقبول دی اوداابی یأبی اول قسم دشاذ دی نودوئ مقبول دي اوکوم شاذچې مقبول وي هغه واقع کېږي په قرآن شریف کښې .

**وان كان ماضيه على فعل مكسورالعين فمضارعه يفعل بفتح العين نحو علم يعلم الخ .**

**ترجمه**: اوکه چیرته دفعل ثلاثي مجرد ماضي په وزن دفعل سره وي په کسرې دعین سره نوددې مضارع به یفعل راځي په فتحې دعین سره مثال لکه علم یعلم .

**تشریح**: دابیان دباب دعلم یعلم دی نوماضي په دې کښې مکسورالعین وي اومضارع په کښې مفتوح العین وي نوپه دې باب کښې داماضي هرکلمه چې مکسورالعین وه نودامضارع مفتوح العین وګرزول شوه له دې وجهې نه چې په مابین دماضي اومضارع کښې مغایرت دی په اعتبارد معنیٰ سره یعنې دماضي جدا معنیٰ ده اودمضارع جدا معنیٰ ده نوهرکله چې ددوئ دواړو په مابین کښې مغایرت وه په اعتبارد معنیٰ سره نوپه لفظ کښې هم ددوئ په مابین کښې مغایرت اوفرق وکړی شو په دې شان چې ماضي مسکورالعین شوه اومضارع مفتوح العین شوه لپاره ددې چې دامغایرت لفظي دلالت وکړي په مغایرت معنوي باندې .

**اعتراض**: معترض وایي چې دامغایرت لفظي لکه څنګه چې حاصلېږي په دې تقدیرباندې چې عین ته فتحه ورکړی شوه په مضارع کښې نوهمدارنګه دامغایرت لفظي حاصلېږي په دې تقدیر سره هم چې عین کلمې ته ضمه ورکړی شي په مضارع کښې نوڅه وجه ده چې فتحه غوره کړی شوه اوددې فتحې په ځای باندې ضمه غوره نه کړای شوه .

**جواب**: مونږ ورته وایو که چیرته به مضارع کښې عین کلمې ته ضمه ورکړی شوې وای اوحال دادی چې عین کلمه په ماضي کښې مکسوره ده نوبیالازمیده خروج له کسرې نه ضمې ته اوداثقیل دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

**اعتراض**: معترض وايي چې نه منم چې خروج له کسرې نه ضمې ته ثقيل دی بلکه په دې کښې هيڅ ثقل نه دی موجود ځکه چې په يضرب کښې داخروج موجود ده په دې شان چې په راء باندې کسره ده اوپه باء باندې ضمه ده نوپه دې يضرب کښې خروج اووتل راځي دکسرې نه ضمې ته .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې ثقيل مطلق خروج دکسرې نه ضمې ته نه دی بلکه ثقيل هغه خروج دی چې دکسرې لازمي نه وشي ضمې لازمي ته اوپه يضرب کښې خو اګرچې کسره لازمه ده خوليکن ضمه په کښې نه ده لازمه بلکه عارضي ده ځکه چې دا ضمه په کښې راغلې ده له وجهې دعارض نه چې هغه عامل رافع دی چې هغه معنوي دی په دې مضارع کښې په حالت رفعي کښې اوکه چيرته په مضارع کښې يې ضمه ورکړې وای عين کلمې ته په دې باب دعلم يعلم کښې نوبيابه داضمه لازمه وه نو لازمېده خروج له کسرې لازمي نه ضمې لازمي ته اوشك نشته چې داخروج ثقيل دی .

**اعتراض**: معترض وايي چې څه وجه ده چې مصنف مقدم کړوبيان دهغه فعل چې ماضي په کښې مکسورالعين وي برابره خبره ده که مضارع مفتوح العين وي لکه په باب دعلم يعلم کښې اوکه مضارع هم مکسورالعين وي لکه په باب دحسب يحسب کښې په هغه فعل باندې چې ماضي په کښې مضموم العين وي لکه باب دکرم يکرم .

۱ - **جواب**: مونږ ورته وايو چې هغه فعل چې ماضي په کښې مکسورالعين وي کثيرالوجوددی په کلام دعربو کښې په خلاف دهغه فعل چې ماضي په کښې مضموم العين وي داقليل الوجوددی په کلام دعربو کښې نوله وجهې دکثرت وجود نه په کلام دعربو کښې دامکسورالعين حقدار دتقديم شو .

۲ - **جواب**: اوهمدارنګه مونږ ورته وايو چې هغه فعل چې ماضي په کښې مکسورالعين وي عام ده په دې شان چې لازمي هم مستعملېږي اومتعدي هم مستعملېږي په خلاف دهغه فعل چې هغه مضموم العين وي داخاص ده ځکه چې دالازمي مستعملېږي فقط اومتعدي نه راځي اوشك نشته چې کوم فعل اعم وي هغه حقدار دی دتقديم .

**اعتراض**: معترض وايي چې په دې باب دعلم يعلم كښې هم ماضي مكسور العين ده اوپه دې باب دحسب يحسب كښې هم ماضي مكسورالعين ده نوځه وجه ده چې مصنف باب دعلم يعلم مقدم كړو په باب دحسب يحسب باندې .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې داعلم يعلم داصول الابواب نه دی اوداحسب يحسب دفروع الابواب نه دی اوشك نشته چې اصل حقدار دتقديم وي دفرع نه .

## ددې شپږو(٦) بابونو په مابين كښې فرق

دثلاثي مجردو غونډ شپږ (٦) بابونه دي چې په دې شپږوبابونو كښې درې بابونه چې باب دنصر اوباب دضرب اوباب دعلم دي نودااصول دی اوهرچې داباقي درې بابونه دي چې باب دفتح دی اودحسب دی اودكرم دی نودافروع دي نودادرې اول بابونه ځكه اصول الابواب دي ځكه چې په دوئ كښې قوت موجود دی په خلاف ددې باقي دريوبابونوچې په هغوئ كښې داقوت نه دی موجود داباقي درې بابونه فروع دي اوهغه قوت له دوه وجهونه دی اوله وجه داده چې په دوئ كښې په مابين دماضي اومضارع كښې اختلاف دی په حركت دعين كلمې كښې اودويمه وجه داده چې دادرې بابونه زيات موجودېږي په كلام دعربو كښې نوله وجهې دقوت ددې دريو ابوابو دادرې بابونه اصول الابواب وګرزول شو اوداباقي درې بابونه فروع الابواب وګرزول شو .

**وقديجئ على وزن يفعل مكسورالعين اذاكان مثالاً نحو ورث يرث الاماشذ نحو حسب يحسب واخواته .**

**ترجمه**: چې ماضي مكسورالعين وي نوكله كله مضارع هم مكسورالعين راځي چې كله دافعل مثال وي مثال لكه ورث يرث مګرصحيح فعل هم ددې باب نه راځي په طريقې دشذوذسره مثال لكه حسب يحسب اوددې امثال .

**تشريح**: دابيان دباب دحسب يحسب دی اومرادله باب دحسب يحسب نه دادی چې ماضي هم په كښې مكسورالعين وي اومضارع هم په كښې مكسورالعين وي

Maktaba Tul Ishaat.com

نو ددې باب نه مثال موافق القياس راځي مثال لکه وزث يرث چې دامثال دی اوماضي اومضارع دواړه په کښې مکسورالعين دي اودامضارع يرث دی په اصل کښې يورث وه په واوسره اوبيادا واوورنه حذف کړی شوپه قاعدې ديعد سره اوهرچې فعل صحيح دی نوهغه راځي له دې باب دحسب يحسب نه په طريقې دشذوذ اوخلاف القياس مثال لکه حسب يحسب اوددې امثال لکه نعم ينعم نودادواړه صحيح دي اوددې باب دحسب يحسب نه راغلی دی په طريقې دشذوذسره يعنې مخالف القياس دی اودا عبارت دمصنف چې الاماشذ جواب دی ديومقدرسوال نه چې معترض اوسائل وايي چې تاسوددې باب لپاره دا شرط لګولی دی چې داباب به راځي دهغه فعل نه چې هغه فعل له قبيلې دمثال نه وي نوداشرط منقوض دی په حسب يحسب اونعم ينعم باندې چې دادواړه صحيح دي اوحال دادی چې دوئ راغلي دي ددې باب نه نومصنف ورته جواب ورکړو چې داشاذ دی اوشاذ ته څه اعتبارنه وي اونه ورباندې څه قاعده ماتېږي .

**اعتراض**: معترض وايي چې تاسوهغه فعل چې ماضي په کښې مکسورالعين وي منحصرکړی اوبندکړی په دوه بابونوکښې چې اول باب دعلم يعلم دی اودويم باب دحسب يحسب دی نودا حصر باطل دی ځکه چې ددې فعل لپاره دريم باب هم موجود دی په دې شان چې ماضي به په کښې مکسورالعين وي اومضارع به په کښې مضموم العين وي مثال لکه فضل يفضل چې په دې کښې ماضي مکسورالعين ده اومضارع په کښې مضموم العين ده .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې دافضل يفضل له باب دتداخل نه دی په دې شان چې دافضل يفضل راځي له دوه بابونونه هم له باب دعلم يعلم نه راځي اوهم له باب دنصر ينصر نه راځي نوپه فضل يفضل کښې چې ماضي په کښې مکسور العين ده او مضارع په کښې مضموم العين ده نوددې داماضي رااخستل شوې ده دباب دعلم يعلم نه اوددې مضارع رااخستل شوې ده دباب دنصر ينصر نه نودافضل يفضل مستعمل باب نه دی چې ورباندې اعتراض واردشي اوپه دې جواب سره يوبل اعتراض هم دفعه شو چې هغه دادی چې دثلاثي مجردوبابونه منحصرکول په شپږوبابونوکښې نه دي

صحيح څکه چې د ثلاثي مجردو لپاره له دې شپږو بابونو نه غير بل باب هم موجود دی چې هغه باب د فضل يفضل دی چې ماضي په کښې مکسور العين ده او مضارع په کښې مضموم العين ده دفعه کيدل د دې اعتراض د اسې دي چې د امذکور اعتراض به په هغه وخت کښې وارد وه که چيرته د افضل يفضل مستقل او جدا باب وای او حال دادی چې دا خو مستقل او جدا باب نه دی بلکه د اله قبيلې د تداخل نه دی په دې شان چې ماضي په کښې رااخستل شوې ده د باب د علم يعلم نه او مضارع په کښې رااخستل شوې ده د باب د نصر ينصر نه .

## وان كان ماضيه على فعل مضموم العين فمضارعه يفعل بضم العين نحو حسن يحسن واخواته .

**ترجمه**: او چې کله د يو فعل د ثلاثي مجردو ماضي په وزن د فعل سره وي په ضمې د عين سره نو د دې فعل مضارع به يفعل وي په ضمې د عين سره مثال لکه حسن يحسن او د دې نور امثال .

**تشريح**: دا بيان دی د شپږم باب د ثلاثي مجردو چې دې باب ته د کرم يکرم باب هم وايي او د شرف يشرف باب ورته هم وايي نو په دې کښې ماضي هم مضموم العين وي او مضارع هم په کښې مضموم العين وي او په دې باب کښې د ا ماضي او مضارع دواړه مضموم العين وګرزول شو له دوه وجهونه اوله وجه دا ده چې کوم افعال له دې باب نه راځي نو هغوئ دلالت کوي په هغو صفاتو باندې چې هغه صفات لازم وي او متعدي نه وي نو د دې صفاتو سره ضمه مناسبت لري په دې شان چې د ضمې سره ضم د شفتينو لازم وي په دې شان چې ضمه نه اداء کيږي مګر په دې طريقې سره چې يو ه شونډه ولګولی شي د بلې شونډې سره نو په دې باب کښې د دې مناسبت د وجهې نه په ماضي او مضارع دواړو کښې عين کلمې ته ضمه ورکړی شوه او دويمه وجه دا ده چې کوم افعال له دې باب د کرم يکرم نه راځي نو هغوئ دلالت کوي په داسې صفاتو باندې چې د اصفات ثابت وي فاعل ته بغير د اختيار نه نو د دوئ فاعل مشابه دی د مفعول مالم يسم فاعله سره په سلب د اختيار کښې او شك نشته چې موجوده په مفعول مالم يسم

Maktaba Tul Ishaat.com

فاعله كښې ضمه وي نو د دې مشابهت او مناسبت دوجهې نه په دې افعالو كښې ماضي او مضارع دواړو كښې عين كلمې ته ضمه وركړې شوه .

اماالرباعي المجرد فهوفعلل كدحرج دحرجة ودحراجاً .

**ترجمه**: او هرچې رباعي مجرد دي نو دا يو باب دى چې په وزن د فعلل سره دى لكه دحرج او دحرجة او دحراجاً .

**تشريح**: هركله چې مصنف فارغ شوله بيان د ثلاثي مجردونه نو شروع يې وكړه په بيان د رباعي مجردو كښې چې په دې رباعي مجردو كښې څلور حروف اصليه موجود وي او حرف زائد په كښې نه وي او د دې رباعي مجردو لپاره يو باب دى چې هغه ته باب د دحرج وايي او مراد له باب د دحرج نه دا دى چې څلور حروف اصليه په كښې موجود وي او له دې څلورو حروفو اصليه نه غيربل څه حرف زائد په كښې نه وي موجود بيا برابره خبره ده كه دحرج فعل وي او كه بعثر فعل وي نو دا دحرج ډ دې باب يو مثال دى نو دې ټول باب ته د دحرج باب ويل تسميه د كلي ده په اسم د يو جزئي او مثال سره .

په دې ځاى كښې د مصنف ترتيب مخالف او جدا دى د ترتيب د صاحب د مراح الارواح نه په دې شان چې مصنف اول ثلاثي مجرد ذكركړي او بيا يې رباعي مجرد ذكركړي او له دې نه بعد ثلاثي مزيد فيه او رباعي مزيد فيه ذكركړي او صاحب د مراح الارواح اول ثلاثي مجرد ذكركړي او بيا ثلاثي مزيد فيه ذكركړي او بيا رباعي مجرد ذكركړي او بيا رباعي مزيد فيه ذكركړي او د دوئ د مخالفت وجه دا ده چې مصنف نظركړى دى دې خبرې ته چې مجرد مطلقاً يعنې برابره خبره ده كه ثلاثي وي او كه رباعي وي اصل دى او مزيد فيه مطلقاً كه ثلاثي وي او كه رباعي وي فرع دى او شك نشته چې اصل حقدار دى د تقديم په فرع باندې نو ځكه مصنف ثلاثي مجرد او رباعي مجرد مخكې ذكركړه او بيا وروسته يې ثلاثي مزيد فيه او رباعي مزيد فيه ذكركړه او صاحب د مراح الارواح نظركړى دى دې خبرې ته چې ثلاثي مجرد اصل دى او ثلاثي مزيد فيه د دوئ فرع دى او همدا رنګه رباعي مجرد اصل دى او رباعي مزيد فه فرع دى او اصل

دادی چې بايد فرع متصل او پيوست وي دخپل اصل سره نو ځکه اول يې ثلاثي مجرد ذکر کړي او بيا يې رباعي مجرد ذکر کړه او بيا يې په هغوئ پسې رباعي مزيد فيه ذکر کړه .

**اعتراض:** معترض وايي چې دوزن لپاره دري حروف دي چې فاء او عين اولام دي نو ددې رباعي لپاره چې وزن جوړېږي بغيرله تکرار د حرف نه نشي جوړېدی نو څه وجه ده چې لام مکرر کړی شو او فاء او يا عين مکرر نه کړی شو په دې شان چې دوئ وايي چې دادحرج په وزن دفعلل دی په تکرار د لام سره او داسې نه وايي چې دادحرج په وزن دففعل دی په تکرار د فاء سره او نه داسې وايي چې دادحرج په وزن دفععل سره دی په تکرار د عين سره .

**جواب:** دادی چې په دې لام کښې تکرار و کړی شو او په عين او فاء کښې ونه کړی شو ځکه چې لام واقع وي په اخير کښې او اخير دکلمې محل او ځای دتغيير او تبديل دی .

**اعتراض:** معترض وايي چې څه وجه ده چې فاء کلمې ته په فعلل کښې حرکت ورکړی شو او هغه حرکت فتحه وګرزول شوه .

**جواب:** مونږ ورته وايو چې وجه لپاره دنفس حرکت داده چې که چيرته فاء کلمې ته حرکت ورنکړی شي او ساکنه کړی شي نو لازمېږي ابتداء او شروع په ساکن باندې او وجه لپاره دفتحې داده چې دافتحه اخف الحرکات ده .

**اعتراض:** معترض وايي چې څه وجه ده چې عين کلمه په دې فعلل کښې ساکنه کړی شوه .

**جواب:** مونږ ورته وايو چې داعين کلمه ځکه ساکنه کړی شوه ځکه که چيرته يې ورته حرکت ورکړی وای نو بيا لازميده توالي داربع حرکات او شك نشته چې توالي داربع حرکات ثقيل دی نو داعين کلمه ساکنه کړی شوه چې لازم نشي توالي داربع حرکات .

**اعتراض:** معترض وايي چې دادفعه دتوالي داربع حرکات لکه څنګه چې حاصلېږي په دې سره چې داعين کلمه ساکنه کړی شي نو همدارنګه دادفع دتوالي داربع حرکات حاصلېږي په دې سره چې داعين متحرك کړی شي او دااول لام ساکن کړی شي نو څه وجه ده چې عين ساکن کړو او هغه په ځای باندې يې لام اول ساکن نه کړو .

Maktaba Tul Ishaat.com

**جواب:** مونږ ورته وايو چې كه چيرته عين كلمې ته يې حركت وركړى واى اولام اول يې ساكن كړى واى نو بيالازميده التقاء دساكنينو په وخت داتصال دضمائرو بارزه ؤكښې تراخيرددې فعلل پورې لكه فعللت په سكون ددويم لام سره نوچې كله دا ضمائر بارزه پيوست شي تردې فعلل پورې نودادويم لام په كښې ساكن جوړيږي نوكه چيرته مونږ اول لام ساكن كړو په ځاى دعين كلمې باندې نولازم به شي التقاء الساكنين .

**اعتراض:** معترض وايي چې څه وجه ده چې مصنف په مثالونو دبابونودثلاثي مجردوكښې فقط افعال ذكركړي دي اودهغوئ مصادريې نه دي ذكركړي اوپه مثال دباب درباعي مجردوكښې يې فعل هم ذكركړى دى چې دحرج دى اودهغه مصدر چې دحرجة اودحراجاً دى هم ذكركړى دى .

**جواب:** مونږ ورته وايوچې په دې كښې اشاره ده دې خبرې ته چې دامصدر درباعي مجردو په طريقې دكثرت سره په دې دوه وزنونوسره راځي فقط اوپه نوروزنونوسره په طريقې دقلت سره راځي لكه برهان په وزن دفعلال په خلاف دمصدردثلاثي مجردو چې ددوئ مصادرپه طريقې دكثرت سره په ډيرو اوزانوباندې راځي .

## واماالثلاثي المزيدفيه فهوعلى ثلاثة اقسام الاول ماكان ماضيه على اربعة احرف وهو افعل نحو اكرم اكراماً وفعل نحو فرح تفريحاً وفاعل نحو قاتل مقاتلة وقتالاً وقيتالاً .

**ترجمه:** هرچې ثلاثي مزيدفيه دي نودا په درې قسمه دي اول قسم هغه ثلاثي مزيدفيه دي چې دهغوئ فعل ماضي په څلورو حرفونوباندې وي نودا قسم يوافعل دى يعنې باب افعال دى مثال لكه اكرم اكراماً اوبل فعل دى په تشديددعين سره يعنې باب تفعيل دى لكه فرح په تشديد دراء سره اوتفريحاً اوبل فاعل دى يعنې باب مفاعله دى مثال لكه قاتل مقاتلة اوقتالاً اوقيتالاً .

**تشريح:** هركله چې مصنف فارغ شولودبيان درباعي مجردونه چې هغه فقط يوباب وه نوشروع يې وكړه په بيان دثلاثي مزيدفيه كښې چې دا ډيربابونه دي نو

مصنف وايي چې داثلاثي مزيدفيه درې قسمه دي اول قسم هغه دي چې په ماضي ددوئ کښې څلور حرفونه وي اودويم قسم هغه دي چې په ماضي ددوئ کښې پنځه حرفونه وي اودريم قسم هغه دي چې ددوئ په ماضي کښې شپږ حرفونه وي اومراد له ماضي نه په دې دريو اړو اقسامو کښې صيغه دواحد مذکرغائب ده مثال داول قسم لکه اکرم په وزن دافعل سره اومثال ددويم قسم لکه قاتل په وزن دفاعل سره اومثال ددريم قسم لکه استخرج په وزن داستفعل اوبيا دااول قسم درې بابونه دي اول باب افعال دی اودويم باب تفعيل دی اودريم باب مفاعله دی اودويم قسم پنځه بابونه دي اول باب تفعل دی اودويم باب تفاعل دی اودريم باب انفعال دی اوڅلورم باب افتعال دی اوپنځم باب افعل دی په تشديد دلام سره اودريم قسم شپږ بابونه دي اول باب استفعال دی اودويم باب افعال دی په تشديد دلام سره اودريم باب افعوعل دی اوڅلورم باب افعول دی په تشديد دواوسره اوپنځم باب افعنلل دی اوشپږم باب افعنل دی نوپه دې اولو دريو بابونو کښې صيغه دواحد مذکر غائب مشتمله ده په څلورو حرفونو باندې اوپه دې وروسته پنځه بابونو کښې صيغه دواحد مذکرمشتمله ده په پنځه حرفونو باندې اوپه دې اخيرې شپږو بابونو کښې صيغه دواحد مذکرغائب مشتمله ده په شپږو حرفونو باندې اوددې ټولو بابونو مثالونه مصنف ذکرکړي دي .

**اعتراض:** معترض وايي چې دادرې اقسام دثلاثي مزيدفيه شريک دي په دې خبره کښې چې په دوئ کښې زيادت موجود دي په دريو حرفونو اصليه ؤباندې نوڅه وجه ده چې دااول قسم چې هغه عبارت دی له دې نه چې ماضي په څلورحرفونو باندې وي مقدم کړو په دې باقي دوه قسمونو باندې .

**جواب:** مونږ ورته وايو چې په دې اول قسم کښې يوحرف زائد دی اوپه دويم قسم کښې دوه حروف زائد دي اوپه دريم قسم کښې درې حروف زائد دي اوشک نشته چې واحد طبعاً مقدم وي په متعدد باندې نوپه ذکراووضعه کښې هم دااول قسم مقدم کړی شو په دويم اودريم قسم باندې لپاره ددې چې داذکراووضعه مطابقه شي دطبعې سره .

Maktaba Tul Ishaat.com

**اعتراض**: معترض وايي چې په دې اول قسم کښې درې بابونه موجود دي چې اول باب افعال دی اودويم باب تفعيل دی اودريم باب مقاعله ده نوڅه وجه ده چې مصنف داباب افعال مقدم کړوپه باب تفعيل اوباب مفاعله باندې .

**جواب**: مونږ ورته وايوچې په دې باب افعال کښې زيادت په اول کښې دی اوپه باب تفعيل اوباب مفاعله کښې زيادت په وسط کښې دی نوله دې وجهې نه يې داباب افعال مقدم کړوپه باب تفعيل اوباب مفاعله باندې .

**اعتراض**: معترض وايي چې په دې باب تفعيل اوباب مفاعله دواړوکښې زيادت په وسط کښې موجود دی نوڅه وجه ده چې مصنف باب تفعيل مقدم کړی په باب دمفاعلې باندې .

**جواب**: مونږ ورته وايوچې حرف زائد په باب تفعيل کښې دجنس دحرف اصلي نه دی مثال لکه فرح په تشديد دراء سره چې داپه اصل کښې دوه راءګانې وې اويوه راء مدغمه کړی شوه په دويمه راء کښې نوپه دې کښې دايوه راء اصلي ده اودايوه راء زائده ده نو حرف زائدپه کښې دجنس دحرف اصلي نه دی په خلاف دباب مفاعله چې په دې کښې داحرف زائددجنس دحرف اصلي نه نه دی مثال لکه قاتل نوپه دې کښې الف زيات دی چې واقع دی وروسته دفاء نه نوپه دې باب تفعيل کښې مناسبت دی په مابين دمزيدوکښې اوپه مابين دمزيدفيه ؤکښې په اعتباردا تحاد دجنس سره چې داقسم مناسبت نشته په باب مفاعله کښې په مابين دمزيد اوپه مابين دمزيدعليه کښې نوځکه باب تفعيل مقدم کړی شوپه باب مفاعله باندې .

**اعتراض**: معترض وايي چې په دې باب تفعيل کښې داعين کلمه مکرره ده اوبياپه دې کښې يوحرف زائده دی اوبل حرف اصلي دی نوايااول په کښې زائد دی اوکه دويم په کښې زائد دی .

**جواب**: مونږ ورته وايوچې په دې کښې اختلاف واقع دی په دې کښې دوه مذهبونه دي اول مذهب دسيبويه اودخليل دی نودوئ دواړه وايي چې زائد اول حرف دی ځکه چې دااول حرف مقابل دياء دی په بيطرکښې اوشك نشته چې داياء په بيطر

کښې زائده ده او په باب تفعیل کښې اول حرف په دوه مکررو حرفونو کښې مقابل دیاء دی په بیطر کښې او یاء زائده ده نو دا اول حرف به هم زائد وي او دویم مذهب دبعض اهل التصریف دی هغوئ وايي چې په دې دوه مکررو حرفونو کښې دویم حرف زائد دی ځکه چې دا دویم حرف مقابل دواو دی په جهور کښې او واو په دې جهور کښې زائد دی نو هرکله چې دا دویم حرف په دې دوه مکررو حرفونو کښې مقابل دی دواو نو دا دویم حرف به هم زائد وي لکه واو په جهور کښې چې زائد دی .

**حل لغات**: داکرام معنیٰ ده دیو چا عزت کول او د تفریح معنیٰ ده یو کس خوشحاله کول او د مقاتله او قتالاً او قیتالاً دریو واړو معنیٰ ده د دوه کسانو په خپل مابین کښې دیو بل سره جنګ کول ځکه چې د باب مفاعلې خاصه شرکت دی .

الثانی ماکان ماضیه علی خمسة احرف وهو نوعان اما اوله التاء مثل تفعل نحو تکسر تکسراً وتفاعل نحو تباعد تباعداً واما اوله الهمزة مثل انفعل نحو انقطع انقطاعاً وافتعل نحو اجتمع اجتماعاً وافعل نحو احمر احمراراً .

**ترجمه**: او دویم قسم د ثلاثي مزید فیه هغه ثالثي مزید فیه دي چې دهغوئ ماضي په پنځه حرفونو باندې وي او دا دویم قسم په خپل کور کښې په دوه قسمه دی اول قسم هغه ثلاثي مزید فیه دی چې په سر کښې یې تاء موجوده وي مثال لکه تفعل یعنې لکه باب تفعل لکه تکسر تکسراً او بل مثال یې لکه تفاعل یعنې باب تفاعل لکه تباعد تباعداً او دویم قسم هغه ثلاثي مزید فیه دی چې په اول کښې یې همزه موجوده وي مثال لکه انفعل یعنې لکه باب انفعال لکه انقطع انقطاعاً او بل مثال لکه افتعل یعنې لکه باب افتعال لکه اجتمع اجتماعاً او بل مثال یې لکه افعل په تشدید دلام سره یعنې لکه باب افعال په تشدید دلام سره لکه احمر احمراراً .

**حل لغات**: د تکسر معنیٰ ده ماتیدل او دا لازمي دی او د تباعد معنیٰ ده لرې کېدل او دا هم لازمي دی او د انقطاع معنیٰ ده په خپله پرې کېدل او قطعه کېدل او دا هم لازمي

Maktaba Tul Ishaat.com

دی اوداجتماع معنیٰ ده جمعه کېدل اوداهم لازمي دی اوداحمرار معنیٰ ده په خپله سور کېدل اوداهم لازمي دی .

**الثالث ماكان ماضيه على ستة احرف مثل استفعل نحو استخرج استخراجاً وافعال نحو احمار احميراراً وافعوعل نحو اعشوشب اعشيشاباً وافعول نحو اجلوز اجلوازاً وافعنلل نحو اقعنسس اقعنساساً وافعنلى نحو اسلنقى اسلنقاءً .**

**ترجمه**: اودریم قسم دثلاثي مزیدفیه هغه ثلاثي مزیدفیه دي چې دهغوئ ماضي په شپږوحرفونوباندې وي مثال لکه استفعل یعنې لکه باب استفعال لکه استخرج استخراجاً اوبل مثال لکه افعال په تشدیددلام سره یعنې افعال باب په تشدیددلام سره لکه احمر احمیراراً اوبل مثال لکه افعوعل یعنې لکه باب افعیعال لکه اعشوشب اعشیشاباً اوبل مثال لکه افعول په تشدید دواوسره یعنې لکه باب افعوال په تشدید دواوسره لکه اجلوز اجلوازاً اوبال مثال لکه افعنلل یعنې لکه باب افعنلال لکه اقعنسس اقعنساساً اوبل مثال لکه افعنلی یعنې لکه باب افعنلاء لکه استلنقی اسلنقاء .

**تشریح**: په دې وړاندې عبارت کښې مصنف ددریم قسم دثلاثي مزیدفیه بیان کړی دی نوپه دې دریم قسم دثلاثي مزیدفیه کښې درې حروف زائد وي نوپه دې قسم دثلاثي مزیدفیه کښې لکه څنګه چې حروف اصلیه درې وي نوهمدارنګه په دې قسم دثلاثي مزیدفیه کښې حروف زائده هم درې وي .

**اعتراض**: معترض وایي چې هرکله حروف زائده په دې دریم قسم دثلاثي مزیدفیه کښې درې شونوبیاخولازم شومساوات په مابین د اصل اوپه مابین دفرع کښې په دې شان چې دااصل چې حروف اصلیه دي هم درې دي اودافرعه چې حروف زائده دي هم درې دي اوحال دادی چې مساوات داصل اودفرع په مابین کښې نه دی جائز بلکه داضروري ده چې دافرع به لاندې وي داصل نه .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې ناجائز دادي چې د اصل اودفرع په مابين کښې مساوات راشي په اعتبار دجميع الوجوه سره اوهرچې مساوات دی په اعتبار دبعض الوجوه سره په مابين د اصل اودفرع کښې نوداجائزدی اوهيڅ باك په کښې نشته اوپه دې ځای کښې هم لازم مساوات دی په اعتباردبعض الوجوه سره چې هغه بعض الوجوه عبارت دی له عدد اوشمارنه اوپه اعتبار دټولو وجوهوسره مساوات نه دی موجود ځکه چې بعض دوجوهونه افاده دمعنیٰ ده اوشك نشته چې په افاده دمعنیٰ کښې مساوات نشته ځکه چې هغه معنیٰ چې هغې لره پيداکوي اصل نودهغې معنیٰ افاده فرع نه کوي .

**اعتراض**: معترض وايي چې په اسم کښې جائز دی چې حروف زائده زيات وي په شمار کښې په حروف اصليه باندې لکه په استخراج مصدرکښې حروف اصليه درې دي اوحروف زائده څلور دي نوهرکله چې په اسم کښې جائز دي چې څلورحروف زائده راشي نوبايد په فعل کښې هم جائز شي زيادت دڅلوروحرفونواوحال دادی چې په فعل کښې له دريو حرفونوزائده نه زيات حروف نه وي موجود .

۱- **جواب**: مونږ ورته وايوچې په فعل کښې ثقل موجود دی نوکه چيرته په کښې څلورحروف زائده راشي نولازم به شي وجود الثقل على الثقل په خلاف داسم چې په دې کښې ثقل نشته نوچې په دې کښې داڅلورچې حروف زيات شي ثقل نه لازموي نوځکه په اسم کښې زيادت دڅلوروحروفو جائز شو اوپه فعل کښې نه شوجائز.

۲- **جواب**: مونږ ورته وايو چې مرتبه داسم اوچته کړی شوې ده دفعل نه په حروف اصليه کښې په دې شان چې په اسم کښې پنځه حروف اصليه راتلل جائزدي اوپه فعل کښې پنځه حروف اصليه راتلل نه دي جائز نوپه دې حروف زائده کښې هم مرتبه داسم اوچته کړی شوه دفعل نه په دې شان چې په اسم کښې جائز شو زيادت دڅلورو حرفونو اوپه فعل کښې نه دی جائز زيادت دڅلورو حرفونو .

**اعتراض**: معترض وايي چې په دې دريم قسم کښې شپږ بابونه ذکردي اوپه دې ټولوبابونوکښې درې حروف اصليه زيات کړی شوي دي اوپه دې بابونو کښې اول

Maktaba Tul Ishaat.com

مصنف باب استفعال ذکر کړی اومقدم کړی دی په دې نورو بابونوباندې نوڅه وجه ده دتقديم دباب استفعال په دې باقي بابونوباندې حال دادی چې داباب استفعال برابر دی ددې نوروبابونوسره په زیادت دحروفو ثلاثه ؤکښې .

١ - **جواب:** مونږ ورته وایو چې داباب استفعال اګرچې برابر دی ددې باقي بابونوسره په دې خبره کښې چې په دې ټولوکښې زیادت ددریوحرفونو شوی دی خولیکن په دې باب استفعال کښې داحروف زائده په اول کښې موجود دي په خلاف ددې باقي بابونو کښې چې په دوئ کښې دادزې واړه حروف زائده په اول کښې نه دي موجود اګرچې بعض په کښې په اول کښې موجود دي .

٢ - **جواب:** مونږ ورته وایوچې باب استفعال اګرچې ددې نورو پنځو بابونو سره برابره دي په دې خبره کښې چې په دوئ ټولوکښې درې حروف زیات کړی شوي دي خولیکن داباب استفعال کثیرالاستعمال دی نوځکه دامقدم کړی شو په دې باقي ابوابوباندې .

**اعتراض:** معترض وایي چې دااخیري دوه بابونه چې افعنلال اوافعنلاء دی له قبیلې دثلاثي مزیدفیه نه نه دي بلکه دوئ دواړه له قبیلې دملحقونه ترباب ذاحرنجم پورې دي نوبایدچې مصنف دادوه بابونه نه وای ذکرکړي په ابوابو دثلاثي مزیدفیه کښې .

**جواب:** مونږ ورته وایوچې مقصود دمصنف په دې مقام کښې دهغوافعالو ذکردی چې دهغوئ ماضي په شپږوحروفونوسره وي بیابرابره خبره ده که ملحق وي اوکه غیرمحلق وي .

**حل لغات:** داستخراج معنیٰ ده طلب دراویستلودیوشي اود احمار معنیٰ ده سور کېدل دا اول متعدي دی اودادویم لازمي دی اوداعشوشب معنیٰ ده چې دزمکې ګیاه زیاته شي اوداجلوز معنیٰ ده زیات والی داوښانو اوداقعنسس معنیٰ ده وروسته کېدل اوپه شاباندې تلل اوداسلنقی معنیٰ ده په شاباندې څملاستل اوخوب کول .

واماالرباعي المزيدفيه فامثلته ثلاثة تفعلل كتدحرج تدحرجاً وافعنلل كاحرنجم احرنجاماً وافعلل كاقشعر اقشعراراً .

**ترجمه**: اوهرچې رباعي مزيدفيه دي نودهغوئ لپاره درې صيغې دي يعنې له دريوبابونونه راځي اول مثال اوصيغه تفعلل ده مثال لکه تدحرج تدحرجاً اودويم مثال اوصيغه لکه افعنلل مثال لکه احرنجم احرنجاماً اودريم مثال اوصيغه لکه افعل په تشديد دلام سره لکه اقشعر په تشديددراء سره او اقشعراراً .

**تشريح**: هرکله چې مصنف فارغ شوله بيان دثلاثي مزيدفيه نه نوشروع يې وکړه په بيان درباعي مزيدفيه کښې اوددې رباعي مزيد فيه لپاره درې بابونه دي اول باب دتدحرج دی اومراد له باب دتدحرج نه هغه رباعي مزيدفيه دی چې په اول کښې يې تاء زياته کړې شوې وي اودويم باب داحرنجم دی اومراد له دې باب نه دادی چې په اول کښې يې زيادت دهمزې وي اوپه مابين کښې يې نون زيات کړی شوی وي اودريم باب داقشعر دی اومراد له دې باب داقشعر نه دادی چې په اول کښې يې همزه زياته کړې شوې وي اوپه اخيرکښې يې يولام زيات کړی شوی وي .

**اعتراض**: معترض وايي چې اطلاق دامثله په دې دريوبابونو باندې نه دی صحيح ځکه چې مثال دشي دېته وايي چې هغه به موضح وي لپاره دشي اودا تفعلل اوافعنلل اوافعلل موضح نه دی لپاره درباعي مزيدفيه ځکه چې دادرې واړه به په هغه وخت کښې موضح جوړېږي لپاره درباعي مزيدفيه چې کله دوئ په خپله واضح وای اوحال دادی چې دوئ په خپله نه دي واضح ځکه که چېرته دوئ واضح وای نوبيابه دوئ نه وه محتاج راوړو دمثالوته اوحال دادی چې دوئ محتاج دي مثالوته اومصنف ورته مثالونه ذکرکړي دي چې هغه مثالونه تدحرج اواحرنجم اواقشعر دي .

**جواب**: مونږ ورته وايوچې دااعتراض به په هغه وخت کښې وارد وه که چېرته مرادله امثله نه ددوئ خپله معنیٰ وای اوحال دادی چې له دوئ نه ددوئ خپله معنیٰ نه

Maktaba Tul Ishaat.com

ده مراد بلکه مراد له امثله نه صيغې دي او شك نشته چې د اتفعلل او افعنلل او افعلل صيغې دي لپاره ددې رباعي مزيدفيه .

**اعتراض**: معترض وايي چې مصنف په مثال دباب تفعلل کښې تدحرج ذکرکړو او ددې په مثال کښې يې تجورب او تجلبب ذکرنه کړو حال دادی چې دوئ دواړه هم رباعي مزيدفيه دي .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې داتدحرج په اصل کښې رباعي مزيدفيه دی په خلاف د تجورب او د تجلبب چې دادواړه په اصل کښې رباعي مزيدفيه نه دی بلکه دوئ دواړه په اصل کښې ثلاثي مزيدفيه دي او ملحق دي تررباعي مزيدفيه پورې نو ددې الحاق دوجهې نه دوئ ته رباعي مزيدفيه ويل کېږي نو داتدحرج اصل دی او د اتجورب او تجلبب فرع دی او شك نشته چې د اصل ذکرکول په مثال کښې اولی او لائق دي له ذکرکولو دفرع نه نو ځکه په مثال کښې تدحرج ذکرکړو .

**اعتراض**: معترض وايي چې اقعنسس په شان د احرنجم دی په وزن کښې په دې شان چې دواړه په وزن د افعنلل دي نو څه وجه د ه چې د ااقعنسس ګرزول شوی دی له قبيلې د ثلاثي مزيدفيه نه او احرنجم ګرزول شوی دی له قبيلې د رباعي مزيدفيه نه .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې نه منو داخبره چې فرق نشته په مابين د اقعنسس کښې او په مابين د احرنجم کښې بلکه فرق د دوئ دواړو په مابين کښې موجود دی او هغه فرق دادی چې دويم لام په احرنجم کښې اصلي دی او په اقعنسس کښې دويم لام زائد دی او اصلي نه دی نو حروف زائده په اقعنسس کښې درې دي همزه او نون او دويم سين دی او په احرنجم کښې حروف زائده دوه دي همزه او نون دي .

**حل لغات**: د تدحرج معنیٰ ده رغړېدل او د احرنجم معنیٰ ده جمعه کېدل او د اقشعرمعنیٰ ده په بدن باندې ويښتان ودرېدل يعنې چې د انسان په بدن باندې ويښتان زيګه شي او ودرېږي په وخت د خوف او ډار کښې او دا درې واړه لازمي دي .

**تنبیه**: الفعل امامتعدي وهوالفعل الذی یتعدی من الفاعل الی المفعول به کقولك ضربت زیداً ویسمیٰ ایضاً واقعاً ومجاوزاً واماغیرمتعد وهوالفعل الذی لم یتجاوز من الفاعل کقولك حسن زید ویسمیٰ لازماً وغیرواقع .

**ترجمه**: خبرداری فعل به یامتعدي وي اودافعل متعدي هغه فعل دی چې متعدي شوی یعنې تجاوزیې کړی دی دفاعل نه مفعول به ته مثال لکه داقول ستاضربت زیداً اودافعل متعدي ته لکه څنګه چې ورته متعدي وایي نوهمدارنګه ورته فعل واقع هم وایي اوفعل مجاوزورته هم وایي اویابه دافعل غیرمتعدي وي اودافعل غیرمتعدي عبارت دی دهغه فعل نه چې هغه تجاوزنه وي کړی دفاعل نه مفعول به ته لکه داقول ستاحسن زید اودې فعل غیرمتعدي ته فعل لازم اوفعل غیرواقع هم ورته وایي .

**تشریح**: لفظ دتنبیه په لغت کښې عبارت دی له ایقاظ نه یعنې له بیدارولو دیوکس نه له خوبه اوپه اصطلاح کښې عبارت دی له دېنه چې :

التنبیه طائفة من المسائل تکون تلك الطائفة من المسائل مفهومة من الکلام السابق بطریق الاجمال .

یعنې تنبیه عبارت دی له یوې طائفې دمسئلونه چې داطائفه دمسئلوبه رافهمېږي له مخکې کلام نه په طریقې داجمال سره نوپه دې تنبیه کښې مصنف تقسیم دفعل کوي دوه اقساموته چې یوقسم فعل متعدي دی اوبل قسم فعل لازمي دی نوفعل متعدي دېته وایي چې دده دمعنیٰ فهم ورموقوف وي په مفعول به باندې اوبغیرله فهم دمفعول به نه دده فهم نه کېږي اوفعل لازمي عبارت دی دهغه فعل نه چې دده فهم نه وي ورموقوف په فعل متعدي باندې بلکه دده فهم کېږي بغیردفهم اودتعقل دمفعول به نه مثال دفعل متعدي لکه ضرب نوددې فهم ورموقوف دی ترتعقل دمفعول به پورې څکه چې داضرب لکه څنګه چې هغه څوك غواړي چې داضرب ورنه صادرشوی وي نوهمدارنګه هغه څوك هم غواړي چې داضرب په هغه باندې وررواقع شوی وي چې دااول شي فاعل دی اودویم شی مفعول به دی اوهرچې حسن دی نودافقط هغه څوك

Maktaba Tul Ishaat.com

غواړي چې د احسن وړپورې قائم شي او هغه ځوك نه غواړي چې هغه باندې وړواقع شي ځکه چې کوم حسن قائم تريو شخص پورې وي هغه نه وړواقع کېږي په بل شخص باندې نودې اول فعل ته له دې وجهې نه متعدي وايي چې دا متعدي مؤخوذ دی د تعديت نه او د تعديت معنیٰ ده تجاوز او شك نشته چې دې اول قسم د فعل هم تجاوز کړی دی د فاعل نه مفعول به ته او دويم قسم ته ځکه غيرمتعدي وايي چې هغه تجاوز نه وي کړی د فاعل نه مفعول به ته او همدغه وجه ده چې دې اول قسم ته متجاوز وايي او دې دويم قسم ته غيرمتجاوز وايي او همدارنګه دې اول فعل ته واقع ددې وجهې نه وايي چې داوړواقع شوی وي په مفعول به باندې او دا دويم فعل چونکه په مفعول به باندې نه وي وړواقع شوی نو ځکه ورته غيرمتجاوز وايي .

**اعتراض**: معترض وايي چې تعريف د فعل متعدي جامع نه دی خپلوافرادولره ځکه چې تاسو وايي چې فعل متعدي دېته وايي چې هغه به تعديت او تجاوز کړی وي مفعول به ته او په مثال کښې تاسو ورته ضرب فعل ذکر کړی دی او په ضرب کښې چې کوم تعديت موجود دی نو هغه خو په دې طريقې سره دی چې دا ضرب فعل وړواقع کېږي په مفعول به باندې نو له دې نه معلومېږي چې مراد د تعديت نه په فعل متعدي کښې دا دی چې ددې فعل وقوع به وي په مفعول به باندې نو له دې تعريف د فعل متعدي نه خارجېږي، ذكرت الله اوعرفت الله ، چې دوئ دواړه له قبيلې د فعل متعدي نه دي او حال دا دی ددوئ وقوع نه دی راغلی په مفعول به باندې چې الله دی ځکه چې ددوئ دواړو وقوع په الله پاك باندې محال دی .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې دا کوم مثال چې مصنف د فعل متعدي لپاره ذکر کړی دی په دې کښې اګرچې ددې فعل وقوع نه راځي په مفعول به باندې خو ليکن مراد له تعديت نه دا خاصه معنیٰ نه ده مراد چې هغه عبارت دی له تعلق نه په طريقې د وقوع سره بلکه مراد له تعديت نه مطلق تعلق دی برابره خبره ده که هغه په طريقې د وقوع سره ـي او که په طريقې د وقوع سره نه وي او په دې وړاندې دوه مثالونو کښې مطلق تعلق سوجود دی په مابين د ذکر او د معرفت کښې او په مابين د الله پاك کښې .

**اعتراض**: معترض وايي چې هر کله مرادله تعديت دفعل نه مفعول به ته تعلق دفعل دی دمفعول به سره نوبيا خود تعريف دفعل متعدي نه فعل منفی خارج شو مثال لکه ماضربت زيداً نو په دې مثال کښې داضربت فعل متعدي دی اوحال دادی چې ددې تعلق نشته دمفعول به سره چې زيد دی .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې دااعتراض به په هغه وخت کښې وارد وه که چيرته مرادله تعلق نه هغه تعلق وای چې په طريقې دايجاب سره وي فقط اوحال دادی چې مرادله تعلق نه په طريقې دايجاب سره فقط نه دی مراد بلکه مرادله دې تعلق نه عام تعلق دی برابره خبره ده که په طريقې دايجاب سره وي اوکه په طريقې دسلب سره وي نوپه دې فعل منفي کښې اګرچې تعلق په طريقې دايجاب سره نشته خوليکن په طريقې دسلب سره شته نودافعل منفي نه خارجېږي دتعريف دفعل متعدي نه .

**قوله وتعديته فی الثلاثي المجرد بتضعيف العين اوباالهمزة کقولك فرحت زيداً واجلسته وبحرف الجر فی الکل نحو ذهبت بزيد وانطلقت به .**

ترجمه . اومتعدی کېدل ددې فعل لازمي په ثلاثي مجردو کښې حاصلېږي په مکررکولو دعين کلمې سره اوياپه همزې سره لکه داقول ستافرحت زيداً په تشديددراء سره اولکه اجلسته اوددې فعل لازمي تعديت راځي په دې ټولو کښې په حرف جرسره مثال لکه ذهبت بزيد اولکه انطلقت به .

**تشريح**: په دې وړاندې عبارت کښې مصنف بيان دهغو امورو کوي چې په هغوئ سره دفعل لازمي نه فعل متعدي جوړېږي نومصنف وايي چې هغه امورچې په هغوئ سره دفعل لازمي نه فعل متعدي جوړېږي غونډ درې اموردي اول امرتضعيف دی دعين کلمې يعنې چې عين کلمه مکرره کړی شي په ثلاثي مجردوکښې په دې شان چې ددې ثلاثي مجردونه ثلاثي مزيدفيه باب تفعيل جوړ کړی شي مثال لکه فرحت زيداً په تشديددراء سره چې صيغه دماضي ده دباب تفعيل نه نوددې ثلاثي مجردفرح دی په تخفيف دراء سره اودالازمي وه اوچې کله په کښې عين کلمه چې راء ده مکرره کړی شوه نومتعدي شونوچې ووېل شي فرحت په تخفيف دراء سره معنی به داوي چې

Maktaba Tul Ishaat.com

زه په خپله خوشحاله شوم اوچې کله وویل شي فرحت زیداً په تشدید دراء سره نومعنیٰ داوي چې مازید خوشحاله کړو اودویم امرهمزه ده چې په دې ثلاثي مجردوکښې همزه زیاته کړی شي په دې شان چې دې ثلاثي مجردونه باب افعال جوړ کړی شي مثال لکه اجلسته نوجلس لازمي دی او اجسلته متعدي دی نوددې لازمي معنیٰ ده خپله کښناستل اوددې متعدي معنیٰ ده بل کښېنول نوپه لازمي کښې به ویلی شي جلست اوپه متعدي کښې به ویلی شي اجلست زیداً اوپه دې دوه امرینوسره فقط په ثلاثي مجردوکښې دفعل لازم نه فعل متعدي جوړېږي اوپه دې نوروانسامو کښې چې رباعي مجرد اوثلاثي مزیدفیه اورباعي مزیدفیه دی په دې دوه امرینوسره دفعل لازمي نه فعل متعدي نه جوړېږي اودریم امرحرف جردی په دې شان چې داحرف جرداخل کړی شي په مفعول به باندې نوددې په واسطې سره دفعل لازم نه فعل متعدي جوړېږي اوپه دې حرف جرسره متعدي کېدل دفعل لازم په ټولواقسامودفعل کښې راځي چې هغه اقسام ثلاثي مجرداورباعي مجرداوثلاثي مزیدفیه اورباعي مزیدفیه دي نوپه دې څلورو اقسامو دفعل کښې په واسطې دحرف جرسره دفعل لازمي نه فعل متعدي جوړېږي مثال دثلاثي مجردوچې متعدي شوي وي په حرف جرسره ذهبت بزید دی چې داذهبت فعل لازم دی اومعنیٰ ده زه په خپله لاړم اوچې کله په مفعول به باندې باء حرف جاره ورداخل کړی شواوذهبت بزیدوویل شو نومتعدي شو اومعنیٰ داشوه چې مازید بوتلواومثال دغیردثلاثي مجردولکه انطلقت بزید نوداانطلقت ثلاثي مزیدفیه باب انفعال دی اودالازمي دی اومعنیٰ ده چې زه لاړم اوچې کله حرف جرداخل کړی شوپه مفعول به باندې اوانطلقت بزیدوویل شو نومتعدي شواومعنیٰ داشوه چې مابوتلل وکړه په زید باندې .

**اعتراض:** معترض وایي چې حصردهغوامورو چې په هغوئ سره دفعل لازم نه فعل متعدي جوړېږي په دریوامورو کښې چې تضعیف اوهمزه اوحرف جردی باطل دی بلکه لکه څنګه چې فعل لازم متعدي کېږي په دې دریوامورو سره نوهمدارنګه فعل لازم متعدي کېږي په دوه نوروامورو سره هم چې اول امرپه هغوئ کښې الف دمفاعلې

دی يعني چې د ثلاثي مجردونه باب مفاعله ثلاثي مزيدفيه جوړ کړی شي مثال لکه ماشيت زيداً نو مشيت ثلاثي مجرد دی اولازمي دی اومعنیٰ ده زه لاړم اوچې کله ورنه باب مفاعله جوړ کړی شي په زيادت دالف سره او وويل شي چې ماشيت زيداً نوور نه فعل متعدي جوړېږي اومعنیٰ داکېږي چې مازيد بوتلو اودويم امرسين دباب استفعال دی په دې شان چې داسين زيات کړی شي په ثلاثي مجردو کښې اوباب استفعال ورنه جوړ کړی شي نوپه دې سره دافعل لازم متعدي جوړېږي مثال لکه خرجت فعل لازم دی اوثلاثي مجرد دی اومعنیٰ ده زه په خپله ووتلم اوچې کله ورنه باب استفعال جوړ کړی شي اوويل شي چې استخرجت زيداً نو ورنه فعل متعدي جوړېږي اومعنیٰ داوي چې ماطلب دراوتلو وکړو دزيدنه نوغونډ هغه امورچې په هغوئ سره دفعل لازمي نه فعل متعدي جوړېږي پنځه دي .

**جواب**: مونږ ورته وايوچې مصنف چې دادرې امورذکرکړي دي نودادې وجهې نه دي ذکر کړي چې هغه امورچې په هغوئ سره دفعل لازمي نه فعل متعدي جوړېږي هغوئ منحصردي په دې دريو کښې بلکه ذکرددې دريوامورو چې مصنف کړی دی نوداله دې وجهې نه يې کړی چې تعدية په دې دريو امورو سره زيات دی په کلام دعربو کښې په خلاف ددې باقي دوه امورو چې الف دباب دمفاعلې دی اوسين داستفعال دی چې په دوئ دواړو سره تعديت قليل دی په کلام دعربو کښې .

**اعتراض**: معترض وايي چې څه وجه ده چې داهمزه او تضعيف خاص کړی شو ترثلاثي مجردو پورې په دې شان چې په دوئ دواړو سره فقط ثلاثي مجردمتعدي ګرزېږي اوهرچې حرف جردی هغه عام کړی شو په دې شان چې په دې سره تعديت حاصلېږي هم په فعل ثلاثي مجردو کښې اوهم په هغه فعل کښې چې غيرثلاثي مجرد وي.

**جواب**: مونږ ورته وايوچې وجه دفرق داده چې داهمزه اوتضعيف په نفس فعل کښې وي په دې شان چې داهمزه هم ددې فعل جزء ګرزي اوداحرف مکررهم دفعل جزء ګرزي نوکه چيرته په دوئ دواړو سره فعل غيرثلاثي مجردمتعدي کړی شي نولازم به شي زيات ثقل ځکه چې فعل غيرثلاثي مجردپه خپله هم ثقيل وي اوچې کله وربانديې

Maktaba Tul Ishaat.com

همزه ورداخل شي اویاعین کلمه په کښې مکرره کړی شي نو ثقل به ډیرزیات شي په خلاف د ثلاثي مجرد و چې هغه په خپله خفیف دي نو چې کله وربانديې همزه ورداخله شي اویاعین کلمه په کښې مکرره کړی شي نو نه لازمیږي زیات ثقل او هرچې حرف جردی نو هغه سره فعل بانديې نه وي ورداخل بلکه په مفعول به بانديې ورداخل وي نو د هغه په راتلو سره نه لازمیږي زیات ثقل نوله دې وجهې نه حرف جرعام کړی شو او همزه او تضعیف دواړه مختص کړی شو تر ثلاثي مجرد و پورې .

**اعتراض**: معترض وایي چې نه منم چې په تضعیف سره فعل لازم متعدي جوړیږي ځکه چې تکرم یتکرم چې د باب تفعل نه دی عین کلمه چې راء ده په کښې مکرره دی نو تضعیف په کښې موجود دی ځکه چې مجرد دې کرم یکرم دی په تخفیف د راء سره. او حال دا دی چې په دې تضعیف سره نه دی متعدي ځکه لکه څنګه چې کرم یکرم لازمي دی نو همدارنګه تکرم یتکرم هم لازمي دی .

**جواب**: مونږ ورته وایو چې دا اعتراض به په هغه وخت کښې وارد وه که چیرته مراد له تضعیف نه مطلق تضعیف مراد وای برابره خبره ده که دا تضعیف موجود وي په باب تفعیل کښې او که موجود وي په باب تفعل کښې خولېکن مراد دا مطلق تضعیف نه دی بلکه مراد له تضعیف نه هغه تضعیف دی چې هغه موجود وي په باب تفعیل کښې او په تکرم یتکرم کښې چې کوم تضعیف دی نو دا خو موجود دی په باب تفعل کښې .

**اعتراض**: معترض وایي چې نه منم چې همزه راځي لپاره د تعدیت ځکه چې همزه موجوده ده په احمر کښې چې دا ماضي ده د باب افعل نه په تشدید لام سره چې دا باب دی له ابوابو د ثلاثي مزید فیه نه او حال دا دی چې دا احمر نه دی متعدي بلکه لازمي دی .

**جواب**: مونږ ورته وایو چې دا اعتراض به په هغه وخت کښې وارد وه که چیرته مراد له همزې نه مطلق همزه وای برابره خبره ده که همزه د باب افعال وي او که همزه د بل کوم باب وي خولېکن داسې نه ده بلکه مراد له همزې نه خاصه همزه مراد ده چې هغه همزه د باب افعال دی نو فقط د دې باب افعال همزه راځي لپاره د تعدیت او په احمر کښې چې

کومه همزه موجوده ده نو دا د باب افعال همزه نه ده بلکه د باب د افعل په تشدید د لام سره همزه ده.

**اعتراض:** معترض وايي مثال راوړی شي لپاره د توضيح د ممثل او د ممثل توضيح په يو مثال سره کېدی شي نو بايد چې مصنف د تعديت په حرف جر سره يو مثال راوړی وای او حال دا دی چې مصنف ورته دوه مثالونه ذکر کړي دي چې يو مثال ذهبت بزيد دی او دويم مثال انطلقت به دی .

**جواب:** مونږ ورته وايو چې مصنف ځکه دوه مثالونه د حرف جر لپاره ذکر کړي دي ځکه چې ممثل هم دوه شيان دي اول شی دا دی چې ثلاثي مجرد متعدي کړی شي په حرف جر سره او دويم شی دا دی چې غير د ثلاثي مجرد و متعدي کړی شي په حرف جر سره.

## فصل فى امثلة تصريف الافعال اماالماضي فهوالفعل الذى دل على معنىً وجد فى الزمان الماضي فالمبنى للفاعل منه ماكان اوله مفتوحاً اوكان اول متحرك منه مفتوحاً .

**ترجمه:** دا فصل دی په بيان د صيغو د تغير د افعالو کښې هرچې ماضي ده نو دا هغه فعل دی چې دلالت به کوي په يو معنیٰ باندې چې هغه معنیٰ به موجوده شوې وي په تيرشوې زمانه کښې نو هغه ماضي چې مبني وي فاعل ته يعنې ماضي معلومه وي نو هغه عبارت دی له هغې ماضي نه چې اول حرف د هغې به مفتوح وي او يا به له اول نه وروسته چې کوم اول حرف متحرك راځي هغه به مفتوح وي .

**تشريح:** په فعل کښې تغير راځي ماضي او مضارع ته او امر ته او په دې تغير سره د دې هر قسم لپاره جدا جدا صيغې راحاصلېږي په دې شان چې د ماضي لپاره جدا صيغې راحاصلېږي او د مضارع لپاره جدا صيغې راحاصلېږي او د امر لپاره جدا صيغې راحاصلېږي نو په دې مصدر کښې تغير کړی شوې وي ماضي ورنه راحصله شوې وي او په ماضي کښې تغير شوی وي مضارع ورنه حاصله شوې وي او په مضارع کښې تغير شوی وي امر ورنه راحاصل شوی وي نو دا تغير سبب دی لپاره د حصول د دې

Maktaba Tul Ishaat.com

صیغونو پـه عبـارت دمـصنف کـښې چې امثلـة لفظ ذکـردی مـراد ورنـه صـیغې دي اوتـصریف لفظ چې ذکردی مـراد ورنـه تغیـر دی نوهرکلـه چې داتغیرسبب وه لپاره دحـصول ددي صـیغونوځکه مـصنف ددې امثلـه ؤاضـافت وکـړو لـفـظ دتـصریف تـه اومصنف په دې مقام کښې دفعل ماضي تعریف کړی دی اوبیاددې ماضي تقسیم یې کړی دی دوه اقساموته چې یوقسم ماضي معلومه ده اوبل قسم ماضي مجهوله ده نوماضي په لغت کښې عبارت دی له هغه امرنه چې هغه تیرشوی وي اوپه اصطلاح کښې عبارت دی له هغې معنیٰ نه چې مصنف ورته ذکرکړې چې دهغې حاصل دادی چې فعل ماضي عبارت دی دهغه فعل نه چې دلالت به کوي په یوه معنیٰ باندې یعنې په حدث باندې اومعنیٰ مصدري باندې چې داحدث اومعنیٰ مصدري به موجوده شوې وي پـه تیـره شوې زمانـه کـښې مثـال لکـه ضـرب نودادلالـت کـوي پـه وجـود دوهلوباندې په تیره شوې زمانه کښې چې داوهل یوه معنیٰ مصدري ده اوحدث دی اوبیادفعل مضارع په خپل کورکښې په دوه قسمه ده اول قسم معلومه ده چې ورتـه معروفه هم وایي اومبني للفاعل ورتـه هـم وایي اودویـم قـسم ماضي مجهولـه ده چې ورته مبني للمفعول هم وایي نومصنف وایي چې ماضي معلومه عبارت دی لـه هغې ماضي نه چې دهغې اول حرف مفتوح وي لکه ضرب اونصر اواکرم اودحرج اوتدحرج اویادهغې اول حرف نه وي مفتوح خولېکن ددې اول نه وروسته چې کوم اول متحرك حرف وي هغه به مفتوح وي مثال لکه استخرج چې داماضي دباب استفعال دی نوپـه دې کښې دااول حرف نه دی مفتوح بلکه مسکوردی خولېکن ددې اول حرف نـه بعد چې کوم اول متحرك دی چې هغه تاء ده هغه مفتوحه ده اولکه انطلق چې داماضي دباب انفعال دی نوپه دې کښې هم دااول حرف نه دی مفتوح خولېکن له دې اول حرف نه بعدچې کوم اول متحرك دی هغه مفتوح دی چې طاء دی اودفعل ماضي مجهول تعریـف وروستـه را روان دی چې دهغې تعریـف حاصـل دادی چې ماضي مجهولـه عبارت دی دهغه فعل نه چې دهغې اول به مضموم وي لکه ضرب اواکرم اودحرج پـه ضمې سره په اول حرف باندې اویاء ددې فعل هغه حرف به مضموم وي چې هغه اول

متحرك وي اوهمزه وصليه په سر کښې موجوده وي اوهغه هم مضمومه وي له وجهې د تابعداری ددې وروسته مضموم حرف نه اوماقبل اخیربه په دې تولـه ماضي مجهولـه کښې همیشه مکسوروي .

**اعتراض:** معترض وايي چې داهرواحد له دې فعل ماضي اوفعل مضارع نه قسم دی لپاره دفعل نوڅه وجه ده چې مصنف مقدم کړو بحث دماضي په بحث دمضارع باندې .

۱ - **جواب:** مونږ ورته وايوچې دافعل ماضي دلالت کوي په تېره شوې زمانه باندې اودافعل مضارع دلالت کوي په حالي زمانه باندې اوپه راتلونکي زمانه باندې اوشك نشته چې ددې ماضي زمانه مقدمه ده په زمانې دمضارع باندې په نفس الامر اوخارج کښې نوپه ذکرکښې هم داماضي مقدمه کړی شوه پـه فعـل مضارع باندې لپاره ددې چې داذکراووضعه موافقه شي دنفس الامرسره .

۲ - **جواب:** مونږ ورتـه وايـوچې فعـل ماضـي مـشتق منـه اواصـل ده لپـاره دمـضارع اودافعـل مـضارع ورنـه مـشتق دی اوشـك نـشته چـې اصـل حقـدار اولائـق دتقـديم وي نوځکه مصنف دافعل ماضي مقدمه کړه په فعل مضارع باندې .

**اعتـراض:** معتـرض وايـي چـې داتعريـف دفعـل ماضـي باطـل دی ځکـه چـې داخـو تعريف دشي دی په خپل نفس سره ځکه چې معرف هم ماضي ده اوپه تعريف کښې هم لفظ دماضي ذکردی اوتعريف دشي په خپل نفس سره نه دی جائز .

۱ - **جواب:** مونږ ورته وايوچې تعريف دشي په خپل نفس سره به پـه هغـه وخت کښې لازم وه که چيرته مرادله ماضي نه چې معرف ده اومرادله ماضـي نـه چې پـه تعريف کښې ذکرده يوه معنیٰ وای خولېکن حـال دادی چـې يـوه معنـیٰ نـه ده ورنـه مـراد بلکـه مرادلـه ماضي نه چې معرف ده اصطلاحي معنیٰ ده چې هغه عبارت ده له خاص فعـل نـه اومرادلـه هغې ماضي نه چې په تعريف کښې ذکرده معنیٰ لغوي ده چې عبارت دی له دېنه چې :

الماضي هوالذی مضی.

يعنې ماضي عبارت دی له هغه امرنه چې هغه وړاندې تيرشوی دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

۲- **جواب**: مونږ ورته وایوچې مراد له ماضي نه چې معرف ده اومراد له هغې ماضي نه چې په تعریف کښې ذکرده یوه معنیٰ مراد ده چې هغه معنیٰ لغوي دماضي ده خولېکن بیاهم تعریف دشي په خپل نفس سره نه راځي ځکه چې هغه ماضي چې معرف ده هغه صفت واقع دی دموصوف محذوف چې هغه فعل دی اوهغه ماضي چې په تعریف کښې ذکرده صفت دی لپاره دموصوف محذوف چې زمان دی نوپه دې مقام کښې لازم شوی تعریف دفعل ماضي په زمان ماضي سره نه تعریف دشي په خپل نفس سره.

**اعتراض**: معترض وایي چې تعریف دفعل ماضي مانع نه دی له دخول دغیرنه ځکه چې په دې تعریف کښې لم یضرب داخلېږي ځکه چې داهم په واسطې دلم سره په ماضي زمانه باندې دلالت کوي ځکه دالم کلمه ګرزوي فعل مضارع په معنیٰ دفعل ماضي باندې.

۱- **جواب**: مونږ ورته وایوچې نه منوداخبره چې داتعریف دماضي صادق دی په لم یضرب باندې ځکه چې معتبرپه ماضي کښې دلالت دی په وجوددمعنیٰ باندې په ماضي زمانه کښې اولم یضرب خودلالت کوي په عدم وجوددمعنیٰ باندې په زمان ماضي کښې خولېکن داجواب نه دی صحیح ځکه چې مراد له معنیٰ نه په تعریف دماضي کښې عامه معنیٰ ده برابره خبره ده که وجودي وي اوکه عدمي وي نودالم یضرب دلالت کوي په عدم ضرب باندې په زمانه ماضي کښې اوشك نشته چې داعدم ضرب اګرچې معنیٰ وجودي نه ده خولیکن معنیٰ عدمي ده نوپه دې لم یضرب کښې دلالت موجود دی په وجود دمعنیٰ عدمي باندې په زمانې ماضي کښې.

۲- **جواب**: مونږ ورته وایوچې مرادله دلالت نه په وجوددمعنیٰ باندې په زمانه ماضیه کښې هغه دلالت دی چې په اعتبارداصل وضع سره وي اوپه لم یضرب کښې خودلالت په زمانه ماضیه باندې په اعتبارداصل وضعې سره نه دی ځکه چې دالم یضرب په اعتبارداصل وضعې سره دلالت کوي په زمان حال اوزمان استقبال باندې اوپه زمانه ماضیه باندې دلالت کوي په اعتبارد عارض سره چې هغه عارض عبارت

دی دلم نه ځکه چې دالم کله داخل شي په مضارع باندې نودا گرزوي مضارع لره په معنیٰ دماضي منفي سره .

**اعتراض**: معترض وايي چې تعريف دفعل ماضي جامع نه دی خپلو افرادولره ځکه چې دتعريف دفعل ماضي نه خارجېږي ليس اونعم اوبئس چې داول فعل ناقص دی اودويم فعل مدح دی اودريم فعل ذم دی نوداډرې واړه افعال له قبيلې دفعل ماضي نه دي اوحال دادی چې تعريف دفعل ماضي په دوئ باندې نه صادقېږي ځکه چې درې واړه افعال په حدث باندې دلالت کوي فقط اوپه زمانه باندې دلالت نه کوي نه په ماضي زمانه باندې اونه په حال زمانه باندې اونه په استقبال زمانه باندې .

۱- **جواب**: مونږ ورته وايو چې مرادله دلالت نه په زمانه ماضيه باندې هغه دلالت دی چې په اعتبارداصل وضعې سره وي اوشك نشته چې دادرې واړه افعال هم په اعتبارداصل وضعې سره دلالت کوي په زمانه ماضيه باندې اوبياوروسته په عارض داستعمال سره دوئ دلالت نه کوي په زمانه باندې په دې شان چې عربودوئ لره خارج گرزولي دخپل اصل وضعې نه او اوس دلالت کوي په حدث باندې نه په زمانه باندې برابره خبره که ماضي وي اوکه بله زمانه وي .

۲- **جواب**: مونږ ورته وايو چې دااعتراض به په هغه وخت کښې وارد وه که چيرته مقصود دمصنف په دې مقام کښې تعريف دمطلق فعل وای برابره خبره که دافعل متصرف وي اوکه غيرمتصرف وي خولېکن داسې نه ده بلکه مقصودپه دې مقام کښې تعريف دهغه فعل دی چې هغه متصرف وي اوهرچې دادرې افعال دي چې په اعتراض کښې ذکردي نودا افعال غيرمتصرفه دي نوهيڅ باك نشته چې دوئ له دې تعريف نه خارج شي بلکه ددوئ خروج له دې تعريف نه واجب اوضروري دی .

**اعتراض**: معترض وايي چې تعريف دفعل ماضي جامع نه دی خپلو افرادوته له دې تعريف نه خارج شوهغه فعل ماضي چې درباندې ان شرطيه داخل شوی وي مثال لکه ان ضرب زيد نوداضرب فعل ماضي دی اوحال دادی چې دادلالت نه کوي په زمانه ماضيه باندې بلکه دلالت کوي په زمانه مستقبل باندې .

Maktaba Tul Ishaat.com

**جواب:** مونږ ورته وايو چې مراد له دلالت نه په زمانه ماضيه باندې په تعريف دفعل ماضي کښې هغه دلالت دی چې په اعتبار داصل وضعې سره وي اوشک نشته چې داضرب هم په اعتبار داصل وضعې سره دلالت کوي په زمانه ماضي باندې اوهرچې دلالت دی په زمانه استقبال باندې نو داپه اعتبار دعارض سره دی چې هغه عارض عبارت دی له ان شرطيه نه .

مثاله نصر نصرا نصروا نصرت نصرتا الخ .

په لفظ دمثاله کښې دا ضمير مجرور راجع دی ماضي مبنی للفاعل ته نودا وروسته چې کوم گردان مصنف ذکرکړی دی دامثال دی دفعل ماضي مبنی للفاعل نوپه دې ماضي مبنی للفاعل کښې نسبت دفعل فاعل ته شوی وي اوپه فعل ماضي مبنی للمفعول کښې نسبت دفعل مفعول به ته شوی وي نوداکوم گردان چې مصنف ذکرکړی دی په دې کښې ددې ټولو افعالو نسبت فاعل ته شوی دی نه مفعول به ته .

١- **اعتراض:** معترض وايي چې مقصود په دې مقام کښې بيان دقواعد کليه دی نه بيان دامثله نوبايد چې مصنف اکتفاء کړې وای په دې قول خپل باندې چې : فالمبنی للفاعل منه ماكان اوله مفتوحاً الی آخره . اومثال يې ورته نه وای ذکرکړی .

٢- **اعتراض:** معترض وايي چې هرکله مصنف په دې ځای کښې مثالونه ذکرکول نوبايد چې کلي مثالونه يې ذکرکړي وای چې هغه فعل فعلا فعلوا الی آخره دي لپاره ددې چې ورشامل شوي وای ټولو موادوته .

**جواب:** له دواړو اعتراضونو نه جواب دادی چې مونږ ورته وايو چې مقصود دمصنف په دې مقام کښې ايضاح دقواعد وده اورسول ددې قواعدودی فهم اوذهن دمبتدي ته اوشک نشته چې داکارنه حاصلېږي مگرپه ذکردامثله جزئيه ؤسره حاصلېږي نوځکه مصنف داامثله جزئيه ذکرکړه اواکتفاء يې ونه کړه په ذکردقواعدو فقط اوهمدارنگه په ځای دامثله جزئيه باندې يې امثله کليه هم نه کړه ذکر .

**وقس على هذاافعل وفاعل وفعلل وتفعلل وافتعل وانفعل واستفعل وافعلل وافعل وافعال وافعوال .** ھ/ھ

**ترجمه**: اوپه دې وړاندې ګردان باندې ورقياس کړه باب افعال لکه اکرم اوباب مفاعله لکه ضارب اوباب فعلل لکه دحرج اوباب تفعلل لکه تدحرج اوباب افتعال لکه اکتسب اوباب انفعال لکه انقطع اوباب استفعال لکه استخرج اوباب افعلال لکه اقشعر اوباب دافعل په تشديد دلام سره لکه احمر اوباب افعال په تشديد دلام سره لکه احمار اوباب افعوال لکه اعشوشب .

**تشريح**: يعنې دماضي معلومې لپاره لکه څنګه چې دثلاثي مجردونه ګردان موجود دی نو همدارنګه ددې لپاره له دې باقي بابونونه هم ګردانونه موجود دي اولکه څنګه چې په دې ثلاثي مجردو کښې ورته څوارلس صيغې دي نو همدارنګه ددې نوروبابونونه هم ورته څوارلس صيغې راځي نوچې کله په دې ثلاثي مجردو کښې داګردان دثلاثي مجردوذکرشو نوچې دېته څوك نظروکړي نوددې نوروبابونوګردانونه بياورته آسانه دي نوموږ په ترجمه کښې ورته يويومثال جزئي ذکرکړو اوپوره ګردان ذکرکولوته څه حاجت نشته په دې ځای کښې .

**ولاتعتبرحركات الالفات فى الاوائل فانها زائدة تثبت فى الابتداء وتسقط فى الدرج .**

**ترجمه**: اونشي معتبرکولی حرکتونه دالفونويعنې دهمزوچې کوم الفونه واقع دي په اول دافعالودبعضو ابوابو کښې ځکه چې داالفونه زائد دي ثابت وي په ابتداء کښې اوساقطيږي په درج کښې .

**تشريح**: مخکې چې کوم ابواب ذکرشوي دي نوپه هغوئ کښې دبعضو بابونو په اول کښې همزه موجوده ده لکه باب إفعال اوباب افتعال اوباب انفعال اوباب استفعال اوباب افعلال اوباب افعل په تشديد دلام سره اوباب افعال په تشديد دلام سره اوباب افعوال نوددې ټولوبابونوپه اول کښې همزه موجوده ده خوليکن داهمزه

Maktaba Tul Ishaat.com

چې په اول دباب افعال کښې ده لکه اکرم يکرم اکراماً نودا همزه قطعيه ده نودا په اول کښې هم ثابته وي اوپه درج کښې چې راشي هم ثابته وي اوهرچې له دې باب افعال نه غيردانوربابونه دي نودهغوئ په اول کښې چې کومه همزه ده نوداهمزه وصليه ده نوداثابته وي په ابتداء اوشروع کښې اوساقطېږي په درج کښې نوحرکت دهمزې چې کومه په باب افعال کښې ده اصلي ده اوحرکت عارضي نه ده اوهرچې حرکت دهغوهمزودی چې په دې باقي بابونوکښې موجود دی هغه عارضي دی ځکه چې له وجهې دعارض دابتداء نه دا حرکت په دوئ باندې موجودوي اوچې کله داهمزې په وسط کښې راشي نوبيادوئ ساقطېږي اوددوئ حرکت نه وي موجود اومصنف چې داويلي دي چې ددې الفونويعنې دهمزوحرکات نه دي معتبرنومراد ورنه هغه الفونه اوهمزې دي چې هغوئ موجودې دي له باب افعال نه غيرپه دې باقي بابونوکښې .

اوپه دې وړاندې عبارت کښې مصنف جواب ورکړی دی ديو اعتراض نه په دې شان چې معترض وايي چې تاسوتعريف دماضي مبنی للفاعل کړی دی چې ماضي مبنی للفاعل دېته وايي چې اول حرف به مفتوح وي اوبابه په کښې هغه حرف مفتوح وي چې کوم حرف اول متحرك وي نوداتعريف نه دی جامع مثل داستخرج اوانقطع او اجتمع اوددوئ امثالوته ځکه چې په دوئ کښې اول متحرك همزه ده اودانه ده مفتوحه له دې اعتراض نه جواب ورکړوچې داهمزې چې په اول ددې افعالوکښې موجوددي ددوئ حرکات عارضي دي ځکه چې په ابتداء کښې وي اوپه درج کښې نه وي نودې حرکاتوته څه اعتبارنشته نودا همزې په دې مذکوروافعالوکښې اول متحرك نه دي بلکه اول متحرك په دوئ کښې دريم حرف دی اوشك نشته چې هغه مفتوح ده نوتعريف دماضي مبني للفاعل ورجامع دی مذکورو افعالوته .

والمبنی للمفعول منه وهوالفعل الذی لم یسم فاعلـه مـاکان اوله مـضموماً کفعل وفعلل وافعل وفوعل وفعل وتفعل وتفوعل اوماکان اول متحـرك منـه مضموماًنحوافتعل واستفعل وهمزة الوصل تتبع هذاالمضموم فی الـضم وماقیـل آخره یکون مکسوراً ابدا نحو نصر زید واستخرج المال .

**ترجمه**: اومبني للمفعول ددې ماضي چې ده نوداهغه فعل دی چې ددې فاعـل بـه نـه وي ذکرشـوی اوددې اول حـرف، بـه مـضموم وي مثـال لکـه فعـل اوفعلـل اوافعـل اوفوعل اوفعل اوتفعل اوتفوعل اویابه هغه حرف په کښې مضموم وي چې کـوم اول متحـرك وي ددې فعـل مثـال لکـه افتعـل اواسـتفعل اوهمـزه وصـلیه تـابع وي ددې مـضموم حـرف پـه ضـمې کـښې اوماقبـل آخرددې ماضـي مبنـي للمفعـول بـه همیـشه مکسور وي مثال لکه نصرزید اواستخرج المال .

**تشریح**: هرکله چې مصنف فارغ شوله بحث دماضي مبني للفاعـل نـه نوشـروع یـې وکـړه پـه بحـث دماضـي مبنـي للمفعـول کـښې نومـصنف وایـي چـې داماضـي مبنـي للمفعول هغه فعل دی چې ددې فاعل به، نه وي ذکریعنې ددې فعل نسبت به فاعل ته نه وي شـوی بلکـه نـسبت بـه مفعـول بـه تـه شـوی وي چـې دامفعـول بـه ولاړه وي پـه ځـای دفاعل باندې اودفاعل اعراب چې رفعه ده ورته به ورکړی شـوی وي اوددې مفعـول بـه ته مفعول مالم یسم فاعله وایي اوبیادافعل ماضي مبني للمفعـول کله داسې وي چې اول حرف ددې مضموم وي اوداپه هغوافعالو کښې چې سرکښې یـې همـزه وصـلیه نـه وي برابره خبره ده که په کښې هیڅ همزه نه، وي او که په سرکښې یې همـزه وي خـولیکن هغه همزه وصلیه نه وي بلکه قطعیه وي لکه همزه دباب افعال اویابه اول حرف ددې نه وي مضموم بلکه هغه حرف به مضموم وي چې هغه اول متحرك وي پـه دې فعـل کـښې اوداپـه هغوافعالو کښې چې دهغوئ پـه سـرکـښې همـزه وصـلیه وي لکـه بـاب افتعـال اوباب استفعال نوددوئ په اول کښې همزه وي وصـلیه نوپـه دې افعالوکښې هـم ددې همزې وصلې حرکت عارضي وي ځکه چې دا همزه په ابتداء کښې راشي نوبیاثابته وي

Maktaba Tul Ishaat.com

سره د حركت نه او چې كله دا همزه په درج كښې راشي نو بيا دا همزه ساقطه كېږي نو ددې حركت ته هم اعتبار نشته نو په دې افعالو كښې اول متحرك دريم حرف وي او هغه په دوئ كښې مضموم وي او هرچې همزه وصليه ده كه چيرته په درج كښې راغلې وه نو ساقطه به وي او كه چيرته دا همزه وصليه په ابتداء كښې وه نو متحركه به وي او په حركت كښې به ددې مضموم حرف چې اول متحرك دى تابع وي په دې شان لكه څنګه چې په دې اول متحرك باندې حركت دضمې موجود وي نو همدارنګه په دې همزې به هم حركت دضمې موجود وي او په دې ټولو صيغو د فعل ماضي مبني للمفعول كښې به ماقبل مسكوروي برابره خبره كه اول ددې ماضي مضموم وي لكه نصرزيد كښې او كه اول متحرك په كښې مضموم وي لكه استخرج المال كښې .

**اعتراض**: معترض وايي چې مصنف دوه تعريفونه ذكركړي دي لپاره د ماضي مبني للمفعول اول تعريف ورته ذكر كړى دى په دې قول سره: **وهوالفعل الذى لم يسم فاعله .**

اودويم تعريف ورته ذكركړى دى په دې قول سره چې :

**ماكان اوله مضموماً الى آخره .**

اوحال دا دى چې مقصود په يو تعريف حاصلېږي نو دوه تعريفونه ورته ذكركول خالي نه دي د استدراك نه څكه چې څه فائده په كښې نشته .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې دا اعتراض به په هغه وخت كښې وارد وه كه چيرته دا دواړه تعريفه د ماضي منبي للمفعول لپاره په اعتبار د لفظ سره واى او يا دواړه ورته په اعتبار د معنىٰ سره واى او حال دا دى چې معامله داشان نه ده بلكه دا اول تعريف د فعل ماضي مبنيَ للمفعول لپاره تعريف دى په اعتبار د معنىٰ سره څكه چې ددې تعريف مطلب دا دى چې ماضي مبني للمفعول د هغه فعل ته وايي چې ددې نسبت په ځاى د فاعل باندې مفعول به ته شوى وي او ددې فاعل نه وي ذكر او هرچې دا دويم تعريف دى نو دا د ماضي مبني للمفعول لپاره تعريف دى په اعتبار د لفظ سره څكه چې په دې تعريف سره بيان د حال د لفظ شوى دى نو د هر تعريف مفاد جدا دى اله مفاد د هغه بل تعريف نه نو استدراك نه لازمېږي .

**اعتراض**: معترض وايي چې دااول تعريف دفعل ماضي مبني للمفعول مانع نه دى ددخول دغيرنه په دې کښې داخلېږي فعل مضارع مبني للمفعول ځکه چې فعل مضارع مبني للمفعول هم عبارت دى له هغه نه چې دهغې فاعل نه وي ذکرشوى .

**جواب**: مونږ ورته وايوچې دااعتراض به په هغه وخت کښې وارد وه که چيرته دامذکورتعريف فقط دماضي مبني للمفعول لپاره تعريف واى اوحال دادى چې دافقط دماضي مبني للمفعول لپاره تعريف نه دى بلکه داتعريف دى لپاره دمطلق فعل مبني للمفعول برابره خبره ده که ماضي وي اوکه مضارع وي نوهيڅ باك نشته چې داتعريف صادق شوپه مضارع مبني للمفعول باندې بلکه ددې تعريف صدق ضرروي دى په مضارع مبني للمفعول باندې لپاره ددې چې داتعريف جامع شي خپلوافرادوته .

اوداعبارت مصنف چې وهمزة الوصل تتبع الى آخره جواب دى دااعتراض نه معترض وايي چې څه وجه ده چې همزې وصليې ته ضمه ورکړى شوه په هغه ابوابوکښې چې دهغوئ په سرکښې همزه وصليه وي اوولې ورته په ځاى دضمې باندې کسره ورنه کړى شوه حال دادى چې داکسره اعدل الحرکات يعنې معتدل اودرميانه حرکت دى په اعتباردثقل اوخفت سره نومصنف ورته جواب ورکړوچې کسره اګرچې اعدل الحرکات ده خوليکن بياهم ضمه ورکړى شوه همزې ته له وجهې دتابعدارۍ ددې مضموم حرف نه چې هغه اول متحرك ده په فعل کښې اوددې تابعدارۍ وجه داوه چې دهرواحده له کسرې اوفتحې نه خفيفې دي په نسبت سره ضمې ته نوکه چيرته همزې ته ضمه ورنه کړى شي بلکه ورته کسره ورکړى شي نوبيالازمېږي خروج له خفيف نه ثقيل ته اوشك نشته چې په دې کښې ثقل دى .

**اعتراض**: معترض وايي چې نه منم چې په تقديرد کسرې ورکولوسره همزې ته لازمېږي حرف له خفيف نه ثقيل ته ځکه چې داضمه نه ده واقع په هغه خروج باندې چې کوم واقع وي وروسته له همزې نه ځکه چې هغه حرف چې هغه واقع وي وروسته له همزې نه هغه ساکن وي اوضمه واقع وي په هغه حرف باندې چې هغه ددې ساکن نه وروسته وي .

Maktaba Tul Ishaat.com

**جواب**: مونږ ورته وايوچې داکوم حرف چې واقع وي وروسته له همزې نه نوداساکن وي اوساکن په شان دمړي دی اومړی نه دی قادرپه منعه کولودڅه شي باندې نودې ساکن حرف ته هيڅ اعتبارنشته نودده وجودوروسته دهمزې نه داسې دی لکه عدم نوچې همزې ته کسره ورکړی شي لازمېږي خروج له خفيف نه ثقيل ته .

واماالمضارع فهومايكون فى اوله احدى الزوائد الاربع وهى الهمزة والنون والتاء والياء تجمعها انيت واتين ونأتى ونأيت .

**ترجمه**: اوهرچې فعل مضارع دی نوداعبارت دی دهغه فعل نه چې په اول کښې يې يوحرف موجود وي له څلورحرفونوزائده نه چې داڅلورحروف زائده عبارت دي له همزې اونون اوتاء اوياء نه چې دې حرفونولره جمعه کړي دي کلمې دأنيت اوکلمې داتين اوکلمې دناتى اوکلمې دنأيت .

**تشريح**: هرکله چې مصنف فارغ شودبحث دفعل ماضي نه نوشروع يې وکړه په بحث دفعل مضارع کښې اومضارع په لغت کښې مشتق دی دمضارعت نه اود مضارعت معنى ده مشابهت نودمضارع معنى ده مشابه اوصيغه داسم فاعل ده اودمضارع اصطلاحي معنى هغه ده چې مصنف ذکرکړې ده چې حاصل دادی چې فعل مضارع عبارت دی دهغه فعل نه چې دهغه په اول کښې يوحرف زائد موجود وي له څلورحرفونونه چې هغه څلورحرفونه همزه ده لکه اضرب کښې اونون دی لکه په نضرب کښې اوتاء ده په تضرب کښې اوياء ده په يضرب کښې .

**اعتراض**: معترض وايي چې څه وجه ده چې مصنف فعل مضارع ذکرکړه وروسته په فعل ماضي پسې متصله اوولې يې دامضارع وروسته دامرنه نه کړه ذکر .

**جواب**: مونږ ورته وايوچې ددې وجه دادة چې دافعل مضارع فرعه ده دفعل ماضي ځکه چې فعل مضارع مؤخوذه ده دفعل ماضي نه په زيادت دحرف مضارعت سره او اصل دادی چې بايدفرعه متصل وي دخپل اصل سره .

**اعتراض:** معترض وايي چې مصنف دماضي لپاره چې کوم تعريف ذکرکړی نو په نظرسره هغه تعريف ته مناسب داوه چې مصنف دمضارع لپاره داسې تعريف ذکرکړی وای چې : مضارع هوالفعل الذی دل علی وجودمعنیً فی زمان الحال اوالاستقبال .يعنې فعل مضارع عبارت دی دهغه فعل نه چې دلالت به کوي په وجوددمعنیٰ باندې په زمانه حال کښې اويازمانه استقبال کښې نوولې مصنف عدول اوتجاوز وکړو له دې تعريف نه او دفعل مضارع لپاره يې دامذکورتعريف ذکرکړو.

**جواب:** مونږ ورته وايوچې ددې عدول اوتجاوزلپاره وجه داده چې داتعريف مصنف ذکرکړی چې توطيه اوتمهيد شي لپاره دبيان دحروفو زائده اولپاره دتخصيص دهرواحد ددې حروفوتربعضوصيغوپورې اوشك نشته چې ددې بيان لپاره همدغه تعريف توطيه اوتمهيد جوړيدی شي چې کوم مصنف ذکرکړی دی ځکه چې په دې تعريف کښې داحروف مؤخوذ دي اوهغه تعريف چې په اعتراض کښې ذکردی توطيه اوتمهيد نشي جوړيدی ددې بيان اوتخصيص لپاره .

**اعتراض:** معترض وايوچې څه حاجت دی لپاره ددې چې په اول دمضارع کښې زيادت وکړی شوددې حروفوزائده ؤچې څلورحروف دي .

**جواب:** مونږ ورته وايوچې ددې زيادت لپاره وجه داده چې فرق راحاصل شي په مابين دفعل ماضي کښې اوپه مابين دفعل مضارع کښې ځکه چې په مابين دفعل ماضي کښې اوپه مابين دفعل مضارع کښې مغايرت موجود دی په اعتباردمعنیٰ نوپه لفظ کښې ددوئ په مابين کښې مغايرت وکړی شولپاره ددې چې دامغايرت لفظي دلالت وکړي په مغايرت معنوي باندې .

**اعتراض:** معترض وايي چې دامغايرت لفظي په مابين دفعل ماضي کښې اوپه مابين دفعل مضارع کښې لکه څنګه چې راحاصلېږي په زيادت سره په مضارع کښې په دې شان چې په ماضي باندې زيادت وکړی شو اوفعل مضارع ورنه جوړکړی شوه نوهمدارنګه مغايرت په مابين دفعل ماضي اومضارع کښې حاصلېږي په نقصان ديو حرف سره په ماضي کښې په دې شان چې دفعل ماضي نه يوحرف کم کړی شي

Maktaba Tul Ishaat.com

او مضارع ورنه جوړ کړی شي نو څه وجه ده چې د اد نقصان طریقه غوره نه کړی شوه په ځای د طریقې د زیادت باندې .

**جواب:** مونږ ورته وایو چې که چېرته د اد نقصان طریقه یې غوره کړی وای په ځای د طریقې د زیادت باندې نو بیا لازمېده نقصان د فعل مضارع له قدر صالح د کلمې نه ځکه چې قدر صالح د کلمې درې حروف دي نو که چیرته طریقه د نقصان غوره کړی شوې وای په جوړولو د فعل مضارع کښې نو د فعل مضارع حروف به دوه پاتې شوي وه.

**اعتراض:** معترض وايي چې دا مذکور تعریف د فعل مضارع جامع نه دی خپلو افرادو نه ځکه چې له دې تعریف د فعل مضارع نه خارج شو مثل د تعدی او د تلظی نو دا دواړه صیغې د فعل مضارع دي او حال دا دی چې په سر کښې یې حرف مضارعت نشته ځکه چې دا کومه تاء چې د دې دواړو صیغو په اول کښې موجوده ده نو دا حرف مضارعت نه دی بلکه دا تاء د باب د افتعال ده او هر چې تاء د مضارعت ده هغه په کښې نشته .

**جواب:** مونږ ورته وایو چې دا وجود د حرف مضارعت په اول د فعل مضارع کښې عام دی که فی الحال وي او که په اصل کښې وي نو په دې مذکورو دوه صیغو کښې اګر چې حرف مضارعت فی الحال نشته خو لیکن په اصل کښې په کښې حرف مضارعت موجود وه په دې شان چې دا دواړه په اصل کښې تتعدی او تتلظی وه او بیا وروسته اوله تاء چې حرف مضارعت دی حذف کړی شو .

**اعتراض:** معترض وايي چې هر کله مراد له وجود د حرف مضارعت نه په اول د فعل مضارع کښې عام شو لو که دا حرف مضارعت فی الحال وي او که په اصل کښې وي نو بیا خو تعریف د فعل مضارع مانع نه شو له دخول د غیرنه په دې تعریف کښې امر حاضر لکه انصر داخلېږي ځکه چې په دې امر حاضر کښې هم که حرف مضارعت فی الحال نشته خو لیکن په اصل کښې په کښې موجود دی ځکه چې دا انصر په اصل کښې تنصر وه او بیا حرف مضارعت چې تاء ده حذف کړی شوا و په اول کښې یې همزه وصلیه راوړی شوه .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې مراد له وجود د حرف مضارعت نه په اصل کښې داد ى چې د احرف مضارعت به مرادوي او شك نشته چې په امر حاضر کښې حرف مضارعت نه دى مراد او په دې مخکې دوه صيغو کښې حرف مضارعت مراد دى نو تعريف د فعل مضارع نه صادقيږي په امر حاضر باندې .

**حل لغات**: انيت معنىٰ ده سختې ګرمى ته ورسيدم صيغه د واحد متکلم ده او داتين معنىٰ ده يو جماعت د ښځو راغلو صيغه د جمعې مؤنثې غائبې ده او دنأتى معنىٰ ده مونږ راځو صيغه د متکلم مع الغير ده او دنأيت معنىٰ ده لرې شوم صيغه د واحد متکلم ده .

فالهمزة للمتكلم وحده والنون له اذاكان معه غيره والتاء للمخاطب مفرداً اومثنىً اومجموعاً مذكراً كان اومؤنثاً وللغائبة المفردة ولمثناهـا واليـاء للغائب المذكر مفرداً ومثنىً ومجموعاً ولجمع المؤنث الغائب .

**ترجمه**: نو د اهمزه لپاره د متکلم ده چې د امتکلم تنهاوي او بل څوك ورسره نه وي لکه اضرب او نون لپاره د متکلم دى خوليکن چې ورسره بل څوك وي يعنې لپاره د متکلم مع الغير دى لکه نضرب او تاء لپاره د مخاطب ده برابره خبره ده که مفرد وي لکه تضرب او که تثنيه وي لکه تضربان او که جمعه وي لکه تضربون بيا که مذکروي لکه د امذکور مثالونه او که مؤنث وي لکه تضربين تضربان تضربن او لپاره د واحدې مؤنثې غائبې ده لکه تضرب او لپاره د تثنې ددې واحدې مؤنثې غائبې ده لکه تضربان او ياء لپاره د غائب مذکر ده برابره خبره ده که مفرد وي لکه يضرب او که تثنيه وي لکه يضربان او که جمعه وي لکه يضربون او لپاره د جمعې مؤنثې غائبې ده لکه يضربن .

**تشريح**: نو دا حروف مضارعت چې علامې د فعل مضارع دي غونډ څلور حروف دي چې په دې څلورو حروفو کښې تقسيم شوى دى په دې شان چې دوئ تقسيم شوي دي په صيغو د فعل مضارع باندې په دې شان چې همزه يوې صيغې ته ورکړى شوي دي او نون هم يوې صيغې ته ورکړى شوى دى او تاء اته (٨) صيغو ته ورکړى شوې ده او ياء

Maktaba Tul Ishaat.com

ځلوروصیغوته ورکړی شوې ده نو دا همزه ورکړی شوې ده واحد متکلم ته اووجه داختصاص دهمزې تر واحد متکلم پورې داده چې دامتکلم مقدم دی په غائب اومخاطب باندې ځکه چې ابتداء اوشروع دکلام له متکلم نه کېږي اوهمزه هم مقدمه ده په تاء اویاء باندې په اعتبارد مخرج سره ځکه چې دااداء کېږي په اقصی دحلق کښې اواقصی دحلق ابتداء اوشروع دمخارجوده یعنې دمخرجونوشروع او ابتداء داقصی دحلق نه کېږي نوپه مابین دمتکلم اودهمزې کښې مناسبت دی نوځکه همزه خاصه کړی شوه تروا حد متکلم پورې .

**اعتراض:** معترض وايي چې ددې همزې لکه څنګه چې دامذکورمناسبت دی دواحد متکلم سره نوهمدارنګه ددې دامذکورمناسبت دی دمتکلم مع الغیرسره هم نوځه وجه ده چې متکلم مع الغیرته يې همزه ورنه کړه بلکه دهمزې په ځای باندې يې ورته نون ورکړو .

**جواب:** مونږ ورته وایوچې که چیرته متکلم مع الغیرته يې هم همزه ورکړې وای نوبیافرق نه راتلوپه مابین دواحدمتکلم کښې اوپه مابین دمتکلم مع الغیرکښې نولپاره دحصول دفرق په مابین دواحد متکلم کښې اوپه مابین دمتکلم مع الغیرکښې دې متکلم مع الغیرته نون ورکړی شو .

اوتاء ورکړی شوه مخاطب ته له دې وجهې نه چې په مابین دتاء کښې اوپه مابین دمخاطب کښې مناسبت دی په دې شان چې داتاء په اصل کښې واو وه اوبیاوروسته واوبدل کړی شو په تاء سره اوواو اداء کېږي دمنتهی دمخارجونه چې شفعت دی اومخاطب هغه څوك دی چې په ده انتهاء دکلام کېږي نوپه مابین دواو اودمخاطب کښې مناسبت دی نوددې مناسبت دوجهې نه واومخاطب ته ورکړی شواوبیاوروسته دا واو بدل کړی شوپه تاء سره اوهمدارنګه داتاء ورکړی شوې ده واحدې مؤنثې غائبې ته اوتثنې مؤنثې غائبې ته ځکه چې دامؤنث فرع دمذکرده اوداتاء له دې وجهې نه چې بدل راغلې ده له واونه دافرع دواو ده نوپه مابین دتاء اودمؤنث کښې مناسبت

دی په فرعيت کښې نوله دې وجهې نه دې واحدې مؤنثې غائبې ته اوتثنې مؤنثې غائبې ته تاء ورکړی شوه .

**اعتراض:** معترض وايي چې لکه څنګه چې په مابين د تاء کښې اوپه مابين دواحدې مؤنثې غائبې کښې اوتثنې مؤنثې غائبې کښې مناسبت دی نوهمدارنګه مناسبت موجوددی په مابين دياء کښې اوپه واحدې مؤنثې غائبې کښې اوپه تثنې مؤنثې غائبې کښې په دې شان چې ددې ياء مخرج وسط دی نوياء متوسطه ده په اعتبار دمخرج سره ځکه چې دوسط نه اداء کيږي نوهمدارنګه غائب هم په وسط دمتکلم اودمخاطب کښې وي نوڅه وجه ده چې تاء يې ورکړه واحدې مؤنثې غائبې ته اوتثنې مؤنثې غائبې ته اوددې په ځای باندې يې ورته ياء ورنه کړه لکه څنګه چې مذکرغائب ته يې ياء ورکړې ده .

**جواب:** مونږ ورته وايوچې که چيرته واحدې مؤنثې غائبې ته يې ياء ورکړې وای نوبيا ددې التباس راتلو دواحدمذکرغائب سره اوکه تثنې مؤنثې غائبې ته يې ياء ورکړې وای نوبياالتباس راتلودتثنې مذکرغائب سره نولپاره ددفعې ددې التباس دياء په ځای باندې دوئ دواړوته يې تاء ورکړه .

**اعتراض:** معترض وايي چې لکه څنګه چې په ورکولو دياء کښې واحدې مؤنثې غائبې ته اوتثنې مؤنثې غائبې ته التباس لازمېده نوهمدارنګه په ورکولو دتاء کښې هم التباس راغلی دی ځکه چې ددې واحدې مؤنثې غائبې التباس راغلی دی دواحد مذکرمخاطب سره ځکه چې ددواړو يوه صيغه ده چې تضرب ده اوددې تثنې مؤنثې غائبې التباس راغلی دی دتثنې مخاطبې سره ځکه چې ددوئ دواړوهم يوه صيغه ده چې هغه تضربان ده .

**جواب:** مونږ ورته وايوچې داالتباس اسانه دی دمخکې التباس نه ځکه چې دمخاطب حال ظاهروي په خلاف دحال دغائب چې هغه خفي وي نوځکه داالتباس غوره کړی شوپه وړاندې التباس باندې .

Maktaba Tul Ishaat.com

او دا ياء خاصه کړی شوه ترغائب مذکرپورې برابره خبره ده که واحد وي او که تثنيه او که جمعه وي او ترجمعي مؤنثي غائبې پورې ځکه چې په مابين د ياء کښې او په مابين دغائب کښې مناسبت دی په توسط کښې په دې شان چې دا غائب متوسط وي په مابين دمتکلم اودمخاطب کښې او دا ياء هم متوسطه ده په اعتبارد مخرج سره او همدارنګه ياء جوړه شوې ده ددوه کسرونه او شك نشته چې کسره اعدل الحرکات ده يعني متوسط حرکت دی په اعتبارد ثقل اودخفت سره په مابين دضمې او په مابين دفتحې کښې نوددې ياء اودغائب په مابين کښې مناسبت موجود دی په توسط کښې نوله دې وجهې نه غائب ته ياء ورکړی شوه .

**اعتراض**: معترض وايي چې نه منم چې ياء مختصه ده ترغائب پورې ځکه چې دا ياء مستعملېږي په الله پاك کښې هم لکه ويلی شي، يخلق الله ويريد الله ويقول الله او حال دا دی چې الله پاك خو غائب نه دی .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې دا اعتراض به په هغه وخت کښې وارد وه که چيرته مراد له غائب نه لغوي معنیٰ دغائب وای چې ضد او مقابل د حاضر دی او حال دا دی چې مراد له غائب نه دالغوي معنیٰ نه ده مراد بلکه مراد له غائب نه اصطلاحي معنیٰ مراد ده چې معنی اصطلاحي دغائب دا ده چې غائب هغه امردی چې دهغه نه حکايت کولی شي او شك نشته چې الله پاك غائب دی په اعتبارددې اصطلاحي معنیٰ سره .

**اعتراض**: معترض وايي چې منم چې الله پاك په اصطلاحي معنی سره غائب دی خو ليکن الله پاك نه مذکردی او نه مؤنث دی ځکه چې الله پاك نه موصوف کېږي په تذکير او تانيث سره او حال دا دی چې په حق دالله پاك کښې هم دا ياء مستعملېږي لکه مخکې چې درې مثالونه تيرشول نو معلومه شوه چې ياء نه ده مختصه ترغائب مذکر او جمعي مؤنثي غائبې پورې .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې مراد له تذکير او تانيث نه تذکير او تانيث دی په اعتبار دلفظ سره او شك نشته چې دالفظ دالله مذکردی په اعتبار دلفظ سره نو چې ياء مستعمل شوې ده په حق دالله پاك کښې په دې سره نه ماتېږي اختصاص دياء ترغائب پورې .

وهويصلح للحال والاستقبال تقول يفعل الآن ويسمىٰ حالاً وحاضراً اويفعل غداً ويسمى مستقبلًا .

**ترجمه**: اودافعل مضارع صالح ده هم لپاره دحال اوهم لپاره داستقبال ته به وايي يفعل الآن چې كله مراد ورنه حالي معنىٰ اخلې اودې مضارع ته چې لپاره دزمان حال وي په حال هم مسمىٰ كېږي اوپه حاضرهم مسمىٰ كېږي اوچې كله ته دامضارع مستعمله وې لپاره دزمان مستقبل نوبيابه يفعل غداً وايي اودې فعل مضارع ته چې مستعمله وي لپاره دزماني استقبالي مستقبل سره نامداره كړى شوې ده .

**تشريح**: په دې خبره كښې اتفاق دى چې فعل مضارع مستعملېږي هم لپاره دحال يعنې چې دلالت به كوي په وجود دمعنىٰ مصدري باندې په زمانه حالي كښې اوهم مستعملېږي لپاره داستقبال يعنې چې دلالت به كوي په وجود دمعنىٰ مصدري باندې په زمانه استقبال كښې نويفعل الآن ويل هم صحيح دي اويفعل غداً ويل هم صحيح دي خولېكن اختلاف په دې خبره كښې دى چې اياد افعل مضارع مشترك دى په مابين دحال اواستقبال كښې په دې شان چې دهرواحد لپاره په جدا جداوضعې سره وضعه ده اوكه حقيقت دى په حال كښې په دې شان چې دحال لپاره وضعه وي اومجازدى په استقبال كښې په دې شان چې په استقبال كښې مستعملېږي په طريقې دمجاز سره اوكه ددې عكس دى په دې شان چې حقيقت وي په استقبال كښې اومجاز وي په حال كښې نوپه دې كښې درې مذهبه دي .

اول مذهب دجمهورو دى نوهغوئ وايي چې دافعل مضارع مشترك لفظي دى په مابين دحال اوپه مابين داستقبال كښې په دې شان چې دحال لپاره په جدا وضعې سره وضعه دى اوداستقبال لپاره په جدا وضعې سره وضعه دى اودجمهورولپاره په اشتراك دمضارع باندې په مابين دحال اوداستقبال كښې درې دلائل دي .

١- دليل دادى چې دافعل مضارع څكه مشتركه دى په مابين دحال اوداستقبال كښې څكه چې ددې فعل مضارع استعمال په دې حال اواستقبال كښې په شان داستعمال دمشترك دى په معاني خپلو كښې په دې شان لكه څنګه چې دمشترك

Maktaba Tul Ishaat.com

اطلاق کېږي په هر واحد د معاني خپلو باندې خو ليکن تعيين د يو معنیٰ په يو مقام کښې په اعتبار د قرينې سره وي نو همدارنګه د فعل مضارع اطلاق هم په حال کېږي او هم په استقبال کېږي او تعيين د يوه په واسطې د قرينې سره کېږي په دې شان چې لفظ د الآن او همدارنګه لام چې په مضارع ورداخل دی نو دا دواړه د حال قرينې دي او لفظ د غداً او سين او سوف چې په فعل مضارع باندې ورداخل شي قرينه ده لپاره د استقبال نو هرکله چې د فعل مضارع استعمال په شان د استعمال د مشترك شو نو معلومه شوه چې دا فعل مضارع هم مشترك دی .

٢- دليل دا دی چې که چيرته دا فعل مضارع مشترك نشي بلکه حقيقت شي په يو د حال او د استقبال کښې او مجاز شي په آخر کښې نو لازم به شي تکرار او تناقض په دې شان چې که چيرته حقيقت شي په حال کښې او مجاز شي په استقبال کښې نو لازم به شي تکرار په يضرب الآن کښې ځکه چې بيا خو د يضرب معنیٰ هم حال دی د الآن معنیٰ هم حال ده او ذکر د الآن بلافائدې ګرزي او چې وويل شي چې يضرب غداً نو لازمېږي تناقض ځکه چې بيا له يضرب نه رافهمېږي چې دا معنیٰ مصدري واقع شوې ده په زمانه حالي کښې او د غداً نه رافهمېږي چې دا معنیٰ مصدري واقع شوې ده په زمانه استقبال کښې او چې حقيقت شي په استقبال کښې او مجاز شي په حال کښې نو چې وويل شي يضرب غداً نو تکرار لازمېږي ځکه چې له يضرب نه هم دا رافهمېږي چې دا معنیٰ مصدري په زمانه استقبال کښې واقع شوې او موجوده شوې ده او د غداً لفظ نه همدا رافهمېږي چې دا معنیٰ مصدري موجوده شوې ده په زمانه استقبال کښې نو ذکر د دې غداً لفظ بې فائدې جوړېږي او چې وويل شي چې يضرب الآن نو تناقض لازمېږي په دې شان چې د يضرب نه رافهمېږي چې دا معنیٰ مصدري واقع شوې ده په زمانه استقبال کښې او د لفظ د الآن نه رافهمېږي چې دا معنیٰ مصدري واقع شوې ده په زمانه حال کښې او چې کله مشترك شي نو بيا نه تکرار راځي او نه تناقض راځي ځکه چې په دې وخت کښې به په يضرب کښې د دواړو زمانو احتمال وي او په دې لفظ د الآن او په لفظ د غداً سره د يوې زمانې تعيين کېږي نو نه تناقض شته او نه تکرار اوّ استدارك شته .

۳- دليل لپاره دجمهورو دادی چې دوئ وايي چې لکه څنګه چې زمان ماضي قسم دی لپاره دمطلق زمان نو همدارنګه هر ا حد دحال اوداستقبال قسم دی لپاره دمطلق زمان اوشك نشته چې دزمان ماضي لپاره لفظ وضعه دی چې فعل ماضي دی نوبايد چې ددې هرواحد چې زمان حال اوزمان استقبال دی هم يولفظ وضعه شي چې هغه فعل مضارع دی نو معلومه شوه چې فعل مضارع مشترك دی په مابين دحال اوداستقبال کښې .

دويم مذهب دابن طروه دی هغه وايي چې فعلِ مضارع حقيقت دی په حال کښې اومجاز دی په استقبال کښې نو استعمال په استقبال کښې محتاج دی قرينې ته او استعمال په حال کښې نه دی محتاج قرينې ته اودليل لپاره دابن طروه دادی چې داحالي زمانه متبادره وي دفعل مضارع نه چې کله دافعل مضارع مستعمله شي بغير دقرينې نه اوشك نشته چې تبادر اوخلو دقرينې نه علامه دحقيقت ده نودافعل مضارع به حقيقت وي په حال کښې اومجازبه وي په استقبال کښې .

اودريم مذهب دزجاج دی اودده مذهب په عکس دمذهب دابن طروه دی په دې شان چې زجاج وايي چې فعل مضارع حقيقت دی په استقبال کښې اومجاز دی په حال کښې په دې شان چې وضعه ددې فعل مضارع لپاره داستقبال شوې ده نو استعمال په استقبال کښې نه دی محتاج قرينې ته او استعمال په حال کښې محتاج دی قرينې ته اودليل لپاره دمذهب دزجاج دادی چې زجاج وايي چې وجود دزمان استقبال ظاهر اوښکاره دی په خلاف دزمان حال چې ددې وجود خفي دی څکه چې زمان حالي عبارت دی له هغه آن نه چې هغه حاضروي اوفاصل وي په مابين دزمان حال کښې اوپه مابين دزمان استقبال کښې نودازمان استقبال له وجهې دظهور دوجودددې نه زيات حقداردی چې موضوع له شي لپاره دفعل مضارع .

Maktaba Tul Ishaat.com

واذا دخلت عليه السين اوسوف فقلت سيفعل اوسوف يفعل اختص بزمان الاستقبال واذادخلت عليه لام الابتداء اختص باالحال نحو انه ليأكل.

**ترجمه**: چې كله داخل شي په دې فعل مضارع باندې سين اوياسوف اوته داسې ووايې چې سيفعل اوياسوف يفعل نوبيادافعل مضارع خاص كېږي ترزماني استقبالي پورې اوچې كله داخل شيّ په دې فعل مضارع باندې لام دابتداء نوبيادا فعل مضارع ورخاصه كېږي ترزمان حالي پورې مثال لكه انه ليأكل.

**تشريح**: كله چې فعل مضارع مطلقه ذكرشي اوورسره سين اوياسوف اويالام ابتداء نه وي موجود نوبياپه دې مضارع كښې هم احتمال دحال وي اوهم په كښې احتمال داستقبال وي خوليكن چې كلهورباندې سين اوياسوف داخل شي نوبيادا فعل مضارع مختص وي ترزمان استقبال پورې خوليكن بيادا سين لپاره داستقبال قريب دى اوسوف لپاره داستقبال بعيد دى نوچې وويل شي چې سوف يفعل نومعنىٰ به داوي چې زرده چې دايوسړى به كاروكړي اوچې وويل شي چې سيفعل نومعنىٰ به داوي چې ډيرزرده چې دايوسړى به كاروكړي اوچې كله په دې فعل مضارع باندې لام دابتداء داخل شي نوبيادافعل مضارع ورمختصه وي ترحال پورې نوچې وويل شي چې انه لياكل معنىٰ به داوي چې يوسړى فى الحال خوراك كوي نودا سين اوسوف علامې داستقبال دي اودالام دابتداء علامه دحال ده.

والمبنى للفاعل منه ماكان حرف المضارعة منه مفتوحاً الاماكان ماضيه على اربعة احرف فان حرف المضارعة منه يكون مضموماً ابداً نحو يدحرج ويكرم ويقاتل ويفرح وعلامة بناء هذه الاربعة للفاعل كون الحرف التى قبل آخره مكسوراً ابداً.

**ترجمه**: اوفعل مبني للفاعل ددې فعل مضارع نه عبارت دى دهغه فعل نه چې حرف مضارعت دهغه فعل نه به مفتوح وي مگرداحرف مضارعت به نه وي په كښې

مفتوح چې کله وي فعل ماضي ددې مضارع په څلورو حرفونوباندې نوپه دې وخت کښې به بيا دا احرف مضارعت مضموم وي دهميشه لپاره مثال لکه يدحرج اويکرم اويقاتل اويفرح په ضمې دحرف مضارعت سره په څلورو واړو مثالونو کښې اوعلامه دجوړيدو ددې څلوروا قسامو دفعل مضارع مبني للفاعل داده چې هغه حرف چې مخکې دى له اخيرنه هغه به په کښې مکسور وي دهميشه لپاره .

**تشريح**: لکه څنګه چې فعل ماضي دوه قسمه وه اول قسم فعل ماضي مبني للفاعل وه اودويم قسم فعل ماضي مبني للمفعول وه نوهمدا رنګه فعل مضارع هم په دوه قسمه ده اول قسم فعل مضارع مبني للفاعل ده اودويم قسم فعل مضارع مبني للمفعول دى اوبيا دا فعل مضارع مبني للفاعل په خپل کورکښې په دوه قسمه ده اول قسم هغه فعل مضارع ده چې دهغې ماضي په څلور حرفونو باندې وي يعنې په ماضي کښې يې صيغه دواحدمذکرغائب په څلور حرفونو باندې وي اودويم قسم هغه ده چې ددې ماضي په څلورو حرفونو باندې نه وي بلکه يا دماضي درې حرفونه وي اويا دڅلورو نه زيات حرفونه وي نوپه دې اول قسم کښې حرف مضارعت به مضموم وي اوماقبل اخيربه په کښې مکسوروي اوپه دې دويم قسم کښې حرف مضارعت مفتوح وي اوماقبل اخيربه کله په کښې مکسور وي اوکله به په کښې مضموم وي نو علامه دفعل مبني للفاعل په اول قسم کښې داده چې ماقبل اخيرپه کښې مکسوروي اوعلامه دفعل مبني للفاعل په دويم قسم کښې داده چې حرف مضارعت به په کښې مفتوح وي اودا اول قسم ورشامل دى څلورو بابونو ته فقط اول باب درباعي مجردو لکه يدحرج اودويم باب دافعال دى لکه يکرم اودريم دمفاعلې دى لکه يقاتل اوڅلورم باب دتفعيل دى لکه يفرح نوپه دې څلورو بابونو کښې علامه دکيدلو دفعل مضارع مبني للفاعل داده چې ماقبل اخيربه په کښې مکسوروي اوحرف مضارعت به په دې بابونو کښې مضموم وي نودحرف مضارعت مفتوح کېدل علامه نه ده لپاره دکېدلو دفعل مضارع مبني للفاعل ځکه چې حرف مضارعت په دوئ کښې مضموم وي اوهرچې دا دويم قسم دفعل مضارع دى نودا ورشامل دى له دې څلورو بابونو نه غير

Maktaba Tul Ishaat.com

ټولوابوابوته که هغه ابواب دثلاثي مجردووي اوکه ابواب دثلاثي مزیدفیه وي اوکه ابواب درباعي مزیدفیه وي نوپه دې ټولوبابونوکښې علامه دفعل مضارع مبني للفاعل داده چې حرف مضارعت به په کښې مفتوح وي .

اوداقول دمصنف چې وعلامة بناء الی آخره جواب دی داعتراض نه معترض وايي چې هرکله په دې څلوروبابونوکښې حرف مضارعت په مضارع مبني للفاعل کښې مضموم شو لکه څنګه چې داحرف مضارعت په مضارع مبني للمفعول کښې مضموم دی نوبیاخوفرق رانه غلوپه مابین دفعل مضارع مبني للفاعل کښې اوپه مابین دفعل مضارع مبني للمفعول کښې نومصنف ورته جواب ورکړو چې حرف مضارعت اګرچې په مبني للفاعل اومبني للمفعول دواړوکښې مضموم دی خولیکن بیاهم ددوئ دواړو په مابین کښې فرق موجود دی اوهغه فرق دادی چې په دې فعل مضارع مبني للفاعل کښې ماقبل اخیرمکسوروي اوپه دې فعل مضارع مبني للمفعول کښې ماقبل اخیر مفتوح وي نوداحرکت دماقبل اخیرمداردی لپاره دفرق .

**اعتراض:** معترض وايي چې څه وجه ده چې فرق په مابین دمبني للفاعل کښې اودمبني للمفعول کښې په دې څلوروبابونوکښې په دې طریقې سره وکړی شو چې په مبني للفاعل کښې ماقبل اخیرته کسره ورکړی شوه اوپه مبني للمفعول کښې ماقبل اخیرته فتحه ورکړی شوه حال دادی چې لکه څنګه چې په دې طریقې سره فرق حاصلېږي په مابین دمبني للفاعل کښې اوپه مابین دمبني للمفعول کښې نو همدارنګه دافرق حاصلېده ددې طریقې په عکس سره په دې شان چې په مبني للفاعل کښې ماقبل اخیرته یې فتحه ورکړې وای اوپه مبني للمفعول کښې یې کسره ماقبل اخیرته ورکړې وای نوڅه وجه ده چې دامذکوره طریقه یې غوره کړه اوددې طریقې عکس یې نه کړو غوره .

**جواب:** مونږ ورته وایوچې دمضارع مبني للفاعل نه اسم فاعل مؤخوذ دی اوپه اسم فاعل کښې ماقبل اخیرمکسوروي اودفعل مضارع مبني للمفعول نه اسم مفعول مؤخوذ دی اوپه اسم مفعول کښې ماقبل اخیرمفتوح دی نوچې فرق په دې مذکورې

طريقې سره وکړی شو نوددې فائدې داشوه چې دمؤخوذ اومؤخوذمنه په مابين کښې تغيرقليل شو اوکه چيرته فرق په عکس ددې طريقې سره شوی وای نوبياتغير په مابين دمؤخوذ اومؤخوذمنه کښې زيات جوړيدو نولپاره دتغيرکمولوفرق په دې مذکورې طريقې سره وشو اوددې په عکس سره فرق ونه کړی شو .

**مثاله من يفعل نحو ينصرينصران ينصرون الى آخره وقس على هذايضرب ويعلم ويدحرج ويكرم ويقاتل ويفرح ويتكسرويتباعد وينقطع ويجتمع ويقعنسس ويسلنقى ويتدحرج ويحرنجم ويقشعر .**

**ترجمه**: مثال دفعل مضارع مبني للفاعل يعنې دباب دنصر ينصر نه لکه ينصر ينصران ينصرون ترآخيره پورې اوپه دې باندې ورقياس کړه ضرب يضرب باب اوعلم يعلم باب اورباعي مجردلکه يدحرج اوباب افعال لکه يکرم اوباب مفاعله لکه يقاتل اوباب تفعيل لکه يفرح اوباب تفعل لکه يتکسر اوباب تفاعل لکه يتباعد اوباب انفعال لکه ينقطع اوباب افتعال لکه يجتمع اوباب افعل په تشديددلام سره لکه يحمر اوباب افعال په تشديد دلام سره لکه يحمار اوباب استفعال لکه يستخرج اوباب افعيعال لکه يعشوشب اوباب افعنلال لکه يقعنسس اوباب افعنلاء لکه يسلنقى اودرې بابونه دثلاثي رباعي مزيدفيه چې اول باب تدحرج دی لکه يتدحرج اودويم باب احرنجام دی لکه يحرنجم اودريم باب افعلال دی لکه يقشعر .

**تشريح**: مصنف چې داکوم افعال ذکرکړي دي په مثال دفعل مضارع مبني للفاعل کښې نودامثالونه هم دقسم اول دي چې ماضي دهغې په څلورو حرفونوسره وي اوهم مثالونه دقسم ثاني دي چې دهغه ماضي په څلور حرفونو سره نه وي نوپه دې کومومثالونوکښې چې ياء حرف مضارعت مفتوح دی نودامثالونه دقسم ثاني دي اوپه کومومثالونوکښې چې حرف مضارعت مضموم دی نوپه هغوئ کښې ماقبل اخير مکسوردی اومثالونه دي لپاره دقسم اول .

Maktaba Tul Ishaat.com

**حل لغات**: يتكسر ماتېدل اويتباعد لرې کېدل اويحمر اويحمار سور کېدل او يعشوشب دزمکې ګیاه زیاتېدل اويقعنسس مُعنیٰ ده په شاتلل اوهمدارنګه بله معنیٰ ده سختیدل اويسلنقی معنیٰ ده په شاباندې ویده کېدل اويتدحرج معنیٰ ده رغړېدل اويحرنجم معنیٰ ده جمعه کېدل اويقشعر معنیٰ ده دبدن ويښتان جګ درېدل .

والمبني للمفعول منه ماكان حرف المضارعت منه مضموماً ومقابل آخره مفتوحاً نحوينصر ويدحرج ويكرم ويقاتل ويفرح ويستخرج .

**ترجمه**: اوفعل مبني للمفعول چې ددې مضارع نه وي دېته وايي چې حرف مضارعت به په کښې مضموم وي اوماقبل اخيربه په کښې مفتوح وي مثال لکه ينصر اويدحرج اويكرم اويقاتل اويفرح اويستخرج .

**تشريح**: هغه فعل مضارع چې مبني للمفعول وي نويو قسم ده فقط په دې شان چې داعبارت ده دهغې فعل مضارع نه چې حرف مضارعت به په کښې مضموم وي اوماقبل اخيربه په کښې مفتوح وي اودامجموعه ضمه دحرف مضارعت اوفتحه دماقبل اخير علامه ده لپاره دکيدلو دفعل مضارع مبني للمفعول برابره خبره ده که ددې فعل مضارع ماضي په څلورو حرفونو سره وي اوکه په څلورو حرفونو سره نه وي بلکه دڅلورو حرفونو نه زيات وي ددې حروف اويا ورنه کم وي اوبرابره خبره ده که ثلاثي مجرد وي اوکه ثلاثي مزيد وي اوکه رباعي مجرد وي اوکه رباعي مزيدفيه وي اومصنف چې داکوم مثالونه ذکرکړي دي په دې مثالونوکښې داول مثال ثلاثي مجرد دی اودويم رباعي مجرد دی اوداباقي ټول ثلاثي مزيدفيه دي اوپه دې باندې رباعي مزيدفيه ورقياس دي .

**اعتراض**: معترض وايي چې څه وجه ده چې مصنف په مثالونو دفعل مضارع مبني للفاعل کښې هم افعال متعديه ذکرکړي دي اوهم يې افعال لازمه ذکرکړي دي اوپه مثال دفعل مضارع مبني للمفعول کښې فقط افعال متعديه ذکرکړي اوافعال لازمه نه

دي ذكركړي ځكه چې داكوم مثالونه چې مصنف دفعل مضارع مبني للمفعول لپاره ذكركړي داټول افعال متعديه دي .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې مصنف ددې فعل مضارع مبني للمفعول لپاره ځكه په مثال كښې ټول افعال متعديه ذكركړي اوفعل لازم يې ورتـه نه دی ذكركړی په مثال كښې چې اشاره كوي دې خبرې ته چې فعل لازمي مبني للمفعول نه راځي مګرپه واسطې دحرف جر سره مثال لكه يجتمع نو دافعل مضارع دی اولازم دی نو دابغير دواسطې دحرف جرنه مبني للمفعول نه نشي جوړيدای بلكه په واسطې دحرف جرسره دامبني للمفعول جوړېږي په دې شان چې ويلی به شي يجتمع به اوپه كوم ځای كښې چې فعل لازمي مبني للمفعول راغلی وي بغيردواسطې دحرف جرنه نوپه هغه ځای كښې به ضرور ددې فعل لازم سره حرف جر مقدر وي .

## واعلم انه يدخل على الفعل المضارع ماولاالنافيتان فلايتغير ان صيغته تقول لاينصر لاينصران الى آخر .

**ترجمه**: پوه شه چې داخلېږي په فعل مضارع باندې ما اولا چې نافيتان دي نودوئ دواړه نه متغيركوي صيغه ددې فعل مضارع مثال لكه ينصر ينصران تراخيره پورې چې تنصر دی .

**تشريح**: هركله چې مصنف فارغ شوله تعريف دفعل مضارع نه اوله بيان دانواعو دفعل مضارع نه نوشروع يې وكړه په بيان دهغو امورو كښې چې هغوئ عوارض داخله دي په دې فعل مضارع باندې مثال لكه حروف نفي اوحروف جازمه نوداهغه امور دي چې عوارض دي چې په فعل مضارع باندې ورداخلېږي اومصنف ددې انواعو دفعل مضارع بيان مقدم كړو په بيان دهغوامورو چې هغوئ عوارض داخله وي په دې فعل مضارع باندې ځكه چې داانواع دفعل مضارع فعل مضارع ته راحاصلېږي په اعتبارد ذات سره اوشك نشته چې ذات طبعاً مقدم وي په عارض باندې نوځكه مصنف بيان دانواعودفعل مضارع چې هغوئ عبارت دي له فعل مضارع مبني للفاعل نه اوله فعل مضارع مبني للمفعول نه مقدم كړو په بيان ددې حروف نافيه اوحروف جازمه باندې .

Maktaba Tul Ishaat.com

**اعتراض**: معترض وايي چې دا ضمیرمنصوب په انه کښې ضمیردغائب دی او ضمیردغائب لپاره لابدي ده دمرجع نه ځکه چې دضمیرتعریف داسې شوی دی چې: اسم وضع ليدل على متكلم اومخاطب اوغائب تقدم ذكره لفظاً اومعنىً اوحكماً، یعنې ضمیرعبارت دی له هغه اسم نه چې هغه به وضعه کړی شوی وي لپاره ددې چې دلالت وکړي په متکلم باندې اویاپه مخاطب باندې اویاپه غائب باندې په دې شرط چې ددې غائب به مخکې ذکرشوی وي یالفظاً اویامعنیً اویاحکماً اوپه عبارت دمصنف کښې چې کوم ضمیرذکردی ددې مرجع مخکې نه دی ذکرنولازم شو اضمار قبل الذکر.

**جواب**: مونږ ورته وایوچې ضمیرپه دوه قسمه دی اول قسم هغه ضمیردی چې هغه واقع وي وړاندې دجملې نه اوداوروسته جمله تفسیروي ددې ضمیرلپاره نودې ضمیرته ضمیرشان وايي که چیرته مذکر وي لکه انه زید قائم اودې ضمیرته ضمیر قصه وايي که چیرته مؤنث وي لکه انها زینب قائمة اودا ضمیر راجع وي هغه شي ته چې کوم معهود وي په ذهن کښې چې دهغه بیان داوروسته جمله کوي نو دا قسم دضمیر مخکې دمرجع ذکرنه غواړي اودویم قسم دضمیر هغه دی چې معترض ذکرکړو په اعتراض کښې اودادویم قسم دضمیرمرجع غواړي اوپه عبارت دمصنف کښې چې کوم ضمیرذکردی داله قبیلې داول قسم نه دی نوهیڅ حاجت نشته وجود دمرجع نه مخکې له دې ضمیرنه.

**اعتراض**: معترض وايي چې نه منم داخبره چې داماولا نه متغیرکوي صیغه دفعل بلکه دوئ دواړه تغیرراولي په صیغې دفعل کښې په دې شان چې داصیغه مخکې له دخول ددې ماولانه مثبته وي اووروسته له دخول دماولا نه منفي جوړېږي.

**جواب**: مونږ ورته وایوچې دااعتراض به په هغه وخت کښې وارد وه که چیرته مراد له تغیرنه مطلق تغیر وای برابره خبره ده که من حیث اللفظ وي اوکه من حیث المعنی وي خولیکن داسې نه ده بلکه مراد له دې تغیرنه هغه تغیردی چې من حیث اللفظ وي منې داماولا چې کلهورداخل شي په فعل مضارع باندې نودوئ دواړه په لفظ دفعل مضارع کښې تغیرنه راولي په دې شان چې په کښې عمل وکړي اوهرچه هغه تغیردی

چې هغه د اثبات نه اړول وي طرف د نفی ته نو د اقسم تغير په فعل مضارع کښې من حيث المعنیٰ تغير دی نه من حيث اللفظ .

**اعتراض**: معترض وايي چې هر کله د اما اولا تغير کوي په فعل مضارع کښې من حيث المعنیٰ نو بايد چې دوئ په لفظ کښې هم تغير کړی وای په دې شان چې په کښې يې عمل کړی وای لپاره د دې چې دې تغير لفظي دلالت کړی وای په تغير معنوي باندې نو څه وجه ده چې دوئ ته عمل نه دی ورکړی شوی .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې وجه لپاره د عدم عمل د اده چې شرط د عمل په دوئ دواړو کښې نه دی موجود چې هغه اختصاص دی ترنوع د اسم پورې او يا ترنوع د فعل پورې څکه چې د اما او لا لکه څنګه چې داخليږي په اسم کښې نو همدارنګه داخليږي په فعل کښې .

**اعتراض**: معترض وايي چې نه منم دا خبره چې د اما اولا عمل نه کوي په لفظ د فعل کښې بلکه زه به درته وښايم چې لا به عمل کړی وي په لفظ د فعل کښې مثال لکه د اقول د عربو جئته لئلا يکن له حجة علی، نو په دې قول کښې الا داخل شوی دی په دې فعل مضارع باندې چې يکن دی او دې فعل مضارع ته جزم ورکړی .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې د ا اعتراض به په هغه وخت کښې وارد وه که چيرته مراد له عدم عمل د ما او لا نه دا وای چې دوئ دواړه عمل نه کوي په طريقې د اطلاق سره برابره خبره ده که ماقبل سبب وي لپاره د مابعد او که نه وي او حال دا دی چې دا نه دی مراد بلکه مراد دا دی چې دوئ دواړه په هغه وخت کښې عمل نه کوي په لفظ د مضارع کښې چې کله ماقبل د دوئ سبب نه وي لپاره د مابعد مثال لکه لاينصر چې په دې ځای کښې د لا نه ماقبل هيڅ نه دې موجود او هرچې په ځای کښې چې د لا نه ماقبل سبب وي لپاره د ماعبد نو بيا د الا عمل کوي د جزم او په دې مذکور مثال کښې هم ماقبل د لا چې مجيئت دی سبب دی لپاره د مابعد د لا چې عدم حجت توب دی نو څکه دې لا په يکن فعل مضارع کښې د جزم عمل کړی دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

ويدخل عليه الجازم فيحذف حركة الواحد والواحدة ونون التثنية والجمع المذكر والواحدة المخاطبة ولا يحذف نون جماعة المؤنث فانه ضميركالواو فى جمع المذكر فيثبت على كل حال .

**ترجمه**: او داخلېږي په دې فعل مضارع باندې عامله جازمه نو دا عامل حذف کوي او ساقطوي ددې فعل مضارع حرکت دواحد مذکراو حرکت دواحدې مؤنثې غائبې او حذفوي نون دتثنې او دجمعې مذکرې او نون دواحدې مؤنثې مخاطبې او نه حذف کوي نون دجمعې مؤنثې ځکه چې دا نون دجمعې مؤنثې ضميردی لکه واو چې ضميردی په جمعه مذکره کښې نو دا نون به موجود وي په جمعه مؤنثه کښې په هرحالت کښې .

**تشريح**: زده کړه دا خبره چې جزم مختص دی ترفعل مضارع پورې ځکه چې په جزم سره اسقاط دحرکت کېږي او په فعل مضارع کښې حرکت ثقيله موجود دی چې هغه ضمه ده نو دا فعل مضارع لائقه دی چې ورته جزم ورکړی شي او بيا جزم فعل مضارع ته اکه څنګه چې حروف ورکوي چې هغه پنځه حروف دي .

۱- لم .

۲- لما .

۳- ان شرطيه .

۴- لام الامر .

۵- لانهی .

نو همدارنګه اسماء جازمه هم جزم ورکوي فعل مضارع ته لکه من تضرب اضرب او ماتشتر اشترخو ليکن دا حروف جازمه اصل دي په جزم ورکولو کښې په خلاف اسماء جازمه چې هغوئ اصل نه دي په جزم کښې چې مرادله اسماء جازمه نه اسماء شرط دي او دا اسماء الشرط چې جزم ورکوي نو دا په دې اعتبارسره ورکوي چې دوئ ...ن دي معنیٰ دان شرطيه لره نو دا جوازم چې کله ورداخل شي په فعل مضارع

باندې نودوئ جزم ورکوي اوعلامه دجزم درې شيان دي اول شی اسقاط دحرکت خوليکن داپه ځلوروصيغو کښې دی چې يفعل اوتفعل اوافعل اونفعل دی په دې کښې دادويمه صيغه مشترکه ده په مابين دواحدې مؤنثې غائبې کښې اوپه مابين دواحد مذکرمخاطب کښې نوجوازم په دې صيغوکښې اسقاط دحرکت کوي په دې شرط چې ددوئ په اخيرکښې حرف علت نه وي موجود اودويم شی چې علامه دجزم ده اسقاط دحرف علت دی اودااسقاط دحرف علت هم په دې وړاندې ځلوروصيغوکښې وي فقط په دې شرط چې داځلوروارہ صيغې له قبيلې دمعتل اللام نه وي يعنې چې ددوئ په اخيرکښې حرف علت وي برابره خبره ده که داحرف علت واو وي اوکه ياء وي اوکه الف وي اودريم شی چې علامه دجزم ده هغه اسقاط دنون اعرابي دی چې دانون اعرابي موجود دی په اوه صيغوکښې چې ځلورصيغې دتثنې دي دوه دمذکر اودوه دمؤنث اودوه صيغې دجمعې مذکردي اويوه صيغه دواحدې مؤنثې مخاطبې ده چې په دې اوه(۷) صيغوکښې نون اعرابي موجود دی ځکه چې دانون په کښې علامه درفع ده ځکه چې ددې اوه (۷) صيغورفعه په نون اعرابي سره وي لکه څنګه چې دمخکې ځلوروصيغورفعې په ضمې سره وي نوپه دخول دجوازمو سره په دې اوه صيغوباندې ساقطېږي نون اعرابي برابره خبره ده که په اخيرددوئ کښې حرف صحيح وي اوکه په اخيرکښې يې حرف علت وي اوهرچې جمعه مؤنثه غائبه ده لکه يفعلن اوجمعه مؤنثه مخاطبه ده لکه تفعلن نوددوئ په اخيرکښې چې کوم نون دی نوداضمېردی نودانه ساقطېږي په حروف جازمه سره بلکه داجوازم عمل دجزم نه کوي په دې دوه صيغو دجمعې مؤنثې کښې ځکه چې دا دوه صيغې دجمعې مؤنثې مبني دي .

**اعتراض**: معترض وايي چې نه منم چې يوله حروفوجازمه نه لم دی بلکه لم له حروفوناصبه نه دی يعنې فعل مضارع ته نصب ورکوي په ځای دجزم باندې لکه په دې قول دخدای پاك کښې چې : الم نشرح لك په نصب دنشرح په قرائة دبعضو قاريانو کښې نوپه دې قرائة دبعضوکښې لم داخل شوی دی په فعل مضارع باندې اوحال

دادی چې فعل مضارع ته یې جزم نه دی ورکړی بلکه د جزم په ځای یې ورته نصب ورکړی دی نو شمارل د لم په جوازمو کښې نه دي صحیح .

**جواب:** مونږ ورته وایو چې دامذکور قرائت چې د بعضو قاریانو قرائت دی مبني دی په لغت د بعضو عربو باندې په دې شان چې د بعضو عربو په نزد باندې دالم د حروف جازمه نه نه دی بلکه له حروف ناصبه نه دی او د نحاتو او د صرفیانو کلام بناء دی په لغت د جمهورو عربو باندې او په لغت د جمهورو عربو کښې دالم له حروفو جازمه نه دی .

**اعتراض:** معترض وایي چې داجازم چې کله ورداخل شي په فعل مضارع باندې نو عمل کوي په فعل مضارع کښې لفظاً چې هغه جزم دی او معنیً هم چې هغه ګرزول د فعل مضارع مثبت دي منفي او مصنف د دې جازم لفظي عمل ذکر کړی څه وجه ده چې د دې جازم معنوي عمل یې نه دی ذکر کړی حال دادی چې د جازم لپاره دادواړه عملونه ثابت دي .

**جواب:** مونږ ورته وایو چې د دې وجه داده چې مقصود په دې فن کښې بحث دی د احوالو د لفظ نه او هر چې بحث دی د احوالو د معنیٰ نه نو هغه په دې فن کښې چې علم صرف دی نه دی مقصود نو ځکه مصنف معنوي عمل د دې جازم ذکر نه کړو .

## تقول لم ينصر لم ينصرا لم ينصروا لم تنصر لم تنصرا لم ينصرن لم تنصر لم تنصرا لم تنصروا لم تنصري لم تنصرا لم تنصرن لم انصر لم ننصر .

داګردان دی د فعل مضارع چې ور باندې جازم داخل شوی وي نو په دې ګردان کښې جازم لم دی او د لم په څلورو صیغو کښې حرکت اعرابي غورزولی چې ینصر او تنصر او انصر او ننصر دی او په اوه (۷) صیغو کښې یې نون اعرابي غورزولی دی چې څلور تثنې دي او دوه جمعې مذکرې دي او یوه واحده مؤنثه مخاطبه دی او په دوه صیغو کښې یې عمل نه دی کړی چې یوه جمعه مؤنثه غائبه ده او بله جمعه مؤنثه مخاطبه ده .

**ويدخل عليه الناصب فيبدل من الضمة فتحة ويسقط النونات سوى نون جمع المؤنث فتقول لن ينصر لن ينصرا الى لن انصرو ن ننصر.**

**ترجمه**: اوداخلېږي په دې فعل مضارع باندې عامل ناصبه نوداعامل ناصبه په بدله دضمې کښې فتحه پيداکوي په دې فعل مضارع کښې اونونات ساقطوي بغيردنون جمعې مؤنثې نه برابره خبره ده که غائبه وي اوکه مخاطبه وي نوته به وايې لن ينصرا په اسقاط دنون دتثنې سره ترلن انصر اولن ننصر پورې په فتحې سره په اخيردې دواړوکښې.

**تشريح**: زده کړه داخبره چې فعل مضارع معربه ده په دې شرط چې خالي وي دنون دجمعې مؤنثې نه که غائبه وي اوکه مخاطبه وي اودنون تاکيدنه که ثقيله وي اوکه خفيفه وي ځکه چې کله دانون دجمعې مؤنثې اويانون دتاکيد ملحق شوی وي تراخير دفعل مضارع پورې نوبيادافعل مضارع مبني وي نوچې کله عامل ناصبه داخل شي په فعل مضارع باندې نوداعامل ناصبه فتحه ورکوي هغوصيغوته چې دهغوئ رفعه په ضمې سره وي چې هغوئ عبارت دي له يفعل اوتفعل اوافعل اونفعل نه نوددوئ نصب به په فتحې سره وي اوپه کومو صيغوکښې چې نون اعرابي دی چې هغوئ اوه (۷) صيغې دي په هغوئ کښې دانون اعرابي ساقطوي نوددوئ نصب په اسقاط دنون اعرابي سره دی ځکه چې دانون اعرابي علامه درفعې ده اوهرچې نون دجمعې مؤنثې دی برابره خبره ده که جمعه مؤنثه غائبه وي اوکه جمعه مؤنثه مخاطبه وي نودانون په عامل ناصب سره نه ساقطېږي ځکه چې دانون اعراب نه دی بلکه دانون ضميردی اوضمير خوپه عامل سره نه ساقطېږي اوداجمعه مؤنثه که غائبه وي اوکه مخاطبه وي دذې نون نه ساقطېږي په عامل سره که ناصب وي اوکه جازم وي.

په دې کلمه دلن کښې اختلاف واقع شوی دی په اعتباردلفظ ددې لن سره اوهم په اعتباردمعنیٰ ددې لن سره نوهغه اختلاف چې واقع دی په لفظ دلن کښې دهغه تفصيل دادی چې په دې لفظ دلن کښې درې مذهبه دي اول مذهب دسيبويه دی نوهغه وايي چې داالفظ دلن اصل دی په خپله اوپه ده کښې نه څه تغيرواقع شوی اونه

Maktaba Tul Ishaat.com

راموٓخوذ دی له بل لفظ نه او محشي همدغه مذهب ته صحيح مذهب ويلی دی اودويم مذهب دفراء دی نوهغه وايي چې دالن په اصل کښې لا وه اوبيا دا الف دلابدل کړی شو په نون سره نوورنه لن جوړشو خوليکن دا مذهب مخدوش دی ځکه شائع په کلام دعربو کښې ابدال دنون دی په الف سره نه ابدال دالف په نون سره مثال لکه داقول دخدای پاك : لنسفعاً چې داپه نون سره دی په اخيرکښې خوليکن دانون په کښې ليکل شوی دی په دوه فتحوسره اوبياوروسته دانون بدل کړی شو په الف سره اودريم مذهب دخليل اودکسائي دی نودوئ دواړه وايي چې دالن په اصل کښې لا أن وه په همزې سره وروسته له الف نه اوبياوروسته لپاره دحصول دتخفيف همزه حذف کړی شوه نوالتقاء الساکنين راغله په مابين دالف اوپه مابين دنون کښې نوالف حذف کړی شو نوورنه لن جوړ شو اودامذهب هم مخدوش دی په دې شان چې په لن کښې جائزدي چې ددې لن په حيزکښې کوم شی موجود وي يعنې داشی معمول دهغې فعل مضارع وي چې په هغې باندې لن ورداخل شوی وي مقدم کړی شي په لن باندې مثال لکه زيداً لن يضرب نودازيد مفعول به دی لپاره ديضرب اومقدم شوی دی په لن باندې اوپه ان کښې نه دي جائز چې ددې معمول مقدم کړی شي نوداسې نه ويل کېږي چې زيداً يعجبني ان يضرب نودازيداً مفعول به دی لپاره ديضرب اونه دي جائز ددې مقدم کېدل په ان باندې نومعلومه شوه چې دالن په اصل کښې لا ان نه وه يعنې ددې لن په اصل کښې ان نه وه موجود .

اوهرچې هغه اختلاف دی چې هغه موجود دی په لن کښې په اعتبار دمعنیٰ سره نوهغه دادی چې په دې معنیٰ دلن کښې درې مذهبونه دي اول مذهب دجارالله الزمخشري صاحب کشاف دی نوهغه وايي چې ددې لن معنیٰ نفی دمستقبل ده په طريقې دتاکيد سره ځکه چې لپاره دهغې نفی چې خالي وي دتاکيدنه ويلی شي لاافعل په لانافيه سره اولن افعل ويلی شي دهغې نفې لپاره چې په طريقې دتاکيد سره وي نوله دي نه معلومه شوه چې دالن لپاره دنفي دی په طريقې دتاکيد سره اودويم مذهب دادی چې دالن لپاره دنفي دمستقبل دی په طريقې دتابيد سره اوبيا اهل ددې مذهب

په خپل كور كښې مختلف شوي دي په دې شان چې بعضې وايي چې د تابيد په اعتبار د دنيا سره وي يعني د دنيا تابيد ورنه مراد وي او مراد ورنه عام تابيد نه دى چې ورشامل وي دنيا او آخرت ته د دوئ لپاره دليل د اآيت دى چې لن تراني الآية نو په دې آيت كښې چې رويت نفې دى نو دا په دنيا كښې هميشه دى او هرچې آخرت دى نو په هغې كښې نفي د رويت نشته بلكه رويت د خداى پاك په آخرت كښې حق او ثابت دي او بعض نور خلك چې اهل د دې دويم مذهب دي وايي چې د الن لپاره د نفي د مستقبل دى خو ليكن په طريقې د عام تابيد سره په دې شان چې د افعل به نفې وي په دنيا كښې هم او په آخرت كښې هم او د دوئ لپاره دليل د اقول د خداى پاك دى چې :

لَن يَخْلُقُوا ذُبَابًا وَلَوِ اجْتَمَعُوا لَهُۥ الآية (١)

نو په دې آيت كښې د انفي ورعامه ده تابيد د دنيا او آخرت دواړو ته ځكه چې دابتان نه په دنيا كښې ذباب يعني مچ پيدا كولى شي او نه په آخرت كښې ذباب يعني مچ پيدا كولى شي او دريم مذهب دادى چې د الن پيدا كوي نفې د مستقبل خو ليكن دا نفي به خالي وي د تاكيد نه هم او د تابيد نه هم يعني په دې نفې كښې به نه تابيد موجود وي او نه به په كښې تاكيد موجود وي او د دوئ لپاره دليل د اقول د خداى پاك دى :

فَلَنْ أُكَلِّمَ الْيَوْمَ إِنسِيًّا ﴿٢٦﴾ الآية (٢)

نو په دې آيت كښې د انفي محدوده ده ترالیوم پورې او شك نشته چې تحديد منافي دى د تابيد سره نو كه چيرته د انفې ابدي واى نو بيا به د اتحديد نه وه صحيح نو هركله چې تحديد راغلى نو معلومه شوه چې د انفې چې په دې آيت كښې موجوده ده ابدي نه ده نو معلومه شوه چې د الن لپاره د نفي دى چې د انفي به خالي وي د تابيد نه .

Maktaba Tul Ishaat.com

ومن الجوازم لام الامرفتقول فى امرالغائب لينصر لينصرا لينصروا لتنصر لتنصرا لينصرن وغيرها وقس على هذاليضرب وليعلم وليدحرج وغيرها ومنها لاالناهية تقول فى نهى الغائب لاينصر لاينصرا لاينصروا لاتنصر لاتنصرا لاينصرن وفى نهى الحاضر لاتنصرلاتنصرا لاتنصروا لاتنصرى لاتنصرا لاتنصرن لاانصر لاننصر وكذاقياس سائرالامثلة .

**ترجمه**: بعضې له عواملوجازمه ؤنه لام امر دى نوته به وايي په امردغائب كښې لينصر ترلينصرن پورې اوپه دې باندې ورقياس كړه ليضرب ترليضربن پورې اوليعلم ترليعملن پورې اوليدحرج ترليدحرجن پورې اوله دې نه غيرنورافعال هم په دې مخكې لينصرباندې ورقياس دي لكه ليكرم اوليقاتل اوددوئ په شان نوراوبعض له عواملوجازمه ؤنه لاناهيه ده نوته به وايي په نهې غائب كښې: لاينصر لاينصرا لاينصروا لاتنصرلاتنصرا لاينصرن اوته به وايې په نهې حاحضركښې يعنې نهې دمخاطب كښې لاتنصرلاتنصرا لاتنصروا لاتنصرى لاتنصرا لاتنصرن لاانصر لاننصر اوهمدغه شان قياس دنورومثالونودى .

**تشريح**: زده كړه داخبره چې لام امرله حروف جازمه ؤنه دى اوورداخلېږي په مضارع باندې په اته (٨) صيغوباندې چې شپږ(٦) صيغې په كښې دغائب دي اودوه صيغې په كښې دمتكلم دي خوليكن مصنف فقط دغائب صيغې ذكركړي دي اودمتكلم صيغې يې نه دي ذكركړي نودې فعل مضارع ته امرغائب وايي خوليكن ورته امرغائب ويل په طريقې دتغليب سره دي په دې شان چې اكثرصيغې په كښې دامرغائب دي چې شپږصيغې دي اولږصيغې په كښې دمتكلم دي چې دوه صيغې دي نودې امرغائب ته غلبه وركړى شوه په امردمتكلم باندې نودې ټولوته امرغائب وويل شو اومصنف نصر ينصر دباب نه ددې امرغائب گردان ذكركړى دى اوددې باقي بابونونه يې نه دى ذكركړى نودباب دضرب يضرب نه به داسې گردان كولى شي چې

ليضرب ليضربا ليضربوا لتضرب لتضربا ليضربن اوپه باب د علم يعلم كښې به داسې گردان ددې امرغائب كړى شي حې لبعسم ليعلما ليعلموا لتعلم لتعلما ليعلمن اوپه باب ددحرج يدحرج كښې به ددې امرِ غائب داسې گردان كولى شي چې ليدحرج ليدحرجا ليدحرجوا لتدحرج لتدحرجا ليدحرجن اوپه دې باندې نوربابونه ورقياس دي لكه په باب افعال كښې به گردان ددې امرغائب داسې كولى شي چې ليكرم ليكرما ليكرموا لتكرم لتكرما ليكرمن اودالام امرنه داخلېږي په صيغود مخاطب باندې ځكه چې دصيغود مخاطب نه امربالصيغه چې ورته امرحاضروايي جوړېږي نوله دې وجهې نه په صيغود مخاطب باندې لام امرپه طريقې دقياس سره نه داخلېږي اوپه كوم ځاى كښې چې ورته داخل شوى وي په صيغود مخاطب باندې نوهغه به خلاف القياس وي .

اوچې كله لانهي داخل شي په فعل مضارع باندې نودې فعل مضارع نه فعل نهي جوړوي نودافعل نهي بعينه فعل مضارع دى خوليكن دومره خبره ده چې په كښې زيادت دلاناهيه شوى وي اوبيادالاناهيه په ټولوصيغودفعل مضارع باندې داخلېږي برابره خبره ده كه دافعل مضارع غائب وي اوكه دافعل مضارع مخاطب وي اوكه دافعل مضارع متكلم وي نودانهې په خپل كوركښې په دوه قسمه ده اول قسم نهي غائب ده نوهغه عبارت ده له دې نه چې طلب دترك دفعل به شوى وي دفاعل غائب نه نوددې نهي غائب لپاره شپږصيغې دي چې هغه شپږواړه صيغې دفعل مضارع غائب دي اودويم قسم نهي حاضر ده اودانهي حاضرعبارت ده دهغه نهي نه چې په هغې كښې طلب شوى وي دترك دفعل دفاعل مخاطب نه اويادفاعل متكلم نه نودې نهي ته نهي دحاضرويل په طريقې دتغليب سره دي ځكه چې حاضروايي مخاطب ته فقط خوليكن په دې نهي حاضركښې غونډې اته صيغې وي شپږصيغې دمخاطب وي اودوه صيغې دمتكلم وي نوچونكه صيغې دمخاطب زياتې دي له صيغودمتكلم نه نوټولوته نهي حاضرووېل شوپه طريقې دتغليب سره .

Maktaba Tul Ishaat.com

واماالامر باالصيغة وهوامرالحاضر فهوجارعلى لفظ المضارع المجزوم فان كان مابعد حرف المضارعت متحركاً فتسقط منه حرف المضارعت وتأتى بصورة الباقى مجزوماً فتقول فى الامر من تدحرج دحرج دحرجا دحرجوا دحرجى دحرجا دحرجن وهكذا تقول فرح وقاتل وتكسروتباعد وتدحرج.

**ترجمه**: اوهرچې امردی په اعتبارد صيغې سره چې داعبارت دی دامرحاضرنه نوداجاري دی په صيغې دفعل مضارع مجزومې باندې يعنې ددې امرحاضرصيغه بعينه صيغه دفعل مضارع مجزومې ده سره دلږ غوندې تغيرنه په دې صيغه دفعل مضارع کښې په دې شان چې په دې فعل مضارع مجزومه کښې که چيرته ددې حرف مضارعت نه وروسته حرف متحرك وه نودامرحاضر دجوړولو په وخت کښې به داحرف مضارعت ساقط کړی شي اوداباقي صيغه به راوړی شي مجزومه نوته به وايې په هغه امرحاضرکښې چې کوم جوړشوی وي دتدحرج نه يعنې درباعي مجردونه دحرج تراخيره پورې چې دحرجن دی اوهمدارنګه به وايې فرح په امرحاضردباب تفعيل کښې اوقاتل به وايې په امرحاضردباب مفاعلې کښې اوتکسربه وايې په امرحاضر دباب دتفعل کښې اوتباعد به وايې په امرحاضردباب دتفاعل کښې اوتدحرج به وايې په امرحاضردباب دتدحرج يتدحرج کښې چې رباعي مزيدفيه دی.

**تشريح**: زده کړه داخبره چې امرپه لغت کښې فعل اوحال ته وايي لکه په دې قول دخدای پاك کښې: ومآامرفرعون برشيد الآية. نوپه دې آيت کښې مرادله امرنه فعل اوحال دی ځکه چې دامرتوصيف شوی دی په دې آيت کښې په وصف درشيدسره اوپه رشيدسره فعل اوحال موصوف کېږي نه قول اولفظ نومعلومېږي چې مراد له امرنه په دې آيت کښې فعل اوحال دی اوهمدارنګه ويل کېږي په استعمال دعربو کښې چې امرفلان مسقيم نوددې مطلب داوي چې فعل فلان وحاله مستقيم اوامرپه اصطلاح دنحاتو کښې عبارت دی له دېنه چې :الامرصيغة يطلب بهاالفعل عن الفاعل .يعنې امرعبارت دی دهغې صيغې نه چې طلبولی به شي په دې صيغې سره فعل دفاعل نه

برابره خبره ده كه دافاعل مخاطب وي لكه په امرحاضركښې اوكه دافاعل غائب اويامتكلم وي لكه په امرغائب كښې اوبيادامطلق امرپه خپل كوركښې په دوه قسمه دى اول قسم امرباللام دى نوداعبارت دى دهغه امرنه چې په دې كښې به طلب شوى وي دفعل دفاعل غائب نه اويادفعل متكلم نه اوحصول ددې امرغائب په دې طريقې سره كولى شي چې په صيغودفعل مضارع باندې زيادت دلام امروكړى شي چې داصيغې به يادفعل مضارع غائب وي اويابه دفعل مضارع متكلم وي اواخيرددې صيغوبه مجزوم شوى وي په لام سره اودويم قسم امرحاضردى چې ورته امربالصيغه ويل كيږي نوداعبارت دى له هغه امرنه چې په ده سره به طلب دفعل شوى وي دفاعل مخاطب نه اودده حصول دفعل مضارع نه په دې طريقې سره راځي چې ددې فعل مضارع نه به حرف مضارعت حذف كړى شي نوكه چيرته له دې حرف مضارعت نه وروسته حرف متحرك وه نوبياحاجت نشته راوړو دهمزې وصليې ته نوهمزه وصليه به په اول ددې صيغې كښې نشي راوړى اواخيرددې امربه مجزوم كولى شي مثال لكه دحرج په جزم سره په اخيركښې نوداپه اصل كښې تدحرج وه په ضمې داخيرسره نوداتاء حرف مضارعت حذف كړى شواومابعد متحرك وه نوهمزه وصليه رانه وړاى شوه اواخيرته يې جزم وركړاى شواوكه چيرته له حرف مضارعت نه وروسته حرف متحرك نه وه بلكه ساكن وه نوبياوروسته له حذف دحرف مضارعت نه به همزه وصليه راوړى شي لپاره ددې چې لازم نشي ابتداء اوشروع په ساكن باندې مثال لكه انصر چې داپه اصل كښې تنصر وه نوحرف مضارعت حذف كړى شو اوپه اول كښې يې همزه وصليه راوړى شوه ځكه چې دانون چې وروسته واقع دى دحرف مضارعت نه ساكن وه اواخير مجزوم كړى شو نودتنصرنه انصر جوړشو .

اودې امرغائب ته لكه څنګه چې امرغائب وايې نوهمدارنګه ورته امرباللام وايې نوامرغائب ورته ويل په طريقې دتغليب سره دى ځكه چې په دې امر كښې طلب دفعل شوى وي دفاعل غائب نه اودفاعل متكلم نه خوليكن غائب ته غلبه وركړى شوه په متكلم باندې نودې ټولوته امرغائب وويل شو اوامرباللام ورته ويل په طريقې

Maktaba Tul Ishaat.com

دحقیقت سره دی ځکه چې په دې تولو صیغو کښې چې داامرغائب جوړشوی دفعل مضارع نه نودا په واسطې دلام سره جوړشوی دی اودې امرحاضرته لکه څنګه چې امرحاضر وای نوهمدارنګه ورته امربالصیغه هم وایي نوامرحاضرورته له دې وجهې نه وایي چې په دې امرسره طلب دفعل شوی وي دهغه فاعل نه چې هغه مخاطب اوحاضروي اوامربالصیغه چې ورته وایي ددې لپاره پنځه وجهې دي .

۱- وجه داده چې حصول ددې امرحاضرپه مخصوصې صیغې سره شوې وي چې هغه صیغه به مغایره اومخالفه وي دصیغې دفعل مضارع نه په خلاف دامرغائب چې دهغې حصول په څه مخصوصه صیغه باندې نه وي ځکه چې صیغه دامرغائب بعینه صیغه دفعل مضارع وي بلکه دهغې حصول په واسطې دلام سره وي .

۲- وجه داده چې دامرمعنی ده طلب دفعل دفاعل نه اوپه دې امرحاضرکښې دا طلب دفعل په صیغې سره وي یعنې په دې طلب باندې داصیغه دلالت کوي په خلاف دامرغائب چې دادلالت نه کوي په طلب دفعل په اعتباردصیغې سره بلکه په طلب دفعل باندې دلالت لام کوي چې کوم ورداخل شوی وي په امرغائب باندې .

۳- وجه داده چې داامرحاضرراحاصلیږي دفعل مضارع نه په حذف دحرف مضارعت سره په اول کښې اوپه اسقاط دحرکت سره په اخیرکښې اوشك نشته چې داحذف دحرف مضارعت اواسقاط دحرکت داخیر دواړه متحقق کیږي په صیغې دفعل مضارع کښې .

۴- وجه داده چې داامرحاضرپه اعتباردصورت سره مجزوم وي اګرچې په حقیقت کښې ددې جزم له قبیلې دجزم نه نه دی بلکه داوقف دی اوپه دې امرحاضرکښې جازم نه وي موجود نومنشأددې جزم چې په امرحاضرکښې موجود وي دانفس صیغه وي نوځکه ورته امربالصیغه وایي .

۵- وجه داده چې داامرحاضردلالت کوي په خطاب باندې په نفس صیغې سره ځکه چې په امرحاضرکښې دلالت په خطاب موجود دی اوحرف دخطاب په کښې

نشته نومعلومېږي چې دا دلالت په خطاب باندې په دې امرحاضرکښې په اعتبار دنفس صيغې سره دی .

**اعتراض**: معترض وايي چې دا قول دمصنف چې فهوجارعلى لفظ المضارع المجزوم باطل دی ځکه چې داجارمؤخوذ دی له جريان نه اوجريان معنیٰ داده چې يوشی دبل شي لپاره جزاء وي اوياحال وي اوياصفت وي اوياورباندې ورمعطوف وي اوياورته تاکيدوي اوياورته عطف بيان وي اوياورنه بدل وي اوشك نشته چې اسم فاعل خودفعل مضارع لپاره يوشی هم نه دی په دې مذکوروشيانوکښې نوده ته جاری على لفظ الفعل المضارع ويل نه دي صحيح .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې دااعتراض به په هغه وخت کښې وارد وه که چيرته مراد له جريان نه هغه معنیٰ وای چې کومه معنیٰ معترض ذکرکړی دی خوليکن دا سې نه دی بلکه مراد دجريان نه مماثلة ددې امرحاضرده دفعل مضارع سره په حرکاتو اوسکناتوکښې يعنې امرحاضربه مماثل وي دفعل مضارع سره په حرکاتواوسکناتو کښې اوشك نشته چې جريان په دې معنیٰ سره موجود دی په امرحاضرکښې مثلاً اضرب چې صيغه دامرحاضردی په شان دتضرب دی په حرکاتواوسکناتوکښې په دې شان چې په دواړوکښې يوسکون دی اودرې درې حرکتونه دي نواطلاق دجارپه امرحاضرباندې صحيح دی .

**اعتراض**: معترض وايي چې مصنف داخبره وکړه چې امرحاضرجاري دی په فعل مضارع باندې ولې ددې په ځای داسې ونه ويل چې داامرحاضرفعل مضارع معلوم دی سره له دې نه چې داامرحاضرپه اصل کښې فعل مضارع معلوم وه اوبياوروسته حرف مضارعت په کښې حذف کړی شو اوامرحاضرورنه جوړکړی شو .

**جواب**: مونږ ورته وايوچې کله چيرته مصنف ويلي وای په حق دامرحاضرکښې چې انه فعل مضارع په ځای دفهوجارٍ على لفظ المضارع المجزوم نوبيابه داتوهم شوی وه چې دامرحاضرهم مجزوم دی اومعرب دی لکه مضارع چې معربه وي اواعراب جزم وي په وخت ددخول دجازم کښې لکه دامذهب دکوفيانودی چې هغوئ

Maktaba Tul Ishaat.com

وايي چې امر حاضر معرب دی او اعراب ّ ده جزم دی او حال دادی چې حق په دې مقام کښې مذهب د بصريانو دی چې هغوئ وايي چې امر حاضر مبني دی په وقف سره .

**اعتراض**: معترض وايي چې څه وجه ده چې په وخت د جوړولو د امر حاضر کښې د فعل مضارع نه حرف مضارعت حذف کولی شي او سره د بقاء د دې حرف مضارعت نه ورنه امر حاضر نشي جوړولی .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې دا حرف مضارعت ځکه حذف کولی شي د امر حاضر نه ځکه که چیرته حرف مضارعت د امر حاضر نه حذف نه کړی شي نو لازم به شي التباس په مابین د امر حاضر کښې او په مابین د فعل مضارع او امر غائب کښې نو لپاره د دفعې د التباس حرف مضارعت حذف کړی شو له امر حاضر نه .

**اعتراض**: معترض وايي چې دا التباس په مابین د امر حاضر کښې او په مابین د امر غائب کښې لکه څنګه چې دفعه کېږي په حذف د حرف مضارعت سره د امر حاضر نه نو همدارنګه دا التباس دفعه کېږي په حذف د حرف مضارع سره د امر غائب نه په دې شان چې دا حرف مضارعت حذف کړی شي د امر غائب نه او باقي پاتې کړی شي په امر حاضر کښې نو څه وجه ده چې دا طریقه نه کړی شوه غوره لپاره د دفعې د التباس .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې دا امر حاضر کثیر الاستعمال دی په کلام د عربو کښې په نسبت سره امر غائب ته او شک نشته چې کثرت استعمال تقاضا د خفت کوي نو لپاره د حصول د خفت حذف د حرف مضارعت د امر حاضر نه وکړی شو او د امر غائب نه ونه کړی شو .

وان كان مابعد حرف المضارعت ساكناً فتحذف منه حرف المضارعت وتأتى بصورة الباقى مجزوماً مزيداً فى اوله همزة وصل مسكورة الا ان يكون عين المضارع منه مضموماً فتقول انصر انصرا انصروا انصرى انصرا انصرن وكذلك اضرب وانقطع واجتمع واستخرج وفتحوا همزة اكرم بناءً على الاصل المرفوض فان تكرم تأكرم .

**ترجمه**: اوكه چيرته مابعدله حرف مضارعت نه ساكن وه نوحذف كولى به شي داحرف مضارعت له دې فعل مضارع نه اوته به راتگ كوې په صورت ددې باقي صيغوباندې په صورت دمجزوم كښې په داسې حال كښې چې زيات كړى شوى وي په اول ددې باقي صيغې كښې همزه وصليه چې داهمزه وصليه به مكسوره وي مگرپه هغه وخت كښې به همزه وصليه نه وي مكسوره چې عين كلمه ددې فعل مضارع مضمومه وي نوپه دې وخت كښې به داهمزه مضمومه كوي نوته به وايې انصر تراخيره پورې چې انصرن دى اوهمدارنگه وايې به اضرب په باب دضرب يضرب كښې اوانقطع به ويې په باب انفعال كښې اواجتمع به وايې په باب افتعال كښې اواستخرج به وايې په باب استفعال كښې اودې عربوفتحه وركړې ده همزې ته په اكرم كښې چې داصيغه دامرحاضردى په باب افعال كښې اوداكاربناء دى په اصل دتكرم باندې هغه اصل چې هغه ترك كړى شوى دى په استعمال كښې ځكه چې داتكرم په اصل كښې تاكرم وه په همزې سره نوداهمزه وصليه نه ده بلكه هغه حرف دى چې موجود ده وروسته له حرف مضارعت نه اومتحرك دى .

**تشريح**: امرحاضرپه خپل كوركښې په دوه قسمه دى اول قسم هغه دى چې په هغه كښې كوم حرف واقع وي وروسته له حرف مضارعت نه هغه متحرك وي اوددې امرحاضربيان مخكې تيرشو اوداقسم دامرحاضرنه وه محتاج راوړودهمزې وصلې ته اودويم قسم دامرحاضرنه هغه امرحاضردى چې په هغه كښې وروسته دحرف مضارعت نه ساكن وي اوداقسم دحرف مضارعت محتاج دى راوړودهمزې وصلې ته

Maktaba Tul Ishaat.com

نوپه دې دويم قسم دامرحاضركښې چې كله حرف مضارعت حذف كړى شي نوهمزه وصليه بـه راوړى شي پـه سر ددې امرحاضركښې لپاره ددې چې لازم نشي ابتداء اوشروع په ساكن باندې چې دامحاله اومتعذره ده په كلام دعربوكښې .

**اعتراض**: معترض وايي چې هركله راوړل دهمزې وصلې لپاره ددې دي چې لازم نشي ابتداء اوشروع پـه ساكن باندې نودامقصود لكـه څنگـه چې پـه همزې سره حاصلېږي نوهمدارنگه دامقصود حاصلېږي لـه همزې نـه غيرپـه نوروحروفودزيادت سره چې داحروف زيادت دلفظ دسألتمونيها حروف دي نوڅه وجه ده چې پـه دې حروفو دزيادت كښې مصنف داهمزه غوره كړه لپاره دحصول ددې مقصود اودهمزې نه غيربل څه حرف ورته غوره نه كړو .

**جواب**: مونږ ورته وايوچې وجه لپاره دغوركولودهمزې دادى چې داهمزه قوي ده په نسبت سره باقي حروف زيادت ته نوځكه داهمزه غوره كړى شوه اوبـل حرف لـه دې حروف زيادت نه غوره نه كړى شو .

**اعتراض**: معترض وايي چې تاسوداوايي چې كله دحرف مضارعت نـه بعد حرف ساكن وي نوبيابـه همزه وصلې راوړى شـي پـه دې امرحاضركښې وروستـه لـه حذف دحرف مضارعت نـه نوداخبره ستاسومنقوضـه اوماتـه ده پـه خذ اوكل باندې چې دا دواړه صيغې دامرحاضردي نودااول جوړشوى دتأكل نـه اودويـم جوړشـوى لـه تأخذنـه نوپه دې فعل مضارع كښې پـه دواړومثالونوكښې هغه حرف چې واقع دى وروستـه لـه حرف مضارعت نـه ساكن دى چې همـزه ده اوحـال دادى چې وروستـه لـه حـذف كولودحرف مضارعت نه همزه وصليه نه ده راوړى شوې بلكه هغه همزه چې فـاء كلمـه ده حذف كړى شوې ده نوورنه خذاوكل جوړشوى دى .

**جواب**: مونږ ورته وايوچې نه منو داخبره چې همزه وصليه نه ده موجوده په دې خذ اوكل كښې بلكه همزه وصليه پـه كښې موجوده ده ځكـه چې داوجود دهمـزې وصلې عام ده كه فى الحال وي اوكه په اصل كښې وي په دې خذ اوكل كښې همزه وصليه پـه اصل كښې موجوده ده اګرچې فى الحال نـه ده موجوده ځكـه چې داخذپـه اصل كښې

أوخذ وه اوداكل په اصل كښې أؤكل وه په هرواحد كښې دوه همزې موجودې وي حې دااوله په كښې همزه وصليه ده اودادويمه په كښې هغه همزه ده چې واقع ده په منـبله دفـاء كلمـې كـښې نوپـه هرواحد كـښې هركلـه چـې دوه دوه همـزې جمعـه شـوې وي نودادويمه همزه په كښې حذف كړى شوه لپاره دحصول دتخفيف نوله دې نه بعد دى اول همزې ته حاجت نه شوپاتې ځكه چې وروستـه حرف ورنـه متحرك شو نـودا اولـه همزه هم حذف كړى شوه نوورنه كل اوخذ جوړشو .

اودې همزې وصلې ته له دوه وجهونه همزه وصليه وايي اوله وجه داده چې داهمزه چې كله په درج اومابين كښې واقع شي اوبياحذف كړى شي له دې وجهې نه چې واقع دى په درج كښې نووصل اواتصال حاصلېږي په مابين دهغه لفظ كښې چې دهمزې نـه وړاندې وي اودهغه لفظ كښې چې دهمزې نه وروستـه وي اودويمه وجه داده چې ددې همزې په واسطې سره وصول اورسېدل دمتكلم كېږي مقصود خپـل تـه چې هغـه تكلم اوتلفظ دى چې كله اول حرف ديوې كلمې ساكن وي .

اوددې همزې وصلې په مقابل كښې همزه قطعيه موجوده ده په دې شان چې همزه قطعيه عبارت دى دهغې همزې نـه چې هغـه بـه راوړى شوې وي لپـاره دبـل څـه غـرض اودهغې راوړل بـه نـه وي لپاره ددې چې لازم نشي ابتداء اوشروع په ساكن باندې مثـال لكـه همزه په باب افعال كښې چې داراوړى شـوى لپـاره دتعـديت اودې همزې تـه ځكـه همزه قطعيه وايي ځكه چې داهمزه چونكه نه ساقطېږي چې كلـه واقـع شـي پـه درج او وسط كښې نوداهمزه پيداكوي قطعه اوجدااوالى دماقبل دهمزې دمابعد دهمزې نه .

اوداهمزه وصليه په اعتباردحركت خپل سره په دوه قسمه ده اول قسم مكسوره ده اودويم قسم مضمومه ده نـوداهمزه وصليـه بـه پـه امرحاضركښې پـه هغـه وخـت كـښې مكسوره وي چې كله عين كلمې دفعل مضارع مكسوره وي لكـه اضرب اويامفتوحـه وي لكه اعلم اوپه دې صورت دكيدلودعين كلمـه دفعـل مـضارع مكسـور اويـامفتوح ځكه همزه وصليه به مكسوره وي اونه به مفتوحـه وي اونـه بـه مـضمومه وي ځكـه چې كه چيرته داهمزه مفتوحـه كـړى شـي نوبيـالازمېږي التبـاس پـه مـابين دامرحاضركـښې

Maktaba Tul Ishaat.com

اوپه مابين دواحدمتكلم فعل مضارع معلوم كښې اوكه چيرته ورته ضمه وركړى شي نوبيالازمېږي التباس په مابين دامرحاضركښې اوپه مابين دواحدمتكلم فعل مضارع مجهول كښې اوداكارلازمېږي په ټولوهغو ابوابوكښې چې په هغوئ كښې عين كلمه مكسوره وي اويامفتوحه وي نولپاره ددفع دالتباس دې همزې وصلې ته كسره وركولى شي .

**اعتراض**: معترض وايي چې نه منم چې په تقديردفتحې وركولوسره اويادضمې وركولوسره التباس راځي دفعل مضارع متكلم سره ځكه چې التباس په مابين ددې امرحاضركښې اودواحدمتكلم دفعه كېږي په حركت داخيردفعل مضارع سره ځكه چې اخيردامرحاضرمبني وي په وقف سره اواخيردفعل مضارع معرب وي په حركت سره چې هغه اعراب دى .

**جواب**: مونږ ورته وايوچې مراد له لزوم دالتباس نه دانه دى چې داالتباس لازمېږي مطلقاً برابره خبره ده كه اخيردفعل مضارع په وقف سره وي اوكه نه وي بلكه مراد دالتباس دلزوم نه داده چې داالتباس لازمېږي په صورت دوقف كښې په اخيردفعل مضارع باندې اوشك نشته چې په صورت دوقف كښې په اخيردفعل كښې لازمېږي التباس په مابين دامرحاضركښې اوپه مابين دواحدمتكلم فعل مضارع معلوم كښې په تقديردوركولودضمې اويادفتحې همزې وصلې ته .

اوداهمزه وصليه به په امرحاضركښې په هغه وقت كښې مضمومه وي چې كله عين كلمه ددې فعل مضارع مضمومه وي مثال لكه انصر چې داامرده اوجوړشوى ده له تنصر نه اوپه دې صورت كښې داهمزه وصليه مضمومه وي اوددې ضمې لپاره درې وجهې دي .

۱- وجه داده چې مناسبت راحاصل شي په مابين دحركت دعين كښې اوپه مابين دحركت دهمزې وصلې كښې ځكه چې دعين حركت ضمه وي .

٢- وجه داده چې که چیرته همزې وصلې ته ضمه ورنه کړی شي بلکه ورته کسره ورکړی شي نو لازمېږي خروج له کسرې نه ضمې ته او دا ثقیل دی او چه کله ورته حرکت دضمې ورکړی شي نو بیانه لازمېږي خروج له کسرې نه ضمې ته .

٣- وجه داده چې که چېرته ضمه ورته ورنه کړی شي بلکه په ځای دضمې باندې دې همزې وصلې ته فتحه ورکړی شي نو لازم به شي التباس په مابین دامرحاضرکښې او په مابین دواحد متکلم فعل مضارع معلوم کښې .

او داقول دمصنف چې وفتحوا همزة اکرم بناء الی آخره جواب دی دا عتراض دمعترض نه په دې شان چې معترض وایي چې تاسو دا خبره وکړه چې کله هغه حرف چې واقع وي وروسته له حرف مضارعت نه ساکن وي نو بیا چې کله حرف مضارعت حذف کړی شي نو همزه وصلیه به راوړی شي چې هغه به یا مکسوره وي او یا به مضمومه وي نو دا خبره ستاسو منقوضه ده په اکرم باندې چې داصیغه دامرحاضرده دباب افعال نه نو په دې کښې فعل مضارع چې تکرم وه چې کله ورنه حرف مضارعت حذف کړی شو نو مابعد چې کاف دی ساکن وه نو همزه وصلیه راوړی شوه او دا همزه وصلیه مکسوره نه ده بلکه مفتوحه ده او حال دادی چې عین کله په فعل مضارع کښې مکسوره دی نو مصنف ورته جواب ورکړو چې دا اعتراض به په هغه وخت کښې وارد وه که چیرته دا امرحاضر چې اکرم دی مؤخوذ وای له تکرم نه او حال دادی چې معامله دارنګ نه ده بلکه دا اکرم صیغه دامرحاضرمؤخوذه ده له تاکرم نه په همزې سره وروسته دتاء حرف مضارعت نه او دا همزه متحرکه وه نو چې کله حرف مضارعت یې حذف کړو نو مابعد متحرك وه نو دا همزه دنفس دکلمې نه ده او همزه وصلیه نه ده او کسره خو په همزه وصلیه کښې وي نو دا همزه دا کرم په شان ددال ددحرج ده چې داصیغه دامرحاضرده درباعي مجردونا .

Maktaba Tul Ishaat.com

**واعلم انه اذا اجتمع تا آن فی اول مضارع تفعل وتفاعل وتفعلل فيجوز اثباتهما نحو تتجنب وتتقابل وتتدحرج ويجوز حذف احديٰهما وفی التنزيل فانت له تصدیٰ وناراً تلظی وتنزل الملائكة .**

**ترجمه**: پوه شه چې كله جمعه شي دوه تاء ګانې په اول د فعل مضارع كښې په باب تفعل كښې او په باب تفاعل كښې او په رباعي مجردو كښې نو دا هم جائزده چې دا دواړه تاء ګانې ثابتې کړی شي يعنې چې دواړه باقي وي په دې فعل مضارع كښې او دا هم جائزده چې دا يوه تاء په كښې حذف کړی شي مثال د اثبات د دواړو تاء ګانو لكه تتجنب او تتقابل او تتدحرج او مثال د حذف ديوې تاء لكه تجنب وتقابل وتدحرج او په قرآن شريف كښې واقع شوې دي حذف ديوې تاء لكه تصدی او تلظی او تنزل چې دا درې واړه د باب تفعل مضارع دی او يوه تاء په دريو واړو كښې حذف کړی شوې ده .

**تشريح**: زده كړه دا خبره چې اعلم په كتابونو كښې راوړی شي د پنځو معنی ګانو لپاره اوله معنیٰ دا ده چې دا اعلم راوړی شوی وي لپاره د ايقاظ او بيدارولو د مخاطب چې دا مخاطب را بيدار شي د خوب د غفلت نه او دويمه معنیٰ دا ده چې دا اعلم راوړی شي لپاره د اعتراض په دې شان چې ددې نه به بعد اعتراض ذكروي او دريمه معنیٰ د اعلم دا ده چې د اعلم نه به بعد راوړی شي جواب له اعتراض مقدره نه او څلورمه معنیٰ دا ده چې دا اعلم به لپاره د اعتراض او جواب دواړو وي په دې شان چې ددې اعلم نه بعد به هم اعتراض ذكروي او هم به جواب ذكروي او پنځمه معنیٰ دا ده چې دا اعلم به راغلی وي لپاره د تحقيق د مقام يعنې له دې اعلم نه بعد چې كوم شی ذكروي په هغه سره به مقصود تحقيق د مقام وي او په دې عبارت د مصنف كښې چې اعلم راوړی شوی دی نو په دې سره مقصود تحقيق د مقام دی په بيان ديوې ضابطې چې هغه ضابطه مختصه ده تر فعل مضارع د هغې ماضي پورې چې د هغې ماضي په اول كښې تاء زائده موجوده وي نو حاصل ددې ضابطې دا دی چې مصنف وايي چې كله په اول د مضارع معلومه د باب تفعل او باب تفاعل او باب تفعلل كښې دوه تاګانې

جمعه شي نو دا هم جائز دي چې دا دواړه تاګانې ثابتې پاتې شي او په دوئ کښې يوه هم حذف نه کړی شي او دا هم په کښې جائز دي چې په دوئ کښې يوه تاء حذف کړی شي وجه لپاره د جواز د اثبات د دې دواړو تاګانو دا دی چې دا اثبات اصل دی ځکه چې اصل ذکر دی او هرچې حذف او عدم ذکر او عدم اثبات دی نو دا خلاف الاصل دی او هرچې جواز د حذف د يوې تاء دی نو د دې وجه دا ده چې کله دوه تاګانې په اول د فعل مضارع کښې راشي نو له دې نه ثقل راپيدا کېږي ځکه چې اجتماع د حرفينو متجانسينو ثقيل دی نو اوس هر کله چې په دې فعل مضارع کښې اجتماع د حرفينو متجانسينو راغلو نو په دې مضارع کښې ثقل راپيدا شو او چې کله دوه حرفين متجانسين جمعه شي نو په دې کښې درې طريقې دي اوله طريقه ادغام دی چې دا يو حرف ورمدغم کړی شي په بل حرف کښې مثال لکه مد او لکه فر چې په اصل کښې مدد او فرر وه او بيا په دواړو کښې ادغام وکړی شو په مابين د حرفينو متجانسينو کښې نو ورنه مد او فر په تشديد سره جوړ شو او دويمه طريقه ابدال دی لکه په امليت کښې چې په اصل کښې امللت وه په دوه لامونو سره او بيا دويم لام بدل کړی شو په ياء سره نو ورنه امليت جوړ شو او دريمه طريقه حذف دی چې يو حرف په دې دوه حرفينو متجانسينو کښې حذف کړی شي مثال لکه مست په سين واحده سره چې په اصل کښې مسست وه په دوه سينينو سره نو دا يو سين په کښې حذف کړی شو نو ورنه مست جوړ شو په سين واحده سره او په دې مضارع مذکوره کښې په دې دريو طريقو کښې يوه طريقه ممکنه ده چې هغه حذف دی او هرچې ادغام او ابدال دی نو دا دواړه نه دي ممکن هرچې عدم امکان دادغام دی نو دا له دې وجهې نه دی چې که چيرته ادغام وکړی شي نو اوله تاء به ساکنه ولی شي او مدغمه ولی به شي په دريمه تاء کښې نو چې کله دا کار وکړی شي نو لازمېږي ابتداء او شروع په ساکن باندې او دا محاله دي په عربي ژبه کښې او هرچې عدم امکان دابدال دی نو د هغې وجه دا ده چې دا ابدال نه وي مګر په حرف علت سره وي او شك نشته چې حرف علت ثقيل دی په نسبت سره حروف صحيحه ته او همدارنګه که چيرته ابدال د تاء وکړی شي په الف سره نو لازمېږي ابتداء او شروع په ساکن باندې او که چېرته تاء بدله

Maktaba Tul Ishaat.com

کړی شي په ياء سره نولازمېږي التباس دفعل مضارع مخاطب دفعل مضارع غائب سره اوکه چيرته داتاء بدله کړی شي په واو سره نولازمېږي اجتماع دواوينوپه صورت دعطف کښې نوهرکله چې ابدال هم نه شوممکن اوادغام هم نه شوممکن نوپاتې نه شوپه دې دريوطريقوکښې مګرحذف ديومتجانيسنونوځکه به په دې دوه تاګانوکښې يوه تاء حذف کولی شي .

**اعتراض**: معترض وايي چې لکه څنګه چې په دې فعل مضارع مذکوره کښې ادغام اوابدال نه دی جائزنوبايدچې حذف هم په کښې نشي جائز ځکه چې په تقدير دحذف سره لازمېږي التباس دفعل مضارع دفعل ماضي ددې بابونوسره ځکه چې په دې مذکورودريوبابونوکښې يوه تاء موجوده وي نوچې کله دفعل مضارع ددې دريو بابونونه يوه تاء حذف کړی شي نولازمېږي التباس دفعل مضارع دفعل ماضي سره .

**جواب**: مونږ ورته وايوچې نه منوچې په تقديردحذف ديوې تاء سره التباس راځي په مابين دفعل مضارع ددې دريوبابونوکښې اوپه مابين دماضي ددې دريوبابونو کښې ځکه چې ددې ماضي اومضارع په مابين کښې التاس دفعه کېږي په حرکت داخير سره په دې شان چې په اخيردماضي کښې فتحه وي اوهرچې فعل مضارع ده نو هغه چونکه معربه ده نودهغې په اخيرکښې کله ضمه وي اوکله فتحه وي اوکله جزم وي .

بياپه دې خبره کښې اتفاق موجود دی په مابين دبصريانوکښې اوپه مابين دکوفيانوچې ددې فعل مضارع مذکوره نه ديوې تاء حذف کول جائزدي نوچې کله حذف کړی شي يوه تاء نوبياپه دې تاء محذوفه کښې اختلاف واقع دی په مابين دبصريانوکښې اوپه مابين دکوفيانوکښې په دې شان چې کوفيان وايي چې محذوفه اوله تاء وي ځکه چې دااوله تاء زائده وي اوحرف زائدزيات لائق وي ددې خبرې چې حذف کړی شي اونحاة دبصرې وايي چې محذوفه دادويمه تاء ده اودوئ په دې باندې درې دلائل قائم کړي دي .

۱- دليل دادی چې دااوله تاء علامه ده دفعل مضارع اوعلامه نشي حذف کيدای نوضرورمحذوفه به دادويمه تاء وي نه اوله .

۲- دليل دادی چې حذف ديوې تاء لپاره ددې دی چې ثقل دفعه شي اوشك نشته چې ثقل خولازم دی له دويمې تاء نه نه له اولې تاء نه نوضرورمحذوفه به دادويمه تاء وي نه اوله تاء .

۳- دليل دادی چې دااوله تاء ددې لپاره راوړی شوی دی چې دلالت وکړي په دې خبره باندې چې دافعل فعل مضارع دی نوکه چيرته دااوله تاء حذف کړی شي نولازمېږي فوت کېدل ددې مقصودنوله دې وجهې نه به دااوله تاء نشي حذف کولی بلکه دادويمه تاء به حذف کولی شي .

ومتى كان فاء افتعل صاداً اوضاداً اوطاءً فتقول فى افتعل من الصلح اصطلح ومن الضرب اضطرب ومن الطرداطرد ومن الظلم اظطلم وكذلك سائرتصرفاته نحو اصطلح يصطلح اصطلاحاً فهومصطلح وذالك مصطلح عليه والامراصطلح والنهى لاتصطلح .

**ترجمه:** اوهرکله چې وي فاء کلمه دباب افتعال صاد اويا ضاد اوياطاء اوياظاء نوبدلولی به شي داتاء دافتعال په طاء سره نوته به وايې په صيغه دواحدمذکرغائب کښې دباب افتعال نه چې داباب افتعال مؤخوذ وي دصلح نه چې داثلاثي مجرد دی اصطلح چې داپه اصل کښې اصتلح وه په تاء سره اوويلی به شي په صيغې دواحد مذکرغائب کښې دباب افتعال نه چې داباب افتعال مؤخوذ وي دالضرب نه اضطرب چې په اصل کښې اضترب وه په تاء سره اوويلی به شي په صيغه دواحد مذکرغائب کښې دباب افتعال نه چې داباب افتعال رامؤخوذ وي دالطرد نه اطرد چې په اصل کښې اطترد وه په تاء سره اوبيادا تاء بدله کړی شوه په طاء سره اوبيايوه طاء مدغمه کړی شوه په دې بله طاء کښې نو ورنه اطرد جوړشو په تشديد دطاء سره اوويلی به شي په صيغه دواحد مذکرغائب کښې دباب دافتعال نه چې داباب افتعال رامؤخوذ وي له الظلم نه اظطلم چې په اصل کښې اظتلم وه په تاء سره اوبيادا تاء بدله کړی شوه په طاء سره اوهمدارنګه به داتاء دافتعال بدلوی شي په ټولوصيغودباب دافتعال

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې په طاء سره چې کله فاء کلمه ددې باب دافتعال یوحرف وي له دې څلورو حرفونو نه چې صاد اوضاد اوطاء اوظاء دي مثال لکه اصطلح تراخیره پورې چې والنهي لاتصطلح دی نوپه دې ټولو صیغوکښې دطاء په ځای باندې تاء موجوده وه چې هغه تاء دباب دافتعال ده اوبیاداتاء دافتعال بدله کړی شوه په طاء سره .

**تشریح:** په دې وړاندې عبارت کښې چې کومه ضابطه اوقاعده مصنف ذکرکړې ده نوداقاعده اوضابطه مختصه نه ده ترفعل مضارع پورې بلکه داقاعده جاري کېږي هم په ماضي کښې اوهم په مضارع کښې اوهم په هغوشیانوکښې چې هغوئ رامتفرع کېږي دفعل مضارع نه لکه امراونهي اواسم فاعل اواسم مفعول نودامذکوره قاعده په دې ټولوکښې جاري ده اوپه دې ضابطه اوقاعده کښې چې دڅلورحرفونوذکر شوی دی نودې څلوروحرفونوته حروف مطبقه ویل کېږي ځکه چې مطبقه مؤخوذ دی داطباق نه اوداَطباق معنیٰ ده پیوست والی اوپه وخت داداءکولودې څلوروحرفونو کښې د لسان یعنې دژبې اطباق راځي دحنك یعني دتالوسره اووجه دابدال دتاء دباب افتعال په تاء سره په دې ضابطه اوقاعده کښې دادی چې په مابین ددې څلورو حرفونوکښې چې هغوئ واقع وي په ځای دفاء دافتعال باندې اوپه مابین ددې تاء دافتعال کښې تضاددی نوچې کله داحروف جمعه شي دتاء دافتعال سره نوله وجهې دوجوددتضادنه ثقل راپیداکېږي په کلمه کښې نولپاره ددفعې ددې ثقل داتاء بدلولی شي په طاء سره .

۱- وجه دتضاد داده چې صاد اوظاء اوضاد له حروف رخوه نه دی اوداتاء له حروف شدیده نه دی اوشك نشته چې په مابین دشدت اودرخاوت کښې منافات اوتضاد دی .

۲- وجه دتضاد داده چې داتاء دحروف مهموسه نه ده اوپه دې حروف اربعه ؤکښې داطاء اوظاء دحروف مجهوره نه دی اوشك نشته چې په مابین دحروف مهموسه اوحروف مجهوره کښې تضاد اومنافات دی .

۳- وجه دتضاد اودمنافات داده چې داتاء له حروف متسفله نه ده اودا حروف اربعه له حروف مستعليه نه دي اوشك نشته چې په مابين دسفل اودا ستعلاء كښې منافات اوتضاد دى .

**اعتراض:** معترض وايي چې داثقل لكه څنګه چې دفعه كېږي په دې سره چې داتاء بدله كړى شي په طاء سره نوهمدارنګه داثقل دفعه كېږي په دې سره هم چې داكوم حرف چې واقع دى په ځاى دفاء كلمې باندې له دې څلوروحرفونونه بدل كړى شي په تاء سره نو څه وجه ده چې مصنف دتاء ابدال په طاء سره غوره كړو اوددې په ځاى باندې يې غوره نه كړو ابدال ددې يو حرف له حروف اربعه نه په تاء باندې .

**جواب:** مونږ ورته وايوچې داطاء قوي ده دتاء نه څكه چې طاء له حروف مجهوره نه ده اوتاء له حروف مهموسه نه ده اوقانون دادى چې ضعيف په قوي سره بدلولى شي نه داچې قوي بدل كړى شي په ضعيف سره نو څكه دامذكوره طريقه چې ابدال دتاء په طاء سره غوره كړى شوه اوابدال ددې حرف له حروفواربعه ؤنه په تاء باندې غوره نه كړى شو .

**حل لغات:** اصطلح په يوه شي باندې اصطلاح قائم كېدل، اضطرب معنىٰ ده حركت كول اوداطرد معنىٰ ده موافق كېدل اوداظطلم معنىٰ ده ظلم برداشت كول اوغاړه ايښودل .

## ومتى كان فاء افتعل دالاً اوذالاً ازواءً قلبت تاءه دالاً فتقول فى افتعل من الدرء والذكر والزجر ادرء وازدكر وازدجر .

**ترجمه:** اوچې كله وي فاء دباب افتعال دال اوياذال اويازاء نوبدلوى به شي تاء دافتعال په دال سره نو ته به وايې په واحدمذكرغائب دباب افتعال كښې چې مؤخوذ وي له درء نه اوياله ذكرنه اوياله زجر نه چې دادرې واړه ثلاثي مجرد دي ادرء په تشديد ددال سره اواذكر اوازدجر چې دادرې واړه په اصل كښې ادترء اواذتكر اوازتجر وه .

Maktaba Tul Ishaat.com

**تشریح**: داقاعده اوضابطه جاري کېږي په فاء دباب افتعال کښې اوداقاعده هم مختصه نه ده ترفعل مضارع پورې بلکه جاري کېږي په ماضي اومضارع اوامر اونهې اواسم فاعل اواسم مفعول ټولو کښې نوحاصل ددې قاعدې دادی چې کله فاء دافتعال باب یو دحروف ثلاثه وي چې هغه حروف ثلاثه دال اوذال اوزاء دي نوپه دې وخت کښې به بدلولی شي تاء دباب افتعال په دال سره اووجه ددې ابدال داده چې په مابین دتاء کښې اوپه مابین ددې حروف ثلاثه کښې تضاد اومنافات دی نواجتماع دتاء اوددې حروف ثقل پیداکوي نولپاره ددفعې دثقل داتاء به بدلولی شي په دال سره اودا تضاد اومنافات ددوئ په مابین کښې له دوه وجهونه دی .

۱- وجه داده چې داتاء له حروف شدیده نه ده اودا حروف ثلاثه چې دال اوذال اوزاء دي له حروف رخوه نه دي اوشك نشته چې په مابین دشدت اورخاوت کښې منافات اوتضاد دی .

۲- وجه داده چې داتاء له حروف مهموسه نه ده اوداحروف ثلاثه له حروف مجهوره نه دي اوشك نشته چې په مابین دهمس اودجهر کښې تضاد اومنافات دی .

**اعتراض**: معترض وایي چې دامنافات اوتضاد لکه څنګه چې دفعه کېږي په ابدال دتاء په دال باندې نوهمدارنګه دفعه کېږي په ابدال دتاء په بل حرف سره نوڅه وجه ده لپاره داختیار ددال .

**جواب**: مونږ ورته وایو چې وجه لپاره داختیار ددال داده چې ددې دال مناسبت دی دتاء سره هم اوذال اوزاء سره هم په دې شان چې دادال مناسبت لري دتاء سره په اعتبار دمخرج او دذال اوزاء سره مناسبت لري په جهر کښې په دې شان چې دوئ درې واړه حروف مجهوره دي نوځکه ددې دال اختیاروکړی شو .

**اعتراض**: معترض وایي چې داثقل چې لازم شوی دی له وجهې داجتماع دتاء اوددې حروف ثلاثه ؤنه لکه څنګه چې دفعه کېږي په ابدال دتاء په دال سره نوهمدارنګه دفعه کېږي په ابدال ددې دریو حروفو په تاء سره نوڅه وجه ده چې غوره

کړی شوی ابدال د تاء په دال سره اوددې په څای باندې نه دی غوره کړی شوی ابدال ددې حروف ثلاثه په تاء سره .

**جواب:** مونږ ورته وایو چې دا حروف ثلاثه حروف اصلیه دي ځکه چې دوئ واقع دي په مقابله دفاء کلمې کښې اوداتاء دباب افتعال حرف زائد دی اوګرزول دحرف زائد په مثل داصل باندې ډیرلائق دي له ګرزولود حرف اصلي په مثل دزائد باندې نوځکه داتاء بدله کړی شوه په دال باندې په دې شان چې داحرف زائد چې تاء دی وګرزول شو حرف اصلي چې دال دی اونه ګرزول شو دا حروف ثلاثه چې اصلي دي حرف زائد چې تاء ده .

اومصنف ددې ابدال د تاء په دال سره لپاره درې مثالونه ذکرکړه ، اول مثال ادرء دی په تشدید د دال سره چې دا په اصل کښې ادترء وه په وزن دافتعل سره اوبیاتاء بدله کړی شوه په دال سره نوورنه اددرء جوړ شو په دوه دالونو سره اوبیادااول دال مدغم کړی شو په دویم دال کښې نوورنه ادرء جوړشو په تشدید د دال سره اوپه دې مثال کښې فقط همدغه یو وجه جائزه ده چې ادغام دی اودویم مثال اذدکر دی چې دا په اصل کښې اذتکر وه په وزن دافتعل سره اوبیاداتاء بدله کړی شوه په دال سره نوورنه اذدکر جوړشو اوپه دې کښې درې وجهې جائزدي .

۱- وجه اذدکر دی په عدم ادغام سره .

۲- وجه اذکر دی په تشدید دذال سره په دې شان چې دا دال بدل شو په ذال سره اوبیا دااول ذال مدغم کړی شو په دویم ذال کښې .

۳- وجه ادکر دی په تشدید د دال سره په دې شان چې داذال بدل کړی شو په دال سره اوبیادااول دال مدغم کړی شو په دویم دال کښې نوورنه ادکرجوړشو په تشدید د دال سره .

اودریم مثال د ازدجر دی چې دا په اصل کښې ازتجر وه په وزن دافتعل باندې اوپه دې کښې دوه وجهې جائز دي .

۱- وجه داده چې ادغام ونه کړی شي او ازدجر وویل شي .

Maktaba Tul Ishaat.com

۲- وجه داده چې ازجر وويل شي په تشديدزاء سره په دې شان چې دادال بدل کړی شي په زاء سره اوبيادااوله زاء مدغمه کړی شي په دويمه زاء کښې .

**ويلحق باالفعل غيرالماضي والحال نونان للتاكيد خفيفة ساكنة وثقيلة مفتوحة الافيماتختص به وهوفعل الاثنين وجماعة النساء فهى مكسورة ابداً فيه فتقول اذهبان واذهبنان وتدخل الفاً بعد نون جمع المؤنث لتفصل بين النونات .**

**ترجمه**: اوملحق کېږي ترفعل پورې چې دافعل غيروي له ماضي نه اوله حال نه دوه نونه چې هغه دواړه لپاره دتاکيددی چې يونون خفيفه دی چې ساکن به وي اوبل نون ثقيله دی چې مفتوح به وي مګردانون ثقيله به نه وي په هغوصيغو کښې چې ترهغوصيغوپورې دانون ثقيله ورمتخص وي چې هغه صيغې عبارت دي له فعل اوصيغې دتثنې نه برابره خبره ده که تثنيه دمذکروي اوکه دمؤنث وي اوهمدارنګه برابره خبره ده که تثنيه دغائب وي اوکه دمخاطب وي اوبله صيغه اوفعل دجمعې مؤنثې ده برابره خبره ده که جمعه مؤنثه غائبه وي اوکه جمعه مؤنثه مخاطبه وي نودانون ثقيله به په دې صيغوکښې مکسوروي دهميشه لپاره نوپه تثنيه کښې به ته ادهبان وايې په کسرې دنون سره اوجمعه مؤنثه کښې به اذهبنان وايې داهم په کسرې دنون سره اوته به داخلوې الف وروسته له نون دجمعې مؤنثې نه اومخکې له نون ثقيله نه لپاره ددې چې دانون فصل اوجدااوالی راولي په مابين ددريو نونوکښې چې اول نون دجمعې مؤنثې دی اودويم اودريم دتاکيددی ځکه چې دانون ثقيله په حقيقت کښې دوه نونه دي اول مدغم اودويم مدغم فيه دی .

**تشريح**: هرکله چې مصنف فارغ شودبحث دنفس امرنه نوشروع يې وکړه په بيان دهغه عارض کښې چې هغه ورعارضېږي امرته اوهغوشيانوته چې هغوئ مناسبت لري دامرسره لکه نهي اوتمني اواستفهام اوجواب قسم اوعرض چې دامور دامرسره مناسبت لري په دې خبره کښې لکه چې په امرکښې طلب موجود دی نوهمدارنګه په

دي امورو كښې هم طلب موجود دی اوهغه شی چې ورعارضېږي امرته اوهغوامورو ته چې هغوئ مناسبت لري دامرسره هغه عبارت دی له نون دتاكيدنه اودانون دتاكيد لكه څنګه چې دې مذكورشيانوته ورعارضېږي نوهمدارنګه نفې ته هم ورعارضېږي اوهرچې ماضي ده اوهغه فعل مضارع چې مرادورنه حال وي نودوئ ته نون تاكيد نه ورعارضېږي ځكه چې دانون دتاكيدبرابره خبره ده كه ثقيله وي اوكه خفيفه وي دارائي لپاره دتاكيددطلب اوشك نشته چې طلب موجود وي په امركښې اوپه دې امورو كښې چې مناسب وي دامرسره اوهرچې نفې ده نوپه دې كښې اګرچې طلب نه دی موجود خوليكن دانفې په صورت كښې مشابه ده دنهې سره خوليكن دخول دنون دتاكيدپه نفې كښې قليل دی اوبيا په مابين دنون خفيفه اودنون ثقيله په مابين كښې فرق دی په دې شان چې دانون ثقيله داخلېږي په ټولوصيغوباندې برابره خبره ده كه صيغې دواحدوي اوكه دتثنې وي اوكه دجمعې وي بيا اجمعه عامه ده كه مذكره وي اوكه مؤنثه وي اوهرچې نون خفيفه دی نوهغه په ټولوصيغوكښې نه رائي ځكه چې په صيغودتثنيو كښې اوهمدارنګه په صيغودجمعې مؤنثې كښې نه رائي اودانون خفيفه خوهميشه ساكن وي اوهرچې نون ثقيله دی نودامتحرك وي اوددهٔ حركت دتثنيواودجمعې مؤنثې نه غيرپه نوروصيغوكښې فتحه وي اوهرچې صيغې دتثنې دي اوصيغې دجمعې مؤنثې دي نوپه دوئ كښې حركت ددې نون ثقيله كسره وي اوهمدارنګه په دې صورت ددخول دنون ثقيله كښې په جمعه مؤنثه باندې ضروري دي راوړل دالف لپاره ددې چې داالف فاصل جوړشي په مابين دنون دجمعې مؤنثې كښې اوپه مابين دنون ثقيله كښې ځكه كه چيرته داالف رانه وړی شي نوبيالازمېږي اجتماع دثلاث نونات اوداثقيل دی اودانون ثقيله دوه نونه دي اول مدغم دی اودويم مدغم فيه دی .

**اعتراض:** معترض وايي چې څه وجه ده چې مصنف بيان دنون خفيفه مقدم كړو په نون ثقيله باندې .

Maktaba Tul Ishaat.com

**جواب**: مونږ ورته وايوچې وجه لپاره دمقدم کولودنون خفيفه په نون ثقيله باندې داده چې ترقي وشي ځکه چې ترقي دېته وايي چې له ادنی نه تلل وکړی شي اعلی ته اوشك نشته چې نون خفيفه ادنی دی ځکه چې په ده کښې تاکيدکم دی اونون ثقيله اعلی دی ځکه چې په دې نون ثقيله کښې تاکيدزيات دی په نسبت سره نون خفيفه ته.

**اعتراض**: معترض وايي چې هرکله په تقديم دنون خفيفه کښې په نون ثقيله باندې ترقي حاصلېږي نوڅه وجه ده چې صاحب دمراح لارواح اوصاحب دفصول اکبري تقديم دنون ثقيله کړی دی په نون خفيفه باندې.

**جواب**: مونږ ورته و ايوچې په نون ثقيله کښې شمول موجود دی په دې شان چې داملحق کېږي ترټولوصيغوپورې په خلاف دنون خفيفه چې په دې کښې شمول نه دی موجودځکه چې دانون خفيفه نه ملحق کېږي ترصيغودتثنيوپورې اوترصيغودجمعې مؤنثوپورې اوهمدارنگه په نون ثقيله کښې زيات تاکيدموجود دی چې په دې اندازه باندې تاکيدنه دی موجودپه نون خفيفه کښې نومصنف دمراح الارواح اومصنف دفصول اکبري نظرکړی دی دې شمول ته اودې زيادت تاکيدته نوځکه دوئ دواړو نون ثقيله مقدم کړی دی په نون خفيفه باندې.

**اعتراض**: معترض وايي چې څه وجه ده چې دنون خفيفه اونون ثقيله په مابين کښې فرق کړی شوی دی په دې شان چې نون خفيفه ته حرکت نه دی ورکړی شوی اونون ثقيله ته حرکت ورکړی شوی دی.

**جواب**: مونږ ورته وايوچې که چېرته نون ثقيله يې ساکن کړی وای اوحرکت يې ورته نه رای ورکړی نوبيالازمېده التقاء الساکنين ځکه چې دانون ثقيله مرکب دی له دوه نونونه چې دايومدغم شوی دی په هغه بل نون کښې نوداول نون خوله دې وجهې نه چې مدغم دی ساکن دی نوکه چېرته دادويم نون چې مدغم فيه دی هم ساکن کړی شي اوحرکت ورته ورنه کړی شي نولازم به شي التقاء الساکنين په خلاف دنون خفيفه چې دانه دی مرکب له دوه نونونه نوچې داساکن کړی شواوحرکت ورته ورنه کړی شو نوله دې نه نه لازمېږي التقاء الساکنين نوځکه ورته حرکت ورنه کړی شو.

**اعتراض**: معترض وايي چې له دې وړاندې جواب نه خود اخبره رامعلومېږي چې دې نون خفيفه ته حركت وركول نه دي ضروري او دانه ورنه معلومېږي چې حركت وركول ورته نه دي جائز نوځه وجه ده چې سكون وركول دې نون خفيفه ته غوره كړى شو په حركت وركولو باندې حال دادى چې ددې هرواحدوركول جائزدي .

**جواب**: مونږ ورته وايوچې داسكون ځكه غوره كړى شوپه نون خفيفه كښې په حركت باندې ځكه چې دانون خفيفه حرف دى او اصل په حروفو كښې بناء دد په سكون باندې نودانون خفيفه هم مبني كړى شوپه سكون باندې .

**اعتراض**: معترض وايي چې هركله دې نون ثقيله ته حركت وركړى شولپاره ددفعې دالتقاء الساكنين نودادفعه دالتقاء الساكنين خوحاصلېده په هرواحدباندې له دې حركاتوثلاثه نه چې ضمه اوفتحه اوكسره دي نوځه وجه ده چې فتحه غوره كړى شوه په دې شان چې دانون ثقيله مفتوح كړى شو اوددې فتحې په ځاى باندې يې ورته ضمه اوياكسره ورنه كړى شوه .

**جواب**: مونږ ورته وايوچې دافتحه ځكه غوره كړى شوه په ضمې اوكسرې باندې ځكه چې دافتحه خفيفه ده په نسبت سره ضمې اوكسرې ته اوخفت په دې مقام كښې مطلوب دى ځكه چې په صورت دلحوق دنون ثقيله كښې طول راغلى وي په لفظ كښې اوداطول مفيددى دثقل .

**اعتراض**: معترض وايي چې هركله فتحه خفيفه ده په نسبت سره ضمې اوكسرې ته نوبايدچې دانون ثقيله مفتوح ګرزول شوى واى په صيغودتثنيواودجمعې مؤنثې كښې هم نوځه وجه ده چې دانون ثقيله مكسوركړى شوپه دې تثنيواوجمعه مؤنثه كښې .

**جواب**: مونږ ورته په جواب كښې وايوچې په دې نون ثقيله كښې دوه نونه موجود دي اودادواړه په اصل كښې ساكن وه اوپه دې نون ثقيله كښې چې هركله دادوه نونه جمعه شول نودااول نون مدغمَ كړى شوپه دويم نون كښې نووروسته له ادغام نه لابدي شوه له تحريك ددويم نون نه نودې دويم نون ته حركت دكسرې وركړى شوځكه چې

Maktaba Tul Ishaat.com

قاعده په تحريك دساكن كښې داده چې الساكن أذاحرك حرك باالكسر نوددې قاعدې دوجهې نه ورته حركت دكسرې وركړې شواوپه ځاى ددې كسرې باندې ورته حركت دفتحې ورنه كړې شو .

**اعتراض**: معترض وايي چې هركله دادويم نون داول نون په شان په اصل كښې ساكن وه اوبيا ددې مذكورې قاعدې دوجهې نه ورته حركت دكسرې وركړې شوپه فعل دتثنيې اوپه فعل دجمعې مؤنثې كښې نوبايدچې ددې مذكورې قاعدې دوجهې نه په دې نوروصيغوكښې هم نون ثقيله ته كسره وركړې شوې واى په ځاى دفتحې باندې .

**جواب**: مونږ ورته وايوچې فرق دى په مابين دفعل دتثنې اودفعل دجمعې كښې اوپه مابين ددې باقي صيغوكښې اوهغه فرق دادى چې په دې صيغودتثنيوكښې اودجمعې مؤنثې كښې مخكې له نون ثقيله نه الف موجود وي اوهغه الف ساكن دى نوپه دې الف سره ژبې ته استراحت حاصلېږي نوپه كسرې باندې ورته تلفظ نه وي ثقيل نوځكه په تحريك ددې نون ثقيله كښې عمل په دې قاعدې باندې وكړى شو اونون ثقيله ته حركت دكسرې وركړى شوپه خلاف ددې باقي صيغوچې په دوئ كښې دنون ثقيله نه ماقبل الف نه وي موجود نوكه چيرته په دې باقي صيغوكښې نون ثقيله ته كسره وركړى شي لازمېږي ثقل ځكه چې ماقبل له نون ثقيله نه الف ساكنه نشته چې ژبه ورباندې استراحت وكړي .

**اعتراض**: معترض وايي چې داقول دمصنف چې الافيماتختص به دى باطل دى ځكه چې ددې قول معنىٰ داده چې دانون ثقيله ورمختص دى ترفعل دتثنې اوترفعل دجمعې مؤنثې پورې اوحال دادى چې دااختصاص نشته ځكه چې دانون ثقيله لكه څنګه چې په صيغه دتنثې اودجمعې مؤنثې پورې ملحق كېږي نوهمدارنګه دانون ثقيله ملحق كېږي ترباقي صيغوپورې هم نوحكم داختصاص په نون ثقيله باندې نه دى صحيح .

**جواب:** مونږ ورته وايو چې دا اعتراض به په هغه وخت کښې وارد وه که چيرته دا اختصاص چې ذکردی په عبارت دمصنف کښې په خپله معنیٰ باندې وای چې قصر دی او حال دادی چې دا اختصاص په خپله معنیٰ باندې نه دی بلکه دا اختصاص چې په عبارت دمصنف کښې ذکردی په معنیٰ دامتيازباندې دی نومعنیٰ دکلام دمصنف داده چې دانون ثقيله ممتازاومنفرد دی دنون خفيفه نه په صيغې دتثنې اوپه صيغې دجمعې مؤنثې سره په دې شان چې دانون ثقيله داخليږي په صيغې دتثنې اودجمعې باندې اونه داخليږي په صيغې ددې تثنې اوجمعې مؤنثې باندې نون خفيفه .

**اعتراض:** معترض وايي چې ضميرمجرور په دې قول دمصنف کښې چې فيه دی راجع دی فعل دتثنې ته اوفعل دجمعې مؤنثې ته اوشك نشته چې داضميرمفرد دی اودامرجع دوه شيان دي چې تثنيه ده اوجمعه مؤنثه ده نومطابقت رانه غلوپه مابين دراجع اودمرجع کښې اوحال دادی چې مطابقت په مابين دراجع اودمرجع کښې ضروري اوواجب دی .

۱- **جواب:** مونږ ورته وايو چې مرجع تثنيه اوجمعه معنی مؤنثه نه ده چې لازم شي عدم مطابقت په مابين دراجع کښې اوپه مابين دمرجع کښې بلکه مرجع ددې ضميرمجرورد فيه فعل خاص دی چې دهغه فعل لپاره دوه فردان دي چې يوفعل دتثنې دی اوبل فعل دجماعت النساء دی نولکه څنګه چې راجع ضميرمفرد دی نوهمدارنګه مرجع ددې ضميرهم مفرد دی نومطابقت شته په مابين دراجع اودمرجع کښې .

۲- **جواب:** مونږ ورته وايو چې داضميرمجرورپه قول دمصنف کښې چې فيه دی راجع دی ماموصوله ته په دې قول دمصنف کښې چې الافيماتختص به دی اوشك نشته چې داماموصوله په اعتبارږلفظ سره مفرددی نومطابقت شته په مابين دراجع اودمرجع کښې .

Maktaba Tul Ishaat.com

ولاتدخلهما الخفيفة لانه يلزم التقاء الساكنين على غيرحده فان التقاء الساكنين انمايجوز اذاكان الاول حرف مدوالثانى مدغماً نحو دابة .

**ترجمه**: اونه داخلېږي په صيغه دتثني اوپه صيغه دجمعي مؤنثي باندي نون خفيفه ځکه چي بيالازمېږي التقاء الساكنين على غيرحده ځکه چي التقاء الساكنين جائزدی په هغه وخت کښي چي دااول ساکن حرف مده وي اودويم ساکن مدغم وي لکه په لفظ ددابة کښي .

**تشريح**: زده کړه داخبره چي التقاء الساكنين په خپل کورکښي په دوه قسمه ده اول قسم التقاء الساكنين على حده دی اودويم قسم التقاء الساكنين على غيرحده دی نودالتقاء الساكنين على حده عبارت دی له دېنه چي اول ساکن به حرف علت وي بيابرابره خبره ده که داحرف علت واو وي اوکه ياء وي اوکه الف وي خوليکن په دې واو اوياء کښي دانه دي شرط چي دوئ دواړه به مده وي بلکه په دوئ دواړوکښي عموم دی که مده وي اوکه غيرمده وي اوهرچي الف دی نوپه هغې کښي داضروري اوواجب دي چي هغه به مده وي اوحرف مده دېته وايي چي داحرف له قبيلې دحروفو علتونه وي اوحرکت دماقبل ورسره موافق وي نوچي داحرف واووي نوماقبل به ورنه ضمه وي اوکه چيرته داحرف ياء وه نوماقبل به ورنه کسره وي اوکه چيرته داحرف الف وه نوماقبل به ورنه فتحه وي اودويم ساکن به مدغم وي ددې مثال لکه دابة نوپه دې کښي اجتماع الساكنين ده په مابين دالف کښي اوپه مابين دباء مدغمه کښي اودا الف حرف مده دی اوداباء مدغمه دی ځکه چي دابة په اصل کښي دابِبة وه په دوه باءگانوسره بيادااوله باء مدغمه کړی شوه په دويمه باء کښي نوورنه دابّة په تشديد دباء سره جوړشو اودويم قسم دالتقاء الساكنين التقاء الساكنين على غيرحده دی اوداعبارت دی له دې نه چي دويم ساکن مدغم نه وي برابره خبره ده که دااول حرف چي اول ساکن دی له حروف علتونه وي اوکه نه وي اوهمدارنگه چي اول ساکن مده وي اوکه نه وي نودااول قسم دالتقاء الساكنين جائزه دی اودويم قسم نه دی جائز نوپه دې صيغودتثني کښي اوپه صيغودجمعه مؤنث کښي چي کله نون ثقيليه داخل شي

نو التقاء الساكنين على حده راځي په دې شان چې د اول ساكن الف يا او شك نشته چې هغه مده دى او دا الف په صيغو د تثنيو كښې الف د تثنيې دى او په صيغو د جمعه مؤنثه غائبه كښې هغه الف دى چې راوړى شوى به وي لپاره د دې چې په ده سره فصل او جدا والى راشي په مابين د نون د جمعې مؤنثې كښې او په مابين د نون ثقيله كښې او دويم ساكن نون مدغمه دى ځكه چې دا نون ثقيله مركب دى له دوه نونونه چې اول نون مدغم شوى وي په دويم نون كښې او شك نشته چې د التقاء الساكنين على حده جائز دى نو ځكه د نون ثقيله دخول په صيغو د تثنيې او د جمعې مؤنثې باندې جائز دى او په دې صيغو د تثنيې او په صيغو د جمعې مؤنثې پورې كه چيرته الحاق د نون خفيفه وشي نو بيا لازميږي التقاء الساكنين على غيرحده ځكه چې د دويم ساكن چې نون دى نه وي مدغم ځكه چې نون خفيفه نون واحده ساكنه دى او شك نشته چې التقاء الساكنين على غيرحده نه دى جائز نو ځكه لحوق د نون خفيفه تراخير د صيغو د تثنيو او د جمعې مؤنثې پورې نه دى جائز .

اعتراض : معترض وايي چې په عبارت د مصنف كښې چې دا قول دى انما يجوز اذا كان الاول حرف مد الى آخره كلمه د انما موجوده ده او دا كلمه له كلماتو د حصر نه دى نو د دې كلمې معنىٰ داده چې دا جواز د التقاء الساكنين فقط په هغه صورت كښې دى، چې د اول ساكن مده وي او دويم مدغم وي او له دې صورت نه بغيرپه بل صورت كښې نه دى جائز التقاء الساكنين او حال دا دى چې لكه څنګه چې التقاء الساكنين جائز دى په دې صورت كښې چې اول حرف مده وي نو له دې نه بغيرپه بل صورت كښې هم جائز دى چې هغه صورت دا دى چې اول ساكن واو وي او مده نه وي لكه ثوب بشر نو په دې مثال كښې د ابآء د ثوب مدغمه ده په باء د بشر كښې نو د دويم ساكن اګر چې مدغم دى خو ليكن د اول ساكن چې واو دى مده نه دى ځكه چې د ا واو اګرچې حرف علت دى خو ليكن حركت د ماقبل ورسره نه دى موافق ځكه چې موافق د واو سره ضمه ده او په دې مذكور مثال كښې ماقبل له واو نه فتحه ده او دويم ساكن باء د ثوب ده چې دا مدغمه شوې ده په باء د بشر كښې .

Maktaba Tul Ishaat.com

**جواب:** مونږ ورته وایو چې مراد دمصنف له حرف مده نه دحرف مده خپله معنیٰ نه ده مراد بلکه مراد له حرف مده نه حرف علت دی چې هغه ساکن وي برابره خبره ده که مده وي او که نه وي مده نومصنف چې ذکر دمده کړی اومراد یې ورنه حرف علت اخستلی دی داذکرد خاص دی اومراد ورنه عام دی نودمصنف دامذکورقول ورشامل دی هغه مثال ته چې کوم مثال معترض ذکرکړی دی .

**اعتراض:** معترض وایي چې په تقدیر دارادې دحرف علت ساکن د حرف مدنه بیاهم داحصرنه دی صحیح ځکه چې لکه څنګه چې التقاء الساکنین جائز دی په دې صورت کښې چې حرف اول حرف علت ساکنه وي اودویم حرف مدغم وي نوهمدارنګه له دې صورت نه غیرپه بل صوت کښې هم التقاء الساکنین جائز دی چې هغه صورت دادی چې حرف ثاني نه وي مدغم برابره خبره ده که حرف اول مده وي او که نه وي بلکه حرف ثاني غیروي له حرف علت نه مثال داول لکه محیای په حالت دوقف کښې اومثال ددویم لکه ضربن اویضربن په حالت دوقف کښې نوپه دې مثالونوکښې التقاء الساکنین راغلې ده په حالت دوقف کښې .

**جواب:** مونږ ورته وایو چې مراد دمصنف په دې قول مذکورکښې حصرد جواز دالتقاء الساکنین په صورت مذکوره پورې په طریقې داطلاق نه دی مراد برابره خبره ده که حالت دوقف وي او که حالت دغیروقف وي بلکه مراددمصنف حصرد جواز دالتقاء الساکنین دی تردې صورت مذکوره کښې پورې په حالت دعدم وقف کښې یعنې په حالت دعدم وقف کښې التقاء الساکنین جائزدی فقط په دې صورت مذکوره اوهرچې حالت دوقف دی نوپه دې حالت کښې التقاء الساکنین جائز دی مطلقاً یعنې هم په دې صورت مذکوره کښې اوهم له دې صورت مذکوره نه غیرپه بل صورت کښې .

ويحذف من الفعل معهماالنون فى الامثلة الخمسة وهى يفعلان وتفعلان ويفعلون وتفعلون وتفعلين ويحذف واويفعلون وتفعلون وياء تفعلين الا اذاا انفتح ماقبلهما نحو لا تخشون ولا تخشين ولتبلون واماترين .

**ترجمه**: اوحذف کېږي په وخت د اتصال د دې نون ثقيله اونون خفيفه کښې دفعل سره نون اعرابي په پنځه صيغو کښې چې هغه پنځه صيغې يفعلان دی چې داصيغه دتثني مذکرغائب ده اوتفعلان دی چې دامشترکه ده په مابين دتثني مؤنثې غائبې کښې اودتثني مذکرې مخاطبې کښې اودتنثي مؤنثې مخاطبې کښې اويفعلان دی چې داصيغه دجمعې مذکرې غائبې ده اوتفعلون دی چې داصيغه دجمعې مذکرې مخاطبې ده اوتفعلين دی چې داصيغه دواحدې مؤنثې مخاطبې ده نوپه دې پنځو صيغوپورې چې کله نون ثقيله اويا خفيفه دتاکيد ملحق شي نو ددوئ په اخيرکښې چې کوم نون اعرابي موجود وي هغه به ورنه حذف کېږي اوهمدارنګه په وخت دلحوق دنون ثقيله اويا خفيفه کښې حذف کېږي واوپه يفعلون اوتفعلون کښې اوياء په تفعلين کښې مګرپه هغه صورت کښې داواواوياء نه حذفيږي چې ماقبل له دې واو اوياء نه مفتوح وي مثال لکه لاتخشون اولاتخشين اولتبلون اواماترين نوپه اول اودريم مثالونو کښې واونه دی حذف شوی اوپه دويم اوڅلورم مثال کښې ياء نه ده حذف شوي ځکه چې ماقبل له دې نه واو اوياء نه فتحه ده .

**تشريح**: زده کړه داخبره چې په دې پنځوصيغوکښې چې مصنف ذکرکړي دې وړاندې له دخول دنون تاکيدنه په دوئ کښې نون اعرابي موجودوي چې دانون اعرابي علامه درفعې ده اوقائم ده په مقام دضمې باندې ځکه چې داپنځه واړه صيغې دفعل مضارع معربې دي اوعلامه داعراب په دوئ کښې دانون اعرابي دی په دې شان چې ددوئ رفعه په نون سره ده اوددوئ نصب اوجزم په اسقاط دنون سره وي نوچې کله په دې پنځوصيغوباندې نون دتاکيد داخل شي برابره خبره که دانون ثقيله وي چې دا داخلېږي په دې پنځه واړه صيغوباندې اوکه دانون خفيفه وي چې داداخلېږي فقط په

Maktaba Tul Ishaat.com

اخيري دريو صيغو باندې نو دا نون اعرابي به ساقطيږي او حذف کيږي به او ددې نون اعرابي د حذف او د اسقاط لپاره دوه وجهې دي .

۱- وجه داده چې کله په دې فعل مضارع پورې نون د تاکيد ملحق شي نو له وجهې د شدت امتزاج د دې نون نه د فعل مضارع سره د دې فعل مضارع اخير وسط جوړيږي او شك نشته چې اعراب په وسط کښې نه جاري کيږي نو فعل مضارع په دې وخت کښې مبني ګرزوي نو هر کله چې مضارع مبني شوه نو له دې نه به ضرور اعراب او هغه شی چې قائم وي په مقام د اعراب باندې لکه دا نون اعرابي ساقطيږي .

۲- وجه داده چې که چيرته دا نون اعرابي حذف نه کړی شي له دې فعل مضارع نه په دې پنځو صيغو کښې نو چې کله ور باندې نون تاکيد ثقيله ور داخل شي لازميږي اجتماع د ثلاث نونات ځکه چې دا نون ثقيله مرکب دی له دوه نونينو نه او شك نشته چې اجتماع د ثلاث نونات ثقل پيدا کوي نو په وخت د لحوق د نون د تاکيد کښې په ضرور دا نون اعرابي حذف کولی شي په دې پنځه صيغو کښې .

او همدارنګه چې کله نون ثقيله او يا نون خفيفه ملحق او متصل شي تر اخيرد دريو صيغو پورې چې يفعلون او تفعلون او تفعلين دی نو په دې اولو دوه صيغو کښې به واو حذف کولی شي او په دريمه صيغه کښې به ياء حذف کولی شي او وجه لپاره د حذف د دې واو او ياء داده چې په تقدير د لحوق د دې نون ثقيله او نون خفيفه سره لازميږي التقاء الساکنين چې اول ساکن دا واو او ياء ده او دويم ساکن نون خفيفه ده په صورت د لحوق د نون خفيفه کښې او نون مدغمه دويم ساکن دی په صورت د لحوق د نون ثقيله کښې نو لپاره د دفعې د التقاء الساکنين به دا واو او ياء حذف کولی شي په دې دريو صيغو کښې .

**اعتراض:** معترض وايي چې په صورت د لحوق د نون خفيفه کښې اګرچې دفعه د التقاء الساکنين په دې سره راځي چې دا واو او ياء حذف کړی شي خو ليکن په صورت د لحوق د نون ثقيله کښې د دفعې د التقاء الساکنين لپاره بل صورت هم موجود

دی او هغه صورت دادی چې دانون ساکنه حذف کړی شي نوولې حذف د دواواو یاء غوره کړی شو اوددې په ځای باندې حذف دنون ساکنه غوره نه کړی شو.

**جواب:** مونږ ورته وایو چې که چیرته نون ساکنه حذف کړی شي په ځای دواو اویاء باندې نوبیالازمېږي التباس ددې نون ثقیله دنون خفیفه سره نولپاره ددې چې لازم نشي التباس دنون ثقیله دنون خفیفه سره دانون ساکنه حذف نه کړی شو بلکه داواو اویاء حذف کړی شو.

**اعتراض:** معترض وایي چې نه منم داخبره چې التباس دنون ثقیله راځي دنون خفیفه سره بلکه چې دانون ساکنه حذف کړی شي دنون ثقیله نوبیاهم التباس نشته ځکه چې نون خفیفه ساکن وي اودانون ثقیله متحرك وي نوپه حرکت سره ددوئ په مابین کښې التباس دفعه کېږي.

**جواب:** مونږ ورته وایوچې مرادله التباس نه التباس دی په اعتبارد صورت سره اوشك نشته چې کله نون ساکنه حذف کړی شي دنون ثقیله نه نوبیالازمېږي التباس ددې نون ثقیله دنون خفیفه سره په اعتبارد صورت نوله دې وجهې نه به نون ساکنه نشي حذف کولی بلکه واو اویاء به حذف کولی شي.

**اعتراض:** معترض وایي چې داواو اویاء فاعل دي ځکه چې واو هم ضمیردی اویاء هم ضمیردی اوحذف دفاعل خونه دی جائز نوباید داواو اویاء حذف نه کړی شي په وخت دلحوق دنون دتاکید کښې.

**جواب:** مونږ ورته وایوچې حذف دفاعل په هغه وخت کښې نه دی جائز چې کله داسې یوشی نه وي موجود چې هغه دلالت وکړي په فاعل باندې اوچې کله داسې یوشی موجودوي چې هغه دلالت وکړي په فاعل باندې نوبیاحذف دفاعل جائزوي اوپه دې ځای کښې هم داسې شی موجو دی چې هغه دلالت کوي په دې ضمیرد فاعل باندې چې هغه شی ضمه ده مخکې له واو نه اوکسره ده مخکې له یاء نه نوداضمه دلالت کوي په واو باندې اوداکسره دلالت کوي په یاء باندې نوجائزدي حذف کول ددې واو اویاء.

Maktaba Tul Ishaat.com

**اعتراض**: معترض وايي چې هر کله جائزدي حذف کول دواو اوياء له وجهې ددلالت دضمې نه په واوباندې اوله وجهې ددلالت دکسرې نه په ياء باندې نوبايد چې په تثنيه کښې دالف حذف جائزشي چې کله ورپورې لحوق دنون ثقيله وشي ځکه چې ماقبل له الف نه په تثنيه کښې فتحه موجوده وي نودافتحه دلالت کوي په دې الف باندې نوله وجهې ددلالت دفتحې نه په الف باندې ددې الف حذف هم په شان دحذف دواو اوياء دی په دې خبره کښې چې ددوئ حذف لکه نه حذف داسې دی .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې په دې تثنيه کښې اګرچې فتحه موجوده ده مخکې له الف نه نوکه چيرته الف حذف کړی شي نودافتحه بيادلالت کوي پـه دې الف محذوفه باندې خوليکن په دې تثنيه کښې له حذف دالف نه مانع موجوددی اوهغه مانع دادی چې کـه چيرتـه داالف پـه تثنيـه کـښې حذف کړی شي نوبيـالازمېږي التبـاس دتثنې دواحد سره نولـه وجهې دلزوم ددې التباس نه نه دي جائزچې الـف حذف کړی شي اواکتفاء وکړی شي په فتحې دماقبل دالف باندې .

**اعتراض**: معترض وايي چې نه منم چې کله الف حذف کړی شي دتثنې اواکتفاء وکړی شي په هغې فتحې باندې چې کومه واقع وي مخکې لـه الف نـه نولازم بـه شي التباس ددې تثنې دواحدسره بلکه التباس نه لازمېږي ځکه چې داالتباس مدفوع دی په حرکت دنون تاکيدثقيله سره ځکه چې دانون تاکيدثقيله په تثنيه کښې مکسوروي اوپه صيغه دواحدکښې مفتوح وي نوچې الف حذف کړی شي نـه لازمېږي التباس پـه مابين دتثنې کښې اوپـه مـابين دواحدکـښې ځکـه چې التبـاس ددوئ دواړوپـه مـابين کښې دفعه کېږي په حرکت دنون ثقيله سره .

**جواب**: مونږ ورتـه وايوچې پـه حرکت ددې نون ثقيله سره التباس نشي دفعه کېدای په مابين دتثنې اودواحدکښې ځکه چې دانون واقـع دی پـه طرف کښې نودده حرکت ته څه اعتبارنشته .

**اعتـراض**: معتـرض وايـي چې دايفعلـون اوتفعلـون اوتفعلـين درې واړه صـيغې دثلاثي مجردودي نولـه دې نـه معلومېږي چې داواو دجمعې اوياء دواحدې مؤنثې

مخاطبې حذف کولی شي فقط په ثلاثي مجردو کښې او ثلاثي مجردو نه غیر په نورو افعالو کښې چې ثلاثي مزید دي اورباعي مجرد اورباعي مزیدفیه دی واو اویاء په کښې نه حذف کېږي اوحال دادی چې لکه څنګه چې داواو اویاء حذف کېږي په ثلاثي مجردو کښې نو همدارنګه دا واوحذف کېږي په جمعه درباعي مجردو کښې اوډثلاثي مزیدفیه اودرباعي مزیدفیه کښې اویاء حذف کېږي ددوئ په واحده مؤنثه مخاطبه کښې نودا تخصیص دحذف دواو اویاء ترثلاثي مجردو پورې نه دی صحیح .

**جواب:** مونږ ورته وایوچې دااعتراض به په هغه وخت کښې وارد وای که چیرته مراد له یفعلون اوتفعلون اوتفعلین ددوئ خپلې معنیٰ ګانې مراد وای بلکه مراد له یفعلون نه جمعه مذکره غائبه ده اومراد له تفعلون نه جمعه مذکره مخاطبه ده اومرادله تفعلین واحده مؤنثه مخاطبه ده برابره خبره ده که دادرې واړه ثلاثي مجرد وي اوکه ثلاثي مزیدفیه وي اوکه رباعي مجرد وي اوکه رباعي مزیدفیه وي نوهرکله چې له دوئ دریو واړونه داعامه معنیٰ مراده دی نولازم نه شو اختصاص دحذف دواو اودیاء ترثلاثي مجردو پورې .

اوداقول دمصنف چې الا اذاانفتح ماقبلهما الی آخره استثناء ده له دې قول دمصنف نه چې ویحذف واویفعلون وتفعلون ویاء تفعلین نوحاصل دکلام دمصنف دادی چې دا واو دیفعلون اوتفعلون اویاء دتفعلین نه شي حذف کولی چې کله ددوئ نه ماقبل مفتوح وي اووجه لپاره دعدم جواز دحذف دواو اویاء چې کله له دوئ نه ماقبل مفتوح وي دادی چې که چیرته په دې صورت کښې واو اویاء حذف کړی شي نوبیالازمېږي حذف دفاعل چې دا واو اویاء دي بغیردوجود دځه امرنه چې هغه دلالت وکړي په دې واو اویاء محذوفه باندې ځکه چې دال په واوباندې ضمه دماقبل ده اودال په یاء باندې کسره دماقبل ده اوپه دې صورت کښې خوموجود په ماقبل دواو اویاء کښې فتحه ده نوله دې وجهې نه جائزنه شو حذف دواو اویاء په دې دریو صیغو کښې .

Maktaba Tul Ishaat.com

**اعتراض:** معترض وایي چې هر کله په صورت دوجود دفتحې کښې ماقبل دواو اویاء نه دا واواویا، حذف نه کړی شي نویاخولازمېږي التقاء الساکنین چې اول ساکن به واواویاء وي اودویم ساکن به نون خفیفه وي په صورت دلحوق دنون خفیفه کښې اودویم ساکن نون ساکنه مدغمه دی په صورت دلحوق دنون ثقیله کښې .

جواب : مونږ ورته وایوچې په دې صورت کښې داواوته حرکت دضمې ورکولی شي اودې یاء ته حرکت دکسرې ورکولی شي نوپه دې حرکت ورکولوسره واو اویاء ته دفعه کېږي التقاء الساکنین .

## ویفتح آخرالفعل اذاکان فعل الواحد والواحدة الغائبة ویضم اذاکان فعل جماعة الذکور ویکسراذاکان فعل الواحدة المخاطبة .

**ترجمه:** اوفتحه به ورکولی شي اخیردهغه فعل ته چې ورپورې نون دتاکید متصل شوی وي په صیغه دواحدکښې که مذکروي اوکه مؤنث وي اوبیاچې مذکروي که غائب وي اوکه مخاطب وي اوهمدارنګه دااخیردفعل به مفتوح وي چې کله ورپورې نون دتاکید متصل شوی وي په صیغه دواحدې مؤنثې غائبې کښې اواخیر ددې فعل ته به ضمه ورکولی شي چې دافعل صیغه دجمعې مذکروي برابره خبره ده که جمعه مذکره غائبه وي اوکه جمعه مذکره مخاطبه وي اواخیرددې فعل ته به کسره ورکولی شي په صیغې دواحدې مؤنثې مخاطبې کښې .

**تشریح:** مصنف وایي چې کله نون ثقیله اویا نون خفیفه ملحق اومتصل شي تراخیردفعل پورې نو: ااخیردفعل ته به فتحه ورکولی شي په صیغه دواحدغائب کښې که مذکروي اوکه مؤنث وي بیامذکرکه مخاطب وي اوکه مخاطب وي اودافتحه به حرکت بنائي وي نه حرکت اعرابي ځکه چې په وخت دلحقوق دنون دتاکیدکښې فعل مضارع مبني وي .

**اعتراض:** معترض وایي چې په وخت دلحقوق دنون دتاکیدکښې اګرچې فعل مضارع مبني وي خولیکن څه وجه ده دمبني کولودې فعل مضارع په فتحې سره حال

دادی چې لکه څنګه چې بناء راځي په فتحې سره نوهمدارنګه بناء په کسرې اوضمې سره هم راځي نوځه وجه ده لپاره داختیاردفتحې په کسرې اوضمې باندې .

**جواب:** مونږ ورته وایوچې مقصودپه بناء کښې خفت وي اوداخفت راحاصلېږي په فتحې سره ځکه چې فتحه خفیفه ده په نسبت سره کسرې اوضمې ته نوله دې وجهې نه فتحه اصل ده په بناء کښې په نسبت سره ضمې اوکسرې ته .

**اعتراض:** معترض وایي چې هرکله فتحه اصل دی په بناء کښې په نسبت سره ضمې اوکسرې ته نوځه وجه ده چې عدول وکړی شودفتحې نه ضمې ته په جمعه مذکره کښې اوکسرې ته په واحده مؤنثه مخاطبه کښې نوبایدپه دوئ دواړوکښې هم اخیرته فتحه ورکړی شوې وای په ځای دضمې اوکسرې .

**جواب:** مونږ ورته وایوچې په دې جمعه دمذکرکښې که غائبه وي اوکه مخاطبه وي ځکه اخیرته ضمه ورکړی شوه ځکه چې په دې جمعه کښې حذف دواوشوی دی نوضمه ورته ورکړی شوه لپاره ددې چې داضمه دلالت وکړي په واومحذوفه باندې اوپه واحده مؤنثه مخاطبه کښې یاء حذف شوې ده نوددې لپاره ورته کسره ورکړی شوه چې داکسره دلالت وکړي په یاء محذوفه باندې اوکه چیرته په دې جمعه مذکره اوواحده مؤنثه مخاطبه کښې فتحه ورکړی شوې وای نوبیالازمېده حذف دواو اویاء بغیردوجود دهغه امرنه چې هغه دال وي په دې واواویاء باندې اوداسې حذف ددې واو اویاء نه دی جائز.

## فتقول فی امرالغائب مؤکداً باالنون الثقیله الخ .

مصنف په دې ځای کښې څلورګردانه ذکرکړي دي اول دامرغائب دی چې ورپورې لحوق دنون ثقیله شوی وي نودې امرغائب لپاره شپږصیغې ذکرکړي دي چې درې دمذکرغائب دي اودرې دمؤنث غائب دي اونون ثقیله داخل شوی په دې شپږوواړو صیغوباندې اودویم ګردان دامرغائب دی چې په هغه پورې لحوق دنون خفیفه شوی وي اوددې لپاره مصنف په شپږوصیغودغائب کښې درې صیغې ذکرکړي دي اوله دواحدمذکرده اودویمه دجمعې مذکرې ده اودریمه دواحدې مؤنثې ده اودوه صیغې

Maktaba Tul Ishaat.com

دتثنيې اويـوه صيغه دجمعې مؤنثې غـائبې مـصنف نـه دي ذكركړي ځكـه چې تـردې دريوصيغوپوري لحوق دنون خفيفه نه كېږي اودريم ګردان دهغه امرحاضردى چې په هغېه پورې لحوق دنون ثقيله شوى وي نوددې لپاره مصنف شپږواړه صيغې ذكركړي چې درې په كښې دمذكردي اودرې په كښې لپاره دمؤنث دي ځكه چې دانون ثقيله په ټولوصيغودامرحاضرپورې ملحق كېږي اوڅلورم ګردان دامرحاضردى چې ورپورې لحوق اواتصال دنون تاكيدخفيفه شوى وي اومصنف ددې لپاره هغه درې صيغې ذكركړي دي چې كومې درې صيغې ورته په دويم ګردان كښې ذكركړې وې .

اوپه دې ټولوګردانونوكښې په اخيردواحدمذكركښې كه غائب وي اوكه مخاطب وي اوهمدارنګه په صيغه دواحدې غائبې كښې فتحه موجوده ده اوپه اخيردجمعه مذكره كښې كه دغائب وي اوكه دمخاطب وي ضمه موجوده ده اوپه اخيردواحدې مؤنثې مخاطبې كښې كسره موجوده ده .

وقس على هذا نظائره الخ .

پـه دې ځاى كښې محشي پـه حاشيه كښې يـو اعتراض اوجـواب ذكركړى دى داعتـراض دمحشي حاصل دادى چې معتـرض وايـي چې داضـميرمجروريـه نظـائره كښې چې مـضاف اليـه دى لپـاره دلفـظ دنظـائرراجع دى امرغـائـب تـه اوامرحاضرته اوداضميردواحد دى اوامرغائب او امرحاضردوه شيان دي نومطابقت نشته په مابين دراجع كښې اوپـه مابين دمرجع كښې اوحـال دادى چې مطابقت پـه مـابين دراجع اودمرجع كښې ضروري اوواجب دى .

اوحاصل دجواب دمحشي دادى چې داضمېردنظائره راجع دى امرغائب اوامر حاضرته په تأويل دكل واحدسره اوشك نشته چې وروسته له دې تأويـل نـه لكـه څنګه چې راجع چې داضميردى واحد دى نوهمدارنګه مرجع هم واحد دى نومطابقت حاصل شو په مابين دراجع اودمرجع كښې .

زه وايم چې محشي كوم اعتراض اوجواب ذكركړى دى پـه دې كښې دامحشي خطاء شوى دى ځكه چې مرادله نظائرونـه ليعلمن اواعلمن دى اوهمدارنګه ليضربن

او اضربن دی اوشك نشته چې دا امور او د دوئ امثال نظائرنه دي لپاره دامرغائب او امر حاضربلکه دوئ نظائردي لپاره دلینصرن او انصرن او نظائر نه دي لپاره دامرغائب او امرحاضربلکه دهغوئ لپاره افراد او امثال دي نوحق دادی چې داضمیر مجروررا جع کړی شي دې لینصرن او انصرن ته او په دې کښې دامذکوراعتراض او جواب جاري کړی شي ځکه چې دامذکوراعتراض لکه څنګه چې وارددی په هغه تقدیرباندې چې داضمیر راجع کړی شي امرغائب او امرحاضرته نوهمدارنګه دامذکوراعتراض واردیږي په هغه تقدیرباندې هم چې داضمیرمجرورراجع کړی شي لینصرن او انصرن ته ځکه چې په دې تقدیرکښې هم مطابقت نشته په مابین دراجع کښې او په مابین دمرجع کښې ځکه چې راجع ضمیردواحددی اومرجع متعدد دی .

نوپه دې تقدیرباندې به هم دواړاندې جواب په شان باندې جواب ورکولی شي په دې شان چې ورته ویلی به شي چې داضمیرمجرورراجع دی لینصرن او انصرن ته په تأویل دکل واحدسره اوشك نشته چې وروسته له دې تأویل نه دامرجع هم واحد ده لکه څنګه چې داراجع واحد ده .

**واماسم الفاعل والمفعول من الثلاثي المجرد فاالاكثران يجئ اسم الفاعل منه على فاعل تقول ناصر ناصران ناصرون ناصرة ناصرتان ناصرات ونواصر واسم المفعول على مفعول تقول منصور منصوران منصورون منصورة منصورتان منصورات .**

**ترجمه**: او هرچې اسم فاعل او اسم مفعول دي له ثلاثي مجردونه نو اکثرداري چې اسم فاعل له دې ثلاثي مجردونه راځي په وزن دفاعل سره نوته به وایې ناصر ترناصرات او نواصر پورې چې دادواړه جمعې مؤنثې داسم فاعل دي اوله سالمه ده اودویمه مکسره ده او اسم مفعول له دې ثلاثي مجردونه راځي په وزن دمفعول سره ته به وایې منصور تراخیره پورې چې منصورات دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

**تشریح**: هرکله چې مصنف فارغ شوله بیان دافعالونه نوشروع یې وکړه په بیان دهغو اسماء کښې چې هغوئ مشتق وي له دې افعالونه چې هغه اسماء عبارت دي له اسم فاعل او اسم مفعول نه.

**اعتراض**: معترض وایي چې څه وجه ده چې مصنف افعال مقدم کړه په اسماء باندې سره لډ دې چې له فقط اسماء نه کلام جوړیدی شي لکه زید قائم او دفقط افعالونه کلام نشي جوړیدی.

**جواب**: مونږ ورته وایو چې ده افعال ځکه مقدم کړه په اسماء باندې ځکه چې دا اسماء مشتق دي دافعالونه نو دا اسماء په اشتقاق کښې محتاج دي افعالوته په دې شان چې اسم فاعل او اسم مفعول باالذات مشتق دي دفعل مضارع نه او شك نشته چې مشتق منه اصل وي لپاره د مشتق او مشتق ورته فرع وي او اصل حقداروي د تقدیم په فرع باندې نو ځکه دا افعال مقدم کړی شو په دې اسماء باندې.

**اعتراض**: معترض وایي چې څه وجه ده چې مصنف اسم فاعل مقدم کړی دی په اسم مفعول باندې حال دادی چې دا هرواحدله دې اسم فاعل او اسم مفعول نه مشتق دي له فعل نه.

۱ - **جواب**: مونږ ورته وایو چې دا اسم فاعل عام دی هم مشتق کېږي دفعل لازم نه لکه قائم او هم دفعل متعدي نه لکه ضارب په خلاف دا اسم مفعول چې دا خاص دی فقط دفعل متعدي نه مشتق کېږي لکه مضروب او شك نشته چې عام حقدار د تقدیم دی په خاص باندې نو ځکه مصنف تقدیم دا اسم فاعل وکړو په اسم مفعول باندې او ددې عکس یې ونه کړو.

۲ - **جواب**: مونږ ورته وایو چې دا اسم فاعل نوم او صفت دی لپاره دفاعل او فاعل عمده دی او اسم مفعول نوم او صفت دی لپاره د مفعول او مفعول فضله دی چې کله وویل شي چې ضرب زید عمرواً نو ددې زید صفت ضارب دی او ددې عمرو صفت مضروب دی او فاعل ځکه عمده دی ځکه چې جمله فعلیه نه تامېږي بغیر دفاعل نه او مفعول بـه ځکه

فضله دی چې جمله افعليه تامېږي بغيرد مفعول به نه نو به دې اعتبار اسم فاعل اصل دی د اسم مفعول نه او شك نشته چې اصل حقدار وي د تقديم په فرع باندې .

مصنف قيد د اكثر ذكر كړی دی چې د دې مطلب دا دی چې اسم فاعل اكثر راځي په وزن د فاعل سره او په طريقې د قلت سره راځي په نورو اوزانو سره لكه د فعيل وزن مثال لكه سليم او لكه د فعول وزن مثال لكه غفور او لكه فعال وزن مثال لكه غفار نو اسم فاعل اگر چې په دې ټولو اوزانو باندې راځي خو ليكن د ده راتلل په وزن د فاعل سره زيات دي په دې ثلاثي مجردو كښې او په دې نورو اوزانو سره په دې ثلاثي مجردو كښې راځي په طريقې د قلت سره .

**اعتراض:** معترض وايي چې د اكوم اسم په ثلاثي مجردو كښې راغلی وي په غير د وزن د فاعل باندې په دې شان چې په وزن د فعال او يا فعيل او يا فعول سره راغلی وي نو داخو نه دي داخل په اسم فاعل كښې بعضې صيغې د مبالغې دي لكه فعال او بعض صيغې د صفت مشبه دي لكه فعيل او فعول نو ذكر د قيد د اكثر چې مصنف كړی دی نه دی صحيح .

**جواب:** مونږ ورته وايو چې دا اعتراض به په هغه وخت كښې وارد وای كه چيرته كلام د مصنف بناء وای په مذهب د نحاتو باندې چې هغوئ صفت مشبه او صيغه د مبالغې خارج بولي د اسم فاعل نه خو ليكن دا سې نه ده بلكه كلام د مصنف بناء دی په مذهب د اهل تصريف باندې او په مذهب د اهل تصريف باندې صيغه د مبالغې او صفت مشبه داخل دي په اسم فاعل كښې نو مصنف چې قيد د اكثر ذكر كړی دا صحيح دی .

او د دې اسم فاعل اشتقاق د فعل مضارع نه شوی دی ځكه چې په مابين د اسم فاعل كښې او په مابين د فعل مضارع كښې مناسبت دی په دې خبره كښې چې دا اسم فاعل هم صفت واقع كېږي لپاره د نكرې لكه څنګه چې فعل مضارع صفت واقع كېږي لپاره د نكرې ويلی شي جاء ني رجل ضارب لكه څنګه چې ويلی شي جاءني رجل يضرب نو په وخت د اشتقاق د اسم فاعل كښې د فعل مضارع نه حرف مضارعت حذف

Maktaba Tul Ishaat.com

کړی شوا وپه مابين دفاء کلمې اودعين کلمې کښې الف زيات کړی شوله يفعل فعل مضارع معلوم نه فاعل اسم فاعل جوړشولکه ديضرب نه ضارب .

**اعتراض**: معترض وايي چې څه وجه ده چې په وخت داشتقاق دفعل مضارع کښې حرف مضارعت له فعل مضارع نه حذف کړی شو.

**جواب**: مونږ ورته وايوچې وجه لپاره دحذف دحرف مضارعت دفعل مضارع نه داده چې که چيرته ددې اسم فعل داشتقاق په وخت کښې حرف مضارعت حذف نه کړی شي نوبيابه لازم شي التباس په مابين داسم فاعل کښې اوپه مابين دفعل مضارع معلوم کښې نولپاره دفرق په مابين ددوئ دواړو کښې حرف مضارعت ددې فعل مضارع معلوم نه حذف کړی شوپه وخت داشتقاق داسم فاعل کښې دفعل مضارع نه .

**اعتراض**: معترض وايي چې څه وجه ده چې په وخت داشتقاق داسم فاعل کښې دفعل مضارع نه په دې اسم فاعل کښې الف زيات کړی شو.

**جواب**: مونږ ورته وايوچې که چيرته په اسم فاعل کښې الف زيات نه کړی شي وروسته له حذف دحرف مضارعت نه نولازم به شي التباس ددې اسم فاعل دفعل ماضي سره نولپاره ددفعې دالتباس په مابين دفعل ماضي کښې اوپه مابين داسم فاعل کښې الف زيات کړی شو .

**اعتراض**: معترض وايي چې فرق په مابين دفعل مضارع کښې اوپه مابين داسم فاعل کښې لکه څنګه چې په دې سره راځي چې حرف مضارعت حذف کړی شي نوهمدارنګه په دې سره هم راځي چې دحرف مضارعت نه غيربل کوم حرف حذف کړی شي دفعل مضارع نه په وخت داشتقاق داسم فاعل کښې دفعل مضارع نه نوڅه وجه ده چې داحرف مضارعت متعين کړی شو لپاره دحذف اوددې په ځای باندې بل کوم حرف حذف نه کړی شو .

جواب : مونږ ورته وايوچې داحرف مضارعت څکه متعين کړی شولپاره دحذف اوددې په ځای باندې بل حرف مضارعت حذف نه کړی شوله دې وجه نه چې داحرف مضارعت په دې فعل مضارع معلوم دثلاثي مجردوکښې حرف زائد دی اوداباقي

نورحروف اصلي حروف دي اوشك نشته چې حرف زائد زيات لائق دی لپاره دحذف اوداسقاط له حرف اصلي نه .

**اعتراض**: معترض وايي چې دازيادت دالف خولپاره ددې دی چې فرق راشي په مابين دا سم فاعل کښې اوپه مابين دفعل ماضي کښې نودافرق لکه څنګه چې په الف سره حاصلېږي نوهمدارنګه دافرق دالف نه غيرپه بل حرف سره هم حاصلېږي چې هغه زيات کړی شي په دې اسم فاعل کښې نوڅه وجه لپاره دتعين دالف چې دازيات کړی شواوددې په ځای باندې بل څه حرف زيات نه کړی شو .

**جواب**: مونږ ورته وايوچې داالف ځکه متعين کړی شولپاره دزيادت ځکه چې داالف اخت الفتحه دی ځکه چې الف جوړشوی دی له دوه فتحونه اوشك نشته چې فتحه اخف الحرکات دی نوداالف به هم اخف الحروف وي نوله وجهې دخفت دالف نه داالف متعين کړی شولپاره دزيادت .

**اعتراض**: معترض وايي چې څه وجه ده چې په ګردان ددې اسم فاعل کښې مصنف صيغې دمذکرمقدم کړي دي په صيغودمؤنث باندې حال دادی چې دااسم فاعل صادق دی هم په صيغودمذکرباندې اوهم په صيغودمؤنث باندې اوهمدارنګه داټولې صيغې برابرې دي په اشتقاق کښې دفعل مضارع نه .

١ - **جواب**: مونږورته وايوچې دامذکراشرف دی په نسبت سره مؤنث ته اواشرف احق دی دتقديم په غيراشرف باندې .

٢ - **جواب**: مونږ ورته وايوچې داصيغې دمؤنث مؤخوذې دي له صيغودمذکرنه ځکه چې ناصرة جوړشوی دی له ناصرنه په زيادت دتاء دتانيث سره نودمذکرصيغې أصل دي په نسبت سره صيغودمؤنث ته اوشك نشته چې اصل حقداروي دتقديم نودمذکرصيغې په دې ګردان کښې مقدم کړی شوې په صيغودمؤنث باندې .

اودااسم فاعل اواسم مفعول اګرچې دواړه مشتق دي دفعل مضارع نه خولېکن اسم فاعل مشتق دی دفعل مضارع معلوم نه اواسم مفعول مشتق دی دفعل مضارع مجهول نه اوداسم فاعل داشتقاق اوجوړيدوبيان مخکې وکړی شواوهرچې اسم مفعول دی

Maktaba Tul Ishaat.com

نو هغه جوړشوی دی دفعل مضارع نه په دې طریقې سره چې حرف مضارعت دفعل مضارع نه حذف کړې شو او دهغه په ځای باندې میم راوړی شو په اول کښې .

**اعتراض:** معترض وایي چې څه وجه ده چې دا حرف مضارعت حذف کړی شو په وخت د اشتقاق د اسم مفعول کښې دفعل مضارع نه .

**جواب:** مونږ ورته وایو چې دا حرف مضارعت ځکه حذف کړی شو چې فرق راشي په مابین دفعل مضارع کښې او په مابین د اسم مفعول کښې او که چیرته حرف مضارعت نه وای حذف کړی شوی نو بیالازمیده التباس په مابین دفعل مضارع کښې او په مابین د اسم مفعول کښې .

**اعتراض:** معترض وایي چې څه وجه ده چې په اول د اسم مفعول کښې میم زیات کړی شو .

**جواب:** مونږ ورته وایو که چیرته په اول ددې اسم مفعول کښې میم نه وای زیات کړی شوی نو بیالازمیده التباس په مابین دفعل ماضي کښې او په مابین د اسم مفعول کښې نو لپاره ددفعې د التباس ددوئ دواړو په مابین کښې دا میم زیات کړی شو په اول د اسم مفعول کښې .

**اعتراض:** معترض وایي چې هرکله زیادت د میم لپاره دفرق دی په مابین دفعل ماضي کښې او په مابین د اسم مفعول کښې نو باید چې په ځای ددې میم باندې یو حرف د حروفو علتو نه زیات کړی شوی وای ځکه چې دا حروف علت زیات لائق دي د زیادت ځکه چې دوئ کثیرا الدوران دي په کلام د عربو کښې یعنې په کلماتو د عربي ژبه کښې دوئ زیات موجود یږي په نسبت سره نورو حروفو ته .

**جواب:** مونږ ورته وایو چې د حروفو علتو زیادت په اول د اسم مفعول کښې نه دی ممکن ځکه که چیرته په اول د اسم مفعول کښې الف زیات کړی وای نو له دې وجهې نه چې دا الف ساکن وضعي دی بیالازمیده ابتداء او شروع په ساکن باندې او که چیرته یاء زیاته کړې وای نو بیا په تقدیر د عدم حذف د یاء چې حرف مضارعت دی د یائینو ، اتلو او په تقدیر د حذف د یاء سره چې هغه حرف مضارعت دی لازمیده

التباس داسم مفعول دفعل مضارع سره اوکه چيرته واوزيات کړی وای نوبيالازميده داسي کارچي هغه نه دی موجود په کلام دعربو کښې ځکه چې واوپه اول دکلمه کښې نشي زياتولی په کلام دعربو کښې .

**اعتراض**: معترض وايي چې هرکله دحروفو علتوزيادت نه وه ممکن په اسم مفعول کښې نو دي حروفو علتونه غيرحروف زيادت نورهم موجود وه بغيردميم نه نو څه وجه ده چې په دې ټولو حروفو دزيادت کښې داميم غوره کړی شو .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې ددې مناسبت دی داسم مفعول سره په دې کښې چې داميم هم شائع دی اوداسم مفعول هم شائع دی نوله دې وجهې دمناسبت نه په شيوع کښې داميم غوره کړی شولپاره دزيادت په اسم مفعول کښې .

**اعتراض**: معترض وايي چې څه وجه ده چې داميم په اسم مفعول کښې متحرك کړی شوحال دادی چې په سکون کښې خفت موجود دی په نسبت سره حرکت ته .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې که چيرته داميم ساکن کړی شوی وای نوبيالازمېږي ابتداء اوشروع په ساکن باندې اودامتعذره دی په کلام دعربو کښې .

**اعتراض**: معترض وايي چې ابتداء په ساکن باندې لکه څنګه چې دفعه کېږي په فتحې سره نوهمدارنګه دفعه کېږي په ضمې اوکسرې سره هم نو څه وجه ده چې مصنف ميم ته فتحه ورکړه اوددې فتحې په ځای باندې يې ورته ضمه اوکسره ورنه کړه چې ابتداء باالساکن دفعه شي .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې وجه لپاره داختيار اوغورکولو دفتحې داده چې دافتحه اخف الحرکات ده اوکه چيرته ورته ضمه ياکسره ورکړې وای نوبيالازمېده فوت کېدل ددې خفت چې داخفت مطلوب دی .

**اعتراض**: معترض وايي چې څه وجه ده چې په دې اسم مفعول کښې واوزيات کړی شوحال دادی چې فرق په مابين داسم مفعول کښې اوپه مابين دفعل ماضي کښې حاصل دی په زيادت دميم سره .

Maktaba Tul Ishaat.com

**جواب**: مونږ ورته وایو چې داو اوصیغه داسم مفعول کښې له دې وجه زیات کړی چې که چیرته واونه وای زیات کړی شوی نوداسم مفعول وزن به مفعل وه په ضمې دعین سره اوشك نشته چې مفعل وزن په ضمې دعین سره نه راځي په کلام دعربو کښې نوپه دې ضمه دعین کښې اشباع وکړی شوه اوله دې اشباع نه واوراحاصل شو نواسم مفعول په وزن دمفعول شو .

**وتقول في الفعل اللازم رجل ممرور به ممرور بهما ممرور بهم ممرور بها ممرور بهما ممرور بهن فتثنی وتجمع وتذکروتؤنث الضمیرفیمایتعدی بحرف الجر لااسم المفعول .**

**ترجمه**: اوته به وایې په اسم مفعول دفعل لازم کښې ممروربه تراخیره پورې چې ممروربهن دی نوته به تثنیه کوې اوجمعه کوې اومذکرکوې اومؤنث کوې ضمیرلره په هغه اسم مفعول کښې چې هغه متعدی شوی وي په حرف جرسره اوپه خپله دااسم مفعول به نه تثنیه کوې اوجمعه کوې اومذکرکوې اومؤنث کوې بلکه په خپله دااسم مفعول به مفرد مذکر وي .

**تشریح**: زده کړه داخبره چې اسم فاعل مشتق کېږي هم له فعل لازم نه اوهم له فعل متعدی نه ځکه چې داسم فاعل نسبت فاعل ته شوی وي اوحاجت په کښې نه وي مفعول ته نودااسم فاعل دهرهغه فعل لپاره راځي چې دهغه لپاره فاعل وي اوشك نشته چې فاعل لکه څنګه چې موجود دی لپاره دفعل متعدی نوهمدارنګه موجود دی لپاره دفعل لازم اوهرچې اسم مفعول دی نوهغه منسوب وي مفعول به ته نودااسم مفعول دهغه فعل نه به راځي چې دهغه فعل لپاره مفعول به وي نوله دې وجهې نه دااسم مفعول راځي دفعل متعدی نه فقط اودفعل لازمي نه راځي مګرپه هغه وخت کښې دااسم مفعول دفعل لازمي نه راځي چې دافعل لازمي متعدي کړی شي په واسطې دحرف جرسره نومررت لازمي دی اومررت به متعدي دی په واسطې دحرف جر سره اوورسته له تعدیت ددې مررت نه اسم مفعول ورنه مشتق کېږي چې هغه ممروربه دی

او دا حرف جرلكه څنګه چې موجود به وي د فعل سره نو همدارنګه به موجود وي د دې اسم مفعول سره نو اسم مفعول به ممرور به وي او ممرور بغير د حرف جرنه به نه وي .

نو هركله چې فعل متعدي په دوه قسمه دی اول قسم هغه فعل دی چې هغه متعدي بنفسه وي مثال لكه ضرب يضرب او دويم قسم هغه فعل دی چې متعدي وي په واسطې د حرف جر سره لكه مررت به نو هركله چې دا فعل متعدي په دوه قسمه دی نو دا اسم مفعول هم په دوه قسمه دی اول قسم هغه اسم مفعول دی چې هغه را مشتق او مؤخوذ وي د فعل متعدي دا اول قسم نه او دويم قسم د اسم مفعول هغه اسم مفعول دی چې هغه را مشتق وي د دې دويم قسم د فعل متعدي نه نو دا اول قسم د اسم مفعول به هم متعدي وي بنفسه او دده سره به واسطه د حرف جرنه وي او دويم قسم د اسم مفعول به متعدي وي په واسطې د حرف جر سره او حرف جر به ورسره موجود وي د اول مثال لكه مضروب او د دويم مثال لكه ممرور به .

او د دې اول اسم مفعول او د دويم اسم مفعول په مابين كښې فرق دی په دې شان چې دا اول قسم د اسم مفعول په خپله مذكر كېږي او مؤنث كېږي او تثنيه كېږي او جمعه كېږي په خلاف د دې قسم ثاني د اسم مفعول چې دا په خپله نه تثنيه كېږي او جمعه كېږي او مؤنث كېږي بلكه دده سره چې كوم ضميروي چې دا اسم مفعول ورته متعدي شوی وي هغه ضمير ته په واسطې د حرف جر سره نو دا ضمير به تثنيه كېږي او جمعه كېږي او مذكر كېږي او مؤنث كېږي او هرچې دا اسم مفعول دی نو دا به مفرد وي د هميشه لپاره او مذكر به وي .

او وجه د دې فرق داده چې فعل او همدارنګه هغه اسماء چې مشتق وي د فعل نه دوئ مذكر كېږي او مؤنث كېږي او تثنيه كېږي او جمعه كېږي نو دا په دوئ كښې په اعتبار د ذات د دوئ سره نه راځي بلكه دا شيان چې په دوئ كښې راځي نو دا په اعتبار د منسوب اليه سره راځي چې د امنسوب اليه د دوئ په فعل معلوم كښې او اسم فاعل كښې فاعل وي چې هغه كله ضميروي او مستكن وي په دوئ كښې او يا فقط متصل وي لكه په فعل كښې فقط نو بيا دوئ تثنيه كېږي په وا سطې د دې فاعل سره او چه كله

Maktaba Tul Ishaat.com

داسې نه وي نوبیادوئ نه وي تثنیه او جمعه بلکه مفردوي اومنسوب الیه په فعل مجهول کښې اوپه اسم مفعول کښې مفعول مالم یسم فاعله وي نود امفعول مالم یسم فاعله چې کله ضمیروي په دوئ کښې نوبیاپه واسطې ددې مفعول مالم یسم فاعله سره تثنیه کېږي اوجمعه کېږي اوچې کله دامفول مالم یسم فاعله ددوئ داسې نه وي نودوئ بیامفرد وي دهمیشه لپاره اواسم مفعول چې کله متعدي بنفسه وي نودده مفعول مالم یسم فاعله ضمیرمستکن وي په ده کښې نوځکه داقسم داسم مفعول تثنیه کېږي اوجمعه کېږي اوهرچې هغه اسم مفعول دی چې هغه متعدي وي په واسطې دحرف جرسره نودهغه مفعول مالم یسم فاعله به ده کښې نه وي بلکه هغه له ده نه منفصل اوجداوي په دې شان چې هغه واقع شوی وي مجرورلپاره دحرف جاره نودااسم مفعول ځکه تثینه اوجمعه اومؤنث نه راځي بلکه دهمیشه لپاره مفعرد مذکر وي اوفرق په مابین دصیغودې ددویم قسم اسم مفعول کښې په اعتباردې ضمیر سره وي نوپه صیغه دمذکرکښې به داضمیرمذکروي اوپه صیغه دمؤنث کښې به داضمیرمجرورمؤنث وي اوپه صیغه دمفرد کښې به داضمیرمفرد وي اوپه صیغه دتثني کښې به داضمیرتثنیه وي اوپه صیغه دجمعې کښې به داضمیرجمعه وي لکه دغه شان معامله واقع ده په هغه گردان داسم مفعول کښې چې کوم مصنف ذکرکړې ده لپاره دهغه اسم مفعول چې هغه متعدي دی په واسطې دحرف جرسره.

**وفعیل قدیجئ بمعنی الفاعل کاالرحیم وبمعنی المفعول کاالقتیل.**

**ترجمه**: اوفعیل وزن کله راځي په معنیٰ داسم فاعل سره مثال لکه رحیم چې داپه معنیٰ دراحم سره دی یعنې رحم کوونکی اوکله په معنی داسم مفعول سره راځي لکه قتیل چې داپه معنیٰ دمقتول سره دی.

**تشریح**: داوړاندې عبارت دمصنف جواب دی داعتراض نه معترض اوسائل وایي چې دافعیل وزن صیغه داسم فاعل هم ده اوصیغه داسم مفعول هم ده نوبایدچې په صیغوداسم فاعل کښې اوپه صیغوداسم مفعول کښې په دې وړاندې گردانونو کښې ددې فعیل موزونات هم ذکرکړي وای لکه څنگه چې موزونات دفاعل اوموزونات

دمفعول يې ذکر کړی دي نو مصنف ورته جواب ورکړو چې راتلل داسم فاعل او اسم مفعول په وزن دفعيل سره قليل دي نوله وجه دقلت نه مصنف ددې فعيل موزونات ذکر نه کړو په دې ګردانونو کښې اودې قلت ته مصنف اشاره وکړه په داخلولو دقد په فعل مضارع باندې چې يجئ ده ځکه چې کله قد داخل شي په فعل مضارع باندې نو دا قلت پيدا کوي يعني دتقليل لپاره راځي لکه څنګه چې داقد راځي لپاره دتحقيق چې په فعل ماضي باندې ورداخل شي .

او قاعده او ضابطه لپاره ددې چې فعيل وزن په معنیٰ داسم فاعل دی او که په معنیٰ داسم مفعول سره دی داده چې دافعيل چې دکوم فعل نه رامشتق وی نو هغه فعل به خالي نه وي يابه فعل لازم وي او يابه فعل متعدي وي که چيرته فعل لازم وه نو دافعيل په معنی دفاعل سره وي لکه رحيم چې ددې فعل لازم دی نو دارحيم په معنیٰ دفاعل سره دی او که چيرته دافعل متعدي وي نو بيادافعيل چې ورنه مشتق وي دابه په معنیٰ داسم مفعول سره وي لکه قتيل چې په معنیٰ دمقتول سره دی نو په دې ضابطې او قاعدې سره معلومېږي چې دافعيل په معنیٰ داسم فاعل سره دی او که په معنیٰ داسم مفعول سره دی او دا ضابطه عامه ده ټولوځايونو ته ورشامله ده .

**اعتراض:** معترض وايي چې هرکله دافعيل وزن په معنیٰ داسم فاعل سره هم راځي او په معنیٰ داسم مفعول سره هم راځي نو بيا خولازمېږي التباس او عدم فرق په مابين دهغه فعيل کښې چې په معنیٰ داسم فاعل سره وي او په مابين دهغه فعيل کښې چې په معنیٰ داسم مفعول سره وي .

**جواب:** مونږ ورته وايو چې نه منو دا خبره چې التباس راځي او فرق نه راځي په مابين دهغه فعيل کښې چې په معنی داسم فاعل سره دی او دهغه فعيل کښې چې په معنیٰ داسم مفعول سره دی بلکه فرق ددواړو په مابين کښې موجود دی په دوه وجهو سره .

Maktaba Tul Ishaat.com

۱- وجه دفرق داده چې ددې فعيل وزن فعل به نه وي خالي يابه لازمي وي اويابه متعدي وي كه چيرته لازمي وه نوبيادافعيل په معنیٰ داسم فاعل سره وي فقط اوكه چيرته دافعل متعدي وه نوبيابه دافعيل په معنیٰ داسم مفعول سره وي .

۲- وجه دفرق داده چې كله دافعيل په معنیٰ داسم فاعل سره وي نوپه دې كښې به مذكراومؤنث نه وي متساويان يعنې دمذكراودمؤنث لپاره به يوه صيغه نه وي بلكه دمذكرلپاره به فعيل مستعملېږي بغيردتاء نه اودمؤنث لپاره مستعملېږي په تاء سره مثال لكه عليم چې داراځي لپاره دمذكراوعليمة راځي لپاره دمؤنث اوچې كله دا فعيل په معنیٰ داسم مفعول سره وي نوبياپه دې كښې مذكراومؤنث برابروي يعنې ددواړو لپاره بغيردتاء نه راځي مثال لكه قتيل اوجريح چې دادواړه په معنیٰ داسم مفعول سره دي نودمذكرلپاره هم بغيردتاء نه راځي اودمؤنث لپاره هم بغيردتاء نه راځي .

**واما ما زاد على الثلاثة فاالضابطه فيه ان تضع فى مضارعه الميم المضمومة موضع حرف المضارعة وتكسرماقبل آخره فى الفاعل وتفتحه فى المفعول نحو مكرم ومكرم ومدحرج ومدحرج ومتدحرج ومتدحرج ومستخرج ومستخرج.**

**ترجمه**: اوهرچې اسم فاعل اواسم مفعول دهغوافعالودي چې هغه افعال زيات وي په دريوحروفوباندې يعنې هغه افعال رباعي مجردوي اوياثلاثي مزيدوي اويارباعي مزيدوي نوضابطه دجوړولوداسم فاعل اواسم مفعول په دې افعالو كښې داده چې ته به كېږدې دحرف مضارعت په ځای باندې ميم مضمومه په فعل مضارع كښې هم په اسم فاعل كښې اوهم په اسم مفعول كښې اوماقبل اخيرته به په اسم فاعل كښې كسره وركوې اوپه اسم مفعول كښې به ماقبل اخيرته فتحه وركوې مثال لكه مكرم په كسرې دراء سره صيغه داسم فاعل ده دباب افعال اولكه مكرم په فتحې دراء سره صيغه داسم مفعول ده دباب افعال اولكه مدحرج په كسرې دراء سره صيغه داسم فاعل وه درباعي مجرداولكه مدحرج په فتحې دراء سره صيغه داسم مفعول ده درباعي مجرداولكه متدحرج په كسرې دراء سره صيغه داسم فاعل ده درباعي

مزيد و اولكه متدحرج په فتحې دراء سره صيغه داسم مفعول درباعي مزيدفيه ده اولكه مستخرج په كسرې دراء سره اومستخرج په فتحې دراء سره دااوله صيغه داسم فاعل دباب استفعال ده اوداودويمه صيغه داسم مفعول دباب استفعال ده چې داباب استفعال له ابوابو ثلاثي مزيدفيه نه ده .

**تشريح**: هرواحدله اسم فاعل نه اوله اسم مفعول نه په دوه قسمه دي اول قسم اسم فاعل اواسم مفعول دثلاثي مجردودي نوددوئ اسم فاعل راځي په وزن دفاعل سره اوددوئ اسم مفعول راځي په وزن دمفعول سره اودويم قسم اسم فاعل اواسم مفعول دغيرثلاثي مجردودي چې ثلاثي مزيد اورباعي مجرد اورباعي مزيددي نوددوئ اسم فاعل اواسم مفعول په دې طريقې سره جوړېږي چې په دواړوكښې به په ځاى دحرف مضارعت باندې ميم مضمومه كېښودل شي اوبياپه اسم فاعل كښې به ماقبل اخيرته كسره وركړى شي اوپه اسم مفعول كښې به ماقبل اخيرته فتحه وركړى شي .

**اعتراض**: معترض وايي چې دادويم قسم داسم فاعل اواسم مفعول هم جوړشوى دى دفعل مضارع نه نوڅه وجه ده چې په وخت دجوړولودې دويم قسم داسم فاعل اواسم مفعول كښې حرف مضارعت حذف كړى شو .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې وجه لپاره دحذف دحرف مضارعت داده چې كه چېرته داحرف مضارعت نه واى حذف كړى شوى په وخت دجوړولوداسم فاعل اواسم مفعول كښې نوبيالازمېده التباس په مابين دفعل مضارع كښې اوپه مابين داسم فاعل اواسم مفعول كښې نولپاره ددفعې ددې التباس حرف مضارعت حذف كړى شو.

**اعتراض**: معترض وايي چې فرق په مابين داسم فاعل اواسم مفعول كښې اوپه مابين دفعل مضارع كښې هركله چې حاصل شوپه حذف دحرف مضارعت سره نوبايد چې وروسته له حذف دحرف مضارعت نه ميم نه واى راوړى شوى په اول داسم فاعل اواسم مفعول كښې ځكه چې ددې ميم راوړوته حاجت نشته .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې داخبره منوچې فرق په مابين داسم فاعل اواسم مفعول كښې اوپه مابين دفعل مضارع كښې حاصل دى په حذف دحرف مضارعت سره نه په

Maktaba Tul Ishaat.com

راوړو دمیم سره خولیکن بیاهم حاجت شته دی میم راوړوته ځکه که چیرته په وخت دجوړولو داسم فاعل اواسم مفعول کښې حرف مضارعت حذف کړی شي اومیم رانه وړای شي په اول ددې اسم فاعل اواسم مفعول کښې نولازم به شي التباس ددې اسم فاعل اواسم مفعول دفعل ماضي ددې غیرثلاثي مجردوسره نوزیادت ددې میم په اول ددې اسم فاعل اواسم مفعول کښې لپاره ددفعې دالتباس دی په مابین داسم فاعل اواسم مفعول کښې اوپه مابین دفعل ماضي کښې .

**اعتراض:** معترض وایي چې هرکله زیادت دمیم لپاره ددفعې دالتباس دی دفعل ماضي سره نوبایدچې دمیم په ځای باندې له حروفوعلتونه یې یوحرف زیات کړی وای ځکه چې داالتباس دفعل ماضي سره لکه څنګه چې په زیادت دمیم سره دفعه کېږي نوهمدارنګه په زیادت دیوحرف سره دحروفوعلتونه هم دفعه کېږي سره له دې نه چې حروف علت زیات لائق دزیادت دي ځکه چې دوئ کثیرالدوران دي په کلام دعربو کښې .

**جواب:** مونږ ورته وایوچې دااعتراض به په هغه وخت کښې وارد وه که چیرته زیادت دحرف علت ممکن وای په اول ددې اسم فاعل اواسم مفعول کښې په ځای دمیم باندې اوحال دادی چې دحرف علت زیادت نه دی ممکن ځکه که چیرته الف یې زیات کړی وای نوبیالازمېده ابتداء اوشروع په ساکن باندې اودامتعذره ده په کلام دعربو کښې اوکه چیرته یاء یې زیاته کړې وای نوبیاالتباس راتلودفعل مضارع سره په تقدیردحذف دیاء مضارعت اوکه چیرته یاء دمضارع یې نه وای حذف کړې نوبیا تکرار دیائینوراتلواوکه چیرته واوزیات کړی شوی وای نوبیالازمیده هغه کارچې هغه نه دی موجود په کلام دعربو کښې ځکه چې په کلام دعربو کښې نشته زیادت دواو په اول دکلمه کښې نوهرکله چې دحروفوعلتوزیادت نه وه ممکن په اول ددې اسم فاعل اواسم مفعول کښې نوځکه میم زیات کړی شو .

**اعتراض:** معترض وایي چې حروف زیادت خوډیروه نوڅه وجه ده لپاره دغوره کولودمیم .

**جواب**: مونږ ورته وايوچې دامیم ځکه غوره کړی شولپاره دزيادت په اول ددې اسم فاعل اواسم مفعول کښې ځکه چې اصل په زيادت کښې حروف علت دي اودامیم مناسبت لري دواوسره په دې خبره کښې چې دادواړه شفوي دي .

**اعتراض**: معترض وايي چې څه وجه ده چې دامیم چې زيات کړی شوی دی په اول ددې اسم فاعل اواسم مفعول دغيرثلاثي مجردو کښې متحرك کړی شوحال دادی چې په سکون کښې خفت موجود دی .

**جواب**: مونږ ورته وايوچې دامیم ځکه متحرك کړی شوځکه چې حرکت ورته نه وای ورکړی شوی بلکه ساکن کړی شوی وای نوبيالازميده ابتداء اوشروع په ساکن باندې نولپاره ددې چې ابتداء اوشروع په ساکن باندې رانشي نوځکه ورته حرکت ورکړی شو .

**اعتراض**: معترض وايي چې دفعه دابتداء اوشروع په ساکن باندې لکه څنګه چې کېږي په حرکت دضمې باندې نوهمدارنګه کېږي په بل حرکت سره هم لکه فتحه اوکسره نوڅه وجه ده لپاره داختياردضمې .

**جواب**: مونږ ورته وايوچې که چيرته دضمې په ځای باندې دامیم مکسورکړی شوی وای نوبيالازميده التباس په مابين داسم مفعول ددې باب افعال کښې اوپه مابين داسم آلې دثلاثي مجردو کښې اوکه چيرته دې ميم ته يې فتحه ورکړې وای نوبيالازميده التباس په مابين داسم فاعل دباب افعال کښې اوپه مابين داسم ظرف دثلاثي مجردو کښې چې داثلاثي مجردمکسورالعين وي لکه مضرب نودې ميم ته فتحه اوياکسره ورکول نه وه ممکن نوځکه ورته ضمه ورکړی شوه .

**اعتراض**: معترض وايي چې څه وجه ده چې ماقبل اخير په اسم فاعل ددې غيرثلاثي مجردو کښې مکسوروګرزول شو .

۱ - **جواب**: مونږ ورته وايوچې وجه لپاره دکسرې ورکولو ماقبل اخيرته داده چې موافقت راشي داسم فاعل دفعل مضارع سره په اکثرموادو کښې ځکه چې اسم فاعل مشتق دی دفعل مضارع معلومې نه اوماقبل اخيردفعل مضارع معلومې په غيرثلاثي

Maktaba Tul Ishaat.com

مجردو كښې په اكثرومواد و كښې مكسوروي فقط په هغوابوابو كښې مفتوح وي چې دهغوئ په اول كښې تاء زائده موجوده وي لكه باب دتدحرج اوباب تفاعل اوباب تفعل.

۲- **جواب**: مونږ ورته وايو چې دااسم فاعل دغيرثلاثي مجردوفرع ده دااسم فاعل دثلاثي مجردواوماقبل اخيرپه دې اسم فاعل دثلاثي مجردو كښې مكسوروي نوپه دې اسم فاعل دغيرثلاثي مجردوكښې هم ماقبل اخيرمكسوروګرزول شولپاره ددې چې لازم نشي مخالفت دفرعې چې اسم دغيرثلاثي مجرد وددى دااصل نه چې اسم فاعل دثلاثي مجرد ودى.

**اعتراض**: معترض وايي چې هركله په اسم فاعل دغيرثلاثي مجردوكښې ماقبل اخيرمكسوركړى شونوبايدپه اسم مفعول ددې غيرثلاثي مجردوكښې هم ماقبل اخيرمكسوركړى شوى واى لپاره دموافقت دااسم فاعل.

**جواب**: مونږ ورته وايوكه چيرته ماقبل اخيرپه اسم مفعول كښې هم مكسورګرزولى واى نوبيالازميده التباس دااسم مفعول دااسم فاعل سره نولپاره ددفعې دالتباس ماقبل اخيرپه اسم مفعول كښې مفتوح كړى شواوكسره ورته ورنه كړى شوه.

**وقديستوى لفظ الفاعل والمفعول فى بعض المواضع كمحاب ومتحاب ومختار ومضطر ومعتر ومنصب ومنصب فيه ومنجاب ومنجاب عنه ويختلف فى التقدير.**

**ترجمه**: اوكله كله برابروي لفظ دااسم فاعل اودااسم مفعول په بعضومواضعو كښې لكه محاب تراخيره پورې چې منجاب عنه دى نوپه دې مثالونوكښې داهر واحدهم اسم فاعل دى اوهم اسم مفعول دى خوليكن دالفظ دااسم فاعل اواسم مفعول په دې مواضعوكښې ديوبل سره مختلف دى په تقديراواصل كښې.

**تشريح**: په دې وړاندې عبارت كښې مصنف جواب وركړى دى ديواعتراض نه چې معترض وايي چې په وضع دالفاظوكښې ضروري ده چې ددوئ په مابين كښې به امتيازموجودوي ديوبل سره هم په اعتباردلفظ اوهم په اعتباردمعنىٰ سره څكه چې

کله دافرق او امتيازنه وي نو بيا په فهم دمعاني ؤکښې خلل راځي او په دې محاب کښې ترمنجاب عنه پورې چې کوم مثالونه ذکردي ددوئ په مابين کښې فرق او امتياز نشته په مابين داسم فاعل او په مابين داسم مفعول کښې ځکه چې په دوئ کښې يوه صيغه هم لپاره داسم فاعل وي اوهم لپاره داسم مفعول وي نو په دې الفاظو کښې په مابين داسم فاعل او اسم مفعول کښې اگرچې امتيازاوفرق موجود دی په اعتبارد معنیٰ سره ليکن ددوئ په مابين کښې فرق نه دی موجود په اعتبارد لفظ سره .

نو مصنف ورته جواب ورکړی دی چې په دې مذکورومثالونو کښې اگرچې په مابين داسم فاعلِ اوَاسم مفعول کښې التباس دی اوفرق ددوئ په مابين کښې نشته خو ليکن داالتباس په مواد قليله کښې دی او قليل ته څه اعتبارنه وي .

**اعتراض**: معترض وايي چې په دې ټولو مثالونو باندې حکم کول دعدم فرق اوالتباس نه دی صحيح ځکه بعض په دې مثالونو کښې مصنف او منجاب دي او په دوئ دواړو کښې فرق موجوددی په مابين دلفظ داسم فاعل کښې او په مابين دلفظ داسم مفعول کښې په دې شان چې اسم فاعل منصب او اسم مفعول منصب فيه دی او همدارنگه اسم فاعل منجاب دی او اسم مفعول منجاب عنه دی نو په دې دواړو مثالونو کښې فرق داسم فاعل او اسم مفعول په مابين.کښې موجوددی په واسطې دجارمجرورو په دې شان چې داسم فاعل سره جارمجرورنه وي موجود اوداسم مفعول سره جارمجرورموجود وي ځکه چې دوئ دواړه مشتق دي دهغه فعل متعدي نه چې هغه متعدي شوي وي په واسطې دحرف جرسره نو اسم فاعل ددې نه مشتقېږي بغيردواسطې دحرف جرنه او اسم مفعول ورنه مشتقېږي په واسطې دحرف جرسره .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې دااعتراض ږنَه په هغه وخت کښې وارد وه که چيرته داجارمجزورجزء وای داسم مفعول دصيغې نه اوحال دادی چې معامله داشان نه ده بلکه داجارمجرورخارج دي دصيغې داسم مفعول نه اوشرط دی لپاره دبناء اوجوړولو داسم مفعول نوصيغه داسم فاعل او اسم مفعول دواړو منجاب ده فقط او منصب ده فقط اوداسې نه ده چې صيغه داسم فاعل منجاب ده او صيغه داسم مفعول منجاب

Maktaba Tul Ishaat.com

عنه ده اوهمدارنګه داسې نه ده چې صیغه داسم فاعل منصب ده اوصیغه داسم مفعول منصب فیه ده .

اوپه دې تولوصیغوکښې په تقدیراواصل کښې فرق موجود دی په مابین داسم فاعل کښې اوپه مابین داسم مفعول کښې په دې شان چې دامحاب په تشدید دباء سره په اصل کښې محابب وه په دوه باء ګانوسره نوپه اسم فاعل کښې ماقبل اخیرپه کښې مکسوردی اوپه اسم مفعول کښې ماقبل اخیرمفتوح دی اوبیاوروسته دااوله باء ساکنه کړی شوه اومدغمه کړی شوه په دویمه باءکښې نوورنه محاب جوړشو په تشدیددباء سره اودامحاب دباب دمفاعلې نه دی اومتحاب په تشدیددباء سره په اصل کښې متحابب وه په دوه باءګانوسره دباب دتفاعل نه نوچې صیغه داسم فاعل شي ماقبل اخیربه مسکوروي اوچې اسم مفعول شي ماقبل اخیربه مفتوح وي اوبیاوروسته دااوله باء مدغمه کړی شوه په دویمه باءکښې نوورنه متحاب په تشدید دیاء سره جوړشواومختارپه اصل کښې مختیروه په یاء سره نوپه اسم فاعل کښې ماقبل اخیرچې یاء ده مکسوره وه اوپه اسم مفعول کښې مفتوحه وه اوبیاوروسته دایاء له دې وجهې نه چې دامتحرکه ده اوماقبل ورنه مفتوح ده بدله کړی شوه په الف باندې نوورنه مختارجوړشواودادباب افتعال نه ده اودامضطر په تشدیددراء سره په اصل کښې مضطرروه په دوه راءګانوسره نوماقبل اخیرپه اسم فاعل کښې مکسور وه اوپه اسم مفعول کښې مفتوح وه اوبیاوروسته دااوله راء مدغمه کړی شوه په دویمه راءکښې نوورنه مضطرجوړشوپه تشدیددراء سره اوداهم دباب دافتعال نه دی اومعتدپه تشدیددال سره په اصل کښې معتددوه په دوه دالونوسره په اخیرکښې نوپه اسم فاعل کښې ماقبل اخیرمکسوروه اوپه اسم مفعول کښې ماقبل اخیرمفتوح وه اوبیاوروسته دااول دال مدغم کړی شوپه دویم دال کښې نوورنه معتدجوړشو په تشدیددال سره اوداهم دباب افتعال نه دی اودامنصب په اصل کښې منصبب وه په دوه باءګانوسره په اخیرکښې نوپه اسم فاعل کښې ماقبل اخیرمکسوروه اوپه اسم مفعول کښې ماقبل اخیرمفتوح وه اوبیاوروسته دااوله باء مدغمه کړی شوه په دویمه

باءكښې نوورنه منصب جوړشو په تشديد ذباء سره اوداباب انفعال نه ده اودامنجاب په اصل کښې منجوب وه په واوسره نوپه اسم فاعل کښې ماقبل اخيرچې واو دی مکسوروه اوپه اسم مفعول کښې ماقبل اخيرمفتوح وه اوبياوروستـه داواوله دې وجهې نه چې متحرك وه اوماقبل ورنه مفتوح وه نوداواوبدل کړی شوپه الف سره نوورنه منجاب جوړشو په الف سره اوداهم دباب دانفعال نه دی نوپه دې تولومثالونو کښې وروستـه له ادغام اواعلال نه فرق نشته په مابين دلفظ داسم فاعل اواسم مفعول کښې خوليکن مخکې له اعلال اوادغام نه ددوئ په مابين کښې فرق موجود وه .

**حل لغات**: محاب مؤخوذدی له محابة نه اومتحاب مؤخوذ دی له تحابب نه اودمحابة اودتحابب معنیٰ ده يوبل سره محبت کول اومختار مؤخوذ دی له اختيارنه اوداختيارمعنیٰ ده ديوشي غورکول اومضطرمؤخوذدی له اضطرارنه اوداضطرار معنیٰ ده يوشي تـه محتاج کيدل اومجبورکيدل اومعتدمؤخوذ دی داعتدارنه اود اعتداد معنیٰ ده شمارکول اومنصب مؤخوذدی له انصباب نه اودانصباب معنیٰ ده تويدل اومنجاب مؤخوذ دی له انجباب نه اودانجباب معنیٰ ده انقطاع .

**فصل المضاعف ويقال له الاصم هومن الثلاثي المجرد والمزيدفيه ماكان عينه ولامه من جنس واحد كرد وأعد فان اصلهما ردد واعدد وهومن الرباعي ماكان فائه ولامه الاولى من جنس واحد وكذلك عينه ولامه الثانية ويقال له المطابق ايضاً نحو زلزل يزلزل زلزلة وزلزالاً .**

**ترجمه**: دافصل دی په بيان دمضاعفوکښې اودې مضاعف تـه اصم هم وايي اودامضاعف چې راغلی وي دثلاثي مجردونه اوله ثلاثي مزيدفيه نه نوهغه دېته وايي چې عين کلمه دهغه اولام کلمه دهغه ديوجنس نه وي مثال لکه رد واعد په تشديد ددال سره نوددوي دواړواصل ردد اواعدد دی اودامضاعف درباعي نه که رباعي مجرد وي اوکه مزيدفيه وي دېته وايي چې فاکلمه ددې لفظ اواول لام ددې لفظ

Maktaba Tul Ishaat.com

ديوجنس نه وي اوهمدارنګه عين کلمه ددې لفظ اودويم لام ددې لفظ ديوجنس نه وي اودې مضاعف ته مطابق هم وايي مثال لکه زلزل يزلزل .

**تشريح**: هرکله چې مصنف فارغ شوله بحث دصحيح نه نوشروع يې وکړه په بحث دمضاعف کښې .

**اعتراض**: معترض وايي چې څه وجه ده چې مصنف مضاعف مقدم کړوپه مهموزباندې حال دادی چې داهرواحدله دې مضاعف اومهموزنه په شان دمعتل دی په دې خبره کښې چې دوئ دواړه هم غيرسالم دي لکه څنګه چې معتل غيرسالم دی .

**جواب**: مونږ ورته وايوچې دامضاعف يې ځکه مقدم کړوپه مهموزباندې ځکه چې دامضاعف صحيح ته ورقريب دی په نسبت سره مهموزته ځکه چې ابدال دحرف مکررپه دې مضاعف کښې په حرف علت سره ډيرکم ده اوهرچې تخفيف دهمزې ده اوتبديل دهمزې دی په حرف علت سره دازيات دی نوله دې وجهې نه دامضاعف داسې دی لکه صحيح اودامهموزداسې دی لکه معتل .

اوپه لغوي معنیٰ دمضاعف کښې درې احتماله دې اول احتمال دادی چې دامضاعف صيغه داسم مفعول شي دباب دمفاعلې نه نومعنیٰ به وي دوچندکړی شوې اوپه دې مضاعف کښې چونکه يوحرف دوچندکړی شوی وي اوهغه حرف جزء وي ددې مضاعف نودې ټول لفظ ته مضاعف ويل تسميه دکل ده په اسم دجزء سره اودويم احتمال دادی چې دامضاعف صيغه داسم ظرف شي نومعنیٰ به داوي چې ځای ددوچندی اوشك نشته چې دامضاعف اصطلاحي هم ځای وي ددوچندی ځکه چې په دې کښې يوحرف دوچندکړی شوی وي اودريم احتمال دادی چې مضاعف مصدر ميمي دی اومعنیٰ ده دوچندی کول اودې لفظ ته مبالغة مضاعف وايي ځکه چې په دې کښې چې ثلاثي وي يوحرف دوچنده شوی وي اوکه رباعي وي نوبياپه کښې دوه حرفونه دوچندکړی شوي وي اوددې مضاعف ته لکه څنګه چې مضاعف وايي نوهمدارنګه ورته اصم هم وايي اوداصم لغوي معنیٰ ده کوڼ يعنې چې په غوږونو کښې يې کوڼوالی موجودوي اودې مضاعف ته اصم ځکه وايي ځکه لکه څنګه چې

كوڼ سړى محتاج وي او چت او شديد اوازته او خفي اوازدده د پاره نه وي كافي نو همدارنګه دا مضاعف اصطلاحي محتاج وي صوت شديدته او په صوت خفيف سره يعني په ضعيف اوازسره نه اداكيږي او همدارنګه لكه څنګه چې كوڼ سړى اوريدل داوازنه كوي مګرپه هغه وخت كښې يوآواز اوري چې ورته مكرركړى شي نو همدارنګه دامضاعف اصطلاحي محتاج وي تكراردحرف ته اومضاعف په اصطلاح داهل تصريف كښې په دوه قسمه دى اول قسم مضاعف ثلاثي دى اودويم قسم مضاعف رباعي دى نو مضاعف ثلاثي دېته وايي چې دده عين كلمه اولام كلمه ديوجنس نه وي برابره خبره ده كه ثلاثي مجردوي اوكه ثلاثي مزيدفيه وي مثال دثلاثي مجردولكه ردپه تشديدددال سره چې په اصل كښې ردد وه په دوه دالونوسره په وزن دفعل بياداول دال مدغم كړى شوپه دويم دال كښې نوورنه ردجوړشوپه تشديد ددال سره اومثال دثلاثي مزيدولكه اعد چې په اصل كښې اعدد وه په دوه دالونوسره په وزن دافعل سره له باب افعال نه بياداول دال مدغم كړى شوپه دويم دال كښې نوورنه اعد جوړشوپه تشديدددال سره اومضاعف رباعي دېته وايي چې فاكلمه اولام كلمه په كښې ديوجنس نه وي اوعين كلمه اودويم لام هم ديوجنس نه وي برابره خبره ده كه رباعي مجردوي اوكه رباعي مزيدفيه وي مثال درباعي مجردولكه زلزلزل چې په وزن دفعلل سره دى اومثال درباعي مزيدفيه لكه تزلزل .

**اعتراض:** معترض وايي چې څه وجه ده چې مصنف دثلاثي مضاعف لپاره جدا تعريف ذكركړو اودرباعي مضاعف لپاره يې جداتعريف ذكركړواوولې يې داثلاثي مضاعف اورباعي مضاعف جمعه نه كړه په يوتعريف كښې په دې شان چې ددواړو قسمونولپاره يې يوتعريف كړى واى چې دايوتعريف صادق واى په دې هرواحدددې دواړوقسمونوباندې .

**جواب:** مونږ ورته وايو چې تعريف دشي لپاره كولى شي په اعتباردمفهوم ددې شي سره په دې شان چې ددې شي په تعريف كښې به ددې شي مفهوم ذكرشوى وي اوددې مضاعف ثلاثي اومضاعف رباعي لپاره يومشترك مفهوم نشته چې ددوئ

Maktaba Tul Ishaat.com

د واړو لپاره يو مفهوم وي چې هغه ورشامل وي دوئ دواړو ته او هغه د دوئ لپاره دعريف وګرزول شي نو ځکه د دې مضاعف ثلاثي او مضاعف رباعي د هر واحد لپاره مصنف جدا جدا تعريف ذکر کړو .

وانما الحق المضاعف بالمعتلات لان حرف التضعيف يلحقه الابدال كقولهم امليت بمعنیٰ امللت والحذف كماقالوا مست وظلت واحست اى مسست وظللت واحسست .

**ترجمه**: يقيناً ملحق کړی شو مضاعف تر معتلاتو پورې په دې شان چې د امضاعف هم له قبيلې د غير سالم نه دی وګرزول شو لکه معتلات چې له قبيلې د غير سالم نه ځکه چې د احرف تضعيف چې دی نو ده پورې ملحق کېږي ابدال لکه د اقول د عربو چې امليت په معنیٰ د امللت سره او همدارنګه ملحق کېږي تر دې حرف تضعيف پورې حذف لکه عرب وايي مست په يو سين سره او ظلت په يو لام سره او احسنت په يو سين سره چې دوئ په اصل کښې مسست وه په دو سينينو سره وظللت وه په دوه لامينو سره او احسست وه په دوه سينينو سره .

**تشريح**: غرض د مصنف په دې وړاندې عبارت کښې جواب ورکول دي د يو اعتراض نه چې معترض وايي چې څه وجه ده چې د امضاعف ملحق کړی شوی دی تر معتلو پورې په دې شان چې د امضاعف هم غير سالم ګرزولی شوی دی او له قبيلې د صحيح نه نه دی ګرزول شوی حال دا دی چې په دې مضاعف کښې حرف علت نه دی موجود لکه څنګه چې په صحيح کښې حرف علت نه وي موجود نو مصف ورته جواب ورکړو چې وجه لپاره د الحاق د مضاعف تر معتلاتو پورې دا ده چې د احرف تضعيف يعني د احرف مکرر کله بدلېږي او کله حذف کېږي لکه څنګه چې په معتل کښې په حرف علت کښې ابدال او حذف راځي نو د امضاعف په ابدال او حذف کښې مشابه دی د معتل سره نو ځکه دوئ له قبيلې د معتل نه وګرزول شو يعني د امضاعف هم له قبيلې د غير سالم نه وګرزول شو او له قبيلې د صحيح نه و نه ګرزول شو .

**اعتراض:** معترض وايي چې هر کله مضاعف ته له وجهې دابدال اوحذف نه صحيح نه ويل کېږي بلکه ملحق شوی دی ترصحيح پورې نوبايد چې دې صحيح ته هم صحيح ونه ويل شي ځکه چې داحذف اوابدال خوپه صحيح کښې راځي مثال لکه تجنب وتقابل وتدحرج چې دوئ صيغې دفعل مضارع دي اول باب تفعل دی اودويم باب تفاعل دی اودريم باب دتدحرج دی رباعي مزيدفيه دی نودوئ درې واړه له قبيلې دصحيح نه دي اوپه اول ددوئ کښې دوه دوه تاءګانې موجودې وې بيادااوله تاء په کښې حذف کړی شوه اومثال دابدال لکه سادې اوثالي اوضفا دي او ارنې چې دوئ په اصل کښې سادس اوثالث اوضفادع اوارنب وه بياپه دوئ کښې اخيري حرف بدل کړی شوپه ياءسره اودامثالونه هم له قبيلې دصحيح نه دي .

**جواب:** مونږ ورته وايوچې فرق دی په مابين دصحيح کښې اوپه مابين دمضاعف کښې په دې شان چې داحذف اوابدال دواړه په مضاعف کښې جاري کېږي په حروف اصليه کښې اوپه صحيح کښې داابدال اګرچې جاري کېږي په حروف اصليه کښې خوليکن داحذف نه جاري کېږي په حروف اصليه کښې بلکه جاري کېږي په حروف زائده کښې .

نوځکه دامضاعف ملحق شوترمعتلاتوپورې اوصحيح ورته نه ويل کېږي اوداصحيح ته صحيح ويل صحيح شواوملحق نه شوترمعتلاتوپورې .

**اعتراض:** معترض وايي چې څه وجه ده چې په املیت کښې چې په اصل کښې امللت وه دادويم لام بدل کړی شوپه ياء سره اودااول لام مدغم نه کړی شوپه دويم لام کښې حال دادی چې په دې کښې حرفين متجانسين جمعه شوي دي اوپه وخت داجتماع دحرفينومتجانسينوکښې ادغام کولی شي دحرف اول په حرف ثاني کښې .

**جواب:** مونږ ورته وايوچې کله دوه حرفين متجانسين جمعه شي نوادغام دااول کولی شي په دويم کښې چې کله څه مانع نه وي موجود دادغام نه اوپه دې املت کښې خومانع موجود وه چه هغه سکون ددوينم لام دی اوشرط لپاره دادغام تحرك دحرف ثاني دی په حرفينومتجانسينوکښې اووجه دسکون ددې دويم لام داده چې

Maktaba Tul Ishaat.com

تردې پورې الحاق دضمير مرفوع متحرك شوى دى اوپه الحاق دضمائرومرفوعه كښې ماقبل حرف ساكن وي .

**حل لغات**: امليت معنىٰ ده بل ته بيان كول لپاره ددې چې هغه كتابت كړي ، اومست معنىٰ ده يوشى مسه كول اوظلت معنى ده ګرزيدل اواحست معنىٰ ده يوشى په خاسې سره معلومول .

**والمضاعف يلحقه الادغام وهوان تسكن الاول وتدرج فى الثاني ويسمىٰ الاول مدغماًوالثاني مدغماً فيه وذلك واجب فى نحومديمد واعد يعد وانقد ينقد واعتد يعتد واسود يسود واسواد يسواد واستعد يستعد واطمأن يطمئن وتماد يتماد .**

**ترجمه**: اودامضاعف چې دى تردوئ پورې ملحق كېږي ادغام چې داادغام عبارت دى له دې نه چې دااول حرف ته ساكن كړى اوداخل يې كړې په دويم حرف كښې اودااول حرف مسمى كولى اونامدار كولى شي په مدغم سره اودادويم حرف مسمىٰ كولى اونامدار كولى شي په مدغم فيه سره اوادغام واجب دى په مديمد كښې چې ثلاثي مجرددي له باب دنصر ينصرنه په اصل كښې مدديمدد وه اوهمدارنګه ادغام واجب دى په اعد يعد كښې چې داثلاثي مزيدفيه باب افعال دى چې په اصل كښې اعدد يعدد وه اوپه انقد ينقد كښې واجب دى چې په اصل كښې انقدد ينقدد وه داباب انفعال نه دى په اصل كښې انقدد ينقدد وه اوهمدارنګه واجب دي په اعتد يعتد كښې چې داباب افتعال نه دى په اصل كښې اعتدد يعتدد وه اوهمدارنګه واجب دي په اسود يسواد كښې چې داباب دافعال نه دى په تشديددلام سره په اصل كښې اسودد يسودد وه اوهمدارنګه واجب دي په دې افعيلال كښې مثال لكه اسواد اويسواد په تشديددال سره په اصل كښې اسوادد اويسوادد وه اوهمدارنګه واجب دي په استعد يستعد كښې چې داباب استفعال نه دي په اصل كښې استعدد يستعدد وه اوداباب استفعال نه دى اوهمدارنګه واجب دي په باب افعلال كښې

مثال لکه اطمئن يطمئن چې په اصل کښې اطمئنن اويطمئنن وه په دوه نونينو سره اوهمدارنګه واجب دي په تماد يتماد کښې چې داد باب تفاعل نه دی په اصل کښې تمادد يتمادد وه نوپه دې وړاندې ټولو افعالو کښې په اخير کښې دوه حرفونه چې عين اولام دي ديو جنس نه وه نوپه دوئ کښې دا اول حرف مدغم کړی شوپه دويم حرف کښې اودا ادغام په طريقې دوجوب سره دی .

**تشريح**: زده کړه داخبره چې ادغام په لغت کښې عبارت دی له داخال نه مثال لکه ادغمت اللجام فی فم الفرس معنی ده ماداخل کړه قيضه په خوله دآس کښې نوادغام په اعتبار دمعنیٰ لغوي سره عام دی اوپه ادغام اصطلاحي کښې ادخال ديو حرف وي په بل حرف کښې نوادغام په اعتبار دمعنیٰ اصطلاحي سره خاص دی ځکه چې په دې ادغام اصطلاحي کښې ادخال ديو حرف وي په بل حرف کښې نودا ادغام اصطلاحي په ادغام سره مسمیٰ کول تسميه دخاص ده په اسم دعام سره اوهرچې اصطلاحي معنیٰ دادغام ده نوهغه مصنف ذکر کړی ده په دې عبارت خپل سره چې وهوان تسکن الاول وتدرج فی الثاني يعنې ادغام دېته وايي چې اول حرف ته ساکن کړې اوداخل يې کړې په دويم حرف کښې اوداقول دمصنف چې ويسمیٰ الاول مدغماً والثاني مدغماً فيه خارج دی له دې تعريف مذکوره نه اوداخل نه دی په دې تعريف کښې ځکه چې که چيرته داقول مذکور جزء شي له دې تعريف نه نوبيابه لازم شي دور ځکه چې په دې وخت کښې داادغام موقوف کيږي په معرفت دلفظ دمدغم باندې ځکه چې دالفظ دمدغم ذکر دی په تعريف دادغام کښې اوشك نشته چې معرفت دمعرف موقوف دی په تعريف باندې اوپه ټولو اجزاء دتعريف باندې اومعرفت دمدغم بيرته ورموقوف دی په ادغام باندې ځکه چې دامدغم مشتق دی اوادغام ورته مصدر اومبدء ده اوشك نشته چې معرفت دمشتقي ورموقوف وي ترمعرفت دمبدې پورې .

**اعتراض**: معترض وايي چې څه وجه ده چې په صورت دادغام کښې اول حرف له حرفينو متجانسينو نه ساکن کولی شي .

Maktaba Tul Ishaat.com

**جواب**: مونږ ورته وايو چې په ادغام کښې ضروري دی اتصال دحرف اول ترحرف ثاني پورې په تلفظ کښې اودااتصال په هغه وخت کښې حاصليدی شي چې کله اول حرف ساکن وي اوکه چيرته اول حرف متحرك وي نوبياااتصال نه حاصلېږي داول حرف ددويم حرف سره ځکه چې بياحرکت ددې حرف اول ددوئ په مابين کښې فاصل وي .

**اعتراض**: معترض وايي چې څه وجه ده لپاره دتحريك دحرف ثاني په دې حرفينو متجانسينو کښې په وخت دادغام ددې حرف اول په حرف ثاني کښې .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې وجه لپاره دتحريك دحرف ثاني داده چې داحرف ثاني ظاهروي حرف اول لره ځکه چې حرف اول په شان دمړی دی په خپله نشي ظاهريدی بلکه په دويم حرف سره ظاهرېږي نوکه چيرته دادويم حرف ساکن وي نوبياخودادويم حرف په خپله نه دی ظاهراويوشی چې په خپله نه وي ظاهرنوپه هغه سره به دبل شي اظهارڅنګه راشي .

**اعتراض**: معترض وايي چې داتعريف دادغام جامع نه دی خپلوافرادوته ځکه چې له دې تعريف نه هغه ادغام خارج شوچې کوم شوی دی په مدکښې په تشديد ددال سره چې دامصدردی نودااپه اصل کښې مدد وه په سکون داول دال په وزن دفعل نوپه دې مصدرکښې ادغام موجود دی اوحال دادی چې تعريف دادغام وربانديې نه دی صادق ځکه چې په تعريف دادغام کښې داخبره ذکرده چې ته به ساکنوې حرف اول لره اوپه دې مثال کښې نه دی ممکن اسکان دحرف اول ځکه چې داحرف اول ساکن دی اوشك نشته چې اسکان دساکن نه دی ممکن ځکه چې بيالازمېږي تحصيل دحاصل .

**جواب**: مونږ ورته وايوچې په دې تعريف دادغام کښې يوقيدمعتبردی چې هغه قيددان لم يکن ساکناً دی نومعنیٰ دکلام دمصنف داده چې داحرف اول به ساکن کولی شي که چيرته ساکن نه وه اوکه چيرته ساکن وه بياحاجت نشته دده اسکان ته .

**اعتراض**: معترض وايي چې اصل په اشياء کښې دادی چې شی باقي پاتې کړی شي په خپل حالت باندې نوڅه فائده ده دااسکان داول حرف کښې اوپه ادارج اوادخال دده کښې په حرف ثاني کښې چې دېته ادغام وايي .

**جواب:** مونږ ورته وایو چې فائده په دې ادغام کښې موجوده ده او هغه فائده داده چې ثقل ختم شي ځکه چې په صورت د اجتماع د حرفینو متجانسینو کښې ژبه له کوم مخرج نه چې خارجه شي په تلفظ کولو سره په اول حرف سره نوبیرته ژبه عود او رجوع کوي هغه مخرج ته او شك نشته چې دا کار ثقل پیدا کوي او ددې کار داسې مثال دی لکه څنګه چې سړی تګ کوي په قید یعنې په زولنو کښې په دې طریقې سره چې دا یو قدم لکه کوم ځای نه او چته وي نو دا بل قدم په هغه ځای باندې کېږدي .

**اعتراض:** معترض وایي چې دا اسواد یسواد له قبیلې د ثلاثي مزید فیه نه دی او په ثلاثي کښې که مجرد وي او که مزید فیه وي مضاعف دیته وایي چې عین کلمه او لام کلمه به د یو جنس نه وي او په دې مثال کښې خو لام او عین د یو جنس نه نه دی ځکه چې عین په دې کښې واو دی او لام کلمه په کښې دال دی نو په دې کښې دا یو دال حرف اصلي دی او دا دویم دال حرف زائد دی نو دا مضاعف نه دی نو باید چې دا مصنف نه وای ذکر کړی او همدا رنګه د اطمأن مثال نشي کیدای لپاره د مضاعف ځکه چې دا اطمأن رباعي مزید فیه دی د باب احرنجام نه او مضاعف په رباعي کښې که مجرد وي او که مزید فیه وي د یته وایي چې فاء کلمه او لام اول به د یو جنس نه وي او عین کلمه او لام ثاني به د یو جنس نه وي او په دې اطمأن کښې خو داسې نه ده بلکه په دې کښې خو لام اول او لام ثاني د یو جنس نه دی ځکه چې په اصل کښې اطمئنن دی په دوه نونینو سره نو دا په مثال د مضاعف رباعي کښې ذکر کول نه دي صحیح .

**جواب:** مونږ ورته وایو چې دا مذکور اعتراض به په هغه وخت کښې وارد وه که چیرته مقصود د مصنف له ذکر ددې ابوابو نه راوړل د مثالونو وای لپاره د مضاعفو او حال دا دی چې معامله داسې نه ده بلکه مقصود د مصنف په دې مقام کښې له ذکر ددې ابوابو راوړل د مثالونو د هغو الفاظو دي چې په هغو الفاظو کښې ادغام موجود وي بیا برابره خبره ده که مضاعف وي او که مضاعف نه وي .

Maktaba Tul Ishaat.com

وكذاهذه الافعال اذا بينتها للمفعول نحو مدومدت يمد ونظائره وفی نحو مدمصدراً وكذلك اذااتصل باالفعل الف الضمير او واو اوياءه نحومدا مدوا مدی.

**ترجمه**: اوهمدارنګه ادغام واجب دی په دې وړاندې افعالو کښې چې کله دوئ مبني للمفعول کړې ته يعني افعال مجهوله ورنه جوړ کړې لکه مدمدت يمد په تشديد ددال سره په ټولو کښې اوپه ضمې دميم سره په اولو دوه کښې اوپه ضمې دياءسره په دريم کښې نوددوئ په اخيرکښې په اصل کښې دوه دالونه موجودوه بغيرادغام نه اوبيا وروسته دااول دال مدغم کړې شوپه دويم دال کښې اوپه نظائرو ددوئ کښې هم داادغام واجب دی چې ددوئ نظائرعبارت دي له افعالو مجهوله نه چې هغه افعال مجهوله ددې نوروبابونوافعال وي مثال لکه أعد يعد او أنقد ينقداواعتديعتد او اسواد يسود اواسواد يسواداواستعديستعداواطمئن يطمئن اوتماد يتماد چې په دې ټولوکښې به په ماضي کښې همزه مضموه وي اوپه مضارع کښې به حرف مضارعت مضموم وي نوپه دې وخت کښې داټول افعال مجهوله دي اوپه اصل کښې په اخيرددوئ کښې دوه حرفونه موجودوه بغيرادغام نه اوبياوروسته اول حرف مدغم کړې شوپه دويم حرف کښې اوهمدارنګه داادغام واجب دی په مثل دمد کښې چې دامصدر دی نوداپه اصل کښې مددوه بيااول دال مدغم کړې شوپه دويم دال کښې مد ورنه جوړشوپه تشديدددال سره اوهمدارنګه ادغام واجب دی چې کله متصل شي تردې فعل پورې الف دضمير اوياواو دضميروي اويایاء دضميروي مثال دالف لکه مدا چې داصيغه امرتثني هم کيدی شي اوصيغه دماضي تثنې هم کيدی شي نوداپه اصل کښې مددا وه په دوه دالونوسره بيا داول دال مدغم کړې شوپه دويم دال کښې نوورنه مداجوړشوپه تشديدددال سره اومثال دواولکه مدوا چې داصيغه دجمعې مذکرې ماضي هم کيدی شي اوصيغه دجمعې مذکرې امرحاضرهم کيدی شي نوداپه اصل کښې مددوا په دوه دالونوسره وه بيادااول دال مدغم کړې شوپه دويم کښې نوورنه مدوا جوړشوپه تشديدددال سره اومثال دياء لکه مدی چې دافقط صيغه

دامرحاضرواحدې مؤنثې کیدی شي فقط نوپه اصل کښې مددی وه په ذوه دالونوسره بیادااول دال مدغم کړی شوپه دویم دال کښې .

**وامتنع فی نحو مددت ومددنا ومددت الی مددتن ومددن ویمددن وتمددن وامددن ولایمددن ولاتمددن .**

**ترجمه**: اوادغام ممتنع دی په مثل دمددت اومددناکښې چې دااوله صیغه دواحد متکلم فعل ماضي ده اودادویمه صیغه دمتکلم مع الغیرده اوهمدارنګه ادغام ممتنع دی په شپږوواړوصیغودمخاطب دفعل ماضي کښې چې هغوئ له مددت نه ترمددتن پورې دی یعني مددت مددتما مددتم مددت مددتما مددتن اوهمدارنګه ادغام ممتنع دی په مددن اویمددن اوتمددن کښې چې اوله صیغه دجمعې مؤنثې غائبې ماضي دی اودویمه صیغه دجمعې مؤنثې غائبې فعل مضارع ده اودریمه صیغه دجمعې مؤنثې مخاطبې فعل مضارع معلوم ده اوهمدارنګه ادغام ممتنع دی په امددن کښې چې صیغه دجمعې مؤنثې امرحاضرده اوهمدارنګه ادغام ممتنع دی په لایمددن کښې چې صیغه دجمعې مؤنثې غائبې نهې ده اوهمدارنګه ادغام ممتنع دی په لاتمددن کښې چې صیغه دجمعې مؤنثې مخاطبې نهې ده .

**تشریح**: په دې مقام کښې یوامرکلي اوقاعده کلیه موجوده ده چې هغه ورشامله ده دغوصیغوته هم اوددې صیغونوروامثالوته هم چې کوم امثال دثلاثي مجردونه غیرله نوروبابونه وي لکه ثلاثي مزیدفیه اورباعي مجرد اورباعي مزیدفیه دي نوهغه قاعده کلیه داده چې کله ترفعل پورې پیوست شي ضمائربارزه مرفوعه متحرکه اویانون دجمعې مؤنثې نوبیاپه دې فعل کښې ادغام ممتنع دی برابره خبره ده که دافعل ثلاثي مجردوي اوکه ثلاثي مزیدفیه وي اوکه رباعي مجردوي اوکه رباعي مزیدفیه وي نو ضمائرمرفوعه لکه تاء دمخاطب اوتاء دمتکلم واحد اونون دمتکلم مع الغیر اودادرې واړه ملحق کېږي ترصیغودماضي پورې فقط نه ترصیغودفعل مضارع پورې اونون دجمعې مؤنثې عام دی هم ملحق کېږي ترماضي پورې اوهم

Maktaba Tul Ishaat.com

ترمضارع پورې نوپه وخت د الحاق ددې ضمائرو ا ونون دجمعې مؤنثې کښې ادغام ممتنع دی په فعل کښې اوادغام دامتناع لپاره درې وجهې دي .

۱- وجه داده چې واجبه ده چې ماقبل له دې ضميرنه اوله نون نه چې داهم ضميردی ساکن به وي ځکه چې داضميراونون داسې دی لکه جزء ددې فعل اودا ضمير اونون په خپله متحرك دي نوکه چيرته ماقبل له دوئ نه ساکن نشي بلکه ماقبل ورنه متحرك شي نولازم به شي توالي داربع حرکات فيماهوكاالكلمة الواحدة اوشك نشته دا ثقل پيدا کوي نوضرورېه ماقبل ورنه ساکن وي اوچې کله ماقبل ورنه ساکن شو نوماقبل خوله دوئ نه دادويم حرف وي له حرفينومتجانسينونه نودابه ساکن وي نوچې کله دا ساکن شونوشرط دادغام فوت شوچې تحرك دحرف ثاني دی نوهرکله چې شرط دادغام نشته نوادغام به ضرورممتنع وي اونه به وي جائز .

۲- وجه دامتناع دادغام داده چې په دې صورت داجتماع دحرفينومتجانسينو کښې دادويم حرف خوساکن وي ځکه چې ماقبل وي له ضميرمرفوع بارزمتحرك نه اوياله نون نه نوکه چيرته اوس مونږ ادغام وکړو نودااول حرف به هم مونږ ساکن کوو نوچې کله اول حرف ساکن کړو نولازمېږي التقاء الساکنين اودانه دی جائز نوځکه داادغام هم نه دی جائز .

۳- وجه داده چې ادغام ددې لپاره کولی شي چې خفت راحاصل شي په واسطې ددې ادغام سره اوپه دې مذکوروصيغواو ددوئ په امثالوکښې خوخفت راحاصل شوی وي په ساکن والي ددې دويم حرف سره له حرفينومتجانسينونه نوله دې نه بعد ادغام کول لپاره دراحاصلولودخفت نه دی مګرتحصيل دحاصل دی .

**اعتراض:** معترض وايي چې تقسم دادغام واجب اوجائز اوممتنع ته نه دی صحيح ځکه چې په مقسم کښې داضروري ده چې صادقېږي به په هرواحد دخپلو اقسامو باندې اودا ادغام چې مقسم دی اګرچې صادقېږي په ادغام واجب اوادغام جائزباندې خوليکن نه صادقېږي په ادغام ممتنع باندې ځکه چې مؤخوذ په مفهوم دمطلق ادغام کښې اسکان دحرف اول دی اوادراج ددې حرف اول دی په حرف ثاني کښې اوشك نشته

چې دااسكان د حرف اول او ادراج د دې حرف اول نه دی موجود په حرف ثاني كښې نوله دې وجهې نه دامطلق ادغام چې مقسم دی نه صادقېږي په ادغام ممتنع باندې نوهر كله چې مقسم په هر واحد د اقسامونه شوصادق نود اتقسم هم نه دی صحيح .

**وجائز اذادخل الجازم على الفعل الواحد فان كان مكسورالعين كيفراومفتوحه كيعض فتقول لم يفر ولم يعض بفتح اللام وكسرها ولم يغرر ولم يعضض وهكذا حكم يقشعر ويحمرم ويحمار .**

**ترجمه**: اوداادغام جائز دی چې كله داخل شي عامل جازمه په صيغه دواحد فعل مضارع باندې برابره خبره ده كه داواحد مذكرغائب وي اوكه مذكرمخاطب وي اوكه واحده مؤنثه غائبه وي اوكه واحدمتكلم وي نواوس كه چيرته دافعل واحدمضارع مكسورالعين وه لكه يفر اويامفتوح العين وه لكه يعض نوپه دې كښې چې ته ادغام وكړې نوته به وايې لم يفراولم يعض په ادغام سره په فتحې دلام كلمې سره اوپه كسرې دلام سره په دواړوكښې اوچې كله ته ادغام ونه كړې نوته به وايې لم يفرر اولم يعضض په سكون داخيرسره اوهمدغه حكم ديقشعر اوديحمر اوديحمار ده په دې شان چې په دوئ كښې ادغام كول جائزدي چې كلهورباندې عامله جازمه داخل شي اودوئ هم صيغې دواحدفعل مضارع وي نوپه دوئ كښې هم مرادصيغه دواحد ده كه مذكرغائب وي اوكه واحده مؤنثه غائبه وي اوكه واحدمذكرمخاطب وي اوكه واحد متكلم وي نوچې په دوئ عامل جازمه داخل شي نوپه ادغام سره ددوئ ويل هم جائز دي چې په دې وخت كښې اخيرته كسره وركول هم جائزدي اوفتحه ورته وركول هم جائز دي اوپه عدم ادغام سره هم ددوئ ويل جائزدي چې بيابه اخيرددوئ ساكن وي لپاره دعلامې دجزم نوپه دوئ كښې لم يقشعر اولم يحمر اولم يحمار په ادغام سره ويل هم جائزدي اواخيربه يامفتوح وي اويابه مكسوروي اوپه كښې لم يقشعرر اولم يحمرر اولم يحمارر ويل هم جائزدي په عدم ادغام سره اواخيربه ساكن وي لپاره دعلامې دجزم .

Maktaba Tul Ishaat.com

**تشریح**: په دی صورت د دخول دعامل جازمه کښې په صیغې دواحدمذکر غائب اوواحد مذکرمخاطب اوواحدې مؤنثې غائبې اوواحدمتکلم باندې برابره خبره ده که داصیغې دثلاثي مجردووي اوکه دثلاثي مزیدفیه وي اوکه درباعي مجردووي اوکه رباعي مزیدفیه وي خولیکن په دې شرط چې صیغې دفعل مضارع وي نوپه دې صیغوکښې ادغام کول هم جائزدي اوعدم ادغام کول هم جائزدي اووجه دجواز دادغام دادی چې په دې صیغوکښې په وخت د دخول دجازم کښې په دوئ باندې ددوئ اخیرله وجهې ددې جازم نه ساکن وي چې ددوئ اخیردویم حرف وي لـه دې حرفینو متجانسینونه اوپه وخت داغام کښې ضروري اوواجب دی چې دویم حرف بـه متحرك وي نوچې نظروکړي شي سکون ددې دویم حرف ته نوعدم ادغام په کښې جائزدی اوچې نظروکړی شي دېته چې داسکون عارضي دی راحاصل شوی دی لـه وجهې دعامل جازمه نه نوداسکون داسې دی لکه عدم سکون نوځکه په کښې ادغام کول هم جائزدي اوپـه دې صیغوباندې چې کلـه عامـل جازمـه نـه وي داخل شوي نوبیاپـه اخیرددوئ کښې حرکت وي پـه طریقې دوجوب سره نوبیاپـه دې صیغوکښې ادغام واجب اوضروري وي .

**اعتراض**: معترض وای چې لکه څنګه چې پـه وخت د دخول دعامل جازمـه کښې سکون دحرف ثاني عارض وي نوهمدارنګه پـه وخت دلحوق اواتصال دضمائر بارزه مرفوعه کښې اودنون دجمعې مؤنثې کښې سکون دحرف ثاني عارضي وي لـه وجه دعارض دلحوق ددې ضمائرو اودنون دجمعې مؤنثې نه راغلی وي نوبایدچې پـه دې صورت . لحوق ددې ضمائربارزه مرفوعـه متحرکـه اودنون دجمعې مؤنثې کښې هم داادغام جائزشي اوممتنع نشي اوحال دادی چې پـه دې صورت کښې ادغام ممتنع ګرزول شوی دی .

**جواب**: مونږ ورتـه وایوچې داسکون پـه دې صورت کښې اګرچې پـه حقیقت کښې سکون عارضي دی خولیکن ددې وجهې نـه چې داضمیرمرفوع داسې وي لکه جزء دفعل نوداسکون داسې دی لکه سکون په وسط کښې اوسکون چې پـه وسط کښې

راشي هغه اصلي وي نو داسكون هم داسې دی لکه سکون اصلي نوله دې وجهې نه په دې صورت مذكوره كښې ادغام ممتنع شو.

**وان كان العين مضموماً فتجوز الحركات الثلاث مع الادغام وفكه تقول لم يمد بحركات الدال ولم يمدد .**

**ترجمه**: اوكه چيرته په دې واحد فعل مضارع كښې چې وربانديې عامل جازمه داخل شوی وي عين كلمه مكسوره وه نو په دې كښې هم ادغام اوعدم ادغام جائز دی خوليكن چې كله ادغام وكړی شي نوبيا په دې اخيركښې جائز دي حركات ثلاثة اوداهم جائز دي په كښې چې ادغام ونه كړی شي نوبيابه اخيرساكن وي له وجهې دجزم نه نوته به وايې لم يمد په دريووارو حركاتوسره اولم يمدد په عدم ادغام سره.

**تشريح**: زده داخبره چې كله په فعل مضارع كښې عامل جازمه داخل شي اودا فعل واحد وي كه مذكرغائب وي اوكه مذكرمخاطب وي اوكه واحده مؤنثه غائبه وي اوكه واحدمتكلم وي نوپه كښې ادغام هم جائزدی اوعدم ادغام په كښې هم جائز دی خوليكن دومره فرق شته چې كه چيرته مكسورالعين اويامفتوح العين وه دافعل مضارع نوبياپه صورت دادغام كښې په اخيربانديې كسره هم جائزده اوفتحه هم جائز ده هرچې جواز دفتحې دی نوداله دې وجهې نه چې دافتحه اخف الحركات ده نولپاره دحصول دخفت اخيرته به حركت دفتحې وركولی شي اوخفت مطلوب ده څكه چې موضع دادغام موضع دثقل دی اوهرچې جواز دكسرې دی نوهغه له دې وجهې نه ده چې داحرف اخيرساكن دی اوله وجهې دضرورت دادغام نه ورته حركت وركولی شي اوقاعده په تحريك دساكن كښې دادی چې الساكن اذاحرك حرك باالكسر .

**اعتراض**: معترض وايي چې ددې قاعدې لپاره چې الساكن اذاحرك حرك الكسر څه وجه ده يعني څه وجه ده چې ساكن كله متحرك كولی شي نومتحرك كولی به شي په كسرې سره .

Maktaba Tul Ishaat.com

**جواب**: مونږ ورته وايو چې ددې قاعدې لپاره وجه داده چې جرچې هغه راځي په کسرې مختص دی تر اسم پورې ځکه چې يوه خاصه له خواصو داسم نه دخول دجر دی او داسکون مختص دی ترفعل پورې اوپه اسم کښې سکون نه موجود يږي نوپه مابين دکسرې اودسکون کښې مناسبت دی په اختصاص کښې نوددې مناسبت دوجه نه چې کله ساکن ته حرکت ورکولی شي نوورته حرکت دکسرې ورکولی شي .

اوچې دافعل مضارع مضموم العين وي نوپه دې کښې چې کله ادغام وکړی شي نواخيرته به حرکت ورکولی شي له وجهې دضرورت دادغام نه نوپه دې اخيرکښې درې واړه حرکات جائز دی فتحه هم اوکسره هم اوضمه هم هرچې جواز دفتحې اودکسرې دی نودهغه وجه وړاندې مونږ ذکرکړه په هغه مضارع کښې چې مفتوح العين اويامکسورالعين وي اوهرچې جوازدضمې دی نودالپاره دموافقت دعين کلمې دی ځکه چې په دې فعل مضارع کښې عين کلمه مضمومه وي نولپاره دموافقت ددې عين کلمې دې اخيرته هم ضمه ورکولی شي .

**وهكذا حكم الامرفتقول فر وعض بكسراللام وفتحها وافرر واعضض ومد وامدد .**

**ترجمه**: اودامرحاضرحکم په شان دفعل واحد مضارع دی په جوازدادغام اوعدم ادغام کښې په دې شان چې که چيرته داامرحاضرمکسورالعين وه اويامفتوح العين وه نوچې کله په کښې ادغام وکړی شي نواخيردده ته به حرکت ورکولی شي چې هغه حرکت به يافتحه وي اويابه کسره وي اوکه چيرته په کښې ادغام ونه کړی شي نوبيابه اخيرساکن وي له وجهې دوقف نه اوکه چيرته داامرحاضرمضموم العين وه اوادغام په کښې وکړی شو نويا په دې اخيرددې امرحاضرکښې درې واړه حرکات جائز دی نوته به وای فر اوعض په ادغام سره په دواړو کښې اوهمدارنګه په فتحې اوکسرې سره په دواړو کښې اوپه وخت دعدم ادغام کښې به ته وايې چې افرر اوعضض په سکون سره په اخيرکښې اومد به وايې په ادغام سره اوپه دريوحرکاتوسره په اخيرکښې اوامدد به وايې په عدم ادغام سره اوپه سکون سره په اخيرکښې .

وتقول فی اسم الفاعل ماد مادان مادون ومددة مادة مادتان مادات ومواد وفی المفعول ممدود کمنصور.

**ترجمه**: اوته به وايې په اسم فاعل کښې د مضاعف د ثلاثي مجردو نه ماد مادان مادون تراخيره پورې اوته به وايې په اسم مفعول کښې له مضاعفو ثلاثي مجردو نه ممدود لکه منصور .

**تشريح**: زده کړه دا خبره چې د دې مضاعفو اسم فاعل اود اسم مفعول په مابين کښې فرق دی او هغه فرق دادی چې په اسم مفعول کښې به ادغام نه شي کولی ځکه چې په دې اسم مفعول د ثلاثي مجردو کښې په مابين د عين اولام کښې حرف فاصل وي چې هغه واو د اسم مفعول دی او چې کله د متجانسينو په مابين کښې حرف فاصل راشي نو بيا د هغوئ دواړو په مابين کښې ادغام ممکن نه وي بلکه ممتنع وي ځکه چې د ادغام په مفهوم کښې دا خبره مؤخوذه ده چې په دې کښې به د اول حرف درج کولی شي په دويم حرف کښې او په وخت د وجود د فاصل کښې خو ادراج د حرف اول په حرف ثاني کښې نه وي ممکن نو اسم مفعول د دې ثلاثي مجردو چې مضاعف وي په شان د اسم مفعول د ثلاثي مجردو دی چې صحيح وي نو ممدود چې اسم مفعول د مضاعفو دی په شان د منصور دی په عدم ادغام کښې چې دا اسم مفعول د صحيحو دی او هرچې اسم فاعل دی د دې مضاعفو د ثلاثي مجردو نو په هغه کښې به ادغام کولی شي په ټولو صيغو کښې مگر جمعه مکسره د دې اسم مفعول چې مددة دا ورنه خارج دی چې په دې کښې ادغام کول ممتنع دی او په دې باقي صيغو کښې واجب او ضروري دي وجه لپاره د وجوب د ادغام په دې باقي صيغو کښې دادی چې په دوئ کښې اجتماع د حرفينو متجانسينو وي چې دا مقتضی ده د ادغام او څه مانع هم له دې ادغام نه په دې باقي صيغو کښې نه دی موجود او هرچې مَدَدَة دی چې دا صيغه د اسم فاعل دی په دې شان چې جمعه مکسره د ماد دی او په دې کښې اګرچې اجتماع د حرفينو متجانسينو موجود دی خو ليکن له ادغام نه په دې کښې مانع موجود دی چې هغه منع دادی چې که چيرته په دې کښې ادغام وکړی شي نو له دې نه به مدة جوړشي په تشديد د دال سره

Maktaba Tul Ishaat.com

نولازم به شي التباس ددې مدة چې جمعه مکسره د مٰاد اسم فاعل ده دهغې مدة سره چې هغه صفت دی لپاره دحرف اومفرد دی لکه ویلی شي په حق دحروفو علتو کښې چې دا حروف علت چې واو اویاء اوالف دی چې کله دوئ ساکن وي اوحرکت دماقبل ددوئ سره موافق وي نو دوئ حروف مده دي .

فصل المعتل ماا حد اصوله حرف علة وهی الواو والالف والیاء وتسمیٰ حروف المد واللین والالف حینئذٍ تکون عن واو اویاء .

**ترجمه**: دافصل دی په بیان دمعتل کښې نو معتل عبارت دی له هغه لفظ نه چې وي یو حرف له حروفو اصلیه دهغه نه حرف علت اودا حروف علت واو دی اوالف دی اویاء ده اومسمیٰ کولی شي دا حروف علت په حروف المد واللین سره اودا الف به په دې وخت کښې بدل راغلی وي دواونه اویا دیاء نه .

**تشریح**: هرکله چې مصنف فارغ شوله بیان دمضاعفونه نو شروع یې وکړه په بیان دمعتلو کښې اومصنف معتل مقدم کړی دی په مهموزوباندې ځکه چې دمهموز بیان وروسته راوړی دی .

**اعتراض**: معترض وایي چې څه وجه ده چې مصنف معتل مقدم کړی دی په مهموزوباندې سره له دې نه چې دامعتل مشتمل دی په حرف علت باندې اومهموز خالي دی دحرف علت نه .

**جواب**: مونږ ورته وایو چې ددې وجه داده چې ددې معتلو لپاره زیات ابحاث دی چې هغه مقدار او اندازه ابحاث نشته لپاره دمهموزونو له وجهې دکثرت دابحاثو ددی معتلو مصنف دامعتل مقدم کړه په مهموزوباندې .

**اعتراض**: معترض وایي چې هرکله دمعتل ابحاث زیات وه په نظرسره مهموزته نو بیا ولې صاحب دمراح الارواح مهموز مقدم کړی دی په معتلو باندې باید چې هغه هم معتل مقدم کړی وای لکه مصنف چې معتل مقدم کړی دی .

**جواب**: مونږ ورته وایو چې صاحب دمراح الارواح نظر کړی دی دې ته چې په مهموز کښې داهمزه حرف صحیح دی او تصرف په دې همزه کښې په شان دتصرف دی په حرف صحیح کښې نو دامهموز په شان دصحیح دی نو ځکه مهموز یې مقدم کړی په معتلو باندې .

او د لفظ دمعتل مؤخوذ دی له علت نه او د علت معنیٰ ده مرض نو د معتل معنیٰ ده مریض او دې معتل اصطلاحي ته ځکه معتل وای ځکه چې لکه څنګه چې کوم کس مریض وي نو هغه فاقد وي دعضو صحیح یعنې دهغه په کومه عضوه کښې چې مرض وي نوده ورکه کړې وي صحیح عضو او دا حروف اصلیه په منزله داعضاء دی لپاره د کلمې نو دې معتل هم حرف صحیح لره چې په منزله دعضوې ده فاقد وي نو دالفظ معتل مناسبت لري دمریض سره نو ځکه ورته معتل نوم کیښودل شوی دی .

او اصطلاحي معنیٰ دمعتل هغه ده چې مصنف ذکر کړی دی چې معتل عبارت دی له هغه لفظ نه چې یو حرف له حروفو اصلیه دهغه نه حرف علت وي او حروف اصلیه په ثلاثي کښې برابره خبره ده که مجرد وي او که مزیدفیه وي هغه دی چې په مقابله دفاء او عین او لام کښې وي او په رباعي کښې حروف اصلیه هغه دي چې په مقابله دفاء او عین او لام اول او لام ثاني کښې وي بیا برابره خبره ده که مجرد وي او که مزیدفیه وي او حروف اصلیه په خماسي کښې د ېته وایي چې په مقابله دفاء او عین او لام اول او لام ثاني او لام ثالث کښې وي نو معتبر په معتل کښې دا دی چې دا حرف علت به دده حرف اصل وي او که چیرته حرف اصلي نه وه یعنې په مقابله دفاء او عین او لام کښې نه وه بلکه دا حرف علت زائد وه مثال لکه ضارب چې داماضي دباب دمفاعلې دی او لکه قاتل نو په دې سره لفظ معتل نه جوړېږي نو دا ضارب او قاتل چې دواړه دباب دمفاعلې نه دی او همدارنګه مضاربة او مقاتلة چې دواړه مصدرونه دي دباب دمفاعلې دوئ معتل نه دي بلکه صحیح دي اګرچې حرف علت په دوئ کښې موجود دی چې هغه الف دی خو لیکن دا الف ددوئ لپاره حرف اصلي نه دی ځکه چې په مقابله دفاء او یا عین او یا لام کښې نه دی واقع .

Maktaba Tul Ishaat.com

**اعتراض**: معترض وايي چې تعريف دمعتل جامع نه دی خپلو افرادوته ځکه چې دتعريف دمعتل نه خارجېږي قل اوبع چې دادواړه صيغې دامرحاضردي اوله قال يقول نه اودويم له باع يبيع نه نودادواړه معتل دي اوتعريف دمعتل ورباندې ځکه نه دی صادق چې په دې دواړوکښې حرف نشته چې هغه راشي په مقابله دفاء اويادعين اويا دلام کښې.

**جواب**: مونږ ورته وايو چې په دې تعريف دمعتل کښې چې داخبره ذکرده چې په ده کښې به يوحرف له حروفو اصولونه حرف علت وي عام دی که داحرف علت علت فی الحال وي اوکه په اصل کښې وي نوپه دې قل اوبع کښې اګرچې فی الحال حرف علت نشته خوليکن په اصل کښې په دوئ کښې حرف علت موجود وه په قل کښې په اصل کښې واوموجود وه ځکه چې داجوړشوی دی له تقول نه اوپه بع کښې په اصل کښې ياء موجوده وه ځکه چې داجوړشوی دی دتبيع نه.

**اعتراض**: معترض وايي چې تعريف دمعتل نه دی جامع خپلو افرادوته ځکه چې بعض له افرادودمعتل نه لفيف دی برابره خبره ده که لفيف مقرون وي اوکه لفيف مفروق وي اودامذکورتعريف ورته نه دی ورشامل ځکه چې په دې لفيف کښې داسې نه وي چې يوحرف له حروفواصولودده نه حرف علت وي بلکه دوه حرفونه له حروفو اصولودده نه حروف علت وي.

**جواب**: مونږ ورته وايو چې مراد له کيدلوديوحرف نه حرف علت عام دی که مطابقة وي لکه دلفيف نه غيرپه دې نوروا قسامودمعتل کښې اوکه دايوحرف له حروفو اصولونه حرف علت کېدل ضمناً وي لکه په لفيف کښې ځکه چې په لفيف کښې هرکله چې دوه حروف دده له حروفوعلتونه شو نوددوئ په ضمن کښې يوحرف هم له حروف علتونه شو نوتعريف دمعتل ورجامع دی لفيف ته.

**اعتراض**: معترض وايي چې څه وجه ده چې دې دريوحروفوته چې واو اوالف اوياء دي حروف علت وايي چې دعلت معنیٰ ده مرض اومرض خومتصورکېږي په هغه شي

کښې چې خاوندذروح وي اونه متصورکېږي په الفاظواوکلماتوکښې نودې حروفوته حروف علت ویل نه دي صحیح .

**جواب:** مونږ ورته وایوچې تسمیه ددې حروفوپه حروف العلة سره په طریقې دحقیقت سره نه دی بلکه په طریقې دمجازسره ده په دې شان چې تغیرله یوحالت نه بل حالت ته لازم دی دمرض سره نوهمدارنګه په دې حروف العلة کښې هم تغیرواقع کېږي په دې طریقې سره چې دوئ بعض بدلېږيٰ په بعضونوروسره نوله وجهې دوجود دتغیرنه په دې حروفوکښې داحروف مسمیٰ کړی شو په حروف العلة سره .

**اعتراض:** معترض وايي چې هرکله دې حروفوته حروف العلة ویل له دې وجهې نه دي چې په دوئ کښې تغیرراځي نوبایدچې همزې ته هم حرف علت وویل شي ځکه چې په همزه کښې هم تغیرواقع کېږي په دې شان چې کله په الف سره بدلېږي اوکله په واو سره بدلېږي اوکله په یاء سره بدلېږي .

۱ - **جواب:** مونږ ورته وایوچې فرق دی په مابین دهمزې کښې اوپه مابین ددې دریوحروفوکښې په دې شان چې هغه تغیرات چې جاري کېږي په دې حروف ثلاثة کښې نواکثرپه هغوئ کښې نه جاري کېږي په همزه کښې چې بعض تغیرات له دې اکثرونه دادي چې داحروف علت ساقطېږي په داخلولودعواملوجازمه سره په هغه فعل مضارع باندې چې داحروف ثلاثة دهغې په اخیرکښې موجود وي اوهرچې همزه ده نوهغه نه ساقطېږي په سبب دعواملوجازمه باندې په هغه مضارع کښې چې داهمزه په اخیردهغې مضارع کښې موجوده وي نوپه ینجی اویدعو اویرمي باندې چې لم جازمه داخل شي داالف اوواو اویاء ددوئ له اخیرنه ساقطېږي اوپه یجئ چې عامل جازمه ورداخل شي نوهمزه ددې یجئ نه ساقطېږي .

۲ - **جواب:** مونږ ورته وایوچې په وجه دتسمی کښې اطرادنه دی واجب یعني په وجه دتسمی کښې دانه دي واجب چې په کوم ځای کښې داوجه دتسمې متحققه شي نوپه هغه ځای کښې به دااسم هم متحقق وي نوپه دې همزې کښې اګرچې وجه دتسمې موجوده ده خولیکن ددې نه دانه لازمېږي چې دااسم دې هم موجود وي په همزې کښې.

Maktaba Tul Ishaat.com

اودې درې حروفو ته چې واو اوياء اوالف دی لکه څنګه چې حروف علت وايي نو همدارنګه دوئ ته حروف مدهم وايي اوهمدارنګه دوئ ته حروف اللين هم وايي نو دوئ ته حروف علت ويل خوله دې وجهې نه دي چې دعلت معنیٰ ده مرض اوپه مرض کښې تغيروي ديو حالت نه بل حالت ته اوپه دې حرووفو کښې هم تغيرواقع کېږي په ابدال دبعضو ددوئ سره په بعضونوروباندې اوحروف مد دي حروفوثلاثة ته له دې وجه نه ويل کېږي چې دمد معنیٰ ده کش کول اودا حروف ثلاثه راپيدا کېږي په کش کولو د حرکاتو ثلاثة سره چې هغه حرکات ثلاثة ضمه اوفتحه اوکسره دي په دې شان چې واو راپيدا کېږي په کش کولو دضمې سره اوالف راپيدا کېږي په راکش کولو فتحې سره اوياء راپيدا کېږي په راکش کولو کسرې سره اودې حروفوثلاثه ته حروف لين له دې وجهې نه وايي چې دلين معنیٰ ده نرمي اوپه دې حروفو کښې هم په وخت دتلفظ کښې په دوئ باندې نرمي موجوده وي .

اومصنف وايي چې دا واوچې کله راشي په مقابله دفاء اوعين اولام کښې نودی به يابدل راغلی وي دواونه اويابه بدل راغلی وي دياء نه يعنې دی به له اول نه په دې کلمه کښې نه وي موجود اوددې وجه داده چې په ماضي دثلاثي مجردوکښې دا ضروري اوواجب ده چې دهغې درې واړه حروف به متحرك وي لکه ضرب اوالف خوساکن وضعي دی نوچې کله الف موجودشي په حروفواصليه کښې نومعلومېږي چې دده په ځای باندې به په اصل کښې يا واووي اويابه ياء وي .

**وانواعه سبعة الاول المعتل الفاء ويقال له المثال للماثلة الصحيح فى احتمال الحركات اماالواو فتحذف من المضارع الذى على يفعل بكسرالعين ومن مصدره الذى على فعلة وتسلم فى سائرتصاريفه .**

**ترجمه**: اواقسام دمعتل اوه (٧) دي اول قسم دمعتل معتل الفاء دی اودې معتل الفاء ته مثال ويل کېږي له دې وجهې نه چې داپه مثل دصحيح باندې وي په برداشت دحرکاتو کښې په اخيرباندې هرچې واو دی چې راشي په مقابله دفاء کلمې کښې په

دې مثالو كښې نو هغه به حذف كولی شي دهغې فعل مضارع نه چې هغه په وزن ديفعل سره وي په كسرې دعين سره او همدارنګه داواو به حذفيږي له مصدرددې مضارع نه هغه مصدرچې هغه په وزن دفعلة باندې وي اوداواوبه سالم پاتې كيږي له دې فعل مضارع اودې مصدرنه غيرپه نوروتولوصيغود معتل الفاء كښې .

**تشريح**: زده كړه داخبره چې معتل په خپل كوركښې په اوه (٧) قسمه دی اودې اقسامو ته دامعتل تقسيميږي په اعتباردوحدت دحروفوعلتوسره اودتعدد دحروفو علتو سره اوپه اعتبارد وقوع دمحل ددې حروفوعلتوسره .

١- معتل الفاء لكه وعد .

٢- معتل العين لكه قال .

٣- معتل اللام لكه رضی .

٤- چې درې حروف علت په كښې وي لكه وويت واواً .

٥- چې حروف علت په كښې دوه وي اومقترن وي په دې شان چې په مقابله دعين اولام كښې وي .

٦- چې حروف علت په كښې دوه وي اوهغوئ مقترن وې په دې شان چې په مقابله دفاء اوعين كښې وي .

٧- چې په كښې دوه حروف علت وي يوپه مقابله دفاء كلمې كښې وي اوبل په مقابله دلام كلمې كښې وي مثال لكه وقی .

اوبيامصنف هغه اقسام مقدم كړي دي چې په هغوئ كښې حرف علت واحد وي په هغواقساموباندې چې په هغوئ كښې حروف علت متعدد وي ځكه چې واحدمقدم وي په متعددباندې طبعاً نوپه ذكراووضعه كښې هم مقدم كړی شولپاره ددې چې وضعه موافقه شي دطبعې سره .

اوبياپه هغواقسامو كښې چې حرف علت په كښې يووي مصنف دامعتل الفاء مقدم كړي په معتل العين اومعتل اللام باندې ځكه چې فاء كلمه مقدمه ده په عين اولام باندې .

Maktaba Tul Ishaat.com

اودې معتل الفاء ته مثال وايي ځکه چې مثال مؤخوذ دی دمماثلة نه اودمماثلة معنیٰ ده مساوات اودامعتل الفاء هم مساوي وي دصحيح سره په احتمال دحرکاتو کښې نولکه څنګه چې صحيح قابل وي دحرکاتو په اخير کښې نوهمدارنګه مثال هم له دې وجهې نه چې په اخير کښې يې حرف صحيح وي قبلول دحرکاتو کوي په اخير خپل کښې .

**اعتراض**: معترض وايي چې مصنف په دې معتل الفاء کښې تعرض کړی دی واوته اوياء ته چې ددوئ دحذف اوعدم حذف بيان يې کړی دی اوالف ته يې تعرض نه دی کړی په دې شان چې دوئ الف دحذف اوعدم حذف څه بيان نه دی کړی نوڅه وجه ده چې ددې الف بيان ته تعرض نه دی کړی .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې وجه لپاره دعدم تعرض الف ته داده چې داالف په کلمه کښې اصل نه واقع کېږي په خلاف دواواوياء چې دوئ دواړه په کلمه کښې اصلي واقع کېږي .

**اعتراض**: معترض وايي چې الف اګرچې په کلمه کښې اصلي نه واقع کېږي ليکن په ځای دحرف اصلي خوراځي په دې شان چې دواو اويادياء نه منقلب اوبدل راغلې وي نوبايدچې مصنف ورته تعرض کړی وای .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې په دې ځای کښې کلام اوبحث په معتل کښې دی چې په دې کښې حرف علت په اول کښې وي يعنې په مقابله دفاء کلمې کښې وي اوالف په مقابله دفاء کلمې کښې لکه څنګه چې اصل نشي راتلی نوهمدارنګه بدل اومنقلب دواو اوياء نه هم نشي راتلی ځکه چې الف ساکن وضعي دی که چيرته په مقابله دفاء کلمې کښې راشي نولازم به شي ابتداء اوشروع په ساکن باندې نوهرکله چې الف په مثال کښې نشي راتلی نوځکه مصنف ورته تعرض ونه کړو .

نومصنف وايي چې واوبه حذف کولی شي دهغې فعل مضارع نه چې هغه په وزن ديفعل سره وي په کسرې دعين سره اووجه دحذف داده چې دا واوپه اصل کښې حذف کولی شي چې واقع شي په مابين دياء حرف مضارعت کښې اوپه مابين دکسرې کښې ځکه چې داياء په منزله ددوه کسروباندې ده اودا اواوپه منزله ددوه ضموباندې ده

نو داوقوع د واوپه مابین دیاء اوکسرې کښې داسې ده لکه وقوع دضمې ددوه کسرو په مابین کښې اودامفید ده لپاره دثقل نولپاره ددفعې دثقل داواو حذف کړې شو.

**اعتراض:** معترض وايي چې په يعد کښې خواګرچې واوواقع دی په مابين دياء اودکسرې کښې خوپه صورت دتعد اواعد اونعد کښې خوواونه دی واقع په مابين دياء اودکسرې کښې بلکه واقع دی په مابين دتاء اوياد همزې اويادنو ن اودکسرې کښې نوبايدچې په دې مثالونوکښې داواو حذف نه کړی شي ځکه چې علت دحذف وقوع دضمې دی په مابين ددوه کسروکښې اوداعلت نه دی موجود په تعد أعد نعد کښې .

**جواب:** مونږ ورته وايوچې په دې اعد اوتعد اونعد کښې اګرچې علت دحذف نه دی موجود خوليکن په دوئ کښې داواو حذف کړی شولپاره دموافقت ديعد .

اوهمدارنګه دا اواوحذف کولی شي دمصدريعد نه چې په وزن دفعلة باندې وي مثال لکه وعدة نوپه دې کښې دا اواوحذف کړی شو وعدة ورنه جوړشواوپه دې مصدرکښې داواوځکه حذف کولی شي ځکه چې دامصدرفرع دفعل ده په اعلال کښې نوهرکله چې په فعل مضارع کښې اعلال وکړی شونوپه دې مصدرکښې به هم اعلال کولی شي په حذف دواوسره .

**اعتراض:** معترض وايي چې دا واولکه څنګه چې حذف شوی دی په مضارع کښې چې يعد دی مثلاً نوهمدارنګه دا واوحذف شوی دی په امرحاضريعد کښې هم نوبايدچې مصنف ذکرحذف دواو دامرحاضرهم کړی وای لکه څنګه چې دفعل مضارع دحذف دواوذکرکړی دی .

۱- **جواب:** مونږ ورته وايوچې نه منوچې واوحذف کړی شوی دی په امرحاضر کښې چې عد دی ځکه چې حذف دواو په دې امرحاضرکښې فرع دوجود دواو ده په دې امرحاضرکښې اوحال دادی چې واونه وه موجود په امرحاضرکښې ځکه چې داعد جوړشوی دی دتعد نه بغيرله اعادې دواو نه په دې شان چې دتعد نه تاء حذف کړی شوه اولام کلمه په کښې ساکنه کړی شوه نوورنه عد جوړشو.

Maktaba Tul Ishaat.com

۲- **جواب:** مونږ ورته وایو چې منو چې دا واو حذف شوی دی له امرحاضرنه هم لکه ځنګه چې حذف شوی دی دفعل مضارع نه په دې شان چې داعد جوړشوی دی دتوعد نه په اعادې دواوسره خولیکن داامرحاضرفرع دی دفعل مضارع نوهرکله چې بیان دحذف دواوو کړی شوپه فعل مضارع کښې نوله دې نه معلومېږي حذف دواو په امر حاضر کښې هم ځکه چې حکم دفرع معلومېږي دحکم داصل نه نووروسته له ذکر دحذف دواونه په فعل مضارع کښې هیڅ حاجت نشته ذکردحذف دواوته په امرحاضر کښې.

**اعتراض:** معترض وایي چې داواو لکه ځنګه چې حذف کېږي په فعل مضارع کښې اوپه مصدرد فعل مضارع کښې نوهمدارنګه دا واو حذف کېږي په نفي جحد کښې لکه لم یعد اوپه امرغائب کښې لکه لیعد اوپه نهي کښې لکه لایعد اوپه نفي کښې لکه لایعد نوبایدچې مصنف بیان کړی وای حذف دواوپه دې افعالو کښې هم لکه ځنګه چې حذف دواوبیان کړی په فعل مضارع اودهغې په مصدرکښې چې یعد اوعدة دی.

**جواب:** مونږ ورته وایوچې داواو اګرچې حذف کېږي په دې افعالو مذکوره کښې لکه ځنګه چې حذف کېږي په فعل مضارع اودهغې په مصدرکښې خولیکن داامور مذکوره داخل دي په فعل مضارع کښې ځکه چې داامورمذکوره عین فعل مضارع دی چې ورباندې زیادت دبعضو حروفوشوی دی نووروسته له ذکردحذف دواونه په فعل مضارع کښې هیڅ حاجت نشته ذکرحذف دواوته په دې افعالو کښې.

**تقول وعد یعد عدة فهو واعد وذاك موعود عد لاتعد وکذلك ومق یمق مقة فاذاأزیلت کسرة مابعد الواو اعیدت الواو ونحولم یوعد.**

**ترجمه:** اوته به وایې په ګردان صغیرددې مثال کښې وعد یعد عدة فهو واعد وذاك موعود عد لاتعد په حذف دواو سره په مضارع اومصدر اوامرحاضراونهي کښې اوپه اثبات دواوسره په دې باقي صیغوکښې اوددې وعد یعد په شان دی په حذف دواو اواثبات دواو کښې ومق یمق مقة په جذف دواوسره په فعل مضارع اومصدرکښې اوپه اثبات دواوسره په فعل ماضي کښې اوچې کله په فعل مضارع

کښې چې واوپه کښې حذف شوی وي کسره دمابعد دواوزائله کړی شي نود واو محذوفه به بیرته رامعاد کېږي مثال لکه لم یوعد چې صیغه دفعل مضارع مجهوله ده اوماقبل اخیرپه کښې مفتوح دې نوواوبیرته رامعادکړی شوی دی ځکه چې دحذف علت په کښې ختم شوی دی چې هغه وقوع دواودی په مابین دیاء اودکسرې کښې .

**وتثبت فی یفعل باالفتح کوجل یوجل ایجل ولاتوجل والاصل اوجل قلبت الواویاءً لسکونها وانکسار ماقبلهافان انضم ماقبلهاعادت الواو تقول یازیدایجل تلفظ باالواووتکتب باالیاء وفی یفعل باالضم کوجه یوجه اوجه لاتوجه .**

**ترجمه**: اوداواوبه ثابت پاتې کولی شي په یفعل کښې په فتحې سره یعنې په هغه مضارع کښې چې مفتوح العین وي مثال لکه وجل یوجل ایجل اولاتوجل اودا ایجل په اصل کښې اوجل وه په واو سره بیاداواوبدل کړی شوپه یاء سره لـه وجهې دسکون ددې واواوانکساردماقبل ددې واواوپه دې ایجل کښې که چیرته ماقبل لـه دې یاء دایجل نه مضموم شي نو واوبه بیرته رامعادکېږي نوته به وایې یازید ایجل چې ته به تلفظ کوې په واوسره اوته به لیکې یاء اوهمدارنګه واوبه ثابت پاتې کولی شي په یفعل کښې په ضمې سره یعنې په هغه فعل مضارع کښې چې عین کلمه په کښې مضمومه وي مثال لکه وجه یوجه اُوجه اولاتوجه .

**تشریح**: مصنف وایي چې په دې معتل الفاء کښې داواوچې واقع دی په مقابله دفاء کلمې کښې په هغه مضارع کښې به ثابت پاتې کولی شي چې هغه مفتوح العین وي لکه یوجل ځکه چې علت دحذف دواونه دی موجود په دې مضارع کښې چې هغه وقوع د واودی په مابین دیاء کښې اودکسرې کښې ځکه چې عین کلمه په دې فعل مضارع کښې مفتوحه ده اوهرچې امرحاضرددې یوجل دی چې هغه اوجل دی نوپه دې کښې به داواوبدلولی شي په یاء سره له وجهې دسکون دواونه اوکسرې دماقبل نه په دې شان چې واوله وجهې دسکون دده نه دده طبعیت نرم دی اوکسره دماقبل تقاضاء کوي دوجود دیاء په مابعد خپل کښې نوداواوبدل کړی شوپه یاء سره نوورنه ایجل

Maktaba Tul Ishaat.com

جوړشو خولیکن چې کله ماقبل ورنه ضمه راشي نو بیابه داواو را معادولی شي مثال لکه یازید ایجل نو په دې کښې په دال دزید باندې ضمه ده او همزه وصلیه دایجل ساقطه ده له تلفظ نه ځکه چې داواقع ده په درج کښې نو ددې یاء نه ماقبل ضمه راغله ددال دزید نو داواو بیرته رامعاد شو ځکه چې علت دبدلولو دواو په یاء سره باقي پاتې نه شو چې هغه سکون دواو او انکسار د ماقبل دی ځکه چې ماقبل ورنه ضمه ده په دې یازید ایجل کښې خولیکن دومره خبره ده چې تلفظ به په واو سره کولی شي او لیکلی به یاء شي اوددې وجه داده چې قاعده په هغه کلمه کښې چې هغه واقع شوې وي په درج کښې داده چې دابه لیکلی شي په هغه صورت باندې چې کوم صورت ددې لپاره ثابت وي په ابتداء کښې اوشك نشته چې داایجل چې واقع نشي په درج کښې بلکه واقع شي په ابتداء کښې نو په یاء سره لیکل کېږي ځکه چې په ابتداء کښې واوبدل شوی دی په یاء سره نو چې کله داایجل په درج کښې راغلی دی نو واواګرچې بیرته رامعاد کړی شو خولیکن په کتابت کښې به یاء وي .

اومصنف وايي چې همدارنګه داواو به ثابت پاتې کولی شي په هغه فعل مضارع کښې چې هغه مضموم العین وي لکه وجه یوجه ځکه چې په دې مضارع کښې هم علت دحذف نه دی موجود چې هغه وقوع دواو دی په مابین دیاء کښې اود کسرې کښې ځکه چې په دې فعل مضارع کښې واونه دی واقع په مابین دیاء اود کسرې کښې بلکه واقع دی په مابین دیاء اودضمې کښې .

**حل لغات**: دوعد معنیٰ ده وعده کول ، اودومق معنیٰ ده محبت کول،اودوجل معنیٰ ده وارېدل اودوجه معنیٰ ده یو کس شریف جوړېدل .

تنبیه : په عبارت دمصنف کښې په دوه ځایونو کښې کمی موجود دی په اول ځای کښې کمی داقول دی چې والاصل اوجل اوپه دویم ځای کښې کمی داقول دی فان انضم ماقبلها اومونږ پوره عبارت په وړاندې ځای کښې رانقل کړی دی .

وحذفت الواومن يطأ ويضع ويسع ويقع ويدع لانها فى الاصل يفعل باالكسر ففتح لحرف الحلق ومن يذر لكونه فى معنىٰ يدع واماتوا ماضى يدع ويذر وحذف الفاء دليل على انه واو.

**ترجمه**: اوحذف كړى شو واوله يطأنه چې په اصل كښې يوطأوه اوله يضع نه چې په اصل كښې يوضع وه اوله يسع نه چې په اصل كښې يوسع وه اوله يقع نه چې په اصل كښې يوقع وه اوله يدع نه چې په اصل كښې يودع وه چې داټول افعال په اصل كښې په وزن ديفعل په كسرې دعين سره وه اوبيادې عين كلمې ته فتحه وركړى شوه له وجهې دحرف حلق نه چې هغه لام كلمه ده په دې افعالو كښې اوهمدارنګه واوحذف كړى شوله يذرنه چې په اصل كښې يوذر وه له دې وجهې نه چې دايذر په معنىٰ ديدع كښې دى اوعربوترك كړى دى استعمال ددې ماضي ديدع اويذر اوحذف دفاء په فعل مضارع كښې دليل دى په دې خبره باندې چې دافاء كلمه واووه.

**تشريح**: داعبارت دمصنف چې وحذفت الواو من يطأالى آخره جواب دى داعتراض نه چې معترض وايي چې تاسوداخبره وكړه چې له واونه ماقبل ياء وي اومابعد ورنه فتحه وي لكه يوجل نوپه دې فعل مضارع كښې واونشي حذف كولى نوبايدچې په يطأكښې تريدع پورې چې په دې ټولوكښې په اصل كښې دفاء كلمې په مقابل كښې واووه داواو نه واى حذف شوى ځكه چې مابعد د واو نه فتحه ده نه كسره اوحال دادى چې داواوپه دوئ كښې حذف شوى دى.

نومصنف ورته جواب وركړو چې نه منم داخبره چې په دې افعالوكښې وروسته دواونه كسره نشته بلكه وروسته دواونه په دې افعالوكښې كسره موجوده ده ځكه چې وجودذكسرې وروسته دواونه عام دى كه فى الحال وي اوكه په اصل كښې وي اوپه دې مذكوروافعالوكښې اګرچې دواونه بعدفى الحال كسره نشته خوليكن وروسته له دې واونه په اصل كښې كسره موجوده ده ځكه چې داافعال په اصل كښې په كسرې دعين سره وه اوبياوروسته دې عين كلمې ته فتحه وركړى شوه له وجهې

Maktaba Tul Ishaat.com

دمجاورة دحرف حلق نه ځکه چې دامجاورة دحرف حلق سره ثقل پيدا کوي نو لپاره ددفعې دثقل داکسره دعين کلمې بدله کړى شوه په فتحې سره .

اوداعبارت دمصنف چې ومن يذر لکونه فى معنىٰ يدع جواب دى له اعتراض نه چې معترض وايي چې په يطأ اوامثالو دهغې کښې خودعين کلمې کسره په فتحې باندې له دې وجهې نه بدله کړى شوه چې مجاورة راغلى وه دحرف حلق سره نوپه يذرکښې چې په اصل کښې يوذروه په واوسره اوعين کلمه يې په کښې مکسوره کړې وه اوبياچې کله دا واوحذف کړى شونوداکسره بدله کړى شوه په فتحې سره نو معترض وايي چې په دې يذرکښې بايدداکسره نه واى بدل کړى شوې په فتحې سره ځکه چې په دې کښې مجاورة دحرف حلق سره نشته ځکه چې نه عين کلمه په کښې حرف حلق دى اونه په کښې لام کلمه حرف حلق دى .

نومصنف ورته جواب ورکړو چې په دې يذرکښې اګرچې مجاوت دکسرې دحرف حلق سره نه وه خوليکن دايذرپه معنىٰ ديدع سره دى اوپه يدع کښې هرکله چې کسره بدله کړى شوه په فتحې سره نوپه دې يذرکښې هم داکسره بدله کړى شوه په فتحې سره ځکه چې هرکله په مابين ددې يدع اويذرکښې موافقت وه په اعتباردمعنىٰ سره نوددوئ په مابين کښې په لفظ کښې هم موافقت وکړى شوپه مابين دکسرې اوفتحې کښې په دې شان چې داکسره په کښې بدله کړى شوه په فتحې سره لپاره ددې چې دالفظ په موافقت دمعنىٰ سره شي .

اودايدع اويذر له قبيلې دفعل مضارع نه دى او د دوئ دواړوماضي عربوترک کړې ده اونه مستعملوي په کلام خپل کښې په خلاف دمضارع چې ددې استعمال دوئ کوي .

**اعتراض**: معترض وايي چې مصنف په دې قول خپل کښې چې واماتوماضى يدع ويذر نسبت دموت کړى دى ماضي ديدع اويذرته اودانسبت نه دى صحيح ځکه چې موت متصورکېږي په هغوشيانوکښې چې په هغوئ کښې حيات موجودوي اوماضي ديدع اويذردقبيلې دالفاظونه دي نوپه دوئ کښې موت نشي متصورکيدى.

**جواب**: مونږ ورته وايو چې دا اعتراض به په هغه وخت کښې وارد وه که چیرته مراد له موت نه د موت حقيقي معنى واى او حال دا دى چې د موت نه حقيقي معنىٰ د موت نه ده مراد بلکه مراد ورنه مجازي معنىٰ ده چې ترك دى او شك نشته چې نسبت د ترك صحيح دى ماضي د يدع او يذر ته .

او دا قول د مصنف چې وحذف الفاء دليل الى آخره جواب دى ديو اعتراض نه چې معترض وايي چې هر كله ترك شوي استعمال د ماضي او مصدر او اسم فاعل او اسم مفعول د دې يدع او يذر نو د څه نه معلومېږي چې د دې يدع او يذر فاء كلمه واو وه ځکه چې جائزه ده چې فاء كلمه د دې يدع او يذر ياء وي نه واو نو مصنف ورته جواب ورکړو چې دليل په دې خبره باندې چې فاء كلمه د دې يدع او يذر واو وه حذف دى ځکه چې دا فاء كلمه په دوئ دواړو کښې حذف شوې ده نو له دې نه معلومېږي چې د دوئ دواړو فاء كلمه واو وه ځکه چې که چيرته فاء كلمه د دوئ ياء واى نو بيا به نه حذفيده او هر كله چې دا فاء كلمه حذف شوې ده نو له دې نه معلومېږي چې فاء كلمه واو دى .

**اما الياء فتثبت على كل حال نحو يمن ييمن ويسر ييسر ويئس ييئس وتقول فى افعل من اليائي ايسر يوسر ايساراً لم تحذف مع مقتضى الحذف لان حذف الواو مع حذف الهمزة اجحاف باالكلمة فهو موسر بقلب الياء فيهما واواً لسكونها وانضمام ماقبلها .**

**ترجمه**: او هرچې ياء ده چې واقع شوي وي په معتل الفاء کښې په مقابله د فاء كلمې کښې نو دا به ثابته پاتې کولى شي په هر حالت کښې يعنې برابره خبره ده که دا ياء په ماضي کښې وي او که په مضارع کښې وي او که په امر کښې وي او که په مصدر کښې وي او همدارنګه برابره خبره که مابعد له دې ياء نه ضمه وي او که فتحه وي او که كسره وي مثال لکه يمن چې دا ماضي ده په وزن د فعل ده او ييمن چې دا مضارع ده په وزن د يفعل ده او لکه يسر ييسر چې دې کښې هم دا اول ماضي ده او دويم مضارع ده او لکه يئس ييئس چې په دې کښې هم دا اول ماضي ده او دويم مضارع ده نو په دې

Maktaba Tul Ishaat.com

افعالو كښې په ماضي كښې هم اوپه مضارع كښې هم ياء ثابته شوې ده اوته به وايې په افعل كښې يعنې په باب افعال كښې چې هغه راغلى وي له معتل الفاء يائي نه ايسر يوسر ايساراً اودا واوپه يوسر كښې حذف نه كړى شو سره له دې چې مقتضى دحذف موجود ده ځكه چې حذف كول دواوسره دحذف دهمزې نه چې هغه حذف شوې ده په دې مضارع كښې ضرررسوي كلمې ته اواسم فاعل ددې باب افعال موسرراځي په بدلولو دياء سره په دې اسم فاعل اومضارع دواوړو كښې په واوسره له دې وجهې نه چې ياء ساكنه ده اوماقبل ورنه مضموم ده نوداضمه دماقبل تقاضاكوي چې داياء دې بدله شي په واوسره .

**تشريح**: دواو اوياء په مابين كښې فرق كړى شوى دى په دې شان چې واو كله واقع شي په مابين دياء اوكسرې كښې نوداواو حذفېږي اوچې كله داياء واقع شي په مابين دياء اودكسرې كښې نودا ياء نه حذفېږي اووجه ددې فرق داده چې داوقوع دواو په مابين دياء اوكسرې كښې ثقل پيداكوي ځكه چې داواوله دوه ضمونه جوړ دى اوداياء له دوه كسرونه جوړه ده نوددې واووقوع په مابين دياء اوكسرې كښې داسې ده لكه وقوع دضمې په مابين ددوه كسروكښې اوشك نشته چې داثقل پيدا كوي په خلاف دياء چې داجوړه ده له دوه كسرونه نوددې وقوع په مابين دياء اودكسرې كښې داسې دى لكه وقوع دكسرې ددوه كسروپه مابين كښې .

اوداقول دمصنف چې لم تحذف مع مقتضى الحذف لان حذف الواو الى آخره جواب دى داعتراض نه چې معترض وايي چې په دې يوسرفعل مضارع دباب افعال كښې واو واقع دى په مابين دياء اودكسرې كښې نوبايد چې دا واوحذف شوى واى ځكه چې مقتضى دحذف موجود ده چې هغه وقوع ددې واو دى په مابين دياء اوكسرې كښې .

نومصنف ورته جواب وركړو چې په دې يوسرفعل مضارع كښې همزه دباب افعال حذف شوې ده ځكه چې داپه اصل كښې أيسر وه نوبياپه كښې همزه حذف شوه نواوس كه چيرته واوهم حذف كړى شي نولازمېږي اجحاف اوضررپه كلمه كښې .

**اعتراض**: معترض وايي چې څه وجه ده چې داهمزه دباب افعال حذف کړی شوې ده په مضارع دباب افعال کښې .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې وجه لپاره دحذف دهمزې داده چې په واحد متکلم کښې دوه همزې جمعه شوې وې او داثقل پیدا کوي نوله دې وجهې نه داهمزه دباب افعال حذف کړی شوه په دې صیغې دواحد متکلم کښې نوهرکله چې په دې کښې حذف کړی شوه نوپه دې باقي صیغو کښې اګرچې دوه همزې نه وي جمعه شوې فقط یوه همزه په کښې چې هغه همزه دباب افعال ده حولیکن ددوئ همزه حذف کړی شوه لپاره دموافقت دواحد متکلم .

**وفي افتعل منهمااتعد يتعد فهومتعد واتسر يتسر فهومتسرويقال ايتعد ياتعد فهو متعد وايتسر يأتسر فهوموتسر وهذامكان موتسر فيه .**

**ترجمه**: اوته به وايې په افتعل کښې یعنې په باب افتعال کښې دواوي اويايي نه مثال دواوي لکه اتعد يتعد متعد دادرې واړه په اصل کښې اوتعد يوتعد موتعد وه په وزن دافتعل يفتعل مفتعل بیاداواوپه دريوواړوکښې بدل کړی شوپه تاء سره اوداتاء مدغمه کړی شوه په تاء دافتعال کښې اومثال دیائي لکه اتسر يتسرفهو متسر چې داپه اصل کښې ايتسر يتسر ميتسرپه وزن دافتعل يفتعل مفتعل سره وه اوبیادا یاء په دريو واړوکښې بدله کړی شوه په تاء سره اوداتاء مدغمه کړی شوه په تاء دافتعال کښې اوداهم په کښې ویل جائزدي چې ايتعد ياتعد فهوموتعد چې په دې ماضي کښې واوبدل شوی دی په یاء سره اوپه مضارع کښې واوبدل شوی دی په الف سره اوپه اسم فاعل کښې واوپه خپل حال باندې باقي پاتې شوی دی اوپه یائي کښې داسې ویلی شي چې ايتسر ياتسر فهوموتسر اوپه اسم مفعول کښې به ویلی شي موتسر فيه په ماضي کښې یاء په خپل حال باندې باقي پاتې شوې ده اوپه مضارع کښې په الف باندې بدل شوې ده اوپه اسم فاعل اواسم مفعول کښې یاء په واوسره بدله شوې ده .

Maktaba Tul Ishaat.com

**تشريح**: مصنف په دې مثال کښې چې راغلی وي دباب افتعال نه برابره خبره ده که واوي وي اوکه يائي وي دوه لغته يې ذکرکړي دي اول لغت په کښې دادی چې دا واواوياء بدل کړی شي په تاء سره اوبيا داتاء مدغمه کړی شي په تاء دافتعال کښې اودويم لغت دادی چې په کښې دامذکور ادغام ونه کړی شي اوپه ماضي دمثال واوي کښې واوپه ياء سره بدل کړی شي له وجهې دکسرې دماقبل نه لکه ايتعد چې په اصل کښې اوتعد وه بيا داواوپه ياء سره بدل کړی شونوورنه ايتعد جوړشو اوپه مضارع دواوي کښې واو اوپه مضارع ديائي کښې ياء بدل کړی شي په الف سره اوپه اسم فاعل کښې دواوي کښې واوپه خپل حال باندې باقي پاتې کړی شي اواسم فاعل ديائي کښې ياء له وجهې دضمې دماقبل نه په واوسره بدله کړی شي اوهمدارنګه په اسم مفعول ديائي کښې هم داياء په واوسره بدله کړی شي اوپه ماضي ديائي کښې ياء په خپل حالت باندې باقي پاتې کړی شي اوددې ټولومثالونه مصنف ذکرکړي دي اومصنف په اسم فاعل ديائي کښې متسرويلي دي اوورسره يې زيادت دفيه نه دی کړی اوپه اسم مفعول ديائي کښې متسرفيه ويلي دي چې په دې کښې زيادت دفيه جارمجرورکړی دی اوددې وجه داده چې دااتسارفعل لازمي دی نواسم فاعل ورنه جوړيږي بغيرله متعدي کولونه اواسم مفعول ورنه جوړيږي په واسطې دتعديت ددې فعل سره په حرف جرسره نوپه دې اسم مفعول کښې داجار مجرور يې ورسره زيات کړو لپاره ددې چې متعدي شي .

**حل لغات**: داتعد مصدر اتعاد دی چې ددې معنیٰ ده وعده قبلول اوداتسار معنیٰ ده قمارچې بعض خلك ورته جواري هم وايي .

## وحکم وديود کعض يعض وتقول ايدد کاعضض .

**ترجمه**: اوحال دود يود په شان دعض يعض دی اوته به وايې په امرحاضردود يود کښې ايدد په شان داعضض باندې .

**تشريح**: غرض دمصنف په دې عبارت کښې تشبيه دهغه مضاعف ده چې هغه مثال هم وي ترهغه مضاعف پورې چې هغه خالص مضاعف وي اومثال نه وي په

وجوب الادغام کښې اوپه جواز الادغام کښې په دې شان چې مصنف وايي چې لکه خنګه چې په عض يعض چې داخالص مضاعف دی ادغام واجب دی نوهمدارنګه په ود يود کښې په تشديد ددال سره ادغام واجب دی نودا ود يود په اصل کښې ودد يودد وه په دوه دالونو سره بيادااول دال مدغم کړی شوپه دويم دال کښې نوورنه ود يود جوړشو په تشديددال سره لکه عض يعض چې په اصل کښې عضض يعضض وه بيادااول ضادمدغم کړی شوپه دويم ضاد کښې نوورنه عض يعض جوړشوپه تشديد دضادسره اوپه دې ايدد کښې ادغام جائز دی لکه خنګه چې په اعضض کښې ادغام جائز دی په دې شان چې دا ايدد په اصل کښې اودد وه په واوسره اوبيادا واوله وجهې دکسرې دماقبل نه په ياء سره بدل کړی شونوايدد ورنه جوړشو په ياء سره نوپه دې اعضض کښې ادغام هم جائز دی چې عض وويل شي په تشديد دضادسره چې په اخيرکښې فتحه هم جائزده اوکسره په کښې هم جائزده اوداهم په کښې جائز دي چې ادغام په کښې ونه کړی شي اواعضض وويل شي په سکون سره په اخيرکښې نوهمدارنګه په دې ايدد کښې ادغام هم جائز دی چې ود وويل شي په تشديد ددال سره چې په اخيرکښې فتحه هم جائزه ده اوکسره په کښې هم جائزه ده اوداهم جائز ده چې ادغام په کښې ونه کړی شي او ايدد وويل شي په سکون سره په اخيرکښې .

**حل لغات:** د ود معنی ده محبت کول اودوستي کول دعض معنیٰ ده څوک چيچل .

**الثاني المعتل العين ويقال له الاجوف وذو الثلاثة لكون ماضيه على ثلاثة احرف اذا اخبرت عن نفسك فالمجردالثلاثي تقلب عينه فى الماضي الفاً سواء كان واواً اوياء لتحركها وانفتاح ماقبلها نحوصان وباع .**

**ترجمه:** اودويم قسم دمعتل معتل عين دی اودې معتل العين ته اجوف هم ويل کېږي اوذوثلاثة ورته هم ويل کېږي اودا ذوثلاثة ورته له دې وجهې نه ويل کېږي چې ددې ماضي په دريو حرفونوباندې وي چې کله ته خبرورکړې دخپل ځان نه يعني په صيغې دواحدمتکلم کښې چې ماضي وي درې حروف موجود وي فقط نوپه ثلاثي

Maktaba Tul Ishaat.com

مجردو کښې عين کلمه بدلولی شي په الف سره برابره خبره ده که دا عين کلمه واو وي اوکه ياء وي اودابدلېدل له دې وجهې نه دي چې دا واو اوياء په ماضي معلوم دثلاثي مجردو کښې متحرك وي اوماقبل له دوئ نه مفتوح وي مثال لکه صان چې په اصل کښې صون وه په واو سره اولکه باع چې په اصل کښې بيع وه په ياء سره .

**تشريح**: هرکله چې مصنف فارغ شو دبحث دمعتل الفاء نه چې مثال ورته وېل کېږي نوشروع يې وکړه په بحث دمعتل العين کښې نودامعتل العين عبارت دی له هغه معتل نه چې دهغه دعين کلمې په مقابله کښې به حرف علت وي اودې معتل العين ته اهل تصريف دوه نومونه اخلي اول نوم دادی چې دوئ ورته اجوف وايي اودويم نوم دادی چې دوئ ورته ذوثلاثة وايي نواجوف ورته له دې وجهې نه وايي چې لفظ داجوف مؤخوذ دی له جوف نه اودجوف معنیٰ ده خيټه اود کلمې وسط په منزله دخيټې وي اوشك نشته چې ددې معتل العين داوسط خالي وي له حرف علت نه اوذوثلاثة ورته له دې وجهې نه وايي چې دذوثلاثة معنیٰ ده صاحب اوخاوند ددريو اودې معتل العين کښې هم په صيغه دواحد متکلم فعل ماضي کښې درې حرفونه موجود وي مثال لکه قلت اوبعت .

**اعتراض**: معترض وايي چې صيغه دواحدمتکلم فعل ماضي په دريو حرفونو باندې کېدل نه منم ځکه چې صيغه دواحدمتکلم فعل ماضي په دې معتل العين کښې په دوه حرفونو سره وي نه په دريو حرفونو سره لکه قلت اوبعت ځکه چې په دې کښې خودا(ت) ضميردفاعل دی اوداجزء نه دی ددې فعل نودافعل په دوه حرفونو باندې دی.

**جواب**: مونږ ورته وايو چې اهل تصريف داضميرله دې وجهې نه چې دده شدت اتصال دی دفعل سره داسې بولي کاالجزء من الفعل نوچې داضميرجزء شونواوس په کښې داماضي متکلم په دريو حرفونو باندې شو.

**اعتراض**: معترض وايي چې داخبره منم چې داضميردفاعل داسې دی لکه جزء دفعل له وجهې دشدت اتصال نه خولېکن داخبره نه منم چې داحرف دی بلکه داضمير خو اسم دی نوداويل نه دي صحيح چې داماضي په دريو حرفونو باندې ده .

**جواب:** مونږ ورته وایو چې د اضمیراګرچې ورته حرف اصطلاحي نه ویل کېږي ځکه چې اسم دی خو لیکن ورته په لغوي معنیٰ سره حرف ویل صحیح دي ځکه چې لغوي معنيٰ د حرف ده طرف او شك نشته چې د امذکور ضمیرهم په طرف کښې واقع وي .

**اعتراض:** معترض وايي چې صیغه د واحد متکلم فعل ماضي خو په دریو حرفونو سره وي په ثلاثي مجرد و کښې فقط نه په ثلاثي مزید فیه کښې نو باید چې د ااجوف چې ثلاثي مزید فیه وي ورته ذو ثلاثة ونه ویل شي او حال دا دی چې په ثلاثي مزید فیه کښې هم ورته ذو ثلاثة ویل کېږي .

**جواب:** مونږ ورته وایو چې په وجه د تسمي کښې د اکافي ده چې د اوجه د تسمي موجوده وي په بعضو افرادو د مسمیٰ کښې او دا نه ده ضروري چې د اوجه دې موجوده وي په ټولو افرادو د مسمیٰ کښې او شك نشته چې د اوجه د تسمي په دې مقام کښې موجوده ده په بعضو افرادو د مسمیٰ کښې چې هغه بعضې افراد ثلاثي مجرد دي نو هر کله چې په دې بعضو افرادو د مسمیٰ کښې د اوجه د تسمي موجوده شوه نو دې ټولو افراد د مسمیٰ ته ذو ثلاثة ویل صحیح شو .

**فان اتصل به ضمیر المتکلم او المخاطب او جمع المؤنث نقل فعل من الواوي الی فعُل ومن الیائی الی فعِل دلالة علیهما ولم یغیر فعُل ولا فعِل اذا کان اصیلتین ونقلت الضمة والکسرة الی الفاء وحذفت العین .**

**ترجمه:** او چې کله متصل شي ترديږ ماضي معلوم د ثلاثي مجرد و معتل العین پورې ضمیر د متکلم برابره خبره ده که ضمیر د واحد متکلم وي او که ضمیر د متکلم مع الغیر وي او یا ورپورې متصل شي ضمیر د مخاطب که مذکر وي او که مؤنث وي بیا که واحد وي او که تثنیه وي او که جمعه وي او یا ورپورې متصل او پیوست شي ضمیر د جمعې مؤنثې برابره خبره ده که غائبه وي او که مخاطبه وي چې د دې ضمیر نون دی نو د افعل ماضي د ثلاثي مجرد و چې په وزن د فعل سره وي په فتحې د عین په واوي کښې به نقل کولی شي فعل ته په ضمې د عین سره او په یائي کښې به نقل کولی شي

Maktaba Tul Ishaat.com

فعل ته په کسرې دعین سره یعنې په واوي کښې به عین کلمې ته په ځای دفتحې باندې ضمه ورکولی شي اوپه یائي کښې به په ځای دفتحې باندې کسره ورکولی شي او دا ورکول دضمې او دکسرې ددې لپاره دي چې داضمه دلالت وکړي په واومحذوفه باندې او دا کسره دلالت وکړي په یاء محذوفه باندې اوچې داماضي په اجوف واوي کښې په اصل کښې فعل وي په ضمې دعین سره وي مثال لکه طول چې داپه وزن دفعل دی په ضمې دعین سره اوپه اجوف یائي کښې که داماضي فعل وي په کسرې دعین سره نوبیابه په دې فعل کښې په ضمې دعین سره اوپه دې فعل کښې په کسرې دعین سره څه تغیرنشي کولی ځکه چې په واوي کښې ضمه موجوده ده داصل نه اوپه دې یائي کښې کسره موجوده ده داصل نه اوبیابه په دې فعل کښې په ضمې دعین سره ضمه نقل کړی شي دعین کلمې نه فاء کلمې ته اوپه دې فعل کښې په کسرې دعین سره به کسره نقل کړی شي دعین کلمې نه فاء کلمې ته او دا عین کلمه چې واو وي اویاياء وي حذف به کړی شي .

فتقول صان صانا صانوا صانت صانتا صن صنت صنتما صنتم صنت صنتما صنتن صنت صنا .

داګردان دهغې فعل ماضي معلوم دی چې مفتوح العین وي او اجوف واوي وي اوبیا واو بدل شوی وي په الف باندې له وجهې دتحرك ددې واو اوانفتاح دماقبل ددې واو اوبیادا الف باقي پاتې شوی دی په پنځو اولو صیغو کښې چې هغوئ له صان نه نیولې ترصانتا پورې دي اوپه دې باقي کښې چې له صن نه نیولې تراخیره پورې دي په دوئ کښې هغه الف چې بدل راغلی دی له واو نه حذف شوی دی له وجهې دالتقاء الساکنین نه په مابین دالف کښې اوپه مابین دهغه حرف کښې چې هغه واقع وي وروسته له الف نه چې هغه نون دی چې لام کلمه ده په دې فعل کښې اوپه دې باقي صیغو کښې په اصل کښې فاء کلمه هم مفتوحه وه اوعین کلمه هم مفتوحه وه اوبیا وروسته عین کلمې ته ضمه ورکړی شوه اوبیا داضمه رانقل کړی شوه فاء کلمې ته اوعین کلمه حذف کړی شوه نو اوس داضمه دلالت کوي په واو محذوفه باندې نوپه

دي باقي صيغو كښې په دوه صيغو كښې چې ځن دی اوځنتن دی ورپوري نون دجمعې مؤنثې ملحق شوی دی چې داهم ضمير دفاعل دی اوپه دې باقي صيغوپورې ضمائر ملحق شوي دي چې په اخيرې دوه صيغو كښې دمتكلم ضميرونه دي اوپه دې نورو كښې دمخاطب ضميرونه دي اوپه دې ځن كښې چې صيغه دجمعې مؤنثې غائبې ده اوپه ځناكښې چې صيغه دمتكلم مع الغير ده نومشدده ده ځكه چې په دې ځن كښې هغه نون چې لام كلمه ده مدغمه كړی شوې ده په نون دجمعې مؤنثې كښې نورنه تشديد پيدا شوی دی اوپه دې ځناكښې هغه نون چې لام كلمه ده مدغم شوی دی په نون دضمير دمتكلم مع الغير كښې نورنه تشديد پيدا شوی دی .

وتقول باع الى بعن والى بعت بعنا .

داګردان دهغې ماضي معلومې دی چې اجوف يائي وي اوپه وزن دفعل سره مفتوح العين وي نوددې پوره ګردان داسې دی .

باع باعا باعوا باعت باعتا بعن بعت بعتما بعتم بعت بعتما بعتن بعت بعنا .

نوپه دې صيغوكښې له باع نه نيولې ترباعتا پورې فاء كلمه په فتحې باندې باقي پاتې كړی شوې ده اوهغه الف چې بدل راغلی دی دياء نه هغه هم باقي دی په دې پنځوصيغوكښې اونه دی حذف شوی اوله دې نه غيردا باقي صيغې چې له بعن نه نيولې دې تراخيره پورې نوپه دوئ كښې فاء كلمې ته په ځای دفتحې باندې كسره وركړی شوې اوبيادا كسره رانقل شوې ده له عين كلمې نه فاء كلمې ته اوهغه الف چې بدل راغلی دی له ياء نه هغه حذف كړی شوی دی نودا كسره چې بدل راوړی شوې ده له فتحې نه دلالت كوي په ياء محذوفه باندې اووجه دحذف دالف په دې صيغوكښې داده چې له دې الف نه مابعد حرف چې لام كلمه ده په دې صيغوكښې ساكنه ده اوالف هم ساكن دی نوځكه دا الف حذف كړې شوې اوهرچې اولې پنځه صيغې دي نوپه هغوئ كښې التقاء الساكنين نه دی راغلی نوځكه په هغوئ كښې الف نه دی حذف كړی شوی اوپه دی ګردان كښې په نون دبعن كښې چې صيغه دجمعې مؤنثې غائبې ده اوپه نون

Maktaba Tul Ishaat.com

دبعنا كښې چې صيغه دمتكلم مع الغير ده تشديد نه دى موجود ځكه چې په دې كښې ادغام نشته دلام كلمې په نون كښې په خلاف دهغه مخكې ګردان چې په هغه كښې ادغام موجود دى په دې دوه صيغو كښې نوځكه تشديد په كښې پيدا شوى دى .

**حل لغات:** دصان معنىٰ ده محفوظ كول اودباع معنىٰ ده خرڅول .

واذا بنيته للمفعول كسرت الفاء من الجميع فقلت صين واعتلاله باالنقل والقلب وبيع واعتلاله باالنقل .

**ترجمه:** چې كله دافعل ماضي دثلاثي مجردو اجوفو ته مبني كړې مفعول ته يعنې ماضي مجهوله ترې جوړه كړې نوته به وايې په اجوف واوي كښې صين چې ددې اعلال په نقل دحركت اوپه قلب سره دى په دې شان چې داصين په اصل كښې صون وه په كسرې دواوسره نواول په كښې نقل وكړى شوپه دې شان چې ددې واوكسره يې ماقبل فاء ته يوړى شوه اوبيا دهغې نه بعداواوپه ياء سره بدل كړى شو نوورنه صين جوړشو اوپه اجوف يائي كښې به ويلى شي بيع اوددې اعلال په نقل سره دى په دې شان چې دابيع په كسرې دباء سره اوپه سكون دياء سره په اصل كښې بيع وه په ضمې دباء سره اوپه كسرې دياء سره بيادا كسره دياء نقل كړى شوه باء ته وروسته له اسقاط دضمې دباء نه .

**تشريح:** مخكې مصنف بيان دماضي معلومې وكړو چې هغه دثلاثي مجردونه وي اواجوف واوي وي اوياء اجوف يائي وي اواوس مصنف بيان دماضي مجهولې داجوف واوي اواجوف يائي كوي چې ثلاثي مجرد وي نوګردان دماضي مجهولې ثلاثي مجردواجوف واوي دادى .

صين صيناصينوا صينت صينتاصين صنت صنتماصنتم صنت صنتما صنتن صنت صينا .

نوداتولې صيغې په اصل كښې په واوسره وې په ځاى دياء باندې ګردان داسې وه صون صوناصونوا صونت صونتا صون صونت صونتماصونتم صونت صونتماصونتن

صونت صونا په ضمې دفاء کلمې سره اوپه کسرې دعين کلمې سره نوپه دې کښې اعلال په دوه شيانو سره شوی دی چې اول شی دادی چې حرکت دواؤچې کسره ده نقل کړی شوه فاء کلمې ته چې هغه صاد دی وروسته له اسقاط دحرکت دصاد نه چې هغه ضمه وه اودويم شی دادی چې وروسته له دې نقل دحرکت نه واوساکن وه اوماقبل ورنه کسره وه نوله وجهې دتقاضادکسرې دماقبل نه دا واوپه ياء باندې بدل کړی شو نوورنه صين جوړ شوترصناپورې اوبياپه پنځه اولوصيغوکښې دا ياء باقي پاتې کړی شوې ده په خپل حالت باندې اوپه دې باقي صيغوکښې چې له صن نه نيولې ترصناپورې دي دا ياء حذف کړی شوه له وجهې دالتقاء الساکنين نه په مابين د ياء اودنون کښې اوپه صن کښې چې صيغه دجمعې مؤنثې غائبې ده اوپه صناکښې چې صيغه دمتکلم مع الغيرده نون مشدد دی له دې وجهې نه چې هغه نون چې لام کلمه ده مدغم شوی دی په هغه نون کښې چې هغه دجمعې مؤنثې غائبې دی په صين کښې اودمتکلم مع الغيردی په صناکښې اوګردان دماضي مجهول ثلاثي مجردو اجوف يائي دادی .

بيع بيعا بيعوا بيعت بيعتا بعن بعت بعتما بعتم بعت بعتما بعتن بعت بعنا .

نوفی الحال داصيغې په کسرې دباء سره اوپه سکون دياء سره دي خوليکن دا ياء ساکنه په اولو پنځوصيغوکښې موجوده ده فقط اوپه دې وروسته صيغوکښې دا ياء حذف شوې ده له وجهې دالتقاء السانين نه په مابين دياء کښې اوپه مابين دلام کلمې کښې اوداصيغې په اصل کښې په ضمې دفاء کلمې سره وې اوپه کسرې دعين کلمې سره وې چې عين کلمه ددوئ ياء ده نوپه دوئ کښې اعلال فقط په يوشي سره شوی دی چې هغه نقل دحرکت دعين کلمې دی چې هغه کسره ده فاء کلمې ته وروسته له اسقاط دضمې دفاء کلمې نه .

Maktaba Tul Ishaat.com

**وتقول فى المضارع يصون ويبيع واعتلالهما باالنقل ويخاف ويهاب واعتلالهما باالنقل والقلب .**

**ترجمه**: اوته به وايې په مضارع كښې يصون اويبيع په سكون دعين كلمې سره او د دوئ اعلال په نقل دحركت دعين كلمې سره فاء كلمې ته شوى دى اويخاف او يهاب به وايې اوددوئ دواړو اعلال په نقل دحركت دعين سره اوپه قلب ددې عين سره په الف باندې شوى دى .

**تشريح**: مصنف دفعل مضارع معلومې لپاره چې راغلې وي له ثلاثي مجردو اجوفونه څلورمثالونه راوړي دي ځكه چې دافعل مضارع معلومه دثلاثي مجردو اجوفوپه څلورقسمه ده اول قسم چې اجوف واوي وي اومضموم العين وي لكه يصون اودويم قسم چې اجوف يائي وي اومكسورالعين وي لكه يبيع اودريم قسم اجوف واوي وي اومفتوح العين وي لكه يخاف اوڅلورم قسم چې اجوف يائي وي اومفتوح العين وي لكه يهاب نوهركله چې دامضارع څلورقسمه وه نواوس څوك دااعتراض نشي كولى چې مثال راوړى شي لپاره دتوضيح دممثل اوتوضيح دممثل راځي او حاصلېږي په يومثال سره نوڅه حاجت دى راوړدڅلورمثالونوته اودااعتراض ځكه نه دى وارد چې مونږ ورته وايوچې داتعدد دمثال مبني دى په تعدد دممثل باندې اوشك نشته چې ممثل چې فعل مضارع معلوم ددې اجوفودى څلورقسمه دي نوځكه ورته څلورمثالونه راوړى شو نوپه دې اولودوه مثالونوكښې چې يصون اويبيع دى اعلال شوى دى فقط په نقل دحركت دعين كلمې سره فاء كلمې ته ځكه چې دايصون په اصل كښې په سكون دصاد اوضمې دواو سره وه بيا ددې واو ضمه نقل كړى شوه صادته اوواو ساكن پاتې شواودايبيع په اصل كښې په كسرې دياء اوسكون دباء سره وه. اوبياددې ياء كسره باء ته ورنقل كړى شوه اوياء ساكنه پاتې شوه اوپه دې اخيرې دوه مثالونوكښې چې يخاف اويهاب دى اعلال په دوه شيانوسره شوى دى چې اول شى نقل دحركت دعين كلمې دى چې هغه فتحه ده فاء كلمې ته چې هغه په اصل كښې ساكنه وه اودويم شى قلب اوابدال ددې عين كلمې دى چې هغه واو دى په يخاف

کښې اویاء ده په یهاب کښې په الف سره نود ایخاف په اصل کښې یخوف وه په سکون دخاء اوفتحې دواو سره دواوفتحه نقل کړی شوه خاء ته اوواوبدل کړی شو په الف سره نوورنه یخاف جوړشو په الف سره اودا ایهاب په اصل کښې یهوب وه په سکون دهاء سره اوپه فتحې دیاء سره نوددې یاء فتحه ورنقل کړی شوه هاء ته اودایاء بدله کړی شوه په الف سره نوورنه یهاب جوړشو.

**حل لغات:** دخاف اودهاب دواړو معنیٰ ده ډارېدل.

**ویدخل الجازم فتسقط العین اذاسکن مابعده وتثبت اذاتحرك مابعده.**

**ترجمه:** اودا خلېږي عامل جازمه په دې فعل مضارع باندې نوداعامله جازمه ساقطه وي عین کلمه ددې فعل چې هغه واو وي اویایاء وي خوپه دې شرط چې مابعد له دې عین کلمې نه ساکن وي اوداعین کلمه به ثابته وي یعنې نه به وي ساقطه په دې شرط چې مابعد ددې عین کلمې نه متحرك وي.

**تشریح:** مصنف وايي چې په دې فعل مضارع معلوم اجوف ثلاثي مجردو باندې عامل جازمه داخلېږي نوچې کله عامل جازمه ورباندې داخل شي نواوس به کتلی شي چې مابعد له دې عین کلمې نه ساکن دی اوکه نه دی ساکن ځکه چې داعین کلمه چې حرف علت دی برابره خبره ده که واو وي اوکه یاء وي اوکه الف وي ساکن وي نوکه چیرته مابعد ورنه هم ساکن وه نوبیابه داعین کلمه چې حرف علت دی حذف کولی شي له وجهې دالتقاء الساکنین نه اوکه چیرته مابعد ورنه متحرك وه نوبیابه داعین کلمه چې حرف علت دی په خپل حال باندې باقي پاتې کولی شي اونشي به ساقطولی.

اومصنف په دې وروسته عبارت کښې درې ګردانونه ذکرکړي دي اول ګردان دیصون دی چې دامضموم العین دی اودویم ګردان دیبیع دی چې دامکسورالعین دی اودریم ګردان دیخاف دی چې دامفتوح العین دی اودیهاب ګردان مصنف نه دی ذکرکړی ځکه چې هغه په شان دیخاف باندې مفتوح العین دی نوحاجت نشته لپاره دذکرکولوګردان دیهاب وروسته له ذکرد ګردان دیخاف نه نوپه دې ګردانونوکښې عین کلمه په دې جمعه مؤنثه غائبه کښې اوجمعه مؤنثه مخاطبه کښې په دې مضارع

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې نه ده حذف شوې په وخت د دخول دعامل جازمه کښې بلکه د دې حذف په ماضي کښې شوی دی مخکښې له جوړولو د فعل مضارع نه او بيا د افعل مضارع دهغې ماضي نه جوړه شوې ده چې په کومه ماضي کښې حرف علت حذف شوی دی اوله دې دوه صيغونه غير دا باقي صيغې په دوه قسمه دي اول قسم هغه دي چې له دخول دعامل جازمه نه بعد ساکن وي او دا غونډې څلور صيغې دي چې يفعل ده چې دا دواحد مذکرغائب صيغه ده اوتفعل ده چې دا مشترکه ده په مابين دواحدمذکرمخاطب کښې اوپه مابين دواحدې مؤنثې غائبې کښې اوبله صيغه افعل ده چې دا صيغه دواحدمتکلم ده اوبله صيغه نفعل ده چې داصيغه دمتکلم مع الغيرده نوپه دې څلورو واوړوصيغو کښې مابعدله دې حرف علت نه ساکن وه نوپه دوئ کښې حرف علت په دې اجوفو کښې حذف کولی شي اودويم قسم هغه صيغې دي چې هغوئ غيردي له دې څلوروصيغونه چې هغه داباقي صيغې دي نوپه دوئ کښې وروسته له دې عين کلمې نه متحرك وي نو دا عين کلمه به نشې حذف کولی ځکه چې علت لپاره دحذف د دې عين کلمې اجتماع الساکنين ده اوداعلت نه دی موجود په دې باقي صيغو کښې .

## وقس عليه الامرالمخاطب نحو صن صونا صونوا صونى صونا صن .

**ترجمه:** اوقياس کړه په هغې مضارع باندې چې په هغې باندې داخل شوی وي عامل جازمه امرد مخاطب يعنې امرد حاضرپه دې خبره کښې چې په دې امرد حاضر کښې هم په کوموصيغو کښې چې دعين کلمې نه مابعد ساکن وي په هغوئ کښې به عين کلمه ساقطه ولی شي اوپه کوموصيغو کښې چې دعين کلمې نه مابعد متحرك وي په هغوئ کښې به عين کلمه ثابته پاتې کولی شي نوپه دې مذکورگردان دامرحاضرکښې په اوله صيغه کښې اوپه اخيره صيغه کښې حرف علت چې په مقابله دعين کلمه کښې دی حذف کړی شوی دی اوپه دې باقي صيغو کښې نه دی حذف کړی شوی خوليکن په دې اخيري صيغه کښې داعين کلمه چې واو دی په مضارع کښې حذف شوی دی مخکښې له جوړولو دامرحاضرنه .

والامر بنون التاکید نحو صونن صونان صونن صونن صونان صنان .

**ترجمه**: او امر حاضر چې ورسره نون د تاکید ثقیله ملحق شوی وي لکه صونی تر اخیره پورې نو دا نون ثقیله په دې شپږو واړو صیغو د امر حاضر پورې ملحق شوی دی .
او په دې صیغو د امر حاضر کښې په جمعه مذکره کښې واو د جمعې مذکرې حذف کړې شوی دی او ماقبل د واو نه نون ته چې لام کلمه ده ضمه ورکړې شوې ده ځکه چې په اصل کښې صونوا وه نو دا ضمه د دې لپاره ورته ورکړې شوې ده چې دلالت وکړي په دې واو محذوفه باندې او په دې واحده مؤنثه کښې یاء حذف کړې ده چې هغه هم د واو په شان باندې ضمیر دی او ماقبل د دې یاء نه نون ته چې هغه لام کلمه دی کسره ورکړې شوې ده لپاره د دې چې دا کسره دلالت وکړي په یاء محذوفه باندې ځکه چې دا په اصل کښې صونی وه په یاء سره او په دې صیغې د جمعې مؤنثې کښې الف فاصل داخل کړې شوی دی لپاره د دې چې فصل راشي په مابین د دې نون د جمعې کښې او د نون د تاکید کښې او لازم نشي اجتماع د ثلاث نوناتو بلکه په دې صیغه کښې بخصوصه لازمیږي اجتماع د اربع نونات ځکه چې په دې کښې لام کلمه هم نون دی او بل نون د جمعې مؤنثې دی او نون ثقیله دوه نونه دي اول مدغم او دویم مدغم فیه دی.

وبع بیعا بیعوا بیعی بیعا بعن وخف خافا خافوا خافی خافا خفن .

په دې دوه گردانونو کښې دا اول گردان د امر حاضر د باع یبیع دی او دویم گردان د امر حاضر د خاف یخاف دی نو په دې دواړو گردانونو کښې په اوله او له صیغه کښې او همدارنګه په اخیره اخیره صیغه کښې عین کلمه چې حرف علت دی حذف شوی دی چې هغه حرف علت په اول گردان کښې یاء ده او هغه حرف علت په دویم گردان کښې الف دی ځکه چې په دې دویم گردان کښې واو په الف باندې بدل شوی دی خو لیکن په اخیره صیغه د دې دواړو گردانونو کښې حرف علت حذف شوی دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

وبیعن وخافن .

دامثالونه دي دلحوق دنون ثقیله ترامرحاضردخاف یخاف پورې اوترامرحاضر دباع یبیع پورې اوټول گردان دبیعن داسې دی .

بیعن بیعان بیعُن بیعِن بیعان بعنان .

اوټول گردان دامرحاضردخافن دادی .

خافن خافان خافُن خافِن خافان خفنان .

نوردې دوارو گردانونو دامرحاضر کښې هم دانون ثقیله موجود دی په ټولو صیغو کښې .

وصونن وبیعن وخافن .

دامثالونه دي دهغه امرحاضرچې دهغه تراخیرپورې لحقوق دنون خفیفه شوی وي نودانون خفیفه ترټولوصیغودامرحاضرپورې نه ملحق کېږي بلکه تردرې صیغوپورې ملحق کېږي چې اوله صیغه دواحدمذکرده اودویمه صیغه دجمعې مذکرده اودریمه صیغه دواحدې مؤنثې ده اوترصیغودتثنې اوترصیغې دجمعې مؤنثې پورې لحوق دنون خفیفه نه کېږي اووجه دعدم لحوق دنون خفیفه تیره شوې ده په بحث دامرحاضر دصحیح کښې .

ومزیدالثلاثي لایعتل منه الااربعة ابنیة وهی اجاب یجیب اجابة واستقام یستقیم استقامة وانقاد ینقاد انقیاداً واختار یختار اختیاراً .

**ترجمه**: هغه ثلاثي مزیدفیه کښې چې هغوئ راغلي وي داجوفونه نوپه هغوئ کښې اعلال نه کېږي مگرپه څلوروبابونوکښې چې اول باب دافعال دی لکه اجاب یجیب اجابة اودویم باب داستفعال دی لکه استقام یستقیم استقامة اودریم باب انفعال دی لکه انقاد ینقاد انقیاداً اوڅلورم باب افتعال دی لکه اختار یختار اختیاراً .

**تشريح**: هركله چې مصنف فارغ شوله ثلاثي مجردو اجوفونه نوشروع يې وکړه په ثلاثي مزيدفيه اجوفوکښې نومصنف وايي چې په دې ثلاثي مزيدفيه کښې چې راغلي دي داجوفونه فقط په څلوروبناءګانوکښې يعنې په څلوروبابونوکښې اعلال کېږي اوپه نوروبابونودثلاثي مزيدفيه چې راغلي وي له اجوفونه اعلال نه کېږي اوددې څلوروبابونومثالونه مصنف ذکرکړي دي نوپه دې ټولومثالونوکښې اعلال موجود دی نودااجاب په اصل کښې اجوب وه په فتحې دواوسره نوددې واوفتحه نقل کړی شوه ماقبل ته او واوبدل کړی شوپه الف سره نوورنه اجاب جوړشو اويجيب په اصل کښې يجوب وه په واوسره دواوکسره نقل کړی شوه ماقبل ته اوواو بدل کړی شو په ياء سره نو ورنه يجيب جوړشو اودااجابة په اصل کښې اجواباً وه نودواو حرکت چې فتحه ده نقل کړی شوه ماقبل ته اودا واوبدل کړی شو په الف سره اوبياهمدغه الف چې بدل راغلی وه دواونه اوعين کلمه ده حذف کړی شو اوددې الف په عوض کښې په اخيرکښې تاء راوړی شوه نوورنه اجابة جوړشو اواستقام په اصل کښې استقوم وه فتحه دواونقل کړی شوه ماقبل ته اوواو بدل کړی شو په الف سره نواستقام ورنه جوړشو اويستقيم په اصل کښې يستقوم وه ددې واوکسره نقل کړی شوه ماقبل قاف ته اوداواو بدل کړی شوپه ياء سره نوورنه يستقيم جوړشو اودااستقامة په اصل کښې استقواماً وه چې ددې واوفتحه نقل کړی شوه ماقبل ته اودا واوبدل کړی شوپه الف سره اوبيادا الف چې بدل راغلی دی دواو نه اوعين کلمه ده حذف کړی شوه اوددې الف په عوض کښې په اخيرکښې تاء راوړی شوه نوورنه استقامة جوړشو اودا انقاد په اصل کښې انقود وه اوداينقاد په اصل کښې ينقود وه نوپه دواړوکښې واومتحرك وه اوماقبل ورنه مفتوح وه نوداواوبدل کړی شو په الف سره نود اول نه انقاد جوړشو اوددويم نه ينقاد جوړشو اوانقياداً په اصل کښې انقواداً وه نوداواو له وجهې دکسرې دماقبل نه بدل کړی شوپه ياء سره نوورنه انقياداً جوړشو اودااختار په اصل کښې اختيروه اويختار په اصل کښې يختير وه نوپه دواړوکښې

Maktaba Tul Ishaat.com

ياء متحركه وه اوماقبل ورنه مفتوح وه نودا ياء له وجهې دفتحې دماقبل نه بدله كړى شوه په الف سره نوورنه اختار يختار جوړ شو.

**واذا بنيتها للمفعول قلت اجيب يجاب واستقيم يستقام واختير يختار وانقيد ينقاد .**

**ترجمه**: اوچې كله ته داخلورواړه بابونه مبني للمفعول وګرزوې يعنې مجهول ورنه جوړكړې نوته به اجيب يجاب وايې په مثال دباب افعال كښې چې په اصل كښې اجوب يجوب وه په ماضي كښې دواوكسره ماقبل ته وركړى شوه اوواو بدل كړى شوپه ياء سره له وجهې دكسرې دماقبل نه اوپه مضارع كښې دواوفتحه ماقبل ته وركړى شوه اوواو له وجهې دفتحې دماقبل نه په الف باندې بدل كړى شو اوته به وايې استقيم يستقام په مثال دباب استفعال كښې چې په اصل كښې استقوم يستقوم وه نوپه دې استقوم كښې حركت دواوچې كسره ده نقل كړى شوه ماقبل ته اوداواو بدل كړى شوپه ياء سره له وجهې دكسرې دماقبل نه نوورنه استقيم جوړشو اوپه يستقوم كښې دواوفتحه نقل كړى شوه ماقبل ته اودا واوله وجهې دفتحې دماقبل نه بدل كړى شوپه الف سره نوورنه يستقام جوړشو اوداختيرپه سكون دياء سره په اصل كښې په كسرې دياء سره وه نوددې ياء كسره وروسته له سلب دحركت دماقبل نه تاء ته ورنقل كړى شوه اودايختار په اصل كښې يختير وه نودا ياء متحركه وه اوماقبل ورنه مفتوح وه نودا ياء په الف باندې بدله كړى شوه نوورنه يختار جوړشو اودا انقيد په اصل كښې په ضمې دقاف اوكسرې دواو سره وه بيادا كسره دواوورنقل كړى شوه قاف ته وروسته له سلب دحركت دقاف نه چې ضمه ده اوبيادا واوبدل كړى شوپه ياء سره اودا ينقاد په اصل كښې ينقود وه نوواوپه كښې متحرك ماقبل ورنه مفتوح وه نودا واو بدل كړى شوپه الف سره نوورنه ينقاد جوړشو .

**والامر منها اجب اجيبا اجيبوا واستقم استقيما وانقد انقادا واختر اختارا .**

دا مثالونه دامر حاضردي ددې څلوروبابونوچې باب افعال دی اوباب استفعال دی اوباب انفعال دی اوباب افتعال دی اوپه دې مثالونوکښې په دې اول مثال کښې چې اجب اجيبا دی چې دامثال دباب افعال دی داهمزه په کښې مفتوحه ده ځکه چې داهمزه وصليه نه ده بلکه همزه قطعيه ده چې زياته کړی شوې ده په باب افعال کښې لپاره دتعدية اوپه دې باقي مثالونوکښې داهمزه مکسوره ده ځکه چې داهمزه وصليه ده اوهمزه وصليه مکسوره وي .

**حل لغات:** داجابة معنیٰ ده ديوچادعوت اوبلنه قبولول اوداستقامت معنیٰ ده نيغ کېدل اودانقياد معنیٰ ده تابعداري کول اوداختيار معنیٰ ده يوشی غوره کول .

**ويصح نحوقول وقاول وتقول وتقاول وزين وتزين وسـاير وتـساير واسـود وابيض واسواد وابياض وكذا سائر تصار يفها.**

**ترجمه:** اوپه صحت باندې به پاتې کولی شي يعني اعلال به نشې په کښې کولی په دې ثلاثي مزيدفيه اجوفوکښې چې راغلي وي دباب دتفعيل نه لکه قول په تشديد دواوسره اودباب دمفاعلې نه لکه قاول اودباب دتفعل نه لکه تقول په تشديد دواوسره اودباب تفاعل نه لکه تقاول اوهمدارنګه په صحت باندې به پاتې کولی شي اواعلال به نشي په کښې کولی په زين اوتزين اوساير اوتساير کښې چې اول دباب تفعيل نه دی اودويم دباب دتفعل نه دی اودريم دباب دمفاعلې نه دی اوڅلورم دباب دتفاعل نه دی اوهمدارنګه په دې ثلاثي مزيدفيه اجوفوکښې اعلال نشې کولی چې دباب دافعال نه وي په تشديددلام سره لکه اسود اوابيض اوچې دباب افعيلال نه وي لکه اسواد اوابياض اوهمدارنګه دثلاثي مزيدفيه په دې مذکوروبابونوکښې چې څومره صيغې وي لکه مضارع اواسم فاعل اواسم مفعول په هغوئ ټولوکښې به اعلال نشي کولی بلکه په صحت باندې به باقي پاتې کولی شي .

Maktaba Tul Ishaat.com

**تشريح**: مصنف چې داكوم بابونه ذكركړي دي په دې مقام كښې چې په دوئ كښې اعلال نه كيږي نومراد دادى چې ددوئ په ټولو صيغو كښې به اعلال نه كيږي لكه مضارع اومصدر اواسم فاعل او اسم مفعول اودې خبرې ته مصنف اشاره كړې ده په دې عبارت خپل سره چې وكذا سائرتصاريفها اووجه لپاره دعدم اعلال په صيغو ددې بابونود ثلاثي مزيدفيه اجوفو كښې داده چې په دوئ كښې علت د اعلال نه دى موجود اوهمدارنګه داعين كلمه چې حرف علت دى په غاية خفت كښې ده ځكه چې ماقبل له دې عين كلمې نه حرف ساكن موجود دى .

**اعتراض**: معترض وايي چې په دې باب افعال كښې لكه اجاب يجيب اوپه باب استفعال كښې لكه استقام يستقيم هم ماقبل له حرف علت نه ساكن دى نوبايد چې په دوئ دواړو كښې هم اعلال نه واى شوى .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې په دې دوه بابونو كښې اګرچې له عين كلمې نه ماقبل ساكن دى خوليكن په دوئ كښې اعلال وكړى شو لپاره دحمل ددې دوه بابونوپه ثلاثي مجردوباندې نوپه ثلاثي مجردو كښې اعلال شوى وه نوپه دې دوه بابونو دثلاي مزيدفيه كښې هم اعلال وكړى شو لپاره دحمل ددې مزيدو په مجردوباندې .

**اعتراض**: معترض وايي چې هركله په دې باب افعال او استفعال كښې اعلال شوى دى لپاره دحمل په ثلاثي مجردوباندې نوبايدچې په دې مذكوروبابونو كښې هم اعلال شوئ واى لپاره دحمل په ثلاثي مجردوباندې .

**جواب**: مونږ ورته وايوچې فرق دى په مابين دباب افعال اوباب استفعال كښې اوپه مابين ددې ابوابو كښې اوهغه فرق دادى چې په دې باب افعال كښې اوباب استفعال كښې مانع نه دى موجود داعلال نه اوپه دې مذكوروبابونو كښې مانع موجود دى داعلال نه اوهغه مانع دادى چې په دې باب افعال اوباب استفعال كښې ماقبل ددې عين كلمې نه صالح دى لپاره ددې چې حركت دعين كلمې ورته ورنقل كړى شي اوهرچې ماقبل دعين كلمې دى په دې ابوابومذكوره كښې نوپه دوئ كښې ماقبل دعين كلمې نه نه دى صالح چې ورته حركت دعين كلمې ورنقل كړى شي هرچې

هغه صیغې دي چې په هغوئ کښې ماقبل له دې عین کلمې نه الف دی لکه قاول اوتقاول اوسایر اوتسایر نوپه دوئ کښې ځکه ماقبل له دې عین کلمې نه نه دی صالح چې حرکت دعین کلمې چې حرف علت دی ورنقل شي ځکه چې الف ساکن وضعي دی دده متحرك كول نه دي متصور اوهرچې قول اوتقول اوزین اوتزینم دی نوپه دوئ کښې عین کلمه دویم واودی په قول اوتقول کښې اواول واو په دې قول اوتقول کښې زائد دي اوپه زین اوتزین کښې دویمه یاء عین کلمه ده اواوله یاء زائده ده نوکه چیرته په دوئ کښې ددویم واو اودویمې یاء حرکت چې فتحه ده نقل کړی شي ماقبل واو اویاء ته اودا دویم واو اویاء بدل کړی شي په الف سره نوبیابه دااول واو اویاء هم بدلېږي په الف سره ځکه چې وروسته له نقل دحرکت نه دوئ ته دواړه متحرك جوړېږي اوماقبل ورنه مفتوح وي نودقال اوباع قاعده ورته متوجه کېږي نودااول واو اویاء به هم په الف سره بدلولی شي نوچې کله په الف سره بدله کړی شي نولازمېږي التقاء الساکنین په مابین دالفینو کښې نودااول الف به ورنه حذف کولی شي نو لازمېږي په دې وخت کښې التباس ددې ثلاثي مزیدفیه دثلاثي مجردوسره په دې شان چې دقول نه به قال جوړشي اودزین نه به زان جوړشي نوددوئ التباس راځي دمجردوسره چې قال اوزان دي اودتقول نه تقال جوړشي اوتزین نه به تزان جوړشي نوددې تقال التباس دتخاف مجردوسره راځي اودتزان التباس دتهاب مجردوسره راځي یعنې دابه نه معلومېږي چې دوئ ثلاثي مزیدفیه دي اوکه په شان دتخاف او تهاب ثلاثي مجردو دي اوپه دې اسود اوابیض اواسواد اوابیاض کښې که چیرته اعلال وکړی شي نوبیابه ددوئ التباس راشي دباب دمفاعلې سره چې ساد اوباض دی په تشدید ددال سره په اول کښې اوپه تشدید دضاد سره په دویم کښې چې په اصل کښې سادد اوباضض وه اودا التباس په دې طریقې سره لازمېږي چې کله په دوئ کښې حرکت دواواویاء نقل کړی شي ماقبل ته اودوئ بدل کړي شي په الف سره نوپه دې اسواد اوابیاض کښې دوه الفین جمعه کېږي نوله وجه دالتقاء دساکنینو نه به یو الف حذف کولی شي اوهرچې همزه ده په اول کښې نوهغه به په دې ځلورو واړو کښې حذف کولی

Maktaba Tul Ishaat.com

شي ځکه چې په دې وخت کښې فاء کلمه متحرکه جوړېږي په دې حرکت سره چې رانقل شوې وي له واونه اوياله ياء نه نودې همزې ته حاجت نه پاتې کېږي نودااسود اواسواد له دواړونه ساد جوړېږي اوله ابيض اوابياض دواړونه باض جوړېږي.

**حل لغات:** دقول په تشديد دواوسره معنىٰ ده په بل باندې دروغ جوړول اودقاول معنىٰ ده ديوبل سره دوښمني کول اودتقول معنىٰ ده دروغ ويل اودتقاول معنىٰ ده ديوبل سره دښمني کول اودزين معنىٰ ده بل شى ښائسته کول اودتزين معنىٰ ده ځان ښائسته کول اودساير اوتساير معنىٰ ده يوکس دبل کس سره په تلو کښې ملګرتيا کول اوداسود اوداسواد ددواړو معنىٰ ده توريدل اودابيض اودابياض ددواړو معنىٰ ده سپينېدل.

## واسم الفاعل من المجرد يعتل باالهمزة كصائن وبائع والمزيدفيه يعتل بمااعتل به المضارع كمجيب ومستقيم ومنقاد ومختار.

**ترجمه:** اواسم فاعل له ثلاثي مجردو نه چې اجوف وي په کښې اعلال کولى شي په همزې سره يعنې ددې اسم فاعل عين کلمه چې حرف علت دى برابره خبره ده که واو وي اوکه ياء وي بدلولى شي په همزې سره مثال لکه صائن اوبائع چې په اصل کښې صاون اوبايع وه نوپه اول کښې واو اوپه دويم کښې ياء بدل کړى شوه په همزې سره اوهغه اسم فاعل چې دثلاثي مزيدفيه نه وي نوپه عين دهغه کښې به هغه حرف سره اعلال کولى شي چې په کوم حرف سره اعلال په فعل مضارع ددې ثلاثي مزيدوشوى وي يعنې په دې اسم فاعل دثلاثي مزيدفيه کښې به عين کلمه چې حرف علت دى برابره خبره ده که واو وي اوکه ياء وي په هغه حرف باندې بدلولى شي چې په کوم حرف باندې داعين کلمه په فعل مضارع ددې ثلاثي مزيدفيه کښې بدل شوې وي مثال کله مجيب چې په دې کښې واو په ياء سره بدل شوى دى په اصل کښې مجوب وه لکه په يجيب کښې چې په اصل کښې يجوب وه واو په ياء سره بدل شوى دى اولکه مستقيم چې په اصل کښې مستقوم وه واوپه ياء سره بدل شوى دى لکه په يستقيم کښې چې په اصل کښې يستقوم وه واوپه ياء سره بدل شوى دى اولکه منقاد

چې داپه اصل کښې منقود وه واو په الف سره په کښې بدل شولکه په ینقاد کښې چې په اصل کښې ینقود وه واوپه الف سره بدل کړی شو اولکه مختار چې په اصل کښې مختیر وه یاء په الف سره بدله کړی شوه لکه په یختار کښې چې په اصل کښې یختیر وه یاء په الف سره بدله شوې ده.

**تشریح**: زده کړه داخبره چې اسم فاعل دثلاثي اجوفوپه دوه قسمه دی اول قسم هغه اسم فاعل دی چې دثلاثي مجردووي لکه صائن اوبائع اودویم قسم هغه اسم فاعل دی چې هغه دثلاثي مزیدفیه وي نوپه دې اول قسم کښې ابدال دحرف علت په هغه حرف سره نه وي چې په مضارع ددې اسم فاعل کښې ابدال دحرف علت په کوم حرف سره شوی وي بلکه په دې قسم داسم فاعل کښې ابدال دحرف علت فقط په همزې سره وي اوپه دې دویم قسم داسم مفعول کښې به حرف علت چې هغه واقع وي په مقابله دعین کلمې کښې بدلولی شي په هغه حرف سره چې په هغه حرف سره په فعل مضارع کښې داحرف علت بدل شوی وي اووجه ددې فرق داده چې صیغه ددویم قسم داسم فاعل بعینه صیغه دفعل مضارع وي فقط په اول کښې حرف مضارعت حذف شوی وي اودهغې په ځای باندې زیادت دمیم مضمومه شوی وي نوکومه قاعده دابدال دعین کلمې چې په فعل مضارع کښې موجوده وي هغه قاعده په اسم فاعل کښې هم موجوده وي نوځکه په دې قسم داسم فاعل کښې ابدال په شان دهغه ابدال وي چې کوم په فعل مضارع معلوم کښې وي په خلاف داول قسم داسم فاعل چې دده صیغه مخالفه وي له صیغې دفعل مضارع ددې ثلاثي مجردونه نوهغه قاعده دابدال دحرف علت چې موجوده وي په فعل مضارع کښې هغه نه وي موجوده په اسم فاعل کښې نوځکه په اسم فاعل ددې ثلاثي مجردو کښې هغه شان اعلال نشي کولی چې کوم اعلال دده په فعل مضارع کښې شوی وي نوپه یصون فعل مضارع کښې مثلاً اعلال شوی ده په نقل دحرکت دواوسره ماقبل ته فقط اوپه اسم فاعل کښې چې صائن دی داسې اعلال نه دی شوی بلکه په دې کښې اعلال شوی دی په ابدال دواوسره په همزې باندې.

Maktaba Tul Ishaat.com

واسم المفعول من المجرد يعتل باالنقل والحذف كمصون ومبيع والمحذوف منه واو مفعول عندسيپويه وعين الفعل عندابى الحسن وبنوتميم يثبتون الياء فى مبيوع .

**ترجمه**: اواسم مفعول دثلاثي مجردو اجوفونه اعلال په کښې کولی شي په نقل دحرکت دواو سره په واوي کښې اوپه نقل دحرکت دیاء سره په یائي کښې ماقبل ته اوپه حذف دیو ساکن سره په دوه ساکنینو کښې مثال لکه مصون اومبیع اوحذف کړی شوی دی له دې اسم مفعول نه واو داسم مفعول چې هغه زائده دی په نزد دسیبویه باندې اوپه نزد دابی الحسن باندې محذوف شوې عین کلمه وي برابره خبره ده که واو وي اوکه یاء وي اوبنی تمیم عین کلمه حذف کوي په واوي کښې اوپه یائي کښې عین کلمه چې یاء ده ثابته پاتې کوي او واوداسم مفعول دوئ نه حذف کوي نه په واوي کښې اونه په یائي کښې لکه مبیوع چې په دې کښې یاء ثابته پاتې شوې ده .

**تشریح**: زده کړه داخبره چې اسم مفعول چې راغلی وي له ثلاثي مجردو اجوفونه نوپه ده کښې یوواو داسم مفعول وي چې داعلامه داسم مفعول د ه اوعین کلمه په کښې حرف علت وي نوهغه یاواو وي لکه مصون چې په اصل کښې مصوون وه په دوه واوونوسره اوپه سکون دصاد اوضمې داول واوسره اویاهغه حرف علت یاء وي لکه مبیوع په ضمې دیاء سره نوپه دې اسم مفعول کښې اعلال کولی شي په دوه شیانوسره چې اول شی نقل دحرکت دعین کلمې دی ماقبل ته نوپه اول مثال کښې داول واوحرکت صادته ورکړی شو اوپه دویم مثال کښې دیاء حرکت ماقبل ته و ـ کړی شو چې باء ده اوحرکتندې واواویاء ضمه ده اوددې نقل دحرکت نه بعد دوه ساکنان جمعه کېږي چې په اول مثال کښې دوه واوه دي اوپه دویم مثال کښې یاء اوواودی اودویم شی چې په هغه سره اعلال په کښې کېږي حذف دی په دې شان چې په دې دوه ساکنینو کښې یوساکن حذف کولی شي لپاره ددفعې دالتقاء الساکنین خولیکن په تعیین دمحذوف کښې چې محذوف اول ساکن دی چې عین کلمه ده اوکه دویم ساکن

دی چې واو د اسم مفعول دی اختلاف واقع دی نو سیبویه وايي چې محذوف دويم ساکن دی چې هغه واو د اسم مفعول دی ځکه چې دا واو د اسم مفعول زائد دی او د اعين کلمه حرف اصلي دی او زوائد زیات لائق دی د حذف نو د امصون او مبیع په وزن د مفعل سره په حذف د واو د اسم مفعول سره او په وزن د مفعول سره نه دی په حذف د عین کلمې سره او همدارنګه دا واو د اسم مفعول عارضي شی دی ځکه چې دا راپیدا شوی دی له وجهې د اشباع نه په ضمې د عین کلمې کښې او شك نشته چې ګرزول د امر عارضي چې حذف دی بل امر عارضي ته چې واو د اسم مفعول دی اولی دی له ګرزولو د امر عارضي نه چې حذف دی امر اصلي ته چې عین کلمه ده او ابو الحسن اخفش وايي چې حذف شوې ده په دې اسم مفعول کښې عین کلمه برابره خبره ده که واووي او که یاء وي ځکه چې دا واو د اسم مفعول علامه ده او علامه نشي حذف کولی او همدارنګه د اعین کلمه حذف کولی شي له دې اسم مفعول نه غیر په نورو ځایونو کښې لکه شاك چې اسم فاعل دی او په اصل کښې شاوك وه بیا د او او بدل شو په الف سره او بیا هم دغه الف حذف کړی شوله وجهې د التقاء الساکنین نه او هرچې الف د اسم فاعل دی په شاك کښې هغه نه دی حذف شوی نو د اشاك په وزن د فال دی په حذف د عین کلمې سره نو په دې اسم مفعول کښې هم د اعین کلمه به حذف کولی شي نه واو د اسم مفعول.

نو د امصون په دې صورت باندې به وي هم په مذهب د سیبویه او هم په مذهب د ابو الحسن اخفش او هرچې مبیع دی نو د دې صورت به په مذهب د سیبویه باندې مبیع و په ابدال د ضمې د باء سره په کسرې باندې له وجهې د تقاضا د یاء نه او په مذهب د اخفش باندې به مبوع وي په ضمې د باء سره او بني تمیم په مصون کښې د اسې اعلال کوي لکه د سیبویه او په مبیوع کښې دوئ اعلال نه کوي نه په واو د اسم مفعول کښې او نه په یاء کښې چې عین کلمه ده نو دوئ فرق کوي په مابین د واو او د یاء کښې په دې شان چې د اعین کلمه چې واو دی په اسم مفعول کښې نو دوئ په دې عین کلمه کښې اعلال کوي په نقل د حرکت سره او په حذف د واو سره چې کوم عین کلمه وي او چې کله د اعین کلمه یاء وي نو بیا دوئ په کښې اعلال نه کوي نه په نقل د حرکت سره او نه په

Maktaba Tul Ishaat.com

حذف سره بلکه د اصیغه د اسم مفعول په اصل باندې پرېږدي لکه مبیوع او وجه د فرق داده چې واو ثقیل دی او یا خفیفه ده نو په واو کښې به اعلال کولی شي لپاره د دفعې د ثقل او په یاء کښې څه حاجت نشته د اعلال کولو .

والمزیدفیه یعتل باالنقل والقلب ان اعتل فعله کمجاب ومستقام ومنقاد ومختار .

**ترجمه**: او هغه اسم مفعول چې د ثلاثي مزید فیه اجوفووي په هغه کښې به اعلال کولی شي په نقل او په قلب سره یعنې اول به حرکت د عین کلمې نقل کولی شي ماقبل ته برابره خبره ده که د اعین کلمه واو وي او که یاء وي او دهغې نه بعد به د اعین کلمه بدلولی شي په الف سره مثال لکه مجاب چې په اصل کښې مجوب وه او لکه مستقام چې په اصل کښې مستقوم وه او لکه منقاد چې په اصل کښې منقود وه او لکه مختار چې په اصل کښې مختیر وه نو د اواو په دریو اولو مثالونو کښې او یاء په دې څلورم کښې مفتوح وه او بیا فتحه د واو او یاء نقل کړی شوه ماقبل ته او دا واو په اولو دریو مثالونو کښې او یاء په څلورم مثال کښې بدله کړی شوه په الف سره نو ورنه مجاب او مستقام او منقاد او مختار جور شو.

الثالث المعتل اللام ویقال له الناقص وذوالاربعة لکون ماضیه علی اربعة احرف اذا اخبرت عن نفسك فالمجرد بقلب الواو والیاء الفاً اذاتحرکتا وانفتح ماقبلها کغزا ورمی وعصیً ورحیً .

**ترجمه**: او د معتل دریم قسم معتل اللام دې او دې معتل اللام ته ناقص هم وایي او ورته ذوالاربعه هم وایي چې د ذوالاربعه معنی ده خاوند د څلورو او ذوالاربعه ورته له دې وجهې نه وایي چې د دې ماضي په څلورو حرفونو سره وي چې کله ته خبرور کړې له خپل ځان نه یعنی صیغه د واحد متکلم فعل ماضي په څلورو حروفو سره وي نو دا ناقص

اوماقبل له دوئ نه مفتوح وي برابره خبره ده که دوئ په فعل کښې رالغلي وي اوکه په اسم کښې راغلي وي مثال دفعل لکه غزا چې په اصل کښې غزو وه په واوسره نوواو متحرك وه اوماقبل ورنه مفتوح وه نوداواوپه الف سره بدل کړی شواورمی په اصل کښې ياء سره وه اوداياء متحرکه اوماقبل ورنه مفتوح وه نوداياء بدله کړی شوه په الف سره اوداالف په صورت دياء کښې ليکل کېږي اومثال داسم لکه عضیً په تنوين سره په اخيرکښې په اصل کښې عصو وه په واوسره اوبياداواومتحرك وه اوماقبل ورنه مفتوح وه نوداواوپه الف سره بدل کړی شواوبياداالف حذف کړی شوله وجهې دالتقاء الساکنين نه په مابين دتنوين اودالف کښې نوداالف حذف کړی شواولکه رحی چې داپه اصل کښې په ياء سره وه اوبياپه الف سره ياء بدله کړی شوه اوبياالف حذف کړی شوله وجهې دالتقاء الساکنين نه په مابين دالف اودتنوين کښې نوورنه رحیً جوړشوپه تنوين سره .

**تشريح**: هرکله چې مصنف فارغ شوله بحث داجوفو نه نوشروع يې وکړه په بحث دناقص کښې چې دامعتل اللام ذی يعني په مقابله دلام کښې حرف علت دی اودې ته ناقص وايي له دريو وجهونه .

۱- وجه دده چې اخيردمطلق لفظ محل دتغيروي برابره خبره ده که په دې اخيرکښې داده حرف علت وي اوکه نه وي نوچې په اخيرکښې حرف علت وي لکه دامعتل اللام نودده اخير خوزيات لائق دتغيردی نوداسې دی لکه دده اخير چې نه وي موجود اوپه دې اخيرکښې نقصان واقع شوی وي .

۲- وجه داده چې هرکله ددې معتل اللام په اخيرکښې حرف صحيح نه دی موجود بلکه حرف علت په کښې موجود دی نوداداسې دی لکه چې دده په اخيرکښې کمی اونقصان وي .

۳- وجه داده چې په وخت ددخول دعامل جازمه کښې دده په مضارع باندې اوهمدارنګه په امرحاضرکښې اوهمدارنګه په بعضوافرادوداسم فاعل کښې دالام

Maktaba Tul Ishaat.com

كلمه چې حرف علت دی محذوفه وي مثال لكه لم يرم او ارم او رام نو په اخير كښې نقصان موجود دی نو ځكه ورته ناقص وايي .

اودې ناقص ته چې ذوالاربعه وايي ددې وجه مصنف ذكر كړې دی په دې قول خپل سره چې لكون ماضيه على اربعة احرف الى آخره يعني دی معتل اللام ته ذوالاربعه له دې وجهې نه وايي چې ددې واحد متكلم فعل ماضي په څلورو حرفونو سره وي مثال لكه غزوت .

وكذلك الفعل الزائد على ثلاثة احرف واسم المفعول كاعطى واشترى استقصى وكذا اذالم يسم الفاعل من المضارع كقولك يعطى ويغزى ويرمى .

**ترجمه**: اوهمدارنګه دا واو او ياء چې متحرك وي او ماقبل ورنه مفتوح وي بدلولی شي په الف سره په هغه فعل كښې چې زيات وي په دريو حرفونو باندې يعنې په ثلاثي مزيدفيه كښې او په اسم فاعل ددې ثلاثي مزيدفيه كښې اوهمدارنګه دا واو او ياء چې متحرك وي او ماقبل ورنه مفتوح وي بدلولی شي په الف سره په هغه مضارع كښې چې مبني للمفعول وي او فاعل نه وي ذكرشوی يعنې مضارع مجهوله وي بيا برابره خبره ده كه مضارع مجهوله د ثلاثي مجرد و وي او كه مضارع مجهوله د ثلاثي مزيدفيه وي مثال د ثلاثي مزيدفيه ماضي لكه اعطى او اشترى او استقصى چې دوئ په اصل كښې اعطو او اشترى او استقصو وه چې دا اول او ثالث په واو سره دی په اخير كښې او دادويم په ياء سره دی او دا واو او ياء دواړه متحرك دي او ماقبل ورنه مفتوح دي نو دوئ بدل كړی شو په الف سره خوليكن دا الف په دريو واړو كښې ليكل شوی دی په صورت د ياء كښې او د اسم مفعول د ثلاثي مزيدفيه مثال لكه معطى او مشتري او مستقصى چې دوئ په اصل كښې معطو او مشتري او مستقصو وه يعنې اول او ثالث په واو سره وه او ثاني په ياء سره وه نو په دوئ كښې دا واو او ياء متحرك وه او ماقبل ورنه مفتوح وه نو دا واو او ياء بدل كړی شو په الف سره خوليكن دا الف ليكلی شي په صورت د ياء كښې او د فعل مضارع مجهول مثال لكه يعطى او يغزي او يرمي نو دوئ په اصل كښې يعطو او يغزو او يرمي وه چې اول او دويم په واو سره وه او دريم

په ياء سره وه اوداواو اوياء دواړه متحرك وه اوماقبل له دوئ نه مفتوح وه نودا واو اوياء بدل کړی شو په الف سره خوليكن داالف ليكلى شي په صورت دياء كښې اودايعطي مثال دفعل مضارع مجهولې مزيدفيه دى اودايغزي اويرمي مثالونه دفعل مضارع مجهولې ثلاثي مجردودى .

**اماالماضي فيحذف اللام منه فى مثل فعلوا مطلقاً وفى مثل فعلت وفعلتا اذاانفتح ماقبلها وتثبت فى غيرها .**

**ترجمه**: هرچې ماضي دى له دې معتل اللام نه نولام كلمه ددې ماضي به حذف كولى شي په مثال دفعلواكښې مطلقاً اوهمدارنګه لام كلمه به حذف كولى شي په مثال دفعلت اوفعلتاكښې چې كله ماقبل له دې لام كلمې نه مفتوح وي اوله دې صيغونه غيرپه نوروصيغوكښې به دالام كلمه ثابته پاتې كولى شي .

**تشريح**: مرادله مثال دفعلوا نه هرهغه فعل دى چې دهغې تراخيرپورې واومتصل شوى وي چې هغه ضميردجمعي مذكرې دى اومراد له اطلاق نه دادى چې برابره خبره ده كه ماقبل له لام كلمې نه مفتوح وي لكه په غزى اورمى كښې اوكه مكسوروي لكه رضى كښې اوكه مضموم وي لكه په سرو كښې اوهمدارنګه دالام كلمه عامه ده كه واو وي اوكه ياء وي اوهمدارنګه برابره خبره ده كه دافعل مجردوي اوكه مزيدفيه وي نوپه داسې فعل كښې به لام كلمه حذف شوې وي مثال لكه غزوا چې په اصل كښې غزووا وه په دوه واوونوسره چې اول واولام كلمه ده اودويم ضمير دى نوداالول واو په كښې حذف كړى شونوورنه غزوا جوړشوپه واوواحده سره اولكه رموا چې داپه اصل كښې رميوا وه په ياء سره نولام كلمه په دې كښې ياء ده نوهغه حذف كړى شوه نوورنه رموا جوړشواولكه رضوا چې په اصل كښې رضيووه چې لام كلمه په كښې ياء وه نو هغه حذف كړى شوه رضوا ورنه جوړشو اولكه سروا چې داپه اصل كښې سرووا وه په دوه واوونوسره بياداالول واوچې لام كلمه ده حذف كړى شونوسروا ورنه جوړشو.

اووجه دحذف دلام كلمې برابره خبره ده كه واو وي اوكه ياء وي دادى چې ددې لام كلمې لپاره درې حالته دي اول حالت دادى چې ماقبل له دې لام كلمې نه مفتوح وي

Maktaba Tul Ishaat.com

لکه په غزوا اورموا کښې چې په اصل کښې غزووا اورميوا وه نوپه دې حالت کښې داهريوله دې واو اوياء نه متحرك دي اوماقبل ورنه مفتوح دي نودا واواوياء بدل کړې شو په الف سره اوبياالتقاء الساکنين راغله په مابين دالف کښې اومابين دواو دجمعې کښې نوداالف حذف کړې شو اودوېم حالت دادی چې ددې لام کلمې نه ماقبل کسره وي لکه رضوا چې په اصل کښې رضِيوا وه په کسرې دضاد سره نوپه دې کښې ضمه دلام کلمې له وجه دثقل نه ماقبل ته ورکړې شوه نودالام کلمه ساکنه شوه نوالتقاء الساکنين راغله په مابين دلام کلمې کښې اوپه مابين دواوکښې چې ضمير دجمعې دی نود الام کلمه حذف کړې شوه اودريم حالت دادی چې دلام کلمې نه ماقبل مضموم وي لکه په سرواکښې چې په اصل کښې سرووا وه په ضمې دراء سره نوپه دې کښې په لام کلمه باندې هم ضمه وه اوماقبل ورنه هم ضمه وه نوثقل پيدا شوی وه نولپاره ددفعې د ثقل ضمه دلام کلمې حذف کړې شوه نوورروسته له حذف دضمې دلام کلمې نه القتاء الساکنين راغله په مابين دلام کلمې کښې چې هغه هم واودی اوپه مابين دهغه واوکښې چې ضميردجمعې دی نودالام کلمه حذف کړې شوه لپاره ددفعې دالتقاء الساکنين .

او مراد له مثل دفعلت اوفعلتا نه دادی چې صيغه دماضي وي اوناقص وي بيادا صيغه عامه ده که دواحدې مؤنثې وي غائبې وي اوکه دتثنې مؤنثې غائبې وي اودا ناقص عام دی که واوي وي اوکه يائي وي خوليکن په دې شرط چې ماقبل له دې لام کلمې نه به مفتوح وي مثال لکه غزت غزتا اورمت رمتا چې دوئ په اصل کښې غزوت غزوتا رميت رميتاوه نوپه دوئ کښې واواوياء چې لام کلمې دی حذف کړې شوی اووجه دحذف دادی چې په دې صورت کښې واو اوياء متحرك وي اوماقبل ورنه مفتوح وي اوچې کله واواوياء متحرك وي اوماقبل ورنه مفتوح وي نوبيادا واواوياء بدلولی شي په الف سره نوپه دوئ کښې هم واو اوياء بدل کړې شوه په الف سره نوله دې نه بعدالتقاء الساکنين راغله په مابين دالف اودتاء کښې نوداالف حذف کړې شو .

**اعتراض:** معترض وايي چې منم لزوم دالتقاء الساكنين په غزت اورمت كښې ځكه چې تاء په دوئ دواړو كښې ساكنه ده خوليكن القتاء الساكنين نه منم په غزتا اورمتاكښې ځكه چې په دوئ كښې خوتاء متحركه ده اوساكنه نه ده .

**جواب:** مونږ و رته وايو چې حركت دتاء په تثنيه كښې چې غزتا اورمتا دى عارضي دى راوړى شوى دى له وجهې ددې مابعدالف نه چې علامه دتثنې ده اوداتاء په اصل كښې ساكنه وه نوهركله چې حركت دتاء عارضي شونودې حركت ته څه اعتبارنشته نوداسې دى لكه چې داتاء فى الحال هم ساكنه وي .

اوچې كله ماقبل له دې لام كلمې نه مكسوروي اويامضموم وي په دې فعلت فعلتاكښې نوبيابه لام كلمه نشي حذف كيدى ځكه چې حذف په هغه وخت كښې راځي چې دالام كلمه بدله كړى شي په الف سره اوپه دې صورت دكسرې اوضمې كښې واواوياء چې لام كلمه وي نشي بدليدى په الف سره ځكه چې قاعده دابدال په الف سره نه وي ورته متوجه ځكه چې قاعده دابدال داده چې واواوياء متحرك وي اوماقبل ورنه مفتوح وي نودا واو اوياء به په الف باندې بدلوى شي مثال دهغه چې دلام كلمې نه ماقبل مكسوروي لكه رضيت رضيتا نوپه دې كښې لام كلمه ياء ده نه ده حذف شوې ځكه چې ماقبل ورنه مسكور ده اومثال دهغه چې دلام كلمې نه ماقبل مضموم وي لكه سروت سروتا نوپه دې كښې واونه دى حذف شوى ځكه چې ماقبل ورنه مضموم دى .

اوپه مثال دفعلت اودفعلتا كښې دالام كلمه حذف كولى شي په وخت دانفتاح دماقبل كښې نوداهم په ثلاثي مجردوكښې لكه غزت غزتا اورمت رمتا اوهم په ثلاثي مزيدفيه كښې لكه اعطت اعطتا چې په اصل كښې اعطوت اعطوتا وي اولكه اشترت اشترتا چې په اصل كښې اشتريت اشتريتا وې نوپه دوئ كښې هم دا واواوياء حذف شوي دي اودوئ ثلاثي مزيدفيه دي ځكه چې دااول مثال دباب افعال نه دى اودادويم مثال دباب افتعال نه دى .

Maktaba Tul Ishaat.com

اوله دې مذکوروصیغو د ماضي نه غیرچې کومې صیغې دي په هغوئ کښې به حذف دلام کلمې نه شي کولی ځکه چې په دوئ کښې علت دحذف نه دی موجود چې هغه تحرك ددې لام کلمې دی او انفتاح دماقبل دی نو ځکه به دالام کلمه په دې باقي صیغو کښې په خپل حال باندې پاتې کړی شوې وي .

فتقول غزا غزوا غزوا غزت .

مصنف په دې مقام کښې ځلورګردانونه ذکرکړي دي چې اول ګردان غزا غزوا دی تراخیره پورې اوپه دې کښې لام کلمه واو دی اوماقبل ورنه مفتوح دی اودویم ګردان رمی رمیا دی تراخیره پورې اوپه دې کښې لام کلمه یاء ده اوماقبل ورنه مفتوح دی اودریم ګردان رضی رضیا دی تراخیره پورې اوپه دوئ کښې لام کلمه واو دی اوماقبل ورنه مکسورده اوځلورم ګردان سرو سروا دی تراخیره پورې لام کلمه په دې کښې واو دی اوماقبل ورنه مضموم دی نوپه دې ادلو دوه ګردانونوکښې لام کلمه حذف شوې ده په فعلوا اوفعلت اوفعلتا دریوواړوکښې ځکه چې په دوئ دواړوکښې ماقبل له لام کلمې نه مفتوح دی اوپه دې اخیري دوه ګردانونوکښې لام کلمه حذف کړی شوې ده په فعلوا کښې فقط اونه دی حذف کړی شوې په فعلت اوفعلتا کښې ځکه چې دحذف لپاره په فعلت اوفعلتا کښې شرط انفتاح دماقبل دلام کلمې دی اوپه دوئ دواړوکښې ماقبل له لام کلمې نه نه دی مفتوح بلکه مکسور اویامضموم دی .

وانمافتحت ماقبل واو الضمیر فی غزوا ورموا وضممت فی رضوا وسروا لان واو الضمیراذااتصلت باالفعل الناقص بعدحذف اللام فان انفتح ماقبلها بقی علی الفتحة وان انضم اوانکسرضم واصل رضوا رضیوا نقلت ضمة الیاء الی الضاد وحذفت الیاء لالتقاء الساکنین .

**ترجمه**: اویقیناً فتحه ورکړی شوه ماقبل له واونه چې کوم ضمیردجمعې مذکرې دي په غزوا اورموا کښې اوضمه ورکړی شوه ماقبل ددې واونه چې ضمیردجمعې دی په رضوا اوسروا کښې ځکه چې واوچې ضمیر دی کله چې متصل شي ترفعل ناقص

پورې وروسته له حذف کولو دلام کلمې نه نو که چيرته ماقبل دواونه چې ضميردی مفتوح وه نو هغه به باقي پاتې کولی شي په فتحې باندې او که چيرته ماقبل ورنه مضموم او يامکسوروه نو هغه ته به ضمه ورکولی شي او اصل درضوا رضيوا وه بيا نقل کړی شوه ضمه دياء صادبته او دا ياء حذف کړی شوه له وجهې دالتقاء دساکنينونه په مابين دياء او واو کښې .

**تشريح**: داعبارت دمصنف چې وانمافتحت ماقبل واو الضمير تراخيره پورې جواب دی داعتراض نه چې معترض وايي چې داوا په دې غزوا اورموا اورضوا اوسروا څلوروواړو کښې ضميردجمعي مذکرې دی نو څه وجه ده چې په اولودوه مثالونو کښې له واونه ماقبل ته ضمه ورکړی شوې ده او په اخيري دوه مثالونو کښې ماقبل ته ضمه ورکړی شوې ده او حال دادی چې واوپه خپل ماقبل کښې تقاضادضمې کوي ځکه چې دواو مناسبت دی دضمې سره له دې وجهې نه چې داواوله دوه ضمونه جوړشوی دی .

نومصنف ورته جواب ورکړو چې داکارشوی دی له وجهې ديوې قاعدې نه چې هغه قاعده داده چې واوچې ضميروي اومتصل شي ترفعل پورې چې هغه فعل ناقص وي وروسته له حذف دلام نه نو که چيرته ماقبل له دې واونه مفتوح وه نو هغه به باقي پاتې کولی شي په فتحې باندې او که چيرته ماقبل له دې واونه مضموم وه او يا مکسوروه نو بيابه ماقبل له دې واونه په صورت دمضموم کښې په ضمې باندې پاتې کولی شي او په صورت دکسرې کښې به ماقبل ته کسره ورکولی شي اوشك نشته چې په غزوا اورموا کښې ماقبل له واونه مفتوح وه په اصل کښې او په رضوا کښې ورنه ماقبل مکسور وه او په سروا کښې ماقبل ورنه مضموم وه نو ځکه په اولودوه کښې دواونه ماقبل ته فتحه ورکړی شوې ده او په اخيري دوهکښې ورته ضمه ورکړی شوې ده .

اوددې قاعدې لپاره وجه داده چې کله ماقبل له دې واونه فتحه وي نو ځکه به په فتحې باندې باقي پاتې کولی شي ځکه چې ددې فتحې نه څه مانع هم نشته او اصل په اشياؤکښې بقاء ده په خپل اصل حالت باندې او همدارنگه ددې لپاره به فتحه وي په

Maktaba Tul Ishaat.com

دي غزوا اورموا كښې چې دلالت وكړي په دي باندې چې دافعل مفتوح العين دى اوهمدارنګه په دې صورت كښې داٰ واواوياء بدل كړى شوي دي په الف سره اوبيا الف حذف شوى وي له وجهې دالتقاء الساكنين نه نودافتحه چې باقي وي نودابه دلالت وكړي په دي الف محذوفه باندې اوچې ماقبل له دې واونه مضموم وي نوهغه به په ضمې باندې باقي پاتې كولى شي لكه سروا ځكه چې اصل په اشياء كښې دهغوئ بقاء ده په خپل حالت اصلي باندې چې څه مانع نه وي له حالت اصلي نه اوپه دې مقام كښې هم له دې ضمې نه څه مانع نشته نودابه په حالت اصلي باندې چې ضمه ده باقي پاتې كولى شي اوچې كله ماقبل له دې واونه كسره وي لكه په رضوا كښې نودابه ځكه ساقطولى شي اوددې په ځاى باندې به ضمه وركولى شي چې لازم نشي خروج له كسرې نه ضمې تقديري ته ځكه چې داواوله دې وجهې نه چې جوړشوى دى له دوه ضمونه په منزله دضمې سره ده نوكه چيرته له دې واونه ماقبل كسره وي نولازم به شي خروج دكسرې حقيقي نه ضمې تقديري ته اوداثقل پيداكوي .

**واماالمضارع فتسكن اللام منه فى الرفع وتحذف فى الجزم وتفتح الواو والياء فى النصب وتثبت الالف ويسقط الجازم والناصب النونان سوى نون جمع المؤنث فتقول لم يغزوا لم يغزوا ولم يرم ولم يرميا ولم يرضى ولم يرضيا ولن يغزو ولن يرمى ولن يرضى .**

**ترجمه:** اوهرچې فعل مضارع دى له دې معتل اللام نه نوددې لام كلمه به ساكنولى شي په حالت رفعي كښې اوحذف كولى به شي په حالت جزمي كښې اوپه حالت نصبي كښې به واو اوياء ته فتحه وركولى شي اوالف به په دې حالت نصبي كښې ثابت پاتې كولى شي اوداعامل جازمه اوعامل ناصبه ساقطوي هغه نونونه چې كوم موجود وي په اخيرددې فعل مضارع كښې بغيردنون دجمعې مؤنثې نه كه غائبه وي اوكه مخاطبه وي نوته به وايې لم يغز په حذف دواوسره اولم يغزوا په حذف دنون دتثنې سره اولم يرم په حذف دياء سره اولم يرميا په حذف دنون دتثنې سره اولم يرض

په حذف د الف سره ولم یرضیا په حذف د نون د تثنې سره اولن یغزو په فتحې د واو سره اولن یرمی په فتحې د یاءسره اولن یرضی په اثبات د الف سره .

**تشریح**: مصنف وایي چې فعل مضارع د معتل اللام نه په حالت رفعي کښې د دې اخیرچې حرف علت دی هغه به ساکن وي خولیکن په ټولوصیغوکښې نه بلکه په یفعل اوتفعل اوافعل اونفعل کښې وجه لپاره د سکون داده چې په حالت رفعي کښې په دې صیغود فعل مضارع کښې اعراب ضمه وي نوکه چېرته په دې صیغوکښې په اخیر کښې حرف علت واووي اویاء وي نوپه هغوئ دواړوکښې ضمه ثقیله ده نوځکه به هغوئ دواړه ساکن وي اوکه چیرته په اخیرکښې الف وي نوپه هغه خوحرکت نشي راتلی ځکه چې الف ساکن وضعي دی اوهرچې صیغو د جمعې مؤنثې دي که غائبه وي اوکه مخاطبه وي هغوئ دواړووه مبني وي اوهرچې له دې نه غیرداباقي صیغې دي چې صیغې د تثنې دي اود جمعي مذکر دي اودواحدې مؤنثې مخاطبې دي نود هغوئ رفعه په نون اعرابي سره وي نوپه حالت رفعي کښې ددوئ په اخیرکښې نون اعرابي موجود وي برابره خبره ده که لام کلمه ددوئ حرف صحیح وي اوکه حرف علت وي اوپه حالت نصبي کښې په دې یفعل تفعل افعل نفعل کښې په اخیرکښې ددوئ کښې که واو اویایاء موجوده وه نوبیابه دې واواویاء ته فتحه ورکولی شي اوکه الف موجود وه نوهغه به په خپل حالت باندې چې سکون دی باقي پاتې کولی شي اوداځکه چې حالت نصبي ددې صیغې په فتحې سره وي او اواواویاء برداشت د فتحې کولی شي اوهرچې الف دی نوهغه له دې وجهې نه چې ساکن وضعي دی برداشت د فتحې نشي کولی په لفظ کښې نوپه صورت د واو اودیاء کښې به اعراب چې فتحه ده لفظي وي اوپه صورت د الف کښې به اعراب چې فتحه ده تقدیري وي اوپه حالت د جزم کښې به د لام کلمه حذف کولی شي برابره خبره ده که د لام کلمه واو وي اوکه یاء وي اوکه الف وي ځکه چې جزم چې اعراب د فعل مضارع دی په سقوط د حرکت سره وي چې کله په اخیر کښې حرف صحیح موجود وي اوکه چیرته په اخیرکښې حرف صحیح نه وه موجود نوبیاجزم په اسقاط د حرف علت سره وي اوداعامل جازمه اوعامله ناصبه د نون

Maktaba Tul Ishaat.com

د جمعې مؤنثې نه غيرد انورنونات په مضارع كښې چې نونات اعرابيه دي چې د جمعې مذكرې نونونه دي اودتثنيونونونه دي اودواحدې مؤنثې مخاطبې نون دی ساقطوي څکه چې دانونات علامه درفعي دي په ځای دضمې باندې رواړی شوي دي نودوئ به خامخاساقط وي په عامل جازمه اوعامل ناصبه سره نوددې صيغوچې په اخيرکښې نونات اعرابيه موجود دي نصب اوجزم دواړه په سقوط دنون سره وي .

**وتثبت لام الفعل فی فعل الاثنين وجماعة الاناث وتحذف من فعل جماعة الذكور وفعل الواحدة المخاطبة فتقول فی يفعل يغزو يغزوان يغزون تغزو تغزوان يغزون تغزو تغزوان تغزون تغزين تغزوان تغزون اغزو نغزو.**

**ترجمه**: اوپه دې فعل مضارع ناقص كښې به لام كلمه ثابته پاتې كيږي په فعل الاثنين كښې يعني په صيغې دتثنې كښې اوهمدارنګه دالام كلمه به ثابته پاتې كولی شي په صيغه دجمعې مؤنثې كښې كه غائبه وي اوكه مخاطبه وي اودالام كلمه به حذف كولی شي په صيغه دجمعې مذكرې كښې كه غائبه وي اوكه مخاطبه وي اوهمدارنګه دالام كلمه به حذف كولی شي په صيغه دواحدې مؤنثې مخاطبې كښې نوته به وايې په يفعل كښې په ضمې دعين سره يغزو تراخيره پورې چې اغزو نغزو دی .

**تشريح**: په صيغودفعل مضارع كښې چې راغلي وي له ناقصونه ديفعل تفعل افعل نفعل بيان وشوپه وړاندې ځای كښې اواوس په دې عبارت كښې ددې باقي صيغوبيان كوي چې له دې څلوروصيغونه غيردا باقي صيغې چې دي نوپه دوئ كښې په صيغودتثنيو كښې چې غونډې څلورتثنې دي لام كلمه به ثابته وي په درېواړو احوالوكښې هم په حالت رفعي كښې اوهم په حالت نصبي كښې اوهم په حالت جزمي كښې اوهمدارنګه لام كلمه به ثابته وي په صيغه دجمعې مؤنثې كښې برابره خبره ده كه جمعه مؤنثه غائبه وي اوكه جمعه مؤنثه مخاطبه وي اودادوه صيغې يوحالت لري فقط چې هغه بناء ده څكه چې دادوه صيغې دفعل مضارع مبني دي اودالام كلمه په صيغې دجمعې مذكرې كښې كه غائبه وي اوكه مخاطبه وي حذف كيږي اوهمدارنګه

لام كلمه حذف كولى شي په صيغه دواحدې مؤنثې مخاطبې كښې نوپه دې صيغو دتثنيو كښې چې كوم حرف علت په اخيركښې موجود دى چې هغه واودى اويا ياء ده نوهغه لام كلمه ده اوپه جمعه مذكرم كښې چې كوم حرف علت موجود دى چې واودى نوهغه ضميرد جمعې دى اولام كلمه حذف شوې ده اوپه صيغه دجمعې مؤنثې كښې چې كوم حرف علت موجود دى نودا لام كلمه ده اوپه واحده مؤنثه مخاطبه كښې چې په اخيركښې ياء موجوده نوهغه ضميردى اولام كلمه حذف شوې ده .

**ويستوى فيه لفظ جماعة الذكور والاناث فى الخطاب والغيبة جميعاً لكن التقدير مختلف فوزن المذكر يفعون وتفعون ووزن المؤنث يفعلن وتفعلن .**

**ترجمه**: اوپه دې مضارع كښې چې معتل اللام واوي وي اومضموم العين وي صيغه دجمعې مذكرې اوصيغه دجمعې مؤنثې كه دمخاطبې وي اوكه دغائبې وي برابرې دي په صورت كښې خوليكن په تقديركښې ددوئ په مابين كښې اختلاف اوفرق موجود دى نودا يغزون هم صيغه دجمعې مذكرې ده اوهم صيغه دجمعې مؤنثې ده په صورت دغائب كښې اوتغزون هم صيغه دجمعې مذكرې ده اوهم صيغه دجمعې مؤنثې دَه په صورت دمخاطب كښې اودوئ فرق په تقديركښې داسې دى چې دا يغزون صيغه دجمعې مذكرې شي نوبيا په وزن ديفعون باندې وي په حذف دلام كلمې سره ځكه چې لام كلمه په كښې حذف ده چې اول واوده په يغزون كښې اوداكوم واوچې په كښې موجود دى نودا ضميرد جمعې مذكرې دى اوچې صيغه دجمعې مؤنثې شي نوبيا په وزن ديفعلن سره ده اوداواوپه كښې لام كلمه ده اوهمدارنګه تغزون چې صيغه دجمعې مذكرې شي نوپه وزن دتفعون سره دى په حذف دلام كلمې سره ځكه چې په دې كښې لام كلمه چې اول واو دى حذف شوې ده اوداكوم واو چې په كښې موجود دى دا ضميرد جمعې مذكرې دى اوچې صيغه دجمعې مؤنثې شي نوبيا په وزن دتفعلن دى اوداواو په كښې لام كلمه ده اونه ده حذف شوې .

Maktaba Tul Ishaat.com

وفى يفعل يرمي يرميان يرمون ترمي ترميان يرمين تـرمي ترميـان ترمـون ترمين ترميان ترمين ارمي نرمي .

مخكې چې كوم ګردان دفعل مضارع وه نودهغې فعل مضارع وه چې مضموم العين وه چې يغزو يغزوان تراخيره پورې اودغه ګردان چې يرمي يرميـان دى تراخيره پورې نودادهغې فعل مضارع ګردان دى چې هغه مكسورالعين وي نوپه دې كښې ياء محذوفه ده په صيغودجمعې مـذكرې كـښې اودواحـدې مـؤنثې مخـاطبې كـښې اوموجوده ده په صيغودتثنې كښې اوپه صيغودجمعې مؤنثې غائبې كښې .

واصل يرمون يرميون ففعل به مافعل برضوا وهكذا حكم كل ماكان قبل لامه مكسور كيهدي ويناجي ويرتجي وينبرى ويعـتري ويستدعي ويرعـوي ويعروري .

ترجمه : اواصـل ديرمـون يرميـون وه پـه يـاء سره وروسته لـه ميم نـه اوبياپه دې يرميون باندې هغه كاروكړى شوچې كوم كارپه رضواكښې شوى دى چې پـه اصل كښې رضيوا وه په ياء سره وروسته له ضادنه نوهغه كاردادى چې ضمه دياء نقل شوې ده ماقبل ته اودا ياء لـه وجهې دالتقاء دساكنينونه پـه مابين دياء او واوكښې حذف كړى شوې ده اوداكوم حكم چې ددې يرمي فعل مضارع وه چې هغه حذف دلام كلمې دى په بعضوصيغوكښې چې هغوئ صيغې دجمعې مـذكرې دي اوصيغه دواحدې مؤنثې مخاطبې ده اواثبات ددې لام كلمې دى په بعضونوروصيغوكښې چې هغوئ صيغې دتثنې دي اوصيغې دجمعې مؤنثې دي نوهمدغـه حكم جاري دى پـه هرهغه مضارع كښې چې هغه ثلاثي مزيدفيه وي اوماقبل لـه لام كلمې نـه مكسوروي مثال لكه يهدي تريعروري پـورې نوپـه دې صيغوكښې ماقبل لـه لام كلمې نـه مكسور دى نودوئ ټولوته دامذكورحكم ثابت دى .

**حل لغات**: يهدي دباب افعال نه دى اومعنىٰ ده چاته هديه اوتحفه وركول اويناجي دباب دمفاعلې نه دى معنىٰ ده ديوبل سره پټې خبرې كول اويرتجي دباب افتعال نه

دی معنیٰ ده امید کول اوینبري دباب انفعال نه دی اوددې معنیٰ ده مخې ته راتلل اویعتري دباب دافتعال نه دی اومعنیٰ ده یو کارعارضېدل اویستدعي دباب استفعال نه دی معنیٰ ده طلب اویرعوي دباب افعال نه دی اومعنیٰ ده له بدکارنه ورډېدل اومنعه کېدل اویعروري دباب افعیعال نه دی معنیٰ ده په هغه آس باندې سپارلي کول چې هغه شاتوری وي یعنې چې زین وربانډې نه وي .

**وفی یفعل یرضی یرضیان یرضون ترضی ترضیان یرضین ترضی ترضیان ترضون ترضین ترضیان ترضین ارض نرضی .**

دادهغې فعل مضارع گردان دی چې له ناقصونه وي اومفتوح العین وي نوپه دې کښې هم لام کلمه دمخکې دوه گردانونوپه شان په بعضوصیغوکښې محذوفه ده اوپه بعضوصیغوکښې ثابته ده .

**وهکذا قیاس یتمطی ویتصابی ویتقلسی .**

**ترجمه**: ددې یرضی په شان دی قیاس دیتمطی اویتصابی اویتقلسی یعنې لکه څنگه چې په یرضی کښې چې ثلاثي مجرد دي اومفتوح العین دی په بعضوصیغو کښې لام کلمه ثابته ده اوپه بضوصیغوکښې محذوفه ده؛ وهمدغه شان په هغه مضارع کښې چې ثلاثي مزیدفیه وي اوماقبل اخیرپه کښې مفتوح وي لام کلمه به په بعضوصیغوکښې ثابته وي اوپه بعضوکښې به محذوفه وي .

**حل لغات**: یتمطی معنیٰ ده خپل لاسونه اوپښې غزول اوکش کول اودیتصابي معنیٰ ده یوبل ته میلان کول اودیتقلسي معنیٰ ده څادراغوستل دااول دباب تفعل نه دی اوداِدویم دباب دتفاعل نه دی اوادریم دباب دتفعلل نه دی .

**ولفظ الواحدة المؤنث فی الخطاب کلفظة الجمع فی باب یرمي ویرضی والتقدیر مختلف فوزن الواحدة تفعِین وتفعَین ووزن الجمع تفعِلن وتفعَلن .**

**ترجمه**: اوصیغه دواحدې مؤنثې مخاطبې په اعتباردلفظ سره په شان دصیغې دجمعې مؤنثې مخاطبې ده په باب دیرمي کښې چې دامکسورالعین ده اوپه باب

Maktaba Tul Ishaat.com

ديرضى كښې چې دامفتوح العين ده خوليکن تقديردوئ مختلف دی نووزن دواحدې مؤنثې مخاطبې تفعين دی په کسرې دعين سره په باب ديرمي کښې اوتفعين په فتحې دعين سره په باب ديرضى کښې چې په دواړو کښې لام کلمه محذوفه ده اووزن دجمعې مؤنثې تفعلن دی په کسرې دعين سره په باب ديرمي کښې اوتفعلن دی په فتحې دعين سره په باب ديرضى کښې .

**تشريح:** داقول دمصنف چې والتقدير مختلف جواب دی داعتراض نه چې معترض وايي چې هرکله صيغه دواحدې مؤنثې مخاطبې په شان دصيغې دجمعې مؤنثې مخاطبې ده نوبياخودوئ په مابين کښې التباس راغلوځکه چې په باب ديرمي کښې دواحدې مؤنثې مخاطبې صيغه هم ترمين دی اودجمعې مؤنثې مخاطبې صيغه هم ترمين دی اوپه باب ديرضي کښې دواحدې مؤنثې مخاطبې صيغه هم ترضين ده اودجمعې مؤنثې مخاطبې صيغه هم ترضين ده نومصنف ورته جواب ورکړو چې التباس دفعه دی په دې شان چې دوئ په تقدير کښې فرق اواختلاف لري اوداتقديرعبارت دی په دې مقام کښې داصالت دحروفونه اوله زيادت دحروفونه نوپه دې صيغې دواحدې مؤنثې مخاطبې کښې ياء حرف زائده دی ځکه چې داياء ضميردی اوهرچې هغه ياء ده چې لام کلمه ده هغه حذف شوې ده اوپه جمعه مؤنثه مخاطبه کښې ياء حرف اصلي دی لام کلمه ده .

**والامرمنها اغز اغزوا اغزی اغزوا اغزون وارم ارميا ارموا ارمی ارميا ارمين وارض ارضيا ارضوا ارضی ارضيا ارضين .**

مصنف دامرحاضرلپاره درې ګردانونه ذکرکړي دي چې په دې اول کښې يې همزه وصليه مضمومه ده ځکه چې مضارع مضموم العين ده اوپه دويم اودريم کښې همزه وصليه مکسوره ده ځکه چې عين کلمه په دويم باب کښې مکسوره ده چې مضارع ده اوپه دريم باب کښې مفتوحه ده په مضارع کښې .

**فاذا دخلت علیه نون التاکید اعیدت اللام المحذوفة فقلت اغزون ارمین وارضین .**

**ترجمه**: په دې امر حاضر د ناقصو باندې چې کله ورداخل شي نون د تاکید نو په کوموصیغو کښې چې لام کلمه حذف شوې وي هغه به بیرته رامعاد کولی شي نو ته به وایې اغزون په اعادې د واو سره او ارمین او ارضین په اعادې د یاء سره نو دا درې واړه صیغې د واحد مذکر دي او لام کلمه په کښې محذوفه وه چې کله ورپورې نون د تاکید ملحق شو نو لام کلمه بېرته په دوئ کښې رامعاده شوه .

**تشریح**: وجه لپاره د حذف د لام کلمې په دې امر حاضر د ناقصو کښې دا وه چې د امر حاضر اخیر مجزوم وي په سقوط د حرکت سره چې کله اخیر د ده حرف صحیح وي او اخیر مجزوم وي په سقوط د حرف علت سره چې کله په اخیر کښې حرف علت وي خو لیکن دا مجزوم والي په هغه صورت کښې وي چې د ده تر اخیره پورې نون ثقیله نه وي ملحق شوی او همدارنګه نون خفیفه ورپورې نه وي ملحق شوی او که چیرته تر اخیر پورې نون ثقیله او یا نون خفیفه ملحق شوی وي نو بیا نه وي مجزوم په سقوط د حرکت او یا د حرف سره نو ځکه دا حرف علت رامعاد کېږي په وخت د لحوق د نون د تاکید کښې تر اخیر د امر حاضر پورې .

**اعتراض**: معترض وایي چې نه منم چې لام کلمه په دې امر د ناقصو کښې رامعاد کېږي چې کله ورپورې لحوق د نون د تاکید وشي ځکه چې په صیغه د جمعې مذکر امر حاضر کښې او په صیغې د واحدې مؤنثې کښې چې کله لحوق د نون د تاکید وکړی شي نو بیا هم دا لام کلمه په کښې محذوفه وي او نه رامعاد کېږي .

**جواب**: مونږ ورته وایو چې مراد له اعادې د لام کلمې نه اعاده په طریقې د اطلاق نه ده مراد چې په هره صیغه کښې به دا لام کلمه رامعاد کېږي بلکه مراد له اعادې د لام کلمې نه اعاده د دې لام کلمې ده په صیغه د واحد مذکر د دې امر حاضر کښې او شک نشته چې په صیغه د واحد مذکر د امر حاضر کښې اعاده د لام کلمې وي .

Maktaba Tul Ishaat.com

**اعتراض**: معترض وايي چې هركله مرادله اعادې نه اعادې ده په صيغه دواحد مذكر كښې فقط نوبايد مصنف ورسره قيد دواحدمذكرزيات كړى واى .

**جواب**: مونږ ورته وايو چې مصنف داقيدذكرنه كړو له دې وجهې نه چې داكتفاء يې وكړه په امثله باندې چې اغزون اوارمين اوارضين دى نوداامثالونه دصيغې دواحدمذكر دي نوله دې مثالونونه معلومېږي چې دااعاده دلام كلمې به فقط په صيغه دواحدمذكركښې وي .

**اعتراض**: معترض وايي چې په دې امرحاضردناقصوكښې چې كله لام كلمه رامعادكړى شي نوڅه وجه ده چې ورته حركت وركولى شي حال دادى چې خفت په سكون كښې موجود دى .

جواب : مونږ ورته وايو چې كه چيرته دې لام كلمې ته حركت ورنه كړى شي په وخت داعادې ددې لام كلمې كښې نوچې كله ورپورې نون خفيفه ملحق شي لازمېږي التقاء الساكنين على غيرحده اوشك نشته چې التقاء الساكنين على غيرحده نه ده جائز نوددې ضرورت دوجهې نه لام كلمې ته حركت وركولى شي .

**اعتراض**: معترض وايي چې په صورت دلحوق دنون خفيفه كښې كه چيرته لام كلمې ته حركت ورنه كړى شي نواګرچې لازمېږي التقاء الساكنين على غيرحده چې دانه ده جائز خوليكن په صورت دلحوق دنون ثقيله كښې كه چيرته ورته حركت ورنه كړى شي نولازمېږي التقاء الساكنين على حده ځكه چې په دې كښې دويم ساكن نون مدغمه دى اوشك نشته چې التقاء الساكنين على حده جائزدى نوبايدچې دې كلمې ته حركت وركول لازم شي په صورت دلحوق دنون خفيفه كښې فقط اوپه صورت دلحوق دنون ثقيله كښې ورته حركت وركول نه كړى شي لازم اوحال دادى چې په صورت دلحوق دنون ثقيله كښې هم ورته حركت وركول لازم كړى شوى دى .

جواب : مونږ ورته وايوچې نون خفيفه اصل دى اونون ثقيله فرع ده اوهركله چې لام كلمې ته حركت وركول لازم شوپه صورت دلحوق دنون خفيفه كښې لپاره ددې چې دفعه شي التقاء الساكنين على غيرحده چې دانه دي جائز نوپه دې نون ثقيله كښې هم

دي لام كلمې ته حركت وركول لازم شولپاره ددې چې فرع چې نون ثقيله دى موافق شي داصل سره چې نون خفيفه دى اګرچې په صورت دلحوق دنون ثقيله كښې نه لازمېږي التقاء الساكنين على غيرحده بلكه لازمېږي التقاء الساكنين على حده .

واسم الفاعل منها غازٍ غازيان .

په دې ځاى كښې مصنف ذكركړى دى ګردان داسم فاعل چې هغه دغزا يغزوا نه وي اويا دارمي يرمي نه وي اويادرضي يرضي نه وي اوبيامصنف ددې اول ګردان پوره ذكر كړى دى اوددويم اودريم ګردان يې وربانديې ورقياس كړى دى په دې قول خپل سره چې : وكذلك رامٍ وراضٍ نوپوره ګردان ددويم دادى چې: رام راميان رامون رامية راميتان راميات روام اوپوره ګردان ددريم دادى چې : راض راضيان راضون راضية راضيتان راضيات راواضٍ .

واصل غازٍ غازو قلبت الواياء لتطرفها وانكسار ماقبلها كماقلبت فى غزى ثم قالوا غازية لان المؤنث فرع المذكور والتاء طارية .

**ترجمه**: اواصل دغازٍ اسم فاعل غازو وه په واوسره په اخيركښې بيادا واو بدل كړى شوپه ياء سره له دې وجهې نه چې داواو واقع دى په طرف كښې اوماقبل ورنه مكسوردى لكه څنګه چې واوپه غُزِيَ ماضي مجهوله كښې بدل شوى دى په ياء سره له دې وجهې نه چې دا واوپه كښې واقع وه په طرف كښې اوماقبل ورنه كسره وه چې داغزى په اصل كښې غُزِوَ وه په واوسره اوبيادې عربوويلي دي غازية په ابدال دواو په ياء سره ځكه چې مؤنث چې غازية دى فرع دمذكرده چې غازي دى اوتاء په غازية كښې عارضي ده .

**تشريح**: لفظ دغازمذكراسم فاعل دى اولفظ دغازية مؤنث اسم فاعل دى اودا دواړه په اصل كښې په واوسره وه په دې شان چې غازپه اصل كښې غازو وه اوغازية په اصل كښې غازوة وه نوپه دواړوكښې داواوبدل كړى شوپه ياء سره نودا ول نه غازي جوړشو اوددويم نه غازية جوړشو اوبياپه غازي كښې ضمه ثقيله وه په ياء باندې نودا

Maktaba Tul Ishaat.com

ضمه ورنه ساقطه کړی شوه نو التقاء الساکنین راغله په مابین دیاء اوپه مابین دتنوین کښې نو دایاء حذف کړی شوه نو غازٍ ورنه جوړشو په وزن دفاع باندې په دې ځای کښې معترض اعتراض کړی دی چې دابدال دواوپه یاء سره علت په غازٍ کښې موجود دی چې هغه وقوع دواودی په طرف کښې سره دانکسار دماقبل نه خولیکن په غازیة کښې علت نه دی موجود لپاره دابدال دواویه یاء سره ځکه چې په دې کښې واوپه طرف کښې نه دی واقع بلکه په وسط کښې واقع دی له وجهې دلحوق دتاء التانیث نه نوپه غازٍکښې ابدال دواوپه یاء سره صحیح دی خولیکن په غازیة کښې ابدال دواوپه یاء سره نه دی صحیح نوبایدچې داواوپه غازیة کښې په یاء سره نه وای بدل شوی .

نومصنف له دې اعتراض نه دوه جوابونه ورکړه اول جواب یې په دې قول سره ورکړو چې لان المؤنث فرع المذکرحاصل ددې جواب دادی چې زه منم چې په غازیة کښې واوپه طرف کښې نه وه واقع خولیکن بیاهم داواوبدل کړی شوپه یاء سره ځکه چې داغازیة مؤنث دی اوغازي مذکردی اومؤنث فرعه وي لپاره دمذکراوهرکله چې په مذکرکښې واوبدل شوی وه په یاء سره نوپه دې مؤنث کښې هم بدل کړی شو اګرچې په طرف کښې نه وه واقع لپاره ددې چې موافقت راشي په مابین دمذکراوپه مابین دمؤنث کښې .

اودویم جواب مصنف له دې مذکوراعتراض نه په دې قول سره ورکړی دی والتاء طاریة اوطاریة معنیٰ ده عارضة اوددې جواب حاصل دادی چې مونږنه منوچې په غازیة کښې واوپه وسط کښې دی اوپه طرف کښې نه دی واقع بلکه په دې غازیة کښې هم واوپه طرف کښې واقع دی ځکه چې په غازیة کښې داتاء لپاره دتانیث ده نوداعارضَي ده نودې ته څه اعتبارنشته نوددې وجود داسې دی لکه عدم وجود نولکه څنګه چې علت دابدال دواو په یاء سره موجود دی په غازٍ کښې نوهه دارنګه موجود دی په غازیة کښې .

وتقول فی مفعول من الواوی مغزو ومن الیائی مرمی تقلب واوه یاء وتکسرماقبلها لان الواو والیاء اذااجتمعتا فی کلمة والاولی منهما ساکنة قلبت الواو یاءً وادغمت فی الیاء .

**ترجمه**: اوته به وايي په اسم مفعول دثلاثي مجردوناقص واوي کښې مغزوٌ په تشديد دواوسره چې داپه اصل کښې مغزوو وه په دوه واوونوسره نوهرکله چې په کښې دوه واوونه جمعه شول نودااول واومدغم کړی شو په دويم واوکښې نوورنه مغزو جوړشوپه تشديد دواوسره اوته به وايې په اسم مفعول دثلاثي مجردوناقص يائي کښې مرمي په تشديدد ياء سره چې په اصل کښې مرمي وه نوداواوپه کښې بدل کړی شو په ياء سره اودهغې نه بعدد ااوله ياء مدغمه کړی شوه په دويمه ياء کښې اوماقبل له دې ياء نه کسره ورکړی شوه ورروسته له اسقاط دضمې نه نوورنه مرمي جوړشو په تشديدد ياء سره اودااعلال ځکه په کښې وکړی شوځکه چې قاعده داده چې کله واواوياء جمعه شي په کلمه واحده کښې اواول په دوئ کښې ساکن وي نودا واوبه بدلولی شي په ياء سره اوياء به مدغمولی شي په ياء کښې .

وتقول فی فعول من الواوي عدوٌ ومن اليائي بغيٌ وفی فعيل من الواوی صبی ومن الیائی ثری .

**ترجمه**: اوته به وايې په وزن دفعول کښې چې داصيغه دواحداسم فاعل ده چې لپاره دمبالغې وي دناقص واوي نه عدوپه تشديددواوسره چې په اصل کښې عدوو وه په دوه واوونوسره بيادااول واومدغم کړی شوپه دويم واوکښې نوورنه عدوجوړ شو په تشديددواوسره اووايې به ته په دې فعول کښې چې دناقص واوي نه وي بغی په تشديد دياء سره چې په اصل کښې بغوی وه نوپه دې کښې واواوياء جمعه شوي وه اودااول چې واودی ساکن وه نودا واوبدل کړی شوپه ياء سره اودا ياء مدغمه کړی شوه په ياء کښې اوضمه دماقبل دياء بدله کړی شوه په کسرې سره نوورنه بغی جوړشو په تشديدد ياء سره اوپه فعيل وزن کښې چې په معنیٰ داسم فاعل سره وي اودناقص

Maktaba Tul Ishaat.com

واوي نه وي صبی په تشدید دیاء سره به ویلی شي چې دا په اصل کښې صبیو وه نوپه دې کښې واواو یاء جمعه شوي وه چې اول په دوئ کښې چې یاء وه ساکن وه نودا واوبدل کړی شو په یاء سره اوبیادا یاء مدغمه کړی شوه په یاء کښې نوورنه صبی جوړشو په تشدید دیاء سره اوویلی به شي په دې فعیل وزن کښې چې دناقص یائي نه وي ثری په تشدید دیاء سره چې په اصل کښې ثریی وه په دوه یاګانو سره بیادا اوله یاء مدغمه کړی شوه په دویمه یاء کښې نوورنه ثری جوړشو په تشدید دیاء سره .

**حل لغات**: دعدو معنیٰ ده دښمن اودبغی معنیٰ ده فاجره اوزنا کاره ښځه اوصبی معنیٰ ده هلك، اودثری معنیٰ ده هغه آس چې هغه په رفتارخپل کښې حرکت کوي .

والمزيد فيه تقلب واوه ياءً لان كل واو وقعت رابعة فصاعداً ولم يضم ماقبلها قلبت ياء فتقول اعطى يعطى واعتدى يعتدى واسترشى يسترشى وتقول مع الضمير اعطيت واعتديت واسترشيت وكذلك تغازينا وتراجينا .

**ترجمه**: اوهغه ناقص چې ثلاثي مزيد فيه وي نوچې لام كلمه په دوئ کښې واو وي نوهغه به بدلولی شي په یاء سره په دې شرط چې داواو په څلورم ځای کښې واقع وي اویاله دې نه هم بعدواقع وي لکه پنځم اویاشپږم ځای اوددې واونه ماقبل نه وي مضموم بلکه ماقبل له دې واونه یامکسوروي اویامفتوح وي نوته به وایې اعطی یعطی تراخیره پورې چې یسترشی دی نوپه دې افعالو کښې په اخیرکښې په اصل کښې واو موجود وه څکه چې ددوئ اصل داسې وه اعطو یعطو اعتدو یعتدو استرشو یسترشو نوپه ماضي ددې افعالو کښې ماقبل له واونه فتحه وه اوپه مضارع کښې ماقبل له واونه کسره وه نوددوئ په ماضي اومضارع دواړو کښې دا واوبدل کړی شوپه یاء سره اوبیاپه ماضي کښې دا یاء له وجهې دفتحې دماقبل نه بدل کړی شوه په الف سره اوپه مضارع کښې دا یاء په خپل حالت باندې باقي پاتې کړی شوه اوته به وایې چې کله دماضي ددې ثلاثي مزيد فيه ناقصو سره ضمیردفاعل پیوست شي اویانون دجمعې مؤنثې ورپورې پیوست شي اعطیت تراخیره پورې یعنې په دې

صورت کښې به هم دا واو بدل کړی شي په یاء سره خو لیکن دا یاء به په خپل حال باندې باقي پاتې کړی شي او په الف سره به نشي بدلولی اګرچې ددې یاء نه ماقبل فتحه موجوده ده ځکه چې په دې کښې دا ضروري ده چې ددې ضمیر د فاعل نه او ددې نون د جمعې نه ماقبل حرف به ساکن کولی شي او شك نشته چې که چیرته یاء بدله کړی شي په الف سره نو بیا خو ددې ضمیر او نون نه ماقبل الف وي او د الف اسکان خو نه دی ممکن ځکه چې هغه په خپله ساکن وضعي دی نو دهغې اسکان نه دی مګر تحصیل د حاصل دی او مصنف ددې افعالو د ماضي او مضارع اعلال ذکر کړی دی خو لیکن د دوئ د مصدر اعلال نه دی ذکر کړی نو دهغې اعلال دا دی چې دهغه دا لام کلمه چې واو دی بدلولی به شي په همزې سره لکه اعطاء او اعتداء او استرشاء چې په اخیر د دوئ کښې همزه ده چې دا همزه بدل راغلې ده له واو نه ځکه چې دوئ په اصل کښې اعطاو او اعتداو او استرشاو وه په واو سره او د ابدال بناء دی په یوې قاعدې باندې او هغه قاعده دا ده چې هر واو او یاء چې واقع شي وروسته له الف زائده نه په طرف کښې نو هغه به بدلولی شي په همزې سره او په دې دریو واړو مصدرونو کښې واو واقع وه وروسته له الف زائده نه په طرف کښې نو بدل کړی شو په همزې سره .

**حل لغات:** داعطاء معنیٰ ده ورکول او د اعتداء معنیٰ ده تجاوز کول او د استرشاء معنیٰ ده طلب د رشوت او د تغازینا معنیٰ ده دیو بل سره غزا کول او تراجینا معنیٰ ده یو بل ته امید ساتل .

**الرابع المعتل العين واللام ويقال له اللفيف المقرون فتقول شوى يشوى شياً مثل رمى يرمى رمياً وقوى يقوى قوة وروى يروى ريا مثل رضى يرضى فهو ريان وامرئة ريّٰى مثل عطشان وعطشى .**

**ترجمه:** او څلورم قسم د معتل هغه معتل دی چې عین کلمه او لام کلمه دواړه حروف علت وي او ددې قسم د معتلو ته لفیف مقرون ویل کېږي نو ته به وایې شوی یشوی شیئاً په شان د رمی یرمی رمیاً په اعلال کښې یعنې په ماضي کښې به یاء په

Maktaba Tul Ishaat.com

الف سره بدلولی شي له وجهې دتحرك دياء اودفتحې دماقبل نه اوپه ماضي کښې به ياء ساکنولی شي له وجهې دثقل دضمې نه په دې ياء باندې اوته به وايې قوی يقوی قوة اوروی يروی رياً په شان درضی يرضی په اعلال کښې په دې شان چې په مضارع کښې به لام کلمه په خپل حالت باندې باقي پاتې کولی شي اوپه مضارع کښې به په الف باندې بدلولی شي اوته به وايې په صفت مشبه دمذکر کښې ريان په تشديد دياء سره او وايې به په صفت مشبه دمؤنث کښې ريی په تشديد دياء سره چې داريان په شان دعطشان دی په وزن کښې اودا رمی په شان عطشی دی په وزن کښې .

**تشريح**: هرکله چې مصنف فارغ شوله بيان دهغومعتلونه چې په هغوئ کښې حرف علت واحدوي نوشروع يې وکړه په هغومعتلوکښې چې په هغوئ کښې حرف علت متعددوي اوبيادامعتل چې حروف علت په کښې متعددوي په خپل کورکښې په دوه قسمه دي اول قسم هغه معتل دی چې په کښې دوه حروف علت وي اودويم قسم هغه معتل دي چې حروف علت په کښې درې وي اوبياهغه معتل چې حروف علت په کښې دوه وي مقدم کړه په هغه معتلوباندې چې حروف علت په کښې درې وي ځکه چې ددؤو مرتبه مقدمه ده په دريوباندې اوبيادغه معتل چې په کښې دوه حرفونه وي په دوه قسمه دي يوقسم هغه معتل دي چې په هغې کښې دوه حروف علت په خپل مابين کښې ديوبل سره پيوست اومقارن وي چې دې ته لفيف مفروق وايې اودويم قسم هغه دي چې په کښې دوه حروف علت په خپل مابين کښې ديوبل سره نه وي مقارن بلکه په مابين ددې دوه حروفوعلتوکښې حرف صحيح فاصل واقع شوی وي اودې ته لفيف مقرون وايې اودالفيف مقرون مصنف مقدم کړه په لفيف مفروقوباندې ځکه چې په لفيف مقرون کښې ددوه حروفوعلتوپه مابين کښې اتصال وي اوشك نشته چې اتصال اووصل اصل دی دافتراق اوفصل نه ځکه چې دا افتراق اوفصل راحاصلېږي په عارض سره په خلاف وصل .

**اعتراض**: معترض وايي چې هغه معتل چې په هغې کښې حروف علت په خپل مابين کښې پيوست اومتصل وي په خپل کورکښې په دوه قسمه دي اول قسم هغه

دي چې په مقابله دعين كلمې كښې اودلام كلمې كښې حرف علت وي اودويم قسم هغه دی چې په مقابله دفاء كلمې كښې اودعين كلمې كښې حرف علت وي نوڅه وجه ده چې مصنف دااول قسم مقدم كړو له دويم قسم نه اودادويم قسم دلفيف مفروق نه يې هم وروستـه ذكركړی دی .

۱- **جواب:** مونږ ورتـه وايوچې وجه دتقديم ددې اول قسم داده چې ددې اول قسم بحاث زيات دي په نسبت سره دويم قسم ته نوله دې وجهې دكثرت دابحاثو نـه دااول قسم مقدم كړی شو په دويم قسم باندې .

۲- **جواب:** مونږ ورتـه وايـوچې ددې اول قسم حكم پـه شان دحكم دناقص دی پـه اعلال اوتغيركښې ځكه چې ددواړودلام كلمې په مقابله كښې حرف علت دی نوهركله چې ددې اول قسم مناسبت وه دناقص سره نوځكه دااول قسم مقدم كړی شو اومتصل ذكركړی شودناقص سره .

اودې معتل ته لفيف مقرون وايي نودالفيـف ويلووجه داده چې دلفيف معنیٰ ده مجتمعين اومختلطين لكه عرب هغه جماعت ته چې هغوئ دزياتواومخلفو قبائلونه وي لفيف وايي اوپه دې معتل كښې چونكه دوه حروف علت جمعه شوي وي نوځكه ورته لفيف وايي اومقرون ورته له دې وجهې نه وايي چې مقرون مؤخوذ دي لـه قرن نه اودقرن معنیٰ ده اتصال اوپه دې قسم كښې هم داحروف علت پـه خپل مابين كښې متصل اويوځای وي .

اودالفظ دشياً په تشديد دياء سره چې مصدر دشوی يشوی دی پـه اصل كښې شوياً وه نوپه دې كښې واواوياء جمعه شوي وه اواول په دوئ كښې چې واو دی ساكن وه نودابدل كړی شوپه ياء سره اودا ياء مدغمه كړی شوه په ياء كښې نوورنه شياً جوړ شوپه تشديد دياء سره اوداقوة په تشديد دواوسره چې مصدردقوی يقوی دی په اصل كښې قووة وه په دوه واوونوسره چې دااول واوساكن وه نودااول واومدغم كړی شو په دويم واوكښې نوورنه قوة جوړشوپه تشديددواوسره اوداريآ چې مصدردروی يروی دی اوپـه تشديدياء سره دی پـه اصل كښې ريياً وه پـه دوه ياءګانوسره چې

Maktaba Tul Ishaat.com

دااوله ياء ساكنه وه اودويمه يامتحركه وه نودااوله ياء مدغمه كړى شوه په دويمه ياء كښې نوورنه رياً جوړشوپه تشديد دياء سره اوداريان په تشديد دياء سره په اصل كښې ريبان وه په دوه ياګانو اسره اوداريى په تشديد دياء سره په اصل كښې رييى وه په دوه ياګانوسره اوپه دواړو كښې دااوله ياءساكنه وه اودويمه ياء متحركه وه نودااوله ياءپه دواړو اسمونو كښې مدغمه كړى شوه په دويمه ياء كښې نوورنه ريان اوريى جوړشوه په تشديد دياء سره په دواړو اسمونو كښې .

**حل لغات:** دشوى معنىٰ ده كباب كېدل اود روى معنىٰ ده په اوبوباندې سيرابه كېدل اودريان معنىٰ ده سيرابه سړى اودريى معنىٰ ده سيرابه ښځه .

## واروى كاعطى وحيي كرضى وحى يحى حيٰوة فهو حى وحيا وحييا فهما حيان وحيوافهم احياء ويجوز حيوا باالتخيف كرضوا احى كارضى .

**ترجمه:** اروى چې دائلاثي مزيدفيه لفيف مقرون دى په شان داعطى دى چې داناقص واوي مزيدفيه دى په ابدال دلام كلمې كښې چې ياء ده په الف سره نواروى په اصل كښې اروى وپه ياء سره په اخيركښې بيادا ياء له وجهې دتحرك اودانفتاح دماقبل نه بدله كړى شوه په الف سره نوورنه اروى جوړشوپه الف سره په اخيركښې خوليكن دومره خبره ده چې داالف په كښې ليكلى شي په صورت دياء كښې لكه اعطى چې په اصل كښې اعطووه نو اول داواوبدل كړى شوپه ياء سره اودهغې نه بعد داياء بدله كړى شوه په الف سره خوليكن داالف په صورت دياء كښې ليكل كېږي اوداحيى په دوه ياګانوسره په شان درضى دى په تصحيح دلام كلمې كښې يعنې لكه څنګه چې رضى ناقص كښې په لام كلمې كښې اعلال نه دى شوى نوهمدارنګه په حيى كښې چې لفيف مقرون دى په لام كلمه كښې اعلال نه دى شوى اوپه دې حيى كښې حى په تشديدياء سره ويل هم جائزدي چې په كښې ادغام شوى دى داول ياء په دويمه ياء كښې نوورنه حى جوړشوى دى په تشديدياء سره اوبيادې ياء ته حركت اصلي وركول هم جائزدي چې هغه فتحه ده اوكسره ورته وركول هم جائزدي په دې شان چې داولې ياء حركت ورته ورنقل كړى شي چې هغه كسره ده اودايحيى فعل مضارع ده په اخيركښې يې الف دى په اصل كښې يحيى وه په ياء سره په اخيركښې بيادا دويمه ياء له وجهې دتحرك اوانفتاح دماقبل نه بدله كړى شوه په الف سره نوورنه يحيى جوړشو

په الف سره په اخیر کښې خو لیکن داالف لیکل کېږي په صورت دیاء کښې او د احیوٰة مصدر دی په یاء سره په مقابله دعین کلمې کښې او په الف سره په مقابله دلام کلمې کښې خو لیکن داالف لیکل شوی دی په صورت دواو کښې نو دا په اصل کښې حییة وه په دوه یاګانو سره بیا دادویمه یاء بدله کړی شوه په الف سره نو ورنه حیوٰة جوړ شو او حی صفت مشبه دی په اصل کښې حیي وه په دوه یاګانو سره بیا دااوّله یاء مدغمه کړی شوه په دویمه یاء کښې نو ورنه حی جوړ شو په تشدید دیاء سره او په تثنیه کښې حیاهم جائزدی په تشدید دیاء سره له وجهې دادغام داولې یاء نه په دویمې یاء کښې او حییاهم جائزدی په عدم ادغام سره نو دا حیا په تشدید سره او حییا په عدم تشدید سره صیغه دتثنې ماضي ده او حیان په تشدید دیاء سره تثنیه صفت مشبه دی او دا تثنیه دحی ده او دا حیوا په تشدید دیاء سره صیغه دجمعې مذکرې ماضي ده په اصل کښې حییو وه په دوه یاءګانو سره بیا دااوله یاء مدغمه کړی شوه په دویمه یاء کښې نو ورنه حیوا جوړ شو په تشدید سره او په دې صیغې دجمعې مذکرې کښې حیوا ویل په تخفیف دیاء سره هم جائز دي چې په اصل کښې حییو وه په دوه یاءګانو سره چې دااوله یاء مکسوره وه او دادویمه یاء مضمومه وه نو ضمه په دې یاء باندې ثقیله وه نو دا یاء ساکنه کړی شوه نوله هغې نه بعد التقاء الساکنین راغله په مابین دیاء او واو کښې نو دادویمه یاء حذف کړی شوه او اولې یا ته ضمه ورکړی شوه وروسته له اسقاط دحرکت ددې اولې یاء نه او احیاء جمعه دحی ده صفت مشبه دی او دا په اصل کښې احیای وه په یاء سره وروسته دالف نه بیا دا یاء بدله کړی شوه په همزې سره نو ورنه احیاء جوړ شو په همزې سره په اخیر کښې او دااحی چې په کښې یوه یاء موجوده ده په اصل کښې تحیاوه په الف سره په اخیر کښې نو حرف مضارعت حذف کړی شو او په اول کښې همزه وصلیه راوړی شوه او په اخیر کښې الف چې بدل راغلی وه له یاء نه حذف کړی شو لپاره دعلامې دوقف لکه په ارض امرحاضر کښې چې الف حذف کړی شوی دی لپاره دعلامې دوقف.

تمت باالخیر

**نیل الاماني پښتو شرح زنجاني**

**تاریخ تالیف : ۹/۱۱/۲۰۱۲ عیسوي**

**مقام تالیف : سجاوند لوګر**

Maktaba Tul Ishaat.com

# دکتاب مضامينو فهرست

📖لغوي معنیٰ دصرف ........................ ۱
📖اصطلاحي معنیٰ دصرف ........................ ۱
📖موضوع دعلم صرف ........................ ۲
📖غرض دعلم صرف ........................ ۲
📖دعلم صرف واضع ........................ ۲
📖علم صرف مستقل فن جوړېدل ........................ ٤
📖دعلم صرف مرتبه ........................ ٥
📖دحمد نه ذکرکول ........................ ٦
📖فرق په مابين دسالم اوصحيح کښې ........................ ۱۷
📖ددې شپږو (٦) بابونو په مابين کښې فرق ........................ ۲۹

مَنْ يُرِدِ اللهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِى الدِّيْنِ (بخاری)

# كنز الدرر

لحل

# ابيات مطول والمختصر

تاليف

شيخ الحديث حضرت مولانا مفتی
محمد زاهد ((عزيزخيل))

ناشر


مكتبه زاهديه محله جنكي پشاور
زيراهتمام : مولوی محمد ابراهيم عزيزخيل :
موبائل> ۰۳۰۵-۵۴۵۲۵۴۴ ۰۳۴۱-۵۴۸۷۲۷۳

مكتبه زاهديه


Maktaba Tul Ishaat.com

مَنْ يُرِدِ اللهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِى الدِّيْنِ (بخاری)

# مالابد منه للعالم والمتعلم

تالیف

شیخ الحدیث حضرت مولانامفتی
محمدزاهد ((عزیزخیل))

ناشر

مکتبه زاهدیه محله جنگی پشاور
زیراهتمام : مولوی محمدابراهیم ((عزیزخیل))
موبائل ۰۳۰۵-۵۴۵۳۵۴۴ ۰۳۴۱-۵۴۸۷۲۷۳

مکتبه زاهدیه

# تصنیفات

## شیخ الحدیث حضرت مولانا مفتی محمد زاہد عزیزخیل

| | | | |
|---|---|---|---|
| (۱) | ازالۃ الخفاء | شرح | حمداللہ عربی |
| (۲) | فیض المتعال | شرح | میرزاحلال عربی |
| (۳) | الہام المتعال | شرح | ملاجلال عربی |
| (٤) | ارشادالہادی | شرح | القاضی عربی |
| (۵) | تنویر البیان | شرح | بدیع المیزان عربی |
| (٦) | نیل المصب | شرح | شرح تہذیب عربی |
| (۷) | مخزن الفرائد | شرح | شرح العقائد عربی |
| (۸) | کنزالفرائد | شرح | شرح العقائد مکمل عربی |
| (۹) | الہامات الفتاح | شرح | تلخیص المفتاح عربی |
| (۱۰) | الصبح المستطیر | شرح | نحومیر عربی |
| (۱۱) | اصابت النحو | شرح | ہدایۃ النحو عربی |
| (۱۲) | اسرار الغامضہ | لحل | نکات الکافیہ عربی |
| (۱۳) | البدر الکامل | لحل | المحصول والحاصل عربی |
| (۱٤) | العمل المسرور | شرح | عبد الغفور عربی |
| (۱۵) | مخزن المعانی | شرح | زنجانی عربی |
| (۱٦) | کنزالمعانی | شرح | زرادی عربی |
| (۱۷) | زادالارواح | شرح | مراح الارواح عربی |
| (۱۸) | الدرۃ الیتیمہ | شرح | شمہ عربی |
| (۱۹) | الہام الیزدانی | شرح | میرقات المیزانی عربی |
| (۲۰) | ایضاح الحکمت | شرح | ہدایۃ الحکمت مکمل عربی |
| (۲۱) | الہامات اللاہوت | شرح | مسلم الثبوت عربی |
| (۲۲) | نیل الاوطار | شرح | صدری عربی |
| (۲۳) | تنویر المعانی | شرح | مکمل مختصر المعانی عربی |
| (۲٤) | تحریر سنبب | شرح | الکافیہ |
| (۲۵) | الہامات الربانیۃ | فی | الاختلافات النحویۃ عربی |
| (۲٦) | الشذر الذہبی | شرح | قطبی عربی |
| (۲۷) | سراج العوامل | شرح | شرح مأۃ عامل عربی |
| (۲۸) | ضوء المصباح | شرح | نور الایضاح پشتو |
| (۲۹) | القلائد السبۃ | فی | المعمات الفقہیۃ پشتو |
| (۳۰) | تاریخ الحدیث والمحدثین | | |
| (۳۱) | الوافیۃ | شرح | شافیۃ عربی |
| (۳۲) | تنویر المعانی | شرح | مختصر المعانی |
| (۳۳) | تعطیر الالباب | | فی خاصیۃ الابواب |

مکتبہ زاہدیہ

Maktaba Tul Ishaat.com